# د ښوونکو لارښود

# پښتو (لومړۍ ژبه)

# پنځم ټولګی

ليکونکی: ډاکټر محب الله زغم

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړۍ برخه

## عمومي لارښوونې

### ۱. د تعليمي نصاب نوی چوکاټ

د تعليمي نصاب نوی چوکاټ پر قابليت – محوري ولاړ دی. قابليت – محوري په ښوونه او روزنه کې هغه نوې تګلاره ده چې د نړۍ ډېرو هېوادونو د خپلو تعليمي نظامونو لپاره غوره کړې ده. مخکې تر دې چې د قابليت – محوره نصاب پر جزئياتو خبرې وکړو، دلته به د قابليت او قابليت – محوره نصاب تعريفونه وګورو.

**قابليت Competence**

د پوهې، مهارت او ذهنيت ترکيب ته قابليت وايي. دا هغه وړتيا ته ده چې د زده‌کړې متوقع نتيجې په يوه مشخص سياق (تعليم، کار، شخصي او مسلکي وده او پراختيا) کې په کافي اندازه عملي کړو. قابليت يوازې په شناختي عناصرو يعنې د تيورۍ، مفاهيمو او پوهې په کارولو پورې محدود نه وي، بلکې عملي اړخ يې (تخنيکي مهارتونه) او همدارنګه خپل منځي تعلقات (اجتماعي يا سازماني مهارتونه) او اخلاقي ارزښتونه هم رانغاړي.

**قابليت - محوره نصاب Competency-based curriculum**

هغه نصاب دی چې د زده‌کړې د پروسې پر ترکيبي نتيجو ټينګار کوي. يعنې د دې پر ځای چې ډېر تمرکز پر دې وي چې شاګردان دې د مضمون محتوا زده کړي؛ پوهه، مهارتونه او ذهنيت به هم مهاله حاصل کړي. دا نصاب په پرنسيپ کې شاګرد - محوره نصاب دی او د شاګرد، معلم او ټولنې د ضرورتونو له بدلانه سره تنظيمېږي. يعنې د زده‌کړې فعاليتونه او چاپېريال داسې غوره کېږي چې شاګردان په کې پوهه، مهارتونه او ذهنيت حاصل او په ورځني ژوند کې يې استعمال کړي. قابليت - محوره نصاب معمولاً د ځينو اساسي قابليتونو پر بنا طرح کېږي چې دا قابليتونه يا بين النصابي وي او يا په يوه مضمون پورې تړلي وي.

د قابليت يو مثال به وګورو. فرضاً موږ فکر کوو چې پر متن د پوهېدو لپاره بايد متن ټکي په ټکي حفظ کړو، خو قابليت محوره نصاب وايي: پر متن د پوهېدو لپاره بايد وپوهېږو چې هر معلوماتي متن خپله موضوع، عمده ټکي (main idea) او د عمدو ټکو تفصيل يا جزئيات لري چې بايد پيدا او ياد يې کړو. دا شوه د پوهې برخه. اوس به بل ګام اخلو. د دې پوهې د کارولو مهارت بايد پيدا کړو. مهارت يې دا دی چې د يوه متن موضوع څنګه بايد معلومه کړو؛ عمده ټکي يې څنګه بايد پيدا کړو؛ او تفصيل يې څنګه وپېژنو. دا مهارت له تمرين او تکرار سره حاصلېږي. د دې مهارت د حاصلولو لپاره مختلف فعاليتونه تر سره کېدی شي، مثلاً کولی شو دا شيان د معلوماتو په جال کې ترتيب کړو. په دې برخه کې مو لازمه پوهه او مهارت حاصل کړل، خو لا مو قابليت نه دی بشپړ شوی. هر کله چې له معلوماتي متن سره مخامخ کېږو، که بې له دې چې څوک يې را ته ووايي، پخپله

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوښه او لېوالتیا سره د متن د پوهېدا په اړه خپله پوهه او مهارت وکاروو او د متن موضوع، عمده ټکي او تفصیل معلوم کړو، په دې برخه کې مو قابلیت بشپړېږي.

پر دې سربېره، قابلیت دا دی چې څه مو له معلوماتي متن څخه زده کړل، باید په ژوند کې یې عملي کړو. مثلاً د صحي خوړو په اړه یو معلوماتي متن لولو. د دې متن یو عمده ټکی دا دی چې په خوړو کې باید تنوع او تناسب ته پام وکړو. د دې عمده ټکي تفصیل دا دی چې بدن مو مختلفو غذایي موادو ته اړتیا لري او دا مواد پروټینونه، ویټامینونه، قندي مواد او غوړي دي. پروټین د حجرو ودې او ترمیم ته پکارېږي او په غوښه، هګۍ، لبنیاتو، لوبیا، نخود ... کې ډېر دی. ویټامینونه د حجرو د سم فعالیت او د ناروغیو په وړاندې د بدن د مقاومت لپاره ضروري دي او په سبو او مېوو کې ډېر دي. قندي مواد او غوړي بدن ته لازمه انرژي برابروي او په وریجو، غنمو، جوارو، کچالانو ... کې پیدا کېږي. په دې متن کې دا هم زده کوو چې سره کړي او ژر پخېدونکي خواړه لکه چپس، برګر، پېرکي ... که ډېر وخوړل شي، بدن ته زیان لري. اوس که دا هر څه زده کوو خو په عمل کې هره غرمه چپس خورو، یا سهار هګۍ خورو، هره غرمه لوبیا خورو او هر ماښام نخود پخوو، قابلیت مو نه دی حاصل کړی. قابلیت دا دی چې دغه پوهه په عملي ژوند کې وکاروو او خپل خواړه داسې تنظیم کړو چې د پروټین، ویټامین، قندي موادو او غوړو مناسبه اندازه په کې وي.

د قابلیت محوره نصاب په برابرولو کې لومړی دا معلوموو چې زموږ شاګردان کومو قابلیتونو ته اړتیا لري. دا قابلیتونه د خپلې ټولنې، خپل هېواد او نړۍ له غوښتنو او ضرورتونو سره سم ټاکو. بیا د همدغو قابلیتونو د حاصلولو لپاره درسي مواد چمتو کوو چې مناسبه محتوا، په زړه پورې فعالیتونه او شاګرد محوره میتودونه په کې کارېدلي وي. په دې میتود کې فعالیتونه داسې تنظیمېږي چې معلم په کې د لارښوونکي نقش لري او اکثره فعالیتونه شاګردان پخپله ترسره کوي. همدارنګه، په درسونو کې محتوا نسبتاً کمه او فعالیتونه زیات وي ځکه چې د هر مهارت او قابلیت د حاصلولو لپاره ډېر تکرار او تمرین ته اړتیا وي.

د دې نصاب بله ځانګړنه دا ده چې د زده‌کړې مواد یې د شاګردانو له شخصي ژوند سره تړاو لري. یعنې د هر مضمون محتوا او فعالیتونه داسې برابرېږي چې شاګردان یې په خپل ورځني ژوند کې ویني، ویې کاروي او د خپل ژوند د ځینو ستونزو په حل کې ورنه کار واخلي. مثلاً د ژبې په مضمون کې شاګردانو ته مختلف ژانرونه لکه خاطره، توصیفي متن، مقایسي متن، د علت او معلول متن، ګزارش، ژوندلیک او د متن د نورو ډولونو لیکل ورزده کېږي. دوی دغه قابلیت د ادبي او علمي متنونو په لیکلو کې کارولی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تعلیمي نصاب په نوي چوکاټ کې پر مضموني قابلیتونو سربېره، د ژوند قابلیتونه هم مهم ګڼل شوي دي چې هر مضمون باید د دې قابلیتونو د ودې او تقویې لپاره مناسبه محتوا او فعالیتونه وړاندې کړي. همدارنګه ځینې بین المضموني یا نصاب شموله ساحې دي چې په هر مضمون کې باید ورته پام وشي. دلته دا دوې برخې په تفصل سره بیانېږي او همدارنګه په پښتو مضمون کې د دې موضوعاتو د رانغاړلو په باره کې معلومات شریکېږي.

**الف. د ژوند اساسي قابلیتونه**

په قابلیت – محوره نصاب کې، پر دې سربېره چې هر مضمون خپل مضموني قابلیتونه رانغاړي، د ژوند اساسي قابلیتونو ته هم پام کوي. د نړۍ مختلفو هېوادونو د خپلې ټولنې له اړتیاوو سره سم د ژوند ځینې قابلیتونه په خپل تعلیمي نصاب کې شامل کړي دي. د افغانستان د ټولنې د خاصو ضرورتونو او د نورو ټولنو بریالیو تجربو ته په کتلو سره، د تعلیمي نصاب لپاره لاندې اساسي قابلیتونه غوره شوي دي: (۱) ایمان او تقوا، (۲) سواد، (۳) ځاني مدیریت، (۴) نقادانه تفکر، (۵) نوښت، (٦) د ستونزې حل، (۷) مفاهمه، (۸) همکاري، (۹) د څنګه زده کولو زده‌کړه، او (۱۰) معلوماتي او ارتباطي ټکنالوژي.

دلته به د هر اساسي قابلیت تعریف او فرعي قابلیتونه راوړو او په پښتو مضمون کې د هر فرعي قابلیت د تقویه کولو او روزلو لارې چارې وښییو.

**۱. ایمان او تقوا**

**تعریف:** پر سمو اسلامي عقایدو ایمان، په ښو اخلاقو سمبالښت، له ناوړو اخلاقو پاکېدل، د صالحو عملونو کړل او له محرماتو څخه ډډه کول.

**فرعي قابلیتونه**

**۱) د ایمان او اسلامي عقایدو ټینګول**

ایمان د عمل اساس دی. که څوک سم او قوي ایمان ولري، صالح عملونه به کوي. د دې فرعي قابلیت منظور دا دی چې شاګردان د ایمان په ارکانو وپوهېږي، د هستۍ په وجود کې د متعال خالق قدرت درک کړي، پر کائیناتو د شته نظم پر اساس د قادر او قیوم الهي ذات پر شتون استدلال وکړي، وپوهېږي چې ټول ساینسي-قوانین د علیم او خبیر ذات وضع کړي قوانین دي، نړۍ ته د ازموینې د ځای په سترګه وګوري، له ناسمو عقایدو او خرافاتو ډډه وکړي، او د قیامت ورځې او د خپلو عملونو محاسبې ته چمتو شي.

**۲) په ښو اخلاقو سمبالېدل او له ناوړو اخلاقو څخه پاکېدل**

قابلیت – محوره نصاب او د ښوونکو لارښوونې او عملي سلوک به شاګردان په ښو اخلاقو سمبال کړي، لکه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

صدق، عدالت، احسان، استقامت، تقوا، تواضع، اطاعت، ایثار، او خیر ښېګڼې. همدارنګه، هغوی به له بدو او ناوړو اخلاقو پاک کړي.

**۳) د ښو عملونو کول او له محرماتو څخه ډډه کول**

عبادت له متعال الله سره زموږ رابطه ټینګوي، له منکراتو مو منع کوي او قلبي اطمینان راکوي. شاګردان د زړه له تله، د احکامو او ادبونو په مراعاتولو او په خلوص سره د متعال الله عبادت کوي، د خدای له معصیت څخه پرهېز کوي او تل د هغه ذات د راضي کولو هڅه کوي.

**د پښتو مضمون د هر ټولګي د کتاب یو فصل دیني او اخلاقي ارزښتونو، بل فصل طبیعت او بل فصل علم او ټکنالوژۍ ته بېل شوي دي. په دې فصلونو کې د ایمان او تقوا قابلیتونه پالل شو. د دیني او اخلاقي ارزښتونو فصل د الله ﷻ د قدرتونو، مهربانۍ، لویوالي او نورو صفاتو په باره کې کیسې او معلومات رانغاړي او د اسلامي اخلاقو نمونې په کې بیانېږي. همدارنګه د طبیعت او علم او ټکنالوژۍ په فصلونو کې پر طبیعت حاکم الهي قوانین او تکویني سنتونه بیانېږي. پر دې سربېره، په ډېرو درسي فعالیتونو کې شاګردان ډله‌ییز کارونه کوي، بحثونه او ویناوې کوي، متنونه ارزوي او په دې ټولو فعالیتونو کې محترم ښوونکي/ محترمې ښوونکې هغوی د اسلامي اخلاقو او ادبونو مراعاتولو ته هڅوي.**

## ۲. سواد

**تعریف:** د ژوند د یوه قابلیت په توګه، سواد تر اساسي سواد ورهاخوا دی او حساب، معرفتي سواد، رسنیز سواد، او مالي سواد هم رانغاړي. د دې مفاهیمو تعریفونه دلته لاندې راغلي دي:

**فرعي قابلیتونه**

۱) **اساسي سواد:** د ورځپاڼې، مذهبي کتابونو، داستاني او ساده علمي لیکنو په شمول، د بېلابېلو متنونو د لوستلو، درک کولو او پوهیدلو وړتیا ده چې ګرافونه او جدولونه هم په کې شامل دي. همدارنګه، د ژوند د ستونزو د لرې کولو لپاره د مفکورو، پیغامونو، او غوښتنلیکونو د لیکلو وړتیا ده.

۲) **حساب:** د ژوند په مختلفو موقعیتونو کې، د ریاضي د محاسبو او د ساده احصائیوي تحلیلونو د درک او فهم او ترسره کولو وړتیا ده.

۳) **معرفتي سواد:** د بېلابېلو معرفتي ساحو له مفاهیمو او مهمو پروسو سره بلدتیا، د نظام‌مند تفکر وړتیا او په شخصي پرېکړو او په اقتصادي، ټولنیزو او مدني فعالیتونو کې یې د ګټه اخیستنې وړتیا ده.

۴) **رسنیز سواد:** د رسنیو د محتوا د درک او نقادانه ارزونې وړتیا، په هوښیارۍ سره د رسنیو له محصولاتو او اطلاعاتو څخه استفاده، د رسنیو د اجنډا او ځانګړي نړۍ‌لید درک، او په ټولیزو رسنیو کې مسؤلانه فعالیت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵) **مالي سواد:** د مالي مدیریت پر پوهې او مهارتونو (لکه مالي پلان جوړونه) د پوهېدا او په ژوندانه کې د مالي پرېکړو لپاره يې د اغېزناکې کارونې وړتیا ده.

**د ژبې د مضمون اصلي کار شاگردانو ته د اساسي او معرفتي سواد ښوول دي. دا مضمون د متنونو د مختلفو ډولونو درک او فهم، تحلیل، ارزونه او تولید شاگردانو ته ورزده کوي. متنونه د شکل په لحاظ له لویه سره پر درېو ډلو وېشل کېږي: معلوماتي، روایتي، اقناعي. هره ډله يې بیا نور فرعي ډولونه او ژانرونه لري، مثلاً په معلوماتي متنونو کې توضیحي، مقایسي، علت او معلول، لارښودیز، توصیفي، د بهیر یا پروسې ډولونه شته. په روایتي متنونو کې کیسه، خاطره، او گزارش لرو. اقناعي ژانرونه ترغیبي، استدلالي، او د نظر ډولونه رانغاړي. همدارنگه شعر، کیسه، کیسۍ، متل، طنز او داسې نور ادبي ژانرونه دي. د پښتو ژبې په مضمون کې د متنونو مختلف ډولونه راغلي دي چې شاگردان يې د پوهېدلو، تحلیلولو، ارزولو، او لیکلو لارې چارې زده کړي. د محتوا په لحاظ هم متنونه متفاوت ډولونه لري چې شاگردان باید ورسره آشنا شي. دا چې د هر علم اصطلاحات بېل دي نو د ژبې په مضمون کې هڅه کېږي چې مختلفه محتوا، لکه: ادبیات، حقوق، ساینس، طب، ارواپوهنه، فلسفه، تاریخ، اقتصاد، او نور وړاندې شي چې شاگردان د علم د مختلفو ساحو ځینې مهم او اساسي اصطلاحات زده کړي او په هره برخه کې مطالعه وکړی شي. د متنونو تحلیلول په شاگردانو کې رسنیز سواد روزي او د مالي سواد د روزلو لپاره هم ځینې کیسې (مثلاً د سپما په اړه) راغلې دي.**

## ۳. ځاني مدیریت

**تعریف:** د ژوندانه په بېلابېلو وختونو کې د عواطفو، فکرونو او چار چلند د اغېزناک مدیریت قابلیت دی.

په دې قابلیت کې شامل فرعي قابلیتونه دا دي: ځان پېژندنه، د مسؤولیت منل، د خپل ځان ارزونه، د موخو ټاکل او تر لاسه کول، د عواطفو او احساساتو پېژندل او کنټرول، او د وخت مدیریت.

**فرعي قابلیتونه**

۱) **ځان پېژندنه:** ځان پېژندنه د خپلو ځانگړنو او د کائناتو په نظام کې د خپل ځای ځایگي د پېژندلو هڅه ده. همدارنگه، د خپلې کورنۍ، ژبنیزې، ټولنیزې او دینې مخینې په اړه پوهېدل او د شخصیت او هویت پر جوړېدو باندې د دې عناصرو پر اغېزو پوهېدل دي. ځان پېژندنه د خپلو ارزښتونو د ټاکلو او بیانولو وړتیا ده او دا راښیي چې دا ارزښتونه څنگه رامنځ ته شوي او څنگه د چا پر پرېکړو باندې اغېزه شیندي.

۲) **د مسؤولیت منل:** د الله (ج)، کورنۍ، ښوونکو، ټولگیوالو، ټولنې، هېواد، بشري ټولنې او چاپېریال، او خپلې فردي ودې په وړاندې د خپلو مسؤولیتونو پېژندل او ترسره کول دي.

۳) **ځاني ارزونه:** په خپلو بالقوه ځواکونو، محدودیتونو، ظرفیتونو پوهېدل دي او همدارنگه خپلو باورونو او سترو ارزښتونو ته په پام سره، د فرصتونو او شته امکاناتو پېژندل دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۴) د هدفونو ټاکل او تر لاسه کول:** دا قابلیت لاندې چارې رانغاړي: د خپلو باورونو او ارزښتونو او واقعي شرایطو پر بنسټ د اوږدمهالو او لنډمهالو موخو ټاکل، موخو ته د رسېدلو لپاره د فعالیتونو ټاکل او تنظیمول، موخو ته په رسېدلو کې د خپل پرمختګ د کچې ارزونه، او له اړتیا سره سم د موخو او فعالیتونو بیاکتنه، موخو ته په رسېدلو کې استقامت، د متبادلو لارو لټول او د خنډونو او ننګونو د له منځه وړلو لپاره له نورو څخه مرسته او ملاتړ غوښتل.

**۵) صبر او استقامت:** د هیله‌مندۍ، مثبتو فکرونو، او هدف‌مندۍ روحیې درلودل او د ژوند د ستونزو او ناخوالو په مقابل کې د روحي مقاومت وړتیا ده.

**٦) د عواطفو او احساساتو پېژندل او کنټرولول:** د احساساتو، عواطفو او مادي او معنوي تمایلاتو پر چلند باندې د دوی په اغېزې پوهېدل، د احساساتو او عواطفو د تنظیم او کنټرولولو وړتیا او د خپل چلند مدیریت دی.

**۷) د وخت مدیریت:** د لومړیتوب پر اساس د خپلو فعالیتونو ترتیبول، د کاري مهالوېش برابرول، پر هغو فعالیتونو باندې تمرکز چې لومړیتوب لري، په خپل وخت د چارو د ترسره کولو ژمنتیا، او په ځیرکتیا سره له لږ وخت څخه ډېره ګټه اخیستل.

**په پښتو مضمون کې داسې محتوا په پام کې نیول شوې ده چې شاګردان په اسلامي او افغاني روحیه وروزي. له دې لارې به شاګردان خپل هویت د یوه مسلمان افغان په حیث وپېژني او د خپل فرهنګ مثبتو ټکو، ښو دودونو، تاریخي ویاړونو او تمدني بریاوو ته د خپل هویت د رغوونکو توکو په سترګه وګوري. همدارنګه، دا چې هر ماشوم ځینې خاصې وړتیاوې لري، درسي فعالیتونه او کورنۍ دندې داسې تنظیم شوي دي چې شاګردانو ته د خپلو مختلفو وړتیاوو د ښکاره کولو لاره هواره شي. د فعالیتونو تکرار له شاګردانو سره مرسته کوي چې د خپلو مهارتونو کمزوري اړخونه په تمرین سره پیاوړې کړي. همدارنګه د خپلو احساساتو د پېژندلو او قابو کولو، صبر او استقامت، د هدفونو ټاکل او خپل هدف ته د رسېدو په باره کې په زړه پورې کیسې او معلوماتي متنونه لرو چې شاګردان یې په لوستلو سره دا مهارت خپلولی شي. د هر ټولګي یو فصل د بریالیتوب لارو چارو ته ځانګړی شوی دی چې د بریالیو کسانو ژوندلیکونه په کې راغلي دي. پر دې سربېره، شاګردان په ګروپي فعالیتونو کې د خپلو احساساتو قابو کول، د مباحثې او وینا د ادبونو مراعاتول، د وخت مدیریت، او هدف ته د رسېدو لارې چارې زده کوي. همدارنګه، د هرې اونۍ په دریم درسي ساعت کې د ډله‌ییز بحث لپاره ځینې داسې موضوعات غوره شوي دي چې د ځان پېژندلو او ځاني مدیریت ځینې اړخونه رانغاړي، مثلاً دا چې موږ ځینې شیان ولې خوښوو؟ زموږ منطقي او غیرمنطقي غوښتنې کومې دي؟ خپلې غیر منطقي غوښتنې څنګه قابو کولی شو؟ او داسې نور موضوعات.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۴. نقادانه فکر کول

**تعریف:** نقادانه فکر کول، حقیقت ته د رسېدو لپاره هڅه او د سمو او ناسمونو معلوماتو او باورونو د تشخیص وړتیا ده.

د نقادانه فکر کولو فرعي قابلیتونه دا دي: د نقادانه پوښتنو طرحه کول، د کره شواهدو او معلوماتو پر بنسټ استدلال، د خپل یا نورو د نظر او استدلال د اعتبار په اړه قضاوت، او د پایلې را ایستلو وړتیا.

**فرعي قابلیتونه**

۱) **د نقادانه پوښتنو طرحه کول:** پر مختلفو لیدلوریو د پوهېدلو وړتیا او په دې اړه چې دا لیدلوري څومره باوري دي، مفروضات یې کوم دي، د استدلال طریقې یې څنګه دي، او وړاندې شوي شواهد یې د معرفت له باوري سرچینو (قرآن او سنت، عقل، علم او پوهې، څېړنې او تجربې) څخه اخیستل شوي دي، که څنګه.

۲) **د منل شویو فرضیو ټاکل:** د موضوع اړوند د وګړي د منل شویو اصولو، معلوماتو، باورونو او ارزښتونو د لست برابرول.

۳) **د معلوماتو راټولول، تحلیلول او د کره‌توب ارزول:** د معلوماتو د راغونډولو، د اعتبار ارزولو، ډلبندۍ او تحلیل وړتیا او همدارنګه، په خپله طرحه، نقد، یا استدلال کې یې د کارولو وړتیا.

۴) **د پایلو را ایستل او ارزول:** د معیارونو، معلوماتو او شواهدو پر بنسټ د استدلال او پایلې را ایستلو وړتیا او همدا ډول، د خپلو او د نورو د استدلالونو او لیدلوریو د ارزولو وړتیا.

**د دې دورې (۴ - ۶ ټولګي) زده‌کوونکي معمولاً ۱۰-۱۲ کلن وي او د پیاژه په باور په دې عمر کې ماشومان انتزاعي تفکر ته مخه کوي. همدارنګه، معاصر فلسفه‌پوه متیو لیپمن، چې ماشومانو ته د فلسفې د تدریس استاد دی، وایي چې د فلسفي تفکر او استدلال د تدریسولو بهترین وخت ۱۱-۱۲ کلني ده. په همدې وجه، په دې دوره کې داسې فعالیتونه راغلي دي چې شاګردان د انتزاعي پوښتنو طرح کولو، تفکر، استدلال، ارزولو، او نتیجه ایستلو ته هڅوي. په هر درسي ساعت کې د متن د محتوا په اړه ځینې استنباطي پوښتنې راغلي دي چې شاګردان به یې ځوابونه په فکر کولو سره پیدا کوي. د هرې کیسې د کرکټرونو د خبرو او عملونو ارزول بل فعالیت دی چې شاګردان یې په عملي کولو سره د منطقي تحلیل او ارزولو قابلیت پیدا کوي. همدارنګه د اونۍ په دریم درسي ساعت کې شل – پنځه ویشت دقیقې د مباحثې او ویناکولو فعالیت ته بېلې شوې دي. په دې فعالیت کې شاګردانو ته ځینې انتزاعي پوښتنې ورکول کېږي چې په ډلو کې ورباندې بحث وکړي او بیا د هرې ډلې استازی د خپلې ډلې د بحث نتیجه له نورو سره شریکوي. په دې فعالیت کې شاګردان د منطقي استدلال، تفکر، او د خپلو مفکورو د بیانولو مهارت پیدا کوي او تر څنګ یې د یوې موضوع په اړه د مختلفو او متفاوتو نظرونو د اورېدلو، نقدولو، منلو یا په استدلال سره یې د ردولو مهذبه لاره زده کوي. په**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ځینو فصلونو کې د وینا لپاره همداسې انتزاعي موضوعات ورکول کېږي چې شاګردان ورته تیاری ونیسي او په بل ساعت کې وینا وکړي. په دې فعالیت کې شاګردان د معلوماتو د راټولولو او د معلوماتو د سموالي د تشخیص لارې چارې یادوي.**

## ۵. خلاقیت او نوښت

**تعریف:** خلاقیت او نوښت د نویو مفکورو طرحه کولو، د ستونزې لپاره د متبادلو حل لارو وړاندې کولو، د غوره حل لارې ټاکلو او تحلیلولو او د اخلاقي ارزښتونو په چوکاټ کې پر واقعیت باندې د مفکورو د بدلولو وړتیا ده.

**فرعي قابلیتونه**

۱) **کنجکاوي:** د شیانو او پدیدو پر څرنګوالي د پوهېدلو، د نویو شیانو د زده‌کړې، او د زیاتې پوهې د تر لاسه کولو وړتیا او تلوسه ده.

۲) **د نویو مفکورو طرحه کول:** د نویو مفکورو د رامنځ ته کولو یا د ستونزو لپاره د متبادلو حل لارو د وړاندې کولو وړتیا ده.

۳) **د مفکورو عملي کول:** د اخلاقي ارزښتونو په چوکاټ کې د مفکورو د کارولو وړتیا ده.

**د ژبې مضمون د شاګردانو د خلاقیت د ودې لپاره لاره هواروي. په هر درس کې کورنۍ دندې شاګردانو ته د تخلیقي لیکنې د لیکلو مجال ورکوي. په پخواني نصاب کې به په کورنۍ دنده کې معمولاً شاګردانو ته ویل کېدل چې د کتاب متن یا ځینې جملې ولیکي، خو اوس هڅه شوې ده چې شاګردانو ته د خپلو مشاهدو، خاطرو، نظرونو، او مفکورو د لیکلو دنده ورکړل شي چې دا پخپله نوښت او خلاقیت زیاتوي. همدارنګه، په پخواني میتود کې به شاګردانو ته د ادبي صنعتونو تعریفونه ښوول کېدل، خو اوس داسې فعالیتونه ورکول کېږي چې دوی پخپله نوې تشبیه‌ګانې، استعارې، او سېمبولونه ایجاد کړي؛ هم‌قافیه کلمې پیدا کړي؛ د شعرونو مسرې ترتیبې یا جوړې کړي؛ د کیسو ځینې برخې لکه توصیف، مکالمه، او صحنه تمرین کړي او بیا په بل پړاو کې پخپله کیسه ولیکي.**

## ٦. د ستونزې حل

**تعریف:** د ستونزې د حل قابلیت، د ژوندانه د واقعي ستونزو د حلولو وړتیا ده. د ستونزې د حلولو په پروسه کې دغه چارې شاملې دي: د ستونزې په ګوته کول او تعریفول، د ستونزې په اړه د معلوماتو راغونډول، تحلیلول او تجزیه کول، د حل لارو موندل او د غوره حل لارې پېژندل، د غوره حل لارې عملي کول او بیا یې د پایلو ارزول.

**فرعي قابلیتونه**

۱) **د ستونزې په ګوته کول او تحلیلول:** د ستونزې د پېژندلو او تعریفولو، د ستونزې د اړخونو، عواملو او احتمالي حل لارو د په ګوته کولو وړتیا.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲) **د بديلو حل لارو ارزول او د ښې حل لارې غوره کول:** د اخلاقي اصولو او ارزښتونو پر بنسټ د ستونزې د حلولو لپاره د بديلو تګلارو د ارزولو وړتيا او د ستونزې د حل لپاره د غوره حل لارې ټاکل دي.

۳) **د حل لارو عملي کول او ارزول:** د ټاکلې حل لارې د عملي کولو لپاره د اړينو ګامونو د پورته کولو او د پايلو د ارزولو وړتيا.

**د ستونزې د حل قابليت هم د درسونو په محتوا کې او هم په فعاليتونو کې پالل کېږي. هره کيسه يوه غوټه يا مسأله لري چې کرکټر يې بايد حل کړي. دلته شاګردان ګوري چې کرکټر ستونزه څنګه حل کړه، نو د ستونزې د حل لاره زده کوي. شاګردان د کيسو د ارزولو په فعاليت کې پوښتل کېږي: د ستونزې د حل لپاره د کرکټر عمل منطقي او سم و، که نه؟ که تاسې د کرکټر پر ځای وای، دا ستونزه به مو څنګه حل کړې وای؟ د دې ستونزې د حل بديلې لارې کومې دي؟ پر دې سربېره، په هر ډله‌ييز بحث کې شاګردانو ته ځينې مسألې ورکول کېږي چې دوی وربانديې فکر وکړي او حل لارې ورته وګوري. کله چې دوی په مباحثه کې خپله حل لاره شريکوي، د ډلې د نورو غړو حل‌لارې هم اوري. په دې توګه، د يوې مسألې د حل لپاره مختلفې لارې وړاندې کېږي او تر ټولو ښه په کې انتخابېږي.**

## ۷. مفاهمه

**تعريف:** مفاهمه (د اغېزناکو اړيکو ټينګول) د غوږ نيولو او لوستلو له لارې له بېلابېلو سرچينو څخه د معلوماتو ترلاسه کولو وړتيا، او په مختلفو رسمي او غير رسمي ځايونو (کور، ښوونځي، کارځای او داسې نورو) کې په بېلابېلو (شفاهي او ليکنۍ) بڼو د معلوماتو، تجربو، نظرونو او پوهې د تبادلې وړتيا ته ويل کېږي.

**فرعي قابليتونه**

۱) **فعاله غوږ نيول:** په بشپړ تمرکز سره وينا ته غوږ نيول؛ د ويناوال د خبرو نه اخلالول؛ له داسې حرکتونو څخه ډډه کول چې ويناوال ناهيلی کوي؛ او د لا ښه پوهېدو لپاره د اورېدل شويو خبرو په اړه ژور فکر کول.

۲) **اغېزناکه وينا:** خپل نظرونه په مناسب وخت کې، په درناوي او په خپل وار سره واضح بيانول او د نورو د خبرو نه اخلالول؛ د خبرو او وينا کولو لپاره پر ځان د باور پياوړي کول؛ د ژبې اغېزناکه کارول او د ارائې له مناسبو ابزارو څخه کار اخيستل.

۳) **اغېزناکه مذاکره:** د مختلفو نظرونو د درک وړتيا او د مختلفو نظرونو د قوت او نيمګړتياوو پېژندل او د ګډو ليدلوريو موندل.

ياده دې وي چې لوستل او ليکل، چې د اغېزناکې مفاهمې برخې دي، په جلا قابليت يعنې سواد کې راغلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د هرې اونۍ دریم درسي ساعت ډله‌ییز بحث او وینا ته بېل شوی دی. په دې فعالیت کې به یا شاګردان په ډلو کې د ورکړل شویو موضوعاتو په اړه مباحثه کوي، یا به د ټاکلې موضوع په باره کې ټولګیوالو ته وینا کوي. په دې ترڅ کې شاګردانو ته د فعاله غوږ نیولو، مذاکرې، مفاهمې، او اغېزناکې وینا تخنیکونه، اصول، او ادبونه ورښوول کېږي. په همدې درسي ساعت کې کورنۍ دنده دا وي چې شاګردان یا د ډله‌ییز بحث خلاصه او یا د ویناوالو د ویناوو مهم ټکي ولیکي. دا د شاګردانو فعاله غوږ نیول تقویه کوي. له بلې خوا، شاګردان مختلف معلوماتي، روایتي، او اقناعي متنونه لولي او د همدې ژانرونو د لیکلو تمرین کوي چې په دې توګه په لیکنو کې د خپلو مفکورو، احساساتو، تجربو، او خاطرو د اغېزناک بیان لارې چارې زده کوي.**

## ۸. همکاري

**تعریف:** همکاري د مشترکو موخو د تر لاسه کولو لپاره له نورو سره د ګډ کار کولو او ګډې زده‌کړې وړتیا ده چې دغه چارې په کې شاملې دي: په ډله‌ییزو کارونو کې فعاله ونډه اخیستل، د ډله‌ییز کار د قواعدو او طرزالعمل ټاکل او عملي کول، د معلوماتو او سرچینو شریکول، د ډله‌ییزو کارونو مشري کول، د شخړو حل او د ډله‌ییزو کارونو ارزول.

**فرعي قابلیتونه**

۱) **په ډله‌ییزو کارونو کې فعاله ونډه اخیستل:** په ډله‌ییزو بحثونو او ګډ کار کې د ښکېلېدلو وړتیا.

۲) **د ډله‌ییز کار د قواعدو او طرزالعمل ټاکل او عملي کول:** په ګډه سره د ډله‌ییز کار لپاره د اصولو او قواعدو د طرحې او تعریفولو وړتیا او د ګډو موخو د حاصلولو لپاره د دې اصولو د عملي کولو وړتیا ده.

۳) **د معلوماتو او سرچینو شریکول:** د ګډو موخو د حاصلولو لپاره د معلوماتو او سرچینو (انساني او مادي سرچینو لکه کتابونو، ورزشي توکو او داسې نورو) د شریکولو او غوښتلو او یو له بل سره د مرستې کولو وړتیا ده.

۴) **مشري:** پر نورو باندې د اغېز لرلو او د ډله‌ییزو فعالیتونو د لارښوونې وړتیا ده.

۵) **د شخړو حل:** د شخړو د مخنیوي او د شخړو د سوله‌ییز حل وړتیا ده.

۶) **د ډله‌ییز کار ارزونه:** د همکارۍ د بهیر او د دندو د پایلو ارزول او د ښه‌والي لپاره یې لاس په کار کېدل.

**د همکارۍ د قابلیت د پیاوړي کولو لپاره په دې کتاب کې ګروپي کارونه ډېر راغلي دي. پر برخو د مرکبو او مشتقو کلمو وېشل او معنا کول، د استنباطي پوښتنو ځوابول، د موضوع په باره کې وړاندوینه، مباحثه او ځینې نور فعالیتونه په ډله‌ییز ډول ترسره کېږي او شاګردان د همکارۍ، شریکولو، ګډو هڅو، د ستونزې د حل او نورو مهارتونو تمرین کوي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۹. د ځنګه زده کولو زده‌کړه

**تعریف:** له زده‌کړې او فکري ودې سره لېوالتیا؛ د پوهې او مهارتونو د اغېزناکې زده‌کړې ورتیا او په بېلابېلو ځایونو لکه کور، ښوونځي او پوهنتون، او کاري چاپېریال او ټولنه کې د پوهې او مهارتونو کارول؛ د مطالعې او څېړنې د میتودونو اغېزناکه استفاده او د ژوند په بېلابېلو برخو کې د خپلو مهارتونو او پوهې کارول.

**فرعي قابلیتونه**

۱) **زده‌کړې ته لېوالتیا:** زده‌کوونکی زده‌کړې او فکري ودې ته لېوال دی؛ باور لري چې زده‌کړه کولی او خپل د زده‌کړې ظرفیت لوړولی شي؛ نېوکې او غبرګون ته هرکلی وایي؛ پر زده‌کړه بانډې د سالمو ذهني عادتونو پر اغېزې پوهېږي او په مطالعې عادت دی.

۲) **د زده‌کړې د ورتیا ارزول:** زده‌کوونکی په دې پوهېږي چې په کومه لاره ښه زده‌کړه کولی شي؛ په زده‌کړه کې خپلې پیاوړتیاوې او کمزورتیاوې ور معلومې دي؛ عادت یې دی چې د خپلې زده‌کړې د طریقو په اړه فکر وکړي او د ژوند په اوږدو کې هڅه کوي چې خپل د زده‌کړې ظرفیت لوړ کاندي.

۳) **د مطالعې او زده‌کړې مهارتونه:** زده‌کوونکی د مطالعې او زده‌کړې پر اغېزناکو طریقو ښه پوهېږي، لکه فعاله زده‌کړه، یادښت نیول، خلاصه کول، او داسې نور؛ او ساده څېړنې ترسره کولی او راپور یې لیکلی شي.

۴) **د زده‌کړې د پروسې مدیریت:** زده‌کوونکی د خپلې زده‌کړې په وړاندې مسؤولیت احساسوي او د خپلې زده‌کړې پروسه په خپلواکه توګه رهبري کولی شي؛ او د زده‌کړې د پروسې د اسانه کولو لپاره له بېلابېلو سرچینو او فرصتونو لکه ښوونکي، مور او پلار، کتابونو، انټرنیټ او داسې نورو څخه کار اخلي.

**په دې مضمون کې د ځنګه زده کولو د زده‌کړې قابلیت په ځو لارو تقویه کېږي. ځینې معلوماتي متنونه په همدې اړه دي، لکه د نویو ژبو د زده‌کړې لارې چارې، د اغېزناکې مطالعې تخنیکونه او داسې نور. همدارنګه، په پښتو مضمون کې متنونه په مختلفو ژانرونو کې راغلي دي او شاګردانو ته د هر ډول متن د درک او فهم، تحلیل او ارزونې، او لیکلو لارې چارې ښوول کېږي. شاګردان دا زده کوي چې د معلوماتي متنونو د مختلفو ډولونو عمده مفکورې، جزئیات، او خلاصه ځنګه پیدا کړي؛ د کیسو پیل، منځ، او پای، کرکټرونه، غوټه یا مسأله، پېښې او نور جزئیات ځنګه راوسپړي؛ د شعر جوړښت او معنا ځنګه معلوم کړي؛ په شعر کې تصویرونه، تشبیه‌ګانې، استعارې، او سېمبولونه ځنګه تشخیص کړي او د معنا په پیدا کولو کې ورنه کار واخلي. پر دې سربېره، شاګردان د جدولونو، نقشو، ډیاګرامونو په کارولو سره دا ورتیا حاصلوي چې له مختلفو منابعو څخه معلومات ترلاسه کړي. دا فعالیتونه شاګردانو ته د ځنګه زده کولو تخنیکونه ورښیي او بیا شاګردان په مستقلو زده کوونکو بدلوي چې د چا له مرستې پرته مطالعه وکړي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۱۰. معلوماتي او ارتباطي ټکنالوژي

**تعریف:** د معلوماتو د راغونډولو او څېړلو، له نورو سره د اغېزناکو اړیکو نیولو او د مفکورو د شریکولو لپاره د معلوماتي او ارتباطي ټکنالوژۍ (کمپیوټر، موبایل، انټرنیټ ...) د اغېزناکې کارونې وړتیا ده، البته د دې ټکنالوژۍ د خطرونو او د اخلاقي اصولو په پام کې نیولو سره.

**فرعي قابلیتونه**

۱) **په کمپیوټر او د ټکنالوژۍ په نورو وسیلو سره د کار کولو وړتیا:** د معلوماتي او ارتباطي ټکنالوژۍ د وسیلو د هارډویر او سافټویر د عناصرو د پېژندلو او د ورځنیو ستونزو په حلولو کې یې د کارولو وړتیا ده.

۲) **په ټکنالوژۍ سره څېړنه:** په انټرنیټ کې د معلوماتو او سرچینو د لټولو او ډاونلوډولو، په کمپیوټر کې یې د زېرمه کولو، او د معلوماتو د سموالي او کره‌توب د ارزولو او د زده‌کړې د پروسې د ښه‌والي لپاره د معلوماتي او ارتباطي ټکنالوژۍ د اغېزناکې کارونې وړتیا ده.

۳) **په ټکنالوژۍ سره د اړیکو ټینګول:** د معلوماتو او مفکورو د تبادلې او له نورو سره د همکارۍ لپاره د معلوماتي او ارتباطي ټکنالوژۍ د ګټورې استفادې وړتیا.

۴) **د اخلاقي او ټولنیزو اصولو رعایتول:** د ټکنالوژۍ د کارولو پر اخلاقي او ټولنیزو اصولو پوهېدل او رعایتول یې؛ لکه: د وګړو خصوصي حریم، د معنوي مالکیت حق، په مجازي فضا کې د ناوړه استفادې او سر زورۍ د مخنیوي لارې چارې، او په مجازي فضا کې د شخصي معلوماتو د خوندیتوب لارې چارې.

**دا قابلیت هم د نورو قابلیتونو غوندې د محتوا او فعالیتونو له لارې راخپلېږي. د هېواد شرایطو او امکاناتو ته په پام سره به محترم ښوونکي/ ښوونکې شاګردان هڅوي چې څومره ممکن وي، په خپلو زده‌کړو کې له ټکنالوژۍ څخه کار واخلي. دا چې د دې دورې اکثره زده کوونکي د ټکنالوژۍ وسایل نه لري او د افغانستان په ډېرو سیمو کې منظمه او کافي برېښنا نشته، نو تمه نه شو کولی چې شاګردان دې د ورکړل شوې دندې د ترسره کولو لپاره له کمپیوټر او انټرنټ څخه کار واخلي، خو که محترم ښوونکی/ ښوونکې ګوري چې دا کار ممکن دی، شاګردان دې ورته وهڅوي. په نورو (منځنۍ او لیسه) دورو کې به هم د درسونو په محتوا کې د ټنکالوژۍ د وسایلو د کارولو په باره کې متنونه راشي او هم به شاګردانو ته سپارښتنه کېږي چې مثلاً خپله وینا دې په پاور پاینټ کې ترتیب او په ټولګي کې وړاندې کړي. په دې دوره کې یوازې د ټلویزیون او کمپیوټري لوبو په اړه لارښودیز معلومات راغلي دي.**

### ب. د زده‌کړې نصاب شموله ساحې

نصاب شموله ساحې، د زده‌کړې مهمې منځپانګې دي چې د یوه ځانګړي مضمون په محدوده کې نه رانغاړل کېږي او باید د څو درسي مضمونونو یا ټولو مضمونونو له لارې تدریس شي. نصاب شموله موضوعات له

(c) ketabton.com: The Digital Library

زده‌کوونکو سره مرسته کوي چې د بېلابېلو مضمونونو ترمنځ تړاو پیدا کړي او د مضمونونو د ډېروالي مخه نیسي.

د تعلیمي نصاب چوکاټ، له اسلامي لارښوونو سره سم، د لاندې درېو نصاب شموله ساحو سپارښتنه کوي چې د افغانستان د ټولنې لپاره اړینې دي:

- د سولې او هېوادوالۍ زده‌کړه
- د چاپېریال د پایښت زده‌کړه
- د تشبث زده‌کړه

## ۱. د سولې او هېوادوالۍ زده‌کړه

سوله‌ییز ژوند د افغانستان د تعلیمي نصاب په زړه کې ځای لري. اسلام هم پر سوله‌ییز او عادلانه ژوند ټینګار کړی دی. الله (ج) د سورة النحل په ۹۰ آیت کې فرمایي: «په رښتینه کې خدای د عدل، ښېګڼې او د خپلوانو (د حق) پوره کولو امر کوي» او د سورة الحجرات په ۱۰ آیت کې فرمایي: «په حقیقت کې مؤمنان سره وروڼه دي؛ نو د خپلو وروڼو ترمنځ (چې اختلاف پیدا کړي) روغه وکړئ او (خپل ځانونه) د خدای له عذابه وساتئ، ښایي چې په لورونه کې راونغاړل شئ.»

په هیواد کې د جګړو او شخړو کلونو او د تلپاتې سولې اړتیا ته په کتلو سره، سوله‌ییز ژوند د هېواد د ځوان نسل لپاره یو لومړیتوب دی. همدا ډول، تعلیمي نصاب باید زده‌کوونکي د پوهو او مسؤولو هېوادوالو په توګه وروزي چې د هېواد په وده او پرمختګ کې اغېزناکه ونډه واخلي او د یوویشتمې پېړۍ ژوند او نړیوال کېدلو ته چمتو شي. د هېوادوالۍ د لازمو وړتیاووستره برخه به په ټولګي او ښوونځي کې د دیموکراتیکو فعالیتونو د عملي تجربې له لارې تدریسېږي.

د سولې او هېوادوالۍ زده‌کړې په نصاب شموله ساحه کې، زده‌کوونکي دا زده کوي چې:

- د نورو لیدلوري، اړتیاوې او احساسات درک کړي؛
- د انسانانو ترمنځ توپیرونه وپېژني؛ درناوی یې وکړي او په ارزښت ورته قایل شي؛ او له تبعیضي چلند څخه ډډه وکړي؛
- په ټولګي، ښوونځي، کور او کارځای کې عادلانه چلند وکړي او ټولنیز عدالت ترویج کړي؛
- د حقیقت په لټه کې وي، د نورو خبرو ته په دقت غوږ ونیسي، غوره خبرې اترې وکړي او د لیدلوري د اختلاف له امله د نورو بې احترامي ونه کړي؛
- په ټولګي، ښوونځي، کور او ټولنه کې له لفظي او فزیکي تاوتریخوالي څخه ډډه وکړي؛

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د شخړې د رامنځ ته کېدو پر اصلي عواملو وپوهېږي؛ د شخړو د راپورته کېدو د مخنيـوي لپـاره گټـورې لارې چارې وکاروي؛
- د شخړو د حل لپاره سوله‌ييزې لارې وکاروي، او له شخړې وروسـته روغـه وکـړي چـې د غـچ اخيسـتنې مخه ونيسي او بېرته دوستانه اړيکي ټينگ شي؛
- اساسي قانون او نور ټول ملي قوانين رعايت کړي او له نړيوالو کنوانسيونونو سره اشنا شي؛
- د ځايي، ملي او نړيوالو اداري بنسټونو دندې او خدمتونه وپېژني؛
- د جهاني کېدلو لـه فرصـتونو او گواښـونو سره اشـنا شي او لـه فرصـتونو څخـه د گټـې اخيسـتنې او لـه گواښونو څخه د خوندي کېدلو لپاره لازمې وړتياوې ولري؛
- د سالمې او قانون‌مندې ټولنې د وگړو په حيث، خپل او د نورو حقونه او مسـؤوليتونه وپېـژني او رعايـت يې کړي؛
- په ټولنيزو او سياسي فعاليتونو کې د مسؤول، پوه او نقاد هېوادوال په توگه ونډه واخلي.

**د پښتو ژبې په مضمون کې داسې کيسې او متنونه راوړل شوي دي چې شاگردان سوله‌ييز ژوند تـه هڅـوي او د هېـواد د مختلفو قومونو، ولايتونو او سيمو په اړه معلومات ورکوي. په دې توگه، شاگردان له نورو قومونو او سيمو سره آشـنا کېـږي او قومي، ژبنی، فرهنگي تنوع ته د يوې طبيعي چارې په سترگه گوري. مثلاً په دې دوره کـې د شـنا اتـل عبـاس کريمـي چې دواړه لاسونه يې نشته او په قوم هزاره دی، معرفي شوی دی او د غور ولايت د جام مينار په باره کې معلومـاتي مـتن راغلی دی.**

## ۲. د چاپېريال پايښت

پايېدونکې پراختيا، هغه پراختيا ده چې د راتلونکو نسلونو د امکاناتو له قرباني کولو پرته، د اوسني نسل اړتياوې پوره کوي. پايېدونکې پراختيا، د نړۍ په کچه د زده‌کړو په لومړيتوبونو کې راځي. د پايېدونکې پراختيا د زده‌کړو د موخو يوه برخه د سولې او هېوادوالۍ د زده‌کړې په ساحه کې راغلې ده. د چاپېريالي پايښت د زده‌کړې ساحه له زده‌کوونکو سره مرسته کوي چې په فردي، ټولنيزه، ملي او نړيواله کچه د چاپېريال ساتنې لپاره اړينه پوهه او وړتيا ترلاسه کړي او د اوسني نسل او راتلونکو نسلونو لپاره په پوهې سره پرېکړې وکړي او مسؤولانه گامونه پورته کړي.

د پايېدونکي ژوند په نصاب شموله ساحه کې زده‌کوونکي زده کوي چې:

- د سالم ژوند طريقه لکه د فردي او ټولنيزې روغتيا او د خونديتوب لارې چارې، په خپل ژوند کې عملي کړي؛

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د سالم او پاک چاپېریال ارزښت درک کړي، هغه عوامل وپېژني چې پر چاپېریال اغېزه کوي، او د اوبو، ځنگلونو او پاکې هوا په گډون د طبیعي سرچینو او چاپېریال د ساتنې هڅې وکړي؛
- د کور، ښوونځي او د ژوندانه چاپېریال د ښېرازۍ لپاره هڅه وکړي؛
- د راتلونکو نسلونو د اړتیاوو او د بشري حقونو درناوی وکړي او په وړاندې یې مسؤولیت احساس کړي؛
- د ژوندیو موجوداتو په ساتنه او د ځمکې د ایکو سیستمونو په ساتنه او بیارغونه کې هڅه وکړي؛ او
- له پایېدونکي ژوند سره د بېلابېلو ټولنیزو، اقتصادي او چاپېریالي سیستمونو اړیکې درک کړي او له هغه چلند څخه چې د ځمکې ایکوسیستمونه تخریبوي، ډډه وکړي.

**د پښتو ژبې د هر ټولگي د درسي کتاب یو فصل طبیعت او چاپېریال ته ځانگړی شوی دی. په دې فصل کې په مستقیم او نامستقیم ډول د چاپېریال د اهمیت او د چاپېریال د ښه ساتلو په باره کې پیغامونه نغښتي دي. پر دې سربېره، شاگردانو ته په کورنۍ دنده کې ویل کېږي چې د خپلې سیمې چاپېریال دې وڅېړي او وگوري چې کومو شیانو یا د انسانانو کومو کارونو چاپېریال ته زیان رسولی دی او د خپلې سیمې د چاپېریال د ښه ساتلو لپاره د دوی وړاندیز څه دی. همدارنگه د هماغه اونیو په ډله‌ییزو بحثونو کې به د شاگردانو د بحث موضوع چاپېریال ساتنه وي. هر کله چې په کومه کیسه یا متن کې د چاپېریال خبره شوې وي، محترم ښوونکي/ محترمې ښوونکې دې د هغه په باره کې له شاگردانو سره بحث وکړي او نوي معلومات دې ورکړي.**

## ۳. تشبث

تشبث د ټولنې د اړتیاوو پوره کولو لپاره د نوي کار و بار رامنځ ته کولو او په کارځای کې د اغېزناک او اخلاقي کار کولو وړتیا ته وايي. په دې ساحه کې، زده‌کوونکي د کار د ایجادولو لپاره اړینې وړتیاوې زده کوي، لکه: په نوښت سره د ستونزو حل، د خطر منل، مشري، گډ کار، همکاري او د اړیکو ټینگول. همدا ډول کاري اخلاق زده کوي، لکه: رښتینولي، منځلاریتوب، د نورو همکارانو، په تېره بیا د مېرمنو درناوی، کاري انضباط، پر وخت راتگ، ځواب ورکول او د سرچینو نه ضایع کول؛ همدارنگه د قوانینو او مقرراتو، په ځانگړې توگه د خوندیتوب د مقرراتو د پلي کولو ارزښت درک کوي.

د تشبث په نصاب شموله ساحه کې، زده‌کوونکي دا زده کوي چې:

- د تشبث مفهوم او د هېواد په اقتصادي پراختیا کې یې ارزښت درک کړي؛
- د هوسا ژوند او د ټولنې د واقعي اړتیاوو د پوره کولو په خاطر، د یوه تشبث رامنځ ته کولو هڅه وکړي؛
- د یوه کوچني تشبث د رامنځ ته کولو لپاره د مفکورې طرحه کولو او د پلان جوړولو وړتیا ترلاسه کړي؛
- په اقتصادي فعالیتونو کې د خطر منلو وړتیا ترلاسه کړي؛

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د یوه کوچني تشبث د رامنځ ته کولو لپاره د ډله‌ییز کار وړتیا ترلاسه کړي؛
- د یوه کوچني تشبث د مشرتابه او اداره کولو وړتیا ترلاسه کړي؛
- په کاري اخلاقو، شرعي احکامو او د هېواد په نافذو قوانینو پورې اړوند اساسي ارزښتونه وپېژني او رعایت یې کړي؛ او
- قواعد او مقررات، په ځانګړي توګه سلوکي او د خوندیتوب مقررات رعایت کړي.

**په پښتو مضمون کې هڅه کېږي چې د کسب او کار د اهمیت او ارزښت په اړه ځینې کیسې راوړل شي او شاګردان د کار و بار ایجادولو ته وهڅول شي. البته دا موضوع تر ډېره بریده د لیسې دورې شاګردانو ته ګټوره ده ځکه چې هغوی له ښوونځي تر فراغت وروسته یا باید لوړې زده‌کړې وکړي او یا کار و بار ته مخه کړي. په همدې وجه مو په لومړنۍ دوره کې د تشبث موضوع نه ده راخیستې.**

## له پخواني نصاب سره د نوي قابلیت محوره نصاب عمده توپیرونه

- په پخواني نصاب کې تمرکز پر محتوا او معلوماتو و او شاګردان مجبور وو چې معلومات حفظ کړي؛ په نوي نصاب کې تمرکز د قابلیتونو پر حاصلولو دی چې شاګردان پوهه، مهارت او ذهنیت هم‌مهاله ترلاسه کړي؛
- په پخواني نصاب کې زده‌کړه معمولاً په منفعل ډول کېده چې هر څه به معلم تشریح کول او شاګردانو به په منفعل شکل یادول؛ په نوي نصاب کې شاګردان فعال وي او د مختلفو درسي فعالیتونو په ترسره کولو سره بېلابېل قابلیتونه حاصلوي او معلم به ورته لارښوونه کوي؛
- په پخواني نصاب کې اجتماعي او عاطفي زده‌کړې ته کافي توجه نه وه شوې؛ خو په نوي نصاب کې له لومړي ټولګي څخه شاګردانو ته ښوول کېږي چې خپل احساسات او عواطف څنګه وپېژني، په عواملو یې وپوهېږي، د کنټرولولو لارې چارې یې زده کړي، د نورو د احساساتو درناوی وکړي، د شخړو منطقي او سوله‌ییز حل زده کړي، ځان ته موخې وټاکي، موخو ته د رسېدو لپاره پلان جوړ کړي، د پلان د عملي کولو لپاره استقامت او هوډ ولري؛
- په پخواني نصاب کې د ژوند قابلیتونه نه وو؛ په نوي نصاب کې هر مضمون پر دې سر بېره چې خپل مضموني قابلیتونه تدریسوي، شاګردانو ته د ژوند اساسي قابلیتونه هم ورښيي؛
- په پخواني نصاب کې د مضمونونو محتوا د شاګردانو له عمر، سویې او عملي ژوند سره کافي رابطه نه درلوده؛ په نوي نصاب کې هڅه کېږي چې د هر مضمون محتوا او فعالیتونه د شاګردانو له عمر، ذوق او ضرورت سره سمه وي او په عملي ژوند کې یې په کار راشي؛

(c) ketabton.com: The Digital Library

- په پخواني نصاب کې به يوازې د شاگردانو حافظې وده کوله؛ خو په نوي نصاب کې د شاگردانو تفکر، تخيل، حافظه، او شخصيت هممهاله روزل کېږي او شاگردان د درک او فهم، تحليل، ارزونې، نقد او توليد مهارتونه حاصلوي؛
- په پخواني نصاب کې بين المضموني يا بين النصابي ساحې نه وې؛ خو په نوي نصاب کې درې بين المضموني ساحې ټاکل شوي دي چې هر مضمون به په خپله محتوا او خپلو فعاليتونو کې ورته ځای ورکوي. دا ساحې سوله او هېوادوالي، د چاپېريال پاينښت، او تشبث دي.

## ۲. د پښتو مضمون کُلي هدفونه

شاگردان به د دې مضمون په لوستلو سره:

- د شفاهي ويناوو د فهم او درک لپاره د فعاله غوږ نيولو له تگلارو څخه کار اخلي؛
- په مختلفو ځايونو (وړو او لويو جماعتونو، رسمي او غير رسمي محيطونو) کې واضحې، منطقي، له موخې سره سمې او مخاطب ته په پام سره خبرې کوي؛
- د متن مختلف ډولونه روان او له مناسب سرعت، لحن او فشار سره لولي.
- د متن مختلف ډولونه (شفاهي، ليکني، تصويري، گرافيکي متنونه) درک کوي، تحليلوي، ارزوي، تغييروي، او توليدوي.
- مخاطب او هدف ته په پام سره خپلې مفکورې، احساسات او نظرونه په مختلفو قالبونو (ژانرونو) کې ليکي؛
- د اطلاعاتو د راټولولو، د هغوی د اعتبار د معلومولو، ډلبندۍ، تحليل او منطقي نتيجې اخيستنې وړتيا لري؛
- د ادبي عنصرونو او مجازي ژبې له کارولو سره ادبي متنونه درک کوي، ارزوي، تغييروي او ځينې ژانرونه توليدوي؛
- په ليکنو کې معياري ژبه او د املاء او انشاء قواعد مراعاتوي؛
- ملي او نړيوال ادبي، فرهنگي او تاريخي ميراثونه پېژني، په اهميت يې پوهېږي، او په ساتلو کې يې همکاري کوي؛
- له درسي کتابونو ورهاخوا د نورو کتابونو مطالعې ته لېوال وي او منظمه مطالعه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

### ۳. د پښتو مضمون د تدریس اصول او میتودونه

د دې مضمون د تدریس لپاره مختلف میتودونه کارولی شو لکه: خبرې کول، ښودنه، ډله‌ییز بحث، د مسألې حل، انفرادي زده‌کړه، فعاله زده‌کړه، استقرائي تفکر، مغزي اوربښت، سوال او ځواب، تمثیل او نور. خو کُلي میتود به د تدریجي انتقال (زه یې ترسره کوم، موږ یې ترسره کوو، تاسې یې ترسره کوئ) میتود وي. په دې میتود کې هر فعالیت لومړی معلم، بیا معلم او شاګردان په ګډه او په آخر کې شاګردان پخپله ترسره کوي.

هر فعالیت به درې پړاوونه لري: معرفي، تکرار او تمرین، او تطبیق. هر فعالیت چې معرفي کېږي، په هماغه ټولګي کې به ۴-٦ ځله تکرارېږي او بیا به د تطبیق پړاو ته ځي. د فعالیت د معرفۍ په پړاو کې معلم د فعالیت نسبتاً زیاته برخه پخپله اجرا کوي چې شاګردان ورسره بلد شي. په دې پړاو کې تقریباً ۵۰ فیصده د معلم نقش وي او ۵۰ فیصده د شاګردانو فعالیت وي. په دوهم پړاو کې هماغه فعالیت تکرارېږي او شاګردان یې تکراروي. په دې پړاو کې د معلم نقش تقریباً ۲۰ فیصده او د شاګردانو ۸۰ فیصده وي. کله چې یو فعالیت ۴ – ٦ ځله تمرین شو، د تطبیق وار یې را رسېږي چې په دې پړاو کې ۱۰۰ فیصده فعالیت شاګردان پخپله اجرا کوي. هر فعالیت چې د تطبیق له پړاوه تېرېږي، معنا یې دا ده چې شاګردانو په هماغه فعالیت کې پوره قابلیت حاصل کړی دی. دا چې هر قابلیت له تکرار پرته څه نا څه د انسان هېرېږي، نو هر فعالیت به په زنځیري بڼه په مختلفو ټولګیو کې بیا بیا تکرارېږي. مثلاً که د کیسې د تحلیل فعالیت باید په څلورم ټولګي کې معرفي، تکرار، او تطبیق شي، په پنځم او شپږم ټولګي کې به یې بیا هم درې واړه پړاوونه له سره تکرارېږي.

د هر مفاهموي قابلیت (درک او فهم، تحلیل، ارزونه، نقد، تغییر، او تولید) او همدارنګه د ژبپوهنیزو قابلیتونو لپاره د فعالیتونو مختلف ډولونه په پام کې نیول شوي دي چې وروسته به په تفصیل سره بیان شي. ځینې مثالونه به یې دلته توضیح شي:

**د لغتونو زېرمه**

الف. معلم د هر درس نوي لغتونه په دې توګه تشریح کوي:

۱ .هغه جمله چې نوې کلمه په کې راغلې وي، [پخپله یا یې په شاګردانو] لولي.

۲ .نوې کلمه پر تختې لیکي او په شاګردانو یې درې ځله لولي.

۳ .د کلمې معنا د شاګردانو په سویه، په واضحو او آسانو کلمو بیانوي او په دوو یا دریو نویو جملو کې یې کاروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴ .له څو تنو شاګردانو څخه غواړي چې کلمه په جمله کې وکاروي.

۵ .د کلمې هغه تعریف او معنا چې په قاموس کې راغلې ده، شاګردانو ته وایي.

ب. مشتقې کلمې پر برخو (ریښه او تاړي) تجزیه کېږي چې شاګردان د نورو نویو کلمو ریښې وپېژني او د ریښو او تاړو له مخې یې معنا پیدا کړي .

**د درک او فهم فعالیتونه**

۱ .شاګردان د متن د عنوان او تصویر له مخې اټکل کوي چې محتوا به یې څه وي او یا په کیسه کې به څه پېښ شوي وي. د لوستلو په بهیر کې شاګردان ځای ځای تم کېږي او د متن/ کیسې لوستل شوې برخه په خپل ذهن کې مجسم کوي. تر لوستلو وروسته شاګردان ګوري چې د محتوا په اړه یې اټکل سم و، که نه .

۲ .د متن/ کیسې د لوستلو په بهیر کې ځای ځای معلم پوښتنه کوي چې تر دې وروسته به څه کېږي او شاګردان خپل نظر وایي. کله چې د متن/ کیسې بله برخه لوستل کېږي، شاګردانو ته معلومېږي چې اټکل یې سم و، که نه.

۳ .د معلوماتي متن تر لوستلو مخکې شاګردان ځینې جملې لولي او اټکل کوي چې د جملې معلومات به سم وي، که غلط. که فکر کوي چې د جملې خبره صحیح ده، مخې ته یې (ص) لیکي، که فکر کوي چې معلومات یې غلط دي، مخې ته یې (غ) لیکي. بیا د متن د هر پراګراف په لوستلو سره معلوموي چې اټکل یې سم و که نه.

۴ .شاګردان د متن/ کیسې تر لوستلو وروسته د مستقیمو او استنباطي پوښتنو ځوابونه وایي.

۵ .شاګردان د KWL چارټ په مرسته، هغه څه چې د موضوع په اړه له پخوا وربانديې پوهېده، څه چې غواړي د کتاب د متن په لوستلو سره پرې وپوهېږي، او څه چې د متن تر لوستلو وروسته وربانديې وپوهېدل، بیانوي.

**د متن د تحلیل فعالیتونه**

الف. د روایتي متنونو تحلیل:

۱ .شاګردان د کیسې کرکټرونه، اصلي کرکټرونه، ځای – زمان، او پېښې په چارټ کې وړاندې کوي.

۲ .شاګردان د کیسې پیل، منځ، او پای د کیسې په نقشه کې ښیي.

۳ .شاګردان د چا د ژوندلیک معلومات د زماني ترتیب په جدول کې وړاندې کوي.

ب. د معلوماتي متنونو تحلیل:

۱ .شاګردان د توضیحي متن موضوع، عمده مفکورې، او ملاتړي جزئیات د معلوماتو په جال کې ترتیبوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲ .شاگردان د مقايسي متن معلومات په وين (Venn) ډياګرام کې ترتيبوي.

۳ .شاگردان د علت او معلول د مقالې جزئيات په چارټ کې داسې ترتيبوي چې د علت او معلول تر منځ رابطه په کې واضحه شي.

ج. د شعرونو تحليل:

۱ .شاگردان د شعر او نثر د جوړښت توپيرونه تحليلوي.

۲ .شاگردان په شعر کې د مجازي ژبې عناصر لکه تشبيه، استعاره، تشخيص، او ذهني تصوير راسپړي.

**د متن ارزونه او نقد**

۱ .د روايتي متن پېښې او د کرکټرونو چار چلند ارزول کېږي چې سم او منطقي دي که نه.

۲ .د معلوماتي متن وضاحت، دلچسپي، د معلومات سموالی او منطقي والی ارزول کېږي.

۳ .د اقناعي متنونو دليلونه او شواهد ارزول کېږي چې واقعي او منطقي دي، که نه.

**ډله‌ييز بحثونه**

۱ .شاگردان په ډلو کې د انتزاعي مفاهيمو په اړه بحث کوي. مثلاً دا چې ملگرتيا څه معنا؟ ښه ملگری څنگه وي؟ پوښتنې ولې کوو؟ خپلې پوښتنې څنگه بايد وکړو؟ ځينې شيان ولې خوښوو؟ او داسې نور.

۲ .د هرې ډلې يو استازی د خپلې ډلې د بحث نتيجه او لنډيز له نورو ټولگيوالو سره شريکوي.

**ليکل**

۱ .شاگردان د متن په اړه د استنباطي پوښتنو ځوابونه ليکي.

۲ .شاگردان د متن لنډيز ليکي.

۳ .شاگردان د متن/ کيسې په اړه خپل نظرونه ليکي چې متن يې خوښ شو که نه، د متن کومه برخه يې خوښه شوه او ولې، د متن په لوستلو سره څه احساس په کې پيدا شو...

۴ .شاگردان د درس د موضوع په اړه خپله خاطره، تجربه، يا معلومات ليکي.

۵ .شاگردان مختلف ژانرونه لکه خاطره، گزارش، او توضيحي، مقايسي-، او اقناعي مقاله، او همدارنگه، لنډه کيسه او ډرامه ليکي.

**يادښت**

**۱. د دې کتاب جوړښت، فعاليتونه او د تدريس ميتودونه د «افغان ماشومان يې لولي (ACR)» د پروگرام له کتابونو سره سم برابر شوي دي. هغه شاگردان چې له ۱-۳ ټولگي پورې يې د همدې پروگرام**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کتابونه لوستي وي، له دې کتاب څخه به لا زياته ګټه واخيستلی شي. همدارنګه، هغه قدرمن ښوونکي/ قدرمنې ښوونکې چې د «افغان ماشومان يې لولي» پروګرام له ميتودونو سره آشنا وي، د دې کتاب تدريس به ورته لا آسانه وي.**

**۲. محترم معلمان/ محترمې معلمانې د خپلې تجربې له مخې د فعاليتونو د ترسره کولو نور ميتودونه هم کارولی شي. که فکر کوي چې په دې لارښود کې راغلي ميتودونه ګټور دي، همدا دې وکاروي خو که تر دې ښه متيودونه ورمعلوم وي يا په خپل نوښت او ابتکار نور ښه ميتودونه مونډلی شي، د کارولو آزادي يې لري.**

**ټول شموله تدريس/ زده کړه**

محترمو معلمانو ته بويه چې خپل تدريس او فعاليتونه داسې عيار کړي چې د ټولو شاګردانو لپاره مناسب وي. که په ټولګي کې کوم شاګرد فيزيکي معلوليت ولري، معلم دې ورته ځانګړی پام وکړي او ټولګيوال يې دې له هغه سره همکارۍ ته وهڅوي. که څوک په ليدلو يا اورېدلو کې ستونزه لري، هغه دې په لومړي کتار کې کېنوي چې تخته ورته سمه ښکاره شي او د معلم غږ ښه واوري. معلم دې هڅه وکړي چې خپل غږ داسې عيار کړي چې ټولو شاګردانو ته ورسېږي. که څوک په پښه معلول وي، هغه دې د ټولګي له دروازې سره جوخت کېنوي چې تګ راتګ ورته آسانه شي او همدارنګه، له شاګردانو څخه دې وغواړي چې له هغه سره په مهربانۍ چلند وکړي. که څوک کورنۍ ستونزې ولري، د جګړې يا طبيعي پېښو په وجه له خپل کور کلي بې ځايه شوي وي، غمرازي دې ورسره وشي چې په ډله‌ييزو فعاليتونو کې ګډ کړی شي چې پام يې غلط شي او ځان يوازې ونه ګڼي. ټولګيوال يې بايد وهڅول شي چې له هغه سره ملګري/ ملګرې شي.

ښوونکي/ ښوونکې او د ښوونځيو اداري بايد داسې تعليمي چاپېريال رامنځته کړي چې ټول شاګردان ځانونه په کې خوندي وګڼي، هېڅوک له فيزيکي، لفظي او اروايي خشونت سره مخ نه وي، د جنسي- ځورونې خطر نه وي، او ټول شاګردان په امن او سوله‌ييزه فضا کې د متقابل درناوي او همکارۍ په روحيه سره وپايي .

همدارنګه، معلمان دې په ټولګي کې د تبعيض او تعصب مخه ونيسي. معلمان بايد په فعاليتونو کې د مختلفو قومي، توکميزو، ژبنيزو، ټولنيزو ... طبقو شاګردانو ته ډله‌ييز کارونه ورکړي چې د يو بل په درک کولو، پېژندلو، او خپلولو سره د يووالي روحيه په کې پيدا او پياوړې شي. شاګردان بايد داسې ورزول شي چې د هېواد قومي، ژبنيز، فرهنګي او ټولنيز توپيرونه د تنوع په حيث درک کړي او د يو بل منلو، يووالي او برابرۍ روحيه ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

### ۴. په پښتو مضمون کې د ارزونې میتودونه

دا چې قابلیت محوره - نصاب په پام کې لرو، نو د ارزونې د نورو ډولونو تر څنګ، لکه تشخیصي یا لومړنۍ ارزونه او وروستۍ یا پایلیزه ارزونه، تکویني یا دوامداره ارزونه (Formative assessment) هم ډېره مهمه او مناسبه ده ځکه چې د قابلیتونو حاصلول جاري او اوږدمهاله پروسه ده، نو ارزونه یې هم باید پرله پسې، جاري او همیشنۍ وي. د دوامدارې ارزونې نمونه په همدې لاربښود کې شته. په دې نمونه کې د مضمون مختلف اصلي او فرعي قابلیتونه په یوه جدول کې لیکل شوي دي او محترم معلمان به له دې نمونې سره سم، هر شاګرد د هر قابلیت لپاره په هر تعلیمي کال کې لږ تر لږه درې وارې ارزوي. غوره به دا وي چې محترم ښوونکي/ محترمې ښوونکې د هر فصل په درېمه اونۍ کې د زده کړې او تدریس ارزونه وکړي، ځکه چې شاګردانو به په لومړیو دوو اونیو کې هماغه فعالیتونه تمرین کړي وي. قدرمن ښوونکي/ ښوونکې به ګوري چې کوم شاګردان په کوم قابلیت کې پخ دي او اضافي مرستې ته اړتیا لري او بیا به له هماغو شاګردانو سره په نورو ساعتونو کې لا ډېر کار کوي او په فعالیتونو کې به لا زیاته برخه ورکوي چې تکړه شي.

پر دې سربېره، کله چې محترم معلمان په ټولګي کې شاګردانو ته د ګروپي یا انفرادي کار وظیفه ورکوي، پخپله به په صنف کې ګرځي او شاګردان به ارزوي چې خپل کار څنګه ترسره کوي او که څوک همکارۍ ته اړتیا ولري، ورسره همکاري به کوي. همدارنګه، محترم معلمان به د هر فعالیت د ترسره کولو پر مهال شاګردان څاري چې څوک څومره فعالیت کوي. مثلاً که یو شاګرد ذهني او استنباطي پوښتنې ښې ځوابوي خو په لیکلو کې یې ستونزه لري، معلم دې ورسره د اضافي مرستې پلان جوړ کړي. معلم به هغه شاګردان چې لږ فعالیت کوي، هڅوي چې لا زیات فعال شي. معلم به د کم کارو شاګردانو د کم فعالیت علتونه مومي او د رفع کولو هڅه به یې کوي. معلم دې په چوکیو کې د شاګردانو تنظیم داسې عیار کړي چې تکړه او فعال شاګردان او هغه شاګردان چې په فعالیتونو کې پخ دي، سره خوا په خوا کېني او تکړه شاګردان دې له خپلو ټولګیوالو سره همکاري وکړي.

که کوم شاګرد په یوه خاص فعالیت کې مخ ته نه ځي، مثلاً په وینا کې پخ دی، معلم دې هغه وهڅوي چې لومړی خپلو څنګلوریو ټولګیوالو ته وینا وکړي، بیا د ټولګیوالو نسبتاً لویې ډلې ته او بالاخره د درست ټولګي په مخ کې وینا وکړي. همدا شان که په هر فعالیت کې یو شاګرد کم کاره وي، معلم دې په هماغه فعالیت کې هغه ته لا زیاته ونډه ورکړي چې قابلیت یې په کې زیات شي. د شاګردانو قابلیتونه به د هغوی د کورنۍ دندې او

(c) ketabton.com: The Digital Library

پروژې له مخې هم ارزول کېږي. په نوي نصاب کې کورنۍ دندې قابلیت محوره دي، یعنې شاګردان مجبور نه دي چې د کتاب متن هو بهو ولیکي، بلکې د هماغه موضوع یا ژانر په اړه به خپل متن/ خپله خاطره، تجربه، مشاهده یا کیسه لیکي. نو کورنۍ دنده د شاګردانو د قابلیتونو د ارزولو لپاره ډېره مناسبه وسیله ده.

له بلې خوا، پایلیزه ارزونه (summative assessment) باید د قابلیتونو ارزونې ته ځانګړې وي، نه د شاګردانو د حافظې او معلوماتو ارزولو ته. یعنې په صنفي، څلورنیم میاشتنۍ او کلنۍ ازموینه کې شاګردان باید د مختلفو قابلیتونو په لحاظ وارزول شي او ازموینه دې داسې طراحي شي چې قابلیتونه وازمایي. مثلاً په پنځم ټولګي کې شاګردان باید د کیسې پیل، منځ او پای معلوم کړی شي، دوه شیان سره مقایسه کړی شي، د ژوندلیکونو معلومات په کرونولوژیک ترتیب تنظیم کړی شي نو په ازموینه کې د دې فرضي پوښتنې پر ځای چې: «د کیسې پیل، منځ او پای څنګه معلوموو؟»؛ شاګردانو ته باید یوه کیسه ورکړل شي چې په چارټ کې د کیسې پیل، منځ او پای وښیي.

همدارنګه، د متنونو د ارزونې په برخه کې، مثلاً شاګردانو ته دې یو مقایسي متن ورکړل شي چې هغوی د متن جملې د وضاحت، سلاست، آسانوالي او سختوالي په لحاظ وارزوي. په تقریري ازموینه کې د دې پر ځای چې له شاګردانو څخه پوښتنې وشي چې ځواب یې ووایي، باید شاګردانو ته یوه موضوع ورکړل شي چې په اړه یې وینا وکړي، البته د وینا لپاره موضوعات باید تر ازموینې یوه اونۍ مخکې شاګردانو ته ابلاغ شي.

د ښوونځي اداره دې داسې سیستم رامنځته کړي چې کله شاګردان له یوه ټولګي څخه بل ټولګي ته ارتقا کوي، د ټولګي د پښتو مضمون معلم یې له نوي معلم سره خپل معلومات شریک کړي او د هر شاګرد د قابلیتونو د اندازې او کچې په اړه ورته لیکلي معلومات ورکړي چې هغه بیا په نوي ټولګي کې له ضعیفو شاګردانو سره په هماغو ځانګړو قابلیتونو کې لا زیات کار وکړي چې پرمختګ یې یقیني شي.

## ۵. د پښتو د پنځم ټولګي د کتاب جوړښت

دا کتاب په نهو فصلونو ترتیب شوی دی چې هر فصل یې درې درسه لري او هر درس د یوې اونۍ یعنې د څلورو درسي ساعتونو لپاره لیکل شوی دی. فصلونه د موضوع او ژانر پر اساس برابر شوي دي. هر فصل یوه عمومي موضوع او یو ژانر رانغاړي. هر درس د فصل د عمومي موضوع یوه فرعي موضوع بیانوي خو د درې واړو درسونو ژانر یو دی. مخکې مو وویل چې شاګردان په پښتو مضمون کې مختلف ژانرونه لولي، ځکه چې د هر ژانر د درک او فهم، تحلیل او ارزونې، او تولید لارې چارې له نورو ژانرونو متفاوتې دي. همدارنګه، په هر درس

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې د ګرامر یو فعالیت راغلی دی. ګرامري موضوعات د وسعت او تسلسل له مخې پر فصلونو او درسونو وېشل شوي دي او په دې دوره کې به په ضمني ډول تدریسېږي یعنې د دې پر ځای چې د ګرامري موضوعاتو پر تعریفونو زیات تمرکز وشي، ګرامري قاعدې په فعالیتونو کې تمرین کېږي چې شاګردان یې د عملي کارونې چل زده کړي او په خپلو لیکنو کې یې وکاروي.

د دې لپاره چې په مفرداتو کې راغلي قابلیتونه په درسونو کې ښه ځای پر ځای شي، د هر درسي ساعت فعالیتونه مو داسې ټاکلي دي:

| درسي ساعت | قابلیتونه او فعالیتونه |
|---|---|
| لومړی ساعت | **قابلیتونه: لوستل، درک او فهم، د کلمو زېرمه**<br>**فعالیتونه**<br>• **هجا:** د متن هغه کلمې چې درې یا تر دریو ډېرې څپې لري، په هجاوو وېشلی او هجا په هجا لوستل کېږي. دا فعالیت له روان لوستلو سره مرسته کوي.<br>• **د نویو کلمو معنا کول:** د متن نوې کلمې په دې فعالیت کې معنا او په جملو کې کارول کېږي چې شاګردانو ته د متن پوهېدل آسانه او د کلمو زېرمه یې زیاته شي.<br>• **اټکل** (**د متن/ کیسې په اړه وړاندوینه**): دا فعالیت د شاګردانو له پخوانۍ پوهې، تجربې، او مشاهدې سره د درس رابطه ټینګوي او په عین وخت کې د درس لوستلو ته تلوسه او انګېزه ایجادوي.<br>• **لوستل** (تر لوستلو مخکې، د لوستلو په بهیر کې، تر لوستلو وروسته فعالیتونه): دا فعالیت په مختلفو درسونو کې متفاوت ترسره کېږي چې په هر فصل کې به جلا جلا توضیح شي.<br>• **کورنۍ دنده:** شاګردان د درس د موضوع په اړه خپله تجربه، معلومات، خاطره، یا کیسه لیکي. |
| دوهم ساعت | **قابلیتونه: د لغتونو زېرمه - دمتن تحلیل، ارزونه، نقد**<br>**فعالیتونه**<br>• **د کلمو تجزیه:** دا فعالیت د دې لپاره طرح شوی دی چې شاګردان د مرکبو او مشتقو کلمو په تجزیې سره، د کلمو معنا پخپله پیدا کړي. په دې فعالیت کې کلمې پر اصلي برخې (ریښې) او مختاړو او روستاړو تجزیه کېږي. بیا د ریښې معنا او د مختاړي یا |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| | روستاړي نقش توضیح کېږي او په دې سره د ټولې کلمې معنا پیدا کېږي. دا فعالیت شاګردانو ته دا وړتیا ورکوي چې هر کله مرکبې او مشتقې کلمې ویني، تجزیه یې کړي او په معنا یې ځان وپوهوي.<br>• **د متن تحلیل (په چارټ یا ډیاګرام کې د معلوماتو تنظیم):** د متن پر مختلفو ډولونو د پوهېدو ښه لاره، د متن د معلوماتو تحلیل او په چارټ، شکل، او ډیاګرام کې یې ښودل دي. له بله پلوه، په دې فعالیت کې معلومات په بصري بڼه وړاندې کېږي او زده کول یې شاګردانو ته آسانېږي.<br>• **د متن ارزونه/ د کیسې د کرکټرونو ارزونه:** په دې فعالیت کې شاګردان متن د روانۍ، وضاحت، او بلاغت په لحاظ ارزوي او همدارنګه د کیسو د کرکټرونو عملونه او خبرې ارزوي چې کارونه یې منطقي او خبرې یې سمې دي، که څنګه؟ دا فعالیت د شاګردانو نقادانه تفکر روزي. |
| **درېیم ساعت** | **قابلیتونه: غوږ نیول، خبرې کول، ګرامر**<br>**فعالیتونه**<br>• **ډله‌ییز بحث:** د کتاب په ځینو فصلونو کې د یوې انتزاعي موضوع په اړه درې پوښتنې راغلې دي. شاګردان په شپږ کسیزو ډلو کې د ښوونکي/ ښوونکې په لارښوونه پر هرې پوښتنې بحث کوي او خپل نظرونه شریکوي. په هره ډله کې یو یو کس په وار سره د ډلې استازی ټاکل کېږي چې هغه د بحث په پای کې د خپلې ډلې د خبرو اترو نتیجه نورو شاګردانو ته وایي. کله چې د درې واړو پوښتنو په اړه بحث تمام او د ډلو نظرونه له ټولو ټولګیوالو سره شریک شول، بیا یو کس د ټولو نظرونو خلاصه بیانوي. دا فعالیت په شاګردانو کې تفکر، استدلال، منطق، فعاله غوږ نیول، خلاصه کول، همکاري، ځاني مدیریت، او د مفاهمې قابلیتونه روزي. پر دې سربېره، محترم ښوونکی/ ښوونکې شاګردانو ته د مباحثې ادبونه او اصول ورښیي.<br>• **وینا:** په هغو فصلونو کې چې ډله‌ییز بحث نشته، د وینا لپاره یوه موضوع (معمولاً د هماغه درس موضوع) ټاکل کېږي. محترم ښوونکی/ ښوونکې د دوهم درسي ساعت په پای کې پنځه تنه غوره کوي او ورته وایي چې د بل درسي ساعت لپاره دې د وینا تیاری ونیسي. کله چې دا پنځه تنه وینا کوي، نور شاګردان به په ځیر ورته غوږ نیسي او د خبرو مهم ټکي به یې نوټ کوي. په دې فعالیت کې شاګردان د اغېزناکې، منسجمې، روانې، فصیحې وینا تخنیکونه زده کوي او همدارنګه محترم ښوونکی/ ښوونکې ورته د وینا کولو ادبونه او اصول ښیي. |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| | • **ګرامر:** څنګه چې مخکې مو وویل، په دې دوره کې ګرامر په عملي فعالیتونو کې تدرسېږي او هڅه کېږي چې شاګردان ګرامري قاعدې داسې زده کړي چې په خپلو ویناوو او لیکنو کې یې وکاروي. په دې فعالیت کې شاګردان د پښتو ژبې معیاري ګرامر زده کوي او له خپلې لهجې سره د معیاري ګرامر توپیرونه پېژني. په دې توګه به مو راتلونکي نسلونه واحد ګرامر کاروي او په لیکنو کې به لهجه‌یي ګډوډۍ ختمې شي.<br>• **کورنۍ دنده:** د دې ساعت په کورنۍ دنده کې شاګردان یا د خپل ډله‌ییز بحث یا د ویناوالو د ویناوو مهم ټکي لیکي. |
| **څلورم ساعت** | **قابلیتونه: لیکل، ارزول** (زموږ اکثره شاګردان په لیکلو کې ستونزه لري، نو په دې نصاب کې هڅه شوې ده چې د لیکلو فعالیتونه زیات شي)<br>**فعالیتونه**<br>• **د کلمو تجزیه او املاء:** د لومړنۍ دورې شاګردانو ته د ځینو کلمو یوځای لیکل سخت وي خو که پر برخو یې ووېشي او هره برخه یې جلا جلا ولیکي، کار به ورته آسان شي. دا فعالیت د همدې لپاره دی چې شاګردان پر برخو د وېشلو له لارې د کلمو سمه املاء زده کړي.<br>• **د استنباطي پوښتنو د ځوابونو لیکل:** د متن/ کیسې په اړه داسې پوښتنې راغلي دي چې ځواب یې په متن کې نشته او شاګردان یې د خپلې پوهې، تجربې، مشاهدې او معلوماتو له مخې ځوابونه لیکي. دا معمولاً داسې پوښتنې دي چې واحد ځواب نه لري او کېدی شي مختلف ځوابونه ورته سم وي او یا هېڅ ځواب ناسم نه وي. شاګردان چې هر ځواب ورکوي، باید دلیل او منطق ورته ولري. په دې فعالیت کې د شاګردانو د تفکر، تخیل او منطق ځواک روزل کېږي.<br>• **د متن تحریري ارزونه/ د متن د اصلي مفکورو او تفصیل لیکل:** په دې فعالیت کې شاګردان د متن/ کیسې په اړه د ارزولو پوښتنې په تحریري بڼه ځوابوي. په ځینو فصلونو کې د دې فعالیت پر ځای، شاګردان په جدول کې د متن د هر پراګراف اصلي مفکوره او د هماغې مفکورې تفصیل لیکي. دا فعالیت له یوې خوا د متن پر مهمو ټکو پوهېدل آسانوي او له بلې خوا د متن خلاصه کولو ته په کارېږي.<br>• **د متن/ کیسې په اړه نظر:** په دې فعالیت کې شاګردان د دې پوښتنې ځواب لیکي چې د متن/ کیسې کومه برخه یې خوښه شوه، ولې یې خوښه شوه، او څه یې ځنې زده کړل. دا فعالیت له موضوع سره د شاګرد شخصي رابطه ټینګوي او د خپلو مفکورو او احساساتو د بیانولو وړتیا یې زیاتوي. |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | |
|---|---|
| • **د متن خلاصه کول:** په دې فعالیت کې شاګردان د متن/ کیسې خلاصه لیکي. دا له شاګردانو سره مرسته کوي چې د متنونو مهم ټکي په آسانۍ سره پیدا او خلاصه یې په خپله ژبه ولیکي. دا کار پر متن د ژورې پوهېدا لپاره ګټور دی او شاګردان ازموینو او لوړو زده‌کړو ته چمتو کوي. | |

**یادښت:** څنګه چې په پورتني جدول کې وینئ، کورنۍ دنده یوازې په لومړي او دریم درسي ساعت کې راغلې ده. وجه یې دا ده چې له یوې خوا پر شاګردانو ډېر فشار را نه شي او له بلې خوا د کورنۍ دندې د ارزولو لپاره کافي وخت وي. قدرمن ښوونکي/ ښوونکې دې د لومړي ساعت کورنۍ دنده په دوهم او د دریم ساعت کورنۍ دنده په څلورم ساعت کې وارزوي. البته د ټولو شاګردانو کورنۍ دندې هم‌مهاله نه شي ارزولی ځکه چې په ټولګیو کې د شاګردانو شمېر زیات وي، نو محترم معلمان دې په هر دوهم او څلورم درسي ساعت کې څلور یا پنځه شاګردان په نوبت سره د ټولګي مخې ته راوبولي چې خپلې کورنۍ دندې ولولي او دوی یې ورته اصلاح کړي. په هغه ساعت کې چې د فصلونو د پیل خبرې کېږي (دا موضوع لاندې بیان شوې ده)، د ځینو نورو شاګردانو کورنۍ دندې هم په کې ارزولی شئ، ځکه چې د فصل د پیل خبرې ممکن ۲۰ دقیقې وخت ونیسي- او پاتې وخت یې همدې کار ته ورکولی شو.

**د فصلونو پیل**

د هر فصل په سر کې د فصل عمومي موضوع، ژانر، ستري مفکورې، اساسي پوښتنې، او د فصل عمومي ښوونیز هدفونه راغلي دي. محترم ښوونکی/ ښوونکې به د هر فصل تر درسونو مخکې پر همدې موضوعاتو بحث کوي. مخکې مو وویل چې کتاب ۹ فصلونه لري او هر فصل د دریو اونیو لپاره دی چې په دې حساب د ټول کتاب تدریس ۲۷ اونۍ وخت نیسي، حال دا چې زموږ تعلیمي کال ۲۸ اونۍ دی او یوه اونۍ اضافي پاتې کېږي. د همدې اضافي اونۍ ورځې دې د هر فصل د پیل لپاره وکارول شي او قدرمن معلمان دې په کې د فصل عمومي معلومات وړاندې کړي. دلته به د دې ځینو اصطلاحاتو تعریفونه ولولئ.

**ژانر یا د متن ډول:** هغه قالب دی چې متنونه په کې لیکل کېږي او ځانګړی شکل، محتوا، هدف، او تخنیکونه لري. مثلاً شعر یو ژانر دی چې د شکل په لحاظ نظم دی او له بیتونو، مسرو، او یا کرښو جوړ دی، محتوا یې د احساساتو بیان، او تخنیکونه یې وزن، قافیه، سجع، تشبیه، استعاره، کنایه، سېمبول ... دي. کیسه بل ژانر دی چې د شکل په لحاظ نثري ژانر دی چې پیل، منځ او پای لري؛ محتوا یې خیالي پېښې دي؛ تخنیکونه یې توصیف، صحنه، مکالمه ... دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژانرونه د هدف په لحاظ څلور ډلې دي: معلوماتي، روايتي، اقناعي، او شعر. معلوماتي ژانر د مقالو مختلف ډولونه رانغاړي، لکه توضيحي، مقايسي، علت او معلول، لارښوديز، د بهير يا پروسې او داسې نورې مقالې. روايتي ژانرونه يا واقعي يا خيالي پېښې بيانوي. حکايت، نکل، لنډه کيسه، او ناول پر تخيلي پېښو ولاړ وي او گزارش، خاطره، ژوندليک، او يونليک واقعي د واقعي پېښو کيسې کوي. په اقناعي ژانرونو کې ليکوال د مخاطب د قانع کولو لپاره خپله نظريه وړاندې کوي، استدلال کوي، يا د يوې نظريې د رد يا تأييد هڅه کوي. همدارنگه، شعر د خپلو عواطفو او احساساتو د بيانولو لپاره کارول کېږي.

دا چې د هر ژانر د درک او فهم، تحليل، ارزونې، نقد او توليد تخنيکونه سره متفاوت دي، په دې کتاب کې د هر فصل ټول متنونه په يوه ژانر کې راغلي دي چې شاگردان ښه وربانديې وپوهېږي.

**سترې مفکورې (Big Ideas):** ستره مفکوره يوه بياني جمله ده او داسې موضوع بيانوي چې لويه وي او په يوه درس کې، ان په يوه فصل کې نه ځايېږي. ستره مفکوره د شاگردانو په ذهن کې ځينې پوښتنې راولاړوي چې اساسي پوښتنې بلل کېږي. ستره مفکوره په هغو مضمونونو کې چې محتوا يې اصل وي لکه ساينس، رياضي، او اجتماعي علوم، خورا مهمه ده. په دې مضمونونو کې سترې مفکورې څو وړې مفکورې يا واړه مفاهيم سره رانغاړي. د ژبې په مضمون کې، چې اصل يې مضموني او د ژوند قابليتونه دي، نه محتوا؛ سترې مفکورې بله بڼه لري. دا چې د دې کتاب فصلونه د محتوا او ژانر په لحاظ ترتيب شوي دي، نو د هر فصل په سر کې دوې سترې مفکورې راغلي دي: يوه د موضوع يا محتوا لپاره، بله د ژانر لپاره.

**اساسي پوښتنې (Essential Questions):** اساسي پوښتنې له سترې مفکورې څخه راولاړېږي او داسې پوښتنې دي چې واحد سم ځواب نه لري، بلکې گڼ ځوابونه ورته سم ختلی شي. د اساسي پوښتنې ځواب تيار نه وي چې ځوک دې يې له متن يا بل ځای څخه پيدا کړي، بلکې هر ځوک يې د خپل فکر، تجسس، پلټنې او تجربې پر اساس ځوابوي. اساسي پوښتنې شاگردان فکر کولو، څېړنې او پلټنې ته هڅوي.

**د فصل عمومي ښوونيز هدفونه:** څنگه چې مو وويل، د دې کتاب هر فصل واحد ژانر لري او اکثره مضموني قابليتونه په کې مشترک دي. په همدې وجه، د تکرار د مخنيوي لپاره، هغه ښوونيز هدفونه چې د يوه فصل په ټولو درسونو کې تکرارېږي، د فصل په سر کې او هغه هدفونه چې د هر درس لپاره بېل دي، د درس په سر کې راغلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دوهمه برخه

## د فصلونو او درسونو د تدريس لارښود

## لومړی فصل

**يادښت: د هر درسي ساعت فعاليتونه داسې تنظيم شوي دي چې ۴۰ دقيقې وخت به نيسي، ځکه چې زموږ درسي ساعتونه په اوږدو ورځو کې ۴۵ او په لنډو ورځو کې ۳۵ دقيقې وي او اوسط يې هماغه ۴۰ دقيقې کېږي. تاسې وخت ته په کتلو سره، کولی شئ د فعاليتونو وخت کم يا زيات کړئ.**

**۱. د نوي نصاب او د دې کتاب تشريح (۲۰ دقيقې):** محترمو ښوونکو شاګردانو ته د ځان ته معرفي او ښه راغلاست ويلو وروسته، د نوي نصاب په باره کې معلومات ورکړئ. د ژوند قابليتونه، مضموني قابليتونه (چې پورته تشريح شوي دي او په مفرداتو کې راغلي دي)، د کتاب جوړښت، او په درسي ساعتونو کې د فعاليتونو وېش په لنډه تشريح کړئ.

**۲. د لومړي فصل تشريح (۲۰ دقيقې)**

**الف. د فصل عمومي موضوع:** شاګردانو ته ووايئ چې د فصل عمومي موضوع ديني او اخلاقي ارزښتونه دي. په دې فصل کې درې درسه لرو: د الله ﷻ مهرباني، احسان، او ملګرتيا.

**ب. د فصل د متنونو ډول (ژانر):** شاګردانو ته د ژانر په باره کې معلومات ورکړئ. لاندې پوښتنې پر تختې وليکئ او د هرې پوښتنې ځواب ورته ووايئ [د لارښود په ۲۸ صفحه کې دغه معلومات شته]:

- ژانر څه ته وايي؟
- د هدف په لحاظ ژانرونه څو ډوله دي؟
- روايتي ژانر څه ډول وي؟

بيا د روايتي ژانر په باره کې لږ نور معلومات ورکړئ چې په روايتي ژانر کې يا واقعي يا خيالي پېښې بيانېږي. په حکايت، لنډه کيسه، ناول، او ډرامه کې پېښې خيالي وي چې ليکوال يې په خپل ذهن کې جوړوي. خاطره، ژونډليک، يونليک، او ګزارش هغه روايتي ژانرونه دي چې واقعي پېښې بيانوي. د دې فصل متنونه په روايتي ژانر کې دي او په روايتي کې بيا حکايت او کيسې دي.

**ج. سترې مفکورې او اساسي پوښتنې:** شاګردانو ته ووايئ: «د هر فصل په سر کې سترې مفکورې لرو. ستره مفکوره داسې جمله ده چې يوه لويه موضوع رانغاړي او زموږ په ذهن کې ځينې پوښتنې راولاړوي. دلته دوې سترې مفکورې لرو چې يوه يې د موضوع لپاره او بله يې د ژانر لپاره ده. لومړۍ ستره مفکوره «دين او اخلاق

(c) ketabton.com: The Digital Library

مو د ژوند لوری سموي» پر تخته ولیکئ او پر شاګردان یې ولولئ. بیا شاګردانو ته ووایئ: د دې جملې په لوستلو سره ستاسو په ذهن کې کومې پوښتنې پیدا کېږي؟

شاګردانو ته دوه دقیقې وخت ورکړئ چې فکر وکړي او خپلې پوښتنې په کتابچو کې ولیکي. بیا له دوو یا دریو شاګردانو څخه وغواړئ چې خپلې پوښتنې ووایي.

بیا د اساسي پوښتنو د چوکاټ لومړۍ پوښتنه پر تختې ولیکئ: د ژوند سم لوری کوم دی؟

څو شاګردانو ته اجازه ورکړئ چې خپل نظرونه ووایي. همدا کار د لومړۍ سترې مفکورې د دوو نورو پوښتنو لپاره هم وکړئ.

همدا فعالیت د دوهمې سترې مفکورې «کیسې او حکایتونه د ژوند هېندارې دي» او اساسي پوښتنو لپاره هم ترسره کړئ.

**د. د فصل عمومي ښوونیز هدفونه:** لاندې هدفونه شاګردانو ته ولولئ او ووایې چې دا هدفونه د دې فصل د هر درس لپاره دي. بیا د هر هدف په باره کې ورسره بحث کړئ.

**ګرانو زده‌کوونکو! تاسې به د دې فصل کې وکولای شئ چې:**

**۱. د عنوان او انځور له مخې د کیسو په اړه وړاندوینه وکړئ.**

**۲. توضیح کړئ چې د کیسو صحنې مو په ذهن کې څنګه مجسمې کړې.**

**۳. د کیسې د چارټ په ډکولو سره د کیسو پیل، منځ، او پای تشخیص کړئ.**

**۴. د کیسو په اړه استباطي پوښتنې ځواب کړئ.**

**۵. د کیسې د کرکټرونو عملونه وارزوئ.**

**۶. د کیسو په اړه خپل نظر بیان کړئ.**

له شاګردانو وپوښتئ: د کیسو په اړه وړاندوینه څه ګټه لري؟

د یوه یا دوو شاګردانو ځوابونه واورئ او بیا ووایئ: وړاندوینه له کیسې سره زموږ د پخوانۍ پوهې، تجربې او معلوماتو رابطه جوړوي او همدارنګه زموږ تخیل پیاوړی کوي.

بیا پوښتنه وکړئ: د کیسې صحنې او پېښې ولې باید په خپل ذهن کې مجسمې کړو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یوه یا دوو شاګردانو ځوابونه واورئ او بیا ووایئ: دا کار ځکه کوو چې کیسه د فلم غوندې راته سترګو ته ودرېږي او خوند ترې واخلو.

بیا پر درېیم هدف بحث وکړئ: د کیسې د پیل، منځ او پای معلومول څه ګټه لري؟

د شاګردانو د ځوابونو تر اورېدو وروسته ووایئ: په دې کار سره کیسه ښه شاربلی شو او د کیسې پیغام او نتیجې باندې ښه پوهېدلی شو.

پوښتنه وکړئ: استنباطي پوښتنې څه ډول پوښتنې دي؟

د یوه یا دوو شاګردانو ځوابونه واورئ. شاګردانو د استنباطي پوښتنو په باره کې په څلورم ټولګي کې معلومات پیدا کړي دي. که یې سم ځواب درنه کړ، تاسې یې ور سم کړئ: استنباطي پوښتنې هغه پوښتنې دي چې ځواب یې په متن یا کیسه کې نه وي او موږ د خپلې تجربې او معلوماتو له مخې ورته ځواب وایو. یوه استنباطي پوښتنه کېدای شي چې څو سم ځوابونه ولري. د دې پوښتنو د ځوابولو ګټه دا ده چې زموږ منطق او فکر ورسره پیاوړي کېږي.

د پنځم هدف په اړه پوښتنه وکړئ: د کیسې د کرکټرونو کارونه او خبرې ولې ارزوو؟

د یوه یا دوو شاګردانو ځوابونه واورئ او د هغوی ځوابونه تکمیل کړئ: دا کار ځکه کوو چې د ښه او بد توپیر وکړو او انتقادي تفکر مو پیاوړی شي.

همدارنګه د وروستي هدف په باره کې داسې پوښتنه وکړئ: د کیسې په اړه د خپل نظر لیکل څه ګټه لري؟

د یوه یا دوو شاګردانو ځوابونه واورئ او بیا ووایئ: ګټه یې دا ده چې زموږ د قضاوت قوه زیاتېږي او خپل ذوق او خوښه بیانولی شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د درسي فعالیتونو لارښود

## فصل ۱ اونۍ ۱

### درسي ساعت ۱

**۱. سلام، روغبړ، د ټولګي تنظیمول** (۳ دقیقې)

**۲. هجا** (۳ دقیقې)

معلم: کتابونه مو پرانیزئ. د کتاب د لومړۍ اونۍ د لومړي درس په سر کې شپږ کلمې وینـئ. مـوږ بـه د کلمـو د لوسـتلو لپاره، د کلمو هره څپه ولولو.

معلم: راځئ چې لومړۍ کلمه په ګډه ولولو. [پر تختې ولیکئ: **مهـ - ـر - با - ني**] ګـورئ! د کلمـې هـرې برخـې تـه چې زه اشاره کوم، هماغه برخه به یې وایو. بیا به ټوله کلمه یو ځای ووایو. [شـاګردان او معلـم: **مهـ - ـر - با - ني** (د کلمې هره برخه چې لولئ، ګوته پرې تېره کړئ.) بیا یې یو ځای ولولئ: **مهرباني**.]

معلم: معلم: اوس به تاسې له څنګلوري ټولګیوال/ ټولګیوالې سره مو په ګـډه کـار وکـړئ. پـه خپـل کتـاب کـې د لـومړۍ اونۍ لومړي درس ته وګورئ. په وار سره لومړی د کلمو څپې ولولئ او بیا ټوله کلمه یو ځای ولولئ.

**۳. د نویو لغاتو فعالیتونه** (۱۰ دقیقې)

زه یې ترسره کوم

معلم: ستاسو د کتاب په متن کې یوه جمله وایي: « یوه ورځ موسی علیه سلام، الله پـاک ﷻ تـه عـرض وکـړ . دلتـه دوې کلمې نوې دي: «علیه سلام» او «عرض وکړ» [کلمې پر تختې ولیکـئ]. راځـئ چـې دا کلمـې درې ځلـه پـه لـوړ غـږ تکرار کړو. [معلم او شاګردان په ګډه په لوړ غږ وایي: علیه سلام، علیه سلام، علیه سلام – عـرض وکـړ، عـرض وکـړ، عـرض وکړ.]

معلم: اوس به د دې کلمو معنا وګورو. «علیه سلام» دوې برخې لري. یوه برخه یـې تاسـو ډېـره ویلـې او اورېـدلې ده، هغـه کومه برخه ده؟

شاګردان: سلام.

معلم: آفرین! سلام څه معنا؟

شاګردان: سلام، سلام اچول دي.

معلم: همداسې ده. په «علیه سلام» کې بله برخه «علیه» ده. علیه په عربي ژبه کې یعنې «پر هغه». کله چـې وایـو موسـی علیه سلام یعنې پر موسی دې سلام وي. «علیه سلام» د چا له نوم سره وایو او لیکو؟

شاګردان: د پیغمبرانو له نوم سره.

(c) ketabton.com: The Digital Library

معلم: آفرین! د پیغمبرانو د درناوي لپاره دا کلمه کاروو. لکه چې وایو یوسف علیه سلام، یعقوب علیه سلام.

معلم: ښه نو، په دې جمله کې بله کلمه ده «عرض وکړ» د وکړ په معنا خو ټول پوهېږو، پاتې شو «عرض». په کتاب کې مو لومړۍ جمله وګورئ. د جملې په آخر کې «عرض وکړ» راغلی او ورپسې کومه نښه ده؟

شاګردان: شارحه او بیا وړې لیندۍ.

معلم: ډېر ښه. دا نښې کله کاروو؟

شاګردان: کله چې د چا خبرې کټ مټ را اخلو.

معلم: آفرین! نو کله چې وایو « موسی علیه سلام عرض وکړ» معنا یې دا ده چې موسی علیه سلام وویل. «عرض وکړ» هغه مهال وایو چې تر ځان مشر یا لوړ پوړي کس ته خبرې کوو یا ورنه څه شی غواړو. مثلاً: ما د پوهنې وزیر ته عرض وکړ چې زموږ مکتب ته دې کتابتون جوړ کړي. یا ما خپل پلار ته عرض وکړ چې را ته بایسیکل واخلي. څوک به په بله جمله کې «عرض وکړ» وکاروي؟

[شاګردان ګوتې جګوي. دوو یا درېو تنو ته اجازه ورکړئ چې خپلې جملې ووايي.]

معلم: بله جمله ده: «الله ج وفرمایل» د «وفرمایل» کلمه درې ځله په لوړ غږ تکرار کړئ. [شاګردان درې ځله وفرمایل تکراروی] معلم: څه فکر کوئ چې معنا به یې څه وي؟

شاګردان: یعنې الله ج وویل.

معلم: ډېر عالي. «وفرمایل» هم د «عرض وکړ» په شان کلمه ده او معنا یې ده «وویل». دا کلمه هغه وخت کاروو چې یو چا ته ډېر زیات درناوی وکړو. موږ تاسې الله ج ته څومره احترام کوو؟

شاګردان: ډېر زیات.

معلم: آفرین! بل چا ته ډېر زیات احترام کوو؟

شاګردان: خپل پیغمبر ته.

معلم: نو که ووایو چې «حضرت محمد ص یوه سړي ته وویل» د «وویل» پر ځای څه ووایو؟

شاګردان: وفرمایل.

معلم: ډېر ښه. بله جمله کې وایي: «هغه په خواشینۍ سره وویل». خواشینۍ درې ځله تکرار کړئ. [شاګردان درې ځله وایي خواشینۍ]

معلم: ښه نو، د خواشینۍ معنا به څه وي؟

شاګردان: څوک چې خپه وي.

معلم: آفرین! دا کلمه دوې برخې لري. خوا او شین. خوا زړه ته وايي او شین خو نو پوهېږئ چې شین رنګ دی. څوک چې غمجن وي وایي زړه مې شین دی، نو خوا شینی یعنې هغه کس چې غمجن دی. زه به بله جمله ووایم: «نجیبه

(c) ketabton.com: The Digital Library

خواشيني وه. هغې په خواشينۍ سره ژړل.» څوک به «خواشينۍ» په جمله کې وکاروي؟ [شاگردان گوتې جگوي. دوو يا دريو شاگردانو ته اجازه ورکړئ چې خپله جمله ووايي.»

**۴. لوستل (۱۵ دقيقې)**

**الف: تر لوستلو مخکې (۲ دقيقې)**

معلم: د نن د درس عنوان څه دی؟

شاگردان: د الله مهرباني.

معلم: آفرين! اوس نو د دې درس تصوير ته ځير شئ.

[نيمه دقيقه وروسته] معلم: ښه نو، تاسو د درس عنوان او تصوير وکتل. څه فکر کوئ چې د درس موضوع به څه وي؟

شاگردان: د الله مهرباني.

معلم: ډېر ښه. څه فکر کوئ چې په دې کيسه کې به الله پر چا مهرباني کړې وي؟

شاگردان: پر دغو خلکو چې په دې تصوير کې يې وينو.

معلم: ډېر ښه. راځئ چې وگورو چې خبره همداسې ده، که نه.

**ب. د لوستلو په بهير کې (۱۰ دقيقې)**

معلم: اوس به تاسې په ټيټ غږ د کتاب متن تر هغه ځايه پورې ولولئ چې له تصوير څخه مخکې دی. [شاگردانو ته ۳ دقيقې وخت ورکړئ چې متن ولولي. تاسې په ټولگي کې وگرځئ او که چا مرستې ته اړتيا درلوده، ورسره مرسته وکړئ.] [تر ۳ دقيقو وروسته] معلم: ښه نو، اوس لوستل بس کړئ. څه مو چې لوستلي دي، په ذهن کې به يې مجسم کړو. زه په خيال کې يو ښار وينم چې د پخخې کلاگانې په کې دي. د ښار چارچاپېره دېوال تاو دی. د دېوال په يوه خوا کې يوه لويه لرگينه دروازه ده. يو سړی وينم چې پگړۍ يې په سر ده او اوږد کميس يې په تن دی. په خوا کې يې ستاسو په عمر يوه نجلۍ ورسره روانه ده.

معلم: اوس نو د کيسې پاتې برخه په ټيټ غږ ولولئ. [شاگردانو ته ۲ دقيقې وخت ورکړئ چې متن ولولي.]

معلم: اوس ستاسو وار دی چې د کيسې پاتې برخه په ذهن کې مجسم کړئ. آفرين! سترگې مو پټې کړئ او څه مو چې ولوستل خپلو سترگو ته ودورئ. هر څوک دې خپل څنگلوري ټولگيوال/ ټولگيوالې ته ووايي چې څه يې په ذهن کې تېر شول؟ [۲ دقيقې وخت ورکړئ. يوه دقيقه چې تېره شوه، د شاگردانو نقش بدل کړئ. چا چې تر اوسه پورې خبرې کولې، هغه دې غوږ ونيسي او چا چې تر اوسه پورې غوږ نيولی و، هغه دې خبرې وکړي.]

معلم: اوس به زه دا کيسه يو ځل بيا درته ولولم. [کيسه په لوړ غږ او مناسب لحن او تلفظ سره ولولئ]

**ج. تر لوستلو وروسته (۳ دقيقې)**

(c) ketabton.com: The Digital Library

معلم: ښه نو. د متن تر لوستلو مخکې تاسو وويل چې الله به پر هغو کسانو مهرباني کړې وي چې په دې تصوير کې يې وينو. ستاسو وړاندوينه سمه وه؟

شاگردان: هو. الله پر دغه سړي مهرباني کړې وه چې اول له ښاره وتلی و او تر ټولو وروسته ښار ته راغی.

معلم: څنگه پوه شوئ چې الله پر هغه سړي باندې مهرباني کړې وه؟

شاگردان: ځکه چې سهار تر ټولو بد بنده و خو ماښام تر ټولو ښه بنده شو.

معلم: هغه سهار ولې تر ټولو بد بنده و؟

شاگردان: ځکه چې گناهونه يې تر آسمان هم لوی وو.

معلم: او ماښام ولې تر ټولو ښه بنده شو؟

شاگردان: ځکه چې الله ورباندې مهرباني وکړه او گناهونه يې وبخښل.

معلم: آفرين، شاباس!

**دوهم درسي ساعت**

**۱. پر ربښې او وروستاړي د کلمو وېشل (۱۰ دقيقې)**

معلم: په متن کې يوه کلمه ده «خواشينی». راځئ چې دا کلمه ووايو.

معلم او شاگردان: خواشينی.

معلم: دا د «خواشيني» د کلمې اوښتې بڼه ده. راځئ چې دا کلمه پر تختې وليکو او بيا يې اصلي برخه او وروستاړي سره بېل کړو. (پر تختې وليکئ: خواشيني)

معلم: د دې کلمې يوه اصلي برخه يعنې معنا داره برخه ده «خوړ»، بله اصلي برخه يې ده «شين» او غير اصلي برخه يې «ي» ده چې د وروستاړي بولو. نو دا کلمه درې برخې لري: خوا – شين – ي. (پر تختې د کلمې برخې بېلې کړئ: خوا — شين — ي) راځئ چې په گډه يې ولولو.

معلم: په تېر درس کې مو وويل د دې کلمې معنا پيدا کړه. «خوا» څه معنا؟

شاگردان: خوا معنا زړه.

معلم: آفرين! او شين؟

شاگردان: شين اوښتل، د خوړ ځای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

معلم: آفرین: کله چې د بدن کوم ځای مو خوږ شي، شین اوړي. او د دې کلمې په آخر کې «ي» حالت ښيي. لکه خوښي چې د خوښ اوسېدو حالت ښيي. خوښي یعنې هغه حالت چې څوک خوښ وي. نو خواشیني هم یعنې هغه حالت چې د چا زړه وخوړېږي یعنې غمجن وي.

معلم: اوس به نو دا بله کلمه پر برخو ووېشو: خواخوږي. (پر تختې ولیکئ: خواخوږي)

معلم: بیا هم د کلمې یوه اصلي برخه ده «خوا» او بله یې «خوږ» په آخر کې یې بیا هم «ي» ده. [پر تختې د کلمې برخې سره بېلې کړئ: خوا ـــــ خوږ ـــــ ي.] د کلمې پر هرې برخې چې گوته ږدم، تاسې یې ولولئ.

معلم: ډېر ښه. څوک به د دې کلمې برخې او بیا ټوله کلمه معنا کړي؟

[شاگردان گوتې جگوي. یو تن پاڅوئ چې د کلمې برخې معنا کړي. بیا بل شاگرد راوبولئ چې د ټولې کلمې معنا ووایي. خوا = زړه، خوږ = خوږېدل، درېدل، ي = حالت. خواخوږي = هغه حالت چې د چا زړه پر چا وخوږېږي]

معلم: د خپل کتاب ـــــــ صفحې ته گورئ. پاتې کلمې مو په کتابچو کې ولیکئ. بیا مو له څنگلوري ټولگیوال/ ټولگیوالې سره هره کلمه په برخو ووېشئ او معنا یې پیدا کړئ.

[خواگرځي: خوا = زړه، گرځ = گرځېدل، ي = حالت. خواگرځي = هغه حالت چې د چا زړه ډکېږي او قي وهي.]

[خوابدي: خوا = زړه، بد = خراب، ي = حالت. خوابدي = هغه حالت چې د چا زړه له چا بد شوی وي، مرورتیا]

[خواتوري: خوا = زړه، تور = تور اوښتل، ي = حالت، خواتوري = هغه حالت چې د چا زړه له چا یا شي څخه ډېر خپه شوی وي او کرکه ورنه وکړي.]

### ۲. د کیسې نقشه (۲۰ دقیقې)

محترمو ښوونکو! لاندې چارټ پر تختې رسم کړئ او لکه څنگه چې دلته یې وینئ او لاندې یې تشریح لولئ، هره برخه یې په ترتیب سره ډکه کړئ.

| پیل | | منځ (د کیسې څوکه) | پای | |
|---|---|---|---|---|
| کرکټرونه | موسی (ع)<br>الله (ج) | موسی (ع) حیرانېږي چې څنگه هماغه یو کس سهار تر ټولو بد بنده و، خو ماښام تر ټولو ښه بنده شو. | حل او نتیجه | هغه سړی چې د ډېرو گناهونو په وجه تر ټولو بد بنده و، د الله (ج) په مهربانۍ تر ټولو ښه بنده شو. |
| ځای – زمان | ځای: د طور غر<br>وخت: ماښام | | | |
| ستونزه | څنگه کېدای شي چې یو کس دی هم تر ټولو ښه وي او هم تر ټولو بد وي؟ | | سبق/ پیغام | هر څوک چې خپل گناهونه ومني او توبه وکړي، خدای به یې وبخښي او هغه به ښه بنده شي. |

(c) ketabton.com: The Digital Library

**زه يې ترسره کوم/ موږ يې ترسره کوو**

معلم: نن به کيسې جوړښت راوسپړو. کيسې ستاسو پام څنګه راخپلوي چې مجبور شئ کيسه نوره هم ولولئ؟ کيسې درې برخې لري. [پر تختې د پورتني چارټ غوندې درې ستنې وکاږئ او په سر کې يې پيل، منځ او پای وليکئ]

معلم: زه پوهېږم چې پيل د کيسې لومړۍ برخې ته وايي. د دې کيسې په پيل کې څه دي؟ [پر تختې د پيل برخې لاندې وليکئ: کرکټرونه، ځای زمان، ستونزه/ مسأله] اصلي کرکټرونه د کيسې په پيل کې راپېژندل کېږي. تاسو په دريم او څلورم ټولګي کې کرکټر پېژندلی دی، د کيسې کرکټر څوک يا څه شی وي؟

شاګردان: هغه کس يا هغه شی چې کيسه د هغه په باره کې وي.

معلم: آفرين. هغه ځای او زمان چې کرکټرونه په کې اوسېږي او نارمل وضعيت يې هم د کيسې په پيل کې مومو. راځئ چې دې کيسې ته وګورو او د پيل په اړه يې فکر وکړو .

[پر يوه شاګرد د کيسې پيل ولولئ] «يو ماښام، موسی عليه سلام د طور په غره کې خدای ﷻ ته عرض وکړ: «يا الله! غواړم ستا تر ټولو بد بنده ووينم.» الله ﷻ وفرمايل: «سبا سهار وختي د ښار دروازې ته ورشه. هر څوک چې تر ټولو مخکې له ښار څخه ووت، هغه مې تر ټولو بد بنده دی.»

معلم: څنګه چې وينئ د کيسې په پيل کې له دوو کرکټرونو سره معرفي شوو. کرکټرونه څوک دي؟

شاګردان: موسی (ع) او خدی (ج)

معلم [پر تختې، د کرکټرونو مخې ته وليکئ: موسی (ع) او الله (ج)]: آفرين او ځای زمان مو هم په کې پيدا کړ: ځای د طور غر او وخت يې يو ماښام دی. [پر تختې د ځای زمان مخې ته همدا کلمې وليکئ] يوازې يو شی پاتې شو چې د کيسې په پيل کې يې بايد پيدا کړو او هغه ستونزه يا مسأله ده. اصلي مسأله لږ وروسته راځي، نو راځئ چې د کيسې بله برخه هم ولولو. [يو شاګرد راوبولئ چې د کيسې دغه برخه ولولي: «موسی عليه سلام سهار وختي د ښار دروازې ته ولاړ. ويې ليدل چې لومړی يو سړی له خپل زلمکي زوی سره له ښاره څخه وځي. موسی عليه سلام په زړه کې يې وويل چې دا غريب خبر نه دی چې د الله ﷻ تر ټولو بد بنده دی. بيا يې الله ﷻ ته وويل: «يا الله ﷻ ! اوس غواړم ستا تر ټولو ښه بنده هم ووينم.» الله ﷻ وفرمايل: «ماښام د ښار له دروازې سره ودرېږه. هر څوک چې تر ټولو وروسته ښار ته ننوت، هماغه مې تر ټولو ښه بنده دی.» موسی عليه سلام ماښام د ښار دروازې ته ولاړ. که ګوري چې هماغه سړی او لور يې تر ټولو وروسته ښار ته ننوتل. موسی عليه سلام حيران شو. پوښتنه يې وکړه: «ای مهربانه ربه! څنګه کېدای شي چې هماغه يو کس هم تر ټولو ښه وي، هم تر ټولو بد؟»]

معلم: منه! اوس نو د کيسې منځ ته ورسېدو. لومړی ستونزه ده وه چې موسی (ع) غوښتل وپوهېږي چې تر ټولو بد او تر ټولو ښه بنده څوک دي. خو ستونزه هله زياته شوه چې د کيسې نور جزيات رامعلوم شول ځکه چې هماغه يو کس

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم تر ټولو بد بنده و، هم تر ټولو ښه بنده. [پر تختې د ستونزې مخې ته ولیکئ: څنګه کېدای شي چې یو کس دی هم تر ټولو ښه وي او هم تر ټولو بد وي] دې ته د کیسې ځوکه وایو ځکه چې دا د کیسې تر ټولو مهمه برخه ده او موږ د پاتې کیسې لوستلو ته اړ باسي. [پر تختې د منځ (د کیسې ځوکې) لاندې ولیکئ: موسی (ع) حیرانېږي چې څنګه هماغه یو کس سهار تر ټولو بد بنده و، خو ماښام تر ټولو ښه بنده شو.]

تر ځوکې وروسته، کیسه ورو ورو پای ته نژدې کېږي. لکه د کنډاو سر ته چې خېژو، ختل یې ګران وي خو ها خوا ته کوزېدل بیا آسانه وي. نو د کیسې تر ځوکې وروسته هم، کیسه ژر ختمېږي. راځئ چې د کیسې پاتې برخه ولولو. [یو شاګرد راوبولئ چې پاتې کیسه ولولي: الله ﷻ وفرمایل: «زه به یې حال درته ووایم.»

دی چې له خپل زوی سره له ښار څخه ووت، غرونو ته ولاړ. زوی یې د غرونو په لیدو سره پوښتنه وکړه: «بابا! تر دې غرونو لوی به څه شی وي؟» هغه ځواب ورکړ: «تر غرونو لوی آسمان دی.» زوی یې بیا پوښتنه وکړه: «تر آسمان لوی به څه شی وي؟»

هغه په خواشینۍ سره وویل: «ستا د پلار ګناهونه.» زوی یې وویل: «او ستا تر ګناهونو لوی به څه شی وی؟» پلار یې سوړ اسویلی وکیښ، ویې ویل: «د خدای مهرباني تر هر څه لویه ده. زه د خپلو ګناهونو په خاطر توبه کوم. خدای به مې وبخښي.»]

معلم: مننه! موږ دې ته د کیسې پای وایو. د کیسې په پای کې ستونزه هوارېږي او ځواب یې پیدا کېږي. ښه نو په دې کیسه کې ستونزه څه وه؟

شاګردان: دا چې څنګه هغه سړی سهار بد و، ماښام ښه شو.

معلم: آفرین! او دا ستونزه څنګه حل شوه؟

شاګردان: داسې چې هغه سړي خپل ګناهونه ومنل او توبه یې وکړه. خدای هغه وباخښه او تر ټولو ښه بنده شو.

معلم: ډېر ښه. هغه سړی تر ټولو بد په دې و چې ډېر ګناهونه یې کړي و، خو تر ټولو ښه په دې شو چې د خدای مهرباني یې وغوښتله او خدای د هغه ګناهونه وبخښل. ښه نو، له دې کیسې څخه مو کوم سبق واخیست؟

شاګردان: دا چې د خدای مهرباني زیاته ده او که موږ د خپلو ګناهونو توبه وکړو، خدای به مو وبخښي.

معلم: آفرین! اوس به همدا خبرې په دې چوکاټ کې ولیکئ. د چوکاټ آخري خانه چې د کیسې پای دی، تاسې په کتابچو کې ډکه کړئ.

### ۳. د کرکټر د اعمالو ارزونه (۵ دقیقې)

معلم: اوس به د کیسې د کرکټرونو اعمال یا کارونه وارزوو. د کیسې لومړی کرکټر څوک و؟

شاګردان: موسی علیه سلام.

(c) ketabton.com: The Digital Library

معلم: آفرین! موسی علیه سلام څه غوښتل؟

شاګردان: غوښتل یې وپوهېږي چې څوک تر ټولو بد بنده دی او څوک تر ټولو ښه بنده دی.

معلم: ډېر ښه. هغه ولې له خدای څخه د دې پوښتنې ځواب وغوښت؟ ولې یې پخپله تر ټولو ښه او تر ټولو بد بنده پیدا نه کړ؟

شاګردان: ځکه چې دا خو یوازې خدای ته معلوم وي.

معلم: آفرین! نو د موسی علیه سلم کار منطقي و. هغه پوهېده چې د دې پوښتنې ځواب یوازې خدای ته معلوم دی. ښه نو، بل کرکټر هغه سړی و چې ډېر ګناهونه یې کړي وو. هغه بیا څه وکړل؟

شاګردان: هغه خپل ګناهونه ومنل او توبه یې وکړه.

معلم: او بیا څه وشول؟

شاګردان: خدای د هغه ګناهونه وبخښل او هغه تر ټولو ښه بنده شو.

معلم: نو د هغه دا کار درته څنګه ښکاري؟

شاګردان: سم ښکاري. منطقي ښکاري.

**دریم درسي ساعت**

**۱. خبرې اترې (۲۵ دقیقې)**

### زه یې ترسره کوم/ موږ یې ترسره کوو

معلم: نن به تاسې ډلهییز بحث وکړئ. شپږ شپږ کسان به یوه ډله شي. هر څوک به په خپله ډله کې بحث کوي. د بحث په پای کې به د هرې ډلې یو کس د خپلې ډلې د خبرو مهم ټکي له نورو ټولګیوالو سره شریکوي.

معلم: نن به تاسې د «مهربانۍ» په اړه خبرې اترې وکړئ. زه به څو پوښتنې ولیکم. تاسې به په خپله ډله کې هرې پوښتنې ته ځواب وایئ. لومړۍ پوښته ده: «مهربان چا ته وایو؟» [پوښتنه پر تختې ولیکئ].

معلم: ها بله ورځ ما سودا اخیستې وه. په دواړو لاسونو کې مې دوه درې کڅوړې وې. یوه هلک زما له لاسه دوې کڅوړې واخیستې او تر کوره پورې یې راسره یوړې. ما ته هغه ماشوم مهربان ښکاري. نو څوک چې له نورو سره مرسته کوي، مهربانه دی. ستاسو په نظر، مهربان چا ته وایو؟

شاګرد: څوک چې ماشومان نازوي، ورته مهربانه وایو، لکه مور چې مهربانه ده.

معلم: آفرین!

### تاسې یې ترسره کوئ

(c) ketabton.com: The Digital Library

معلم: اوس نو تاسې ډلې ډلې شئ. په هره ډله کې به شپږ تنه وي. هر څوک به په دې اړه خبرې کوي چې «مهربان چا ته وایو؟» ښه نو، په خبرو کې به نوبت څنګه مراعاتوئ چې ټولو ته وخت ورسېږي؟

شاګرد: له ښي نه چپ لوري ته دې هر څوک په وار خبرې وکړي.

معلم: دا ښه فکر دی. خو کېدای شي یو څوک په خپل وار کې خبرو ته چمتو نه وي، نو څنګه به وي چې هر څوک خبرو ته چمتو و، خپل لاس دې پورته کړي او نور ملګري هغه ته د خبرو وار ورکړي.

شاګردان: سمه ده.

معلم: ډېر ښه. خو پام مو وي چې هر چا ته به وار ورکوئ. اول بـه هـره ډلـه خپـل اسـتازی وټـاکي. اوس نـو تاسـې پنځـه دقیقې په خپلو ډلو کې خبرې وکړئ. په آخر کې به د هرې ډلې استازی د خپلې ډلې د خبرو خلاصه موږ ته ووایي.

[شاګردان به پنځه دقیقې خبرې کوي.]

[کله چې شاګران خبرې اترې کوي، تاسې په ټولګي کې وګرځئ او د شاګردانو کړه وړه وڅارئ.]

معلم: اوس به د هرې ډلې استازی د خپلو ملګرو د خبرو لنډیز ووایي. ښه نو، د لومړۍ ډلې اسـتازی نجیـب دی. نجیـب جان به راته ووایي چې د دوی په ډله کې څه وویل شول.

نجیب: [د خپلې ډلې حال وایي.]

معلم: آفرین نجیب جانه! د دوهمې ډلې استازی څوک دی؟

د دوهمې ډلې شاګردان: شریف.

معلم: شریف جان به هم د خپلې ډلې مهمې خبرې راته وکړي خو که ځینې خبرې یې د مخکینۍ ډلې له خـبرو سره یـو شان وي، نو ښه به وي چې هغه خبرې خلاصه کړي. سمه ده؟

[د درېو ډلو (لومړۍ، دوهمه، درېمه ډله) استازو ته د خبرو د شریکولو وخت ورکـړئ. کلـه چـې دوی خـبرې کـوي، ورتـه ځیر شئ او که د کومې کلمې تلفظ سم نه ادا کوي، یا یې پـه خـبرو کـې ګرامـري تېروتنـه ده، نـوټ یـې کـړئ. د هغـوی خبرې چې خلاصې شوې، تېروتنې یې داسې سمې کړئ چې هماغه کلمې په نورو جملو کې پـه سـم تلفـظ وکـاروئ، یـا هماغه جمله په سمه بڼه تکرار کړئ چې شاګردان خپلو تېروتنو ته ورپام شي.]

معلم: بله پوښتنه ده: «مهرباني کومې ګټې لري؟» [پوښتنه پر تختې ولیکئ]

معلم: اوس به پنځه دقیقې پر دې بحث کوئ چې د مهربانۍ ګټـې کـومې دي. هـره ډلـه دې اول خپـل اسـتازی وټـاکي چې د خپلې ډلې خبرې په یاد ساتي او په پای کې به یې له موږ سره شریکوي.

[شاګردانو ته پنځه دقیقې وخت ورکړئ چې خبرې اترې وکړي.]

[کله چې شاګران خبرې اترې کوي، تاسې په ټولګي کې وګرځئ او د شاګردانو کړه وړه وڅارئ.]

(c) ketabton.com: The Digital Library

معلم: اوس به هرې ډلې استازی چې د ډلې دوهم کسان دي، د خپلې ډلې نظرونه راته ووايي، خو که ځینې خبرې یې د مخکینی ډلې له خبرو سره یو شان وي، نو ښه به وي چې هغه خبرې خلاصه کړي.

[د دریو نورو ډلو (ځلورمه، پنځمه، شپږمه) استازي خبرو ته راوبولئ. که د دوی کومه خبره منطقي نه وي، تاسې یې اصلاح کړئ.]

معلم: ډېر ښه. بله پوښتنه به وځېږو: « له چا سره څنګه مهرباني په کار ده؟» [پوښتنه پر تختې ولیکئ]

معلم: تاسې څه فکر کوئ؟ مهرباني له هر چا سره په کار ده؟

شاګردان: هو.

معلم: ښه. که په کور کې لړم وینو چې ګرځي، نو مهرباني به دا وي چې ویې نازوو، خو که دا کار وکړو، هغه به مو وچیچي. داسې مهرباني به مناسبه وي؟

شاګردان: نه.

معلم: ډېر ښه. اوس نو تاسې بحث وکړئ چې له چا سره څنګه مهرباني په کار ده. د بحث په پای کې به د هرې ډلې استازی د خپلې ډلې نظرونه راسره شریک کړي.

[شاګردانو ته ۵ دقیقې وخت ورکړئ چې بحث وکړي.]

[کله چې شاګران خبرې اترې کوي، تاسې په ټولګي کې وګرځئ او د شاګردانو کړه وړه وڅارئ.]

معلم: اوس به د څو ډلو استازي ووايي چې څه یې سره ویلي دي. پام مو وي چې تکراري خبرې به خلاصه کوئ.

[د دریو نویو ډلو (اوومه، اتمه، نهمه ډله) استازي وغږوئ. د هغوی خبرې چې خلاصې شوې، تېروتنې یې سمې کړئ. که شاګردان په خپلو خبرو کې دا نه وي ویلي چې مهرباني له ژوو، مرغانو، ونو او بوټو سره هم په کار ده، تاسې دا خبره وکړئ.]

معلم: [د ټول بحث خلاصه په څو جملو کې وايي]: نن مو د مهربانی په اړه بحث وکړ. موږ او تاسو وویل چې: ۱. مهربان هغه چا ته وایو چې: .....

۲. د مهربانی ګټې دا دي: .......

۳. مهرباني له چا سره څنګه مهرباني په کار ده: .........

[که د بحثونو په بهیر کې مو کومه بې نظمي یا بل څه نوټ کړي وي، هغه شاګردانو ته ورياده کړئ، مثلاً: ما ولیدل چې ځینو شاګردانو د بحث په وخت کې یو د بل په خبرو کې لوېدل او د خبرو وار یې نه مراعات کاوه. دا کار سم دی؟ شاګردان: نه. معلم: ډېر ښه. نو نور به داسې نه کوو.]

**۲. ګرامر (د لیکنښو کارول) (۱۰ دقیقې)**

(c) ketabton.com: The Digital Library

معلم: د کتاب په ــــ مخ کې پنځه جملې لیکل شوې دي چې لیکنښې نه لري. تاسې به جملې په کتابچو کې لیکئ او د [! . : « »] لیکنښې به په مناسبو ځایونو کې وکاروئ. لومړۍ جمله به یې په ګډه کار کړو. څوک به یې ولولي؟ [شاګردان لاس جګوي. یوه شاګرد ته وایئ چې جمله په لوړ غږ ولولي. څنګه چې هغه جمله لولي، تاسې یې پر تختې ولیکئ.]

معلم: ډېر ښه. جمله مو ده:

الله ﷻ وفرمایل سبا سهار وختي د ښار دروازې ته ورشه

تر وفرمایل وروسته کومه نښه کېږدو؟

شاګردان: شارحه.

معلم: آفرین! کله چې د چا خبرې نقلوو، نو شارحه ورته کاروو. [پر تختې تر وفرمایل وروسته (:) ولیکئ.] تر شارحې وروسته؟

شاګردان: غبرګې لیندی. [پر تختې تر شارحې وروسته ( « ) وکاږئ.

معلم: او د جملې په پای کې؟

شاګردان: بیا غبرګې لندی.

معلم: ښېخي سمه ده، خو د جملې په پای کې به اول ټکی (.) لیکو، بیا غبرګې لیندی. [پر تختې د جملې په پای کې (.) او بیا ( » ) وکاږئ]

معلم: پاتې جملې په پخپلو کتابچو کې ولیکئ او هرې جملې ته مناسبې لیکنښې وکاروئ.

## څلورم درسي ساعت

### ۱. املا (۵ دقیقې)

معلم: ګرانو شاګردانو! اوس به خپلې کتابچې خلاصې کړئ او ځینې کلمې به ولیکئ. د دې لپاره چې د کلمو لیکل راته آسانه شي، کلمې پر برخو وېشو. مثلاً «ګناهونه» دوه برخې لري «ګناه» او «ونه». د ګناه د کلمې توري ووایئ.

شاګردان: ګ، ن، ا، ه [څنګه چې شاګردان توري وايي، تاسې يې پر تختې وليکئ.]

معلم: آفرین! اوس نو د ګناه په آخر کې «ونه» زیاتوو. د «ونه» توري کوم دي؟

شاګردان: و، ن، ـه. [څنګه چې شاګردان توري وايي تاسې يې پر تختې وليکئ]

معلم: ډېر ښه. دا دی وپوهېدو چې «ګناهونه» څنګه لیکل کېږي. اوس به زه کلمې ووایم او تاسې به یې په خپلو کتابچو پر برخو ووېشئ او بیا به یې یو ځای ولیکئ. [دغه کلمې شاګردانو ته ووایئ: ګناهونو، غرونو، خواشینی، مهرباني. په ټولګي کې وګرځئ او شاګردن وڅارئ. که چا مرستې ته اړتیا درلوده، ورسره مرسته وکړئ.]

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۲. د استنباطي پوښتنو د ځوابونو ليکل (۱۰ دقيقې)**

معلم: د کتاب په ـــــــــ مخ کې د کيسې په اړه څو پوښتنې راغلي دي. لومړۍ پوښتنه به څوک ولولي؟ [شاګردان ګوتې جګوي. يو تن ته ووايئ چې لومړۍ پوښتنه ولولي.]

شاګرد پوښتنه لولي: ۱. موسی علیه سلام د خورا بد او خورا ښه بنده پوښتنه ولې له خدای څخه وکړه؟

معلم: د دې پوښتنې ځواب په کيسه کې شته؟

شاګردان: نه.

معلم: ډېر ښه. داسې پوښتنې چې ځواب يې په متن کې نه وي، استنباطي پوښتنې بولو. يعنې ځواب يې بايد پخپله پيدا کړو. اوس نو راځئ په دې باندې فکر وکړو چې موسی علیه د ښه او بد بنده پوښتنه ولې له خدای څخه وکړه؟ ولې پخپله پسې ونه ګرځېده، چې پيدا يې کړي؟

شاګرد: ځکه چې دا کار يې نه شو کولی.

بل شاګرد: ځکه چې د ټولو خلکو ښه او بد يوازې خدای ته ښه معلوم وي.

معلم: آفرين! دواړه ځوابونه مو سم دي. اول خو انسانان دومره ډېر دي چې څوک نه شي کولی ټول انسانان وڅاري او وګوري چې څوک ښه دي څوک بد. بله دا چې د انسان ښه او بد په ښکاره نه معلومېږي او د چا له ښېرې څخه نه پوهېږو چې هغه انسان دی که بد. نو يوازې خدای په هر څه ښه پوهېږي. کله چې د استنباطي پوښتنې ځواب ليکو، لومړی به د پوښتنې يوه برخه ليکو، بيا يې ځواب. مثلاً د همدې پوښتنې ځواب به داسې ليکو: موسی علیه د خورا ښه او خورا بد بنده پوښتنه له خدای څخه ځکه وکړه چې .... بيا به خپل نظر ليکو.

معلم: اوس نو د دې پوښتنې ځواب په خپلو کتابچو کې وليکئ.

[کله چې شاګردان ځواب ليکي، تاسې په ټولګي کې وګرځئ او که چا مرستې ته اړتيا لرله، ورسره مرسته وکړئ.]

معلم: ښه نو. دوهمه پوښتنه به څوک ولولي؟ [يوه شاګرد ته اجازه ورکړئ چې پوښتنه په لوړ غږ ولولي.]

معلم: منه .... جانه/ جانې! اوس نو له خپلو څنګلوريو ټولګيوالو سره بحث وکړئ چې «الله ﷻ د هغه ګناهکار سړي ګناهونه ولې وبخښل؟»

[دوه دقيقې وخت ورکړئ چې شاګردان بحث وکړي او تاسې په ټولګي کې وګرځئ. وخت چې پوره شو، دوه شاګردان راوبولئ چې خپل ځواب ووايي.]

معلم: دريمه پوښتنه څوک لولي؟ [يو شاګرد دې پوښتنه ولولي]

معلم: منه ..... ګله/ ګلې! اوس له څنګلوريو ټولګيوالو سره مو بحث وکړئ چې «هغه سړي ولې وويل چې ګناهونه يې تر آسمان لوی دي؟»

(c) ketabton.com: The Digital Library

[دوه دقیقې وخت ورکړئ چې شاګردان بحث وکړي. وخت چې پوره شو، دوه شاګردان راوبولئ چې خپل ځواب شریک کړي.]

معلم: ډېر ښه. د دې دوو پوښتنو ځوابونه به په کور کې په خپلو کتابچو ولیکئ.

### ۳. د کرکټرونو د اعمالو لیکنۍ ارزونه (۱۰ دقیقې)

معلم: د دې اونۍ په دوهم درسي ساعت کې مو د کرکټرونه کارونه ورازول او ومو ویل چې د هغوی کارونه منطقي او سم و که نه. نن به د کرکټرونو په اړه خپله ارزونه ولیکئ. ستاسو د کتاب په ـــــ مخ کې دوې پوښتنې دي. لومړۍ پوښتنه به څوک ولولي؟ [شاګردان لاسونه جګوي او یو تن ته د پوښتنې د لوستلو اجازه ورکړئ]

شاګرد پوښتنه لولي: ۱. د خپلو پوښتنو د ځواب د موندلو لپاره د موسی علیه سلام چلند څنګه و؟

معلم: منته! اوس نو د دې پوښتنې په اړه له خپل څنګلوري ټولګیوال سره بحث وکړئ.

[شاګردان دې دوه دقیقې بحث وکړي او تاسې په ټولګي کې وګرځئ. وروسته له دوو شاګردانو څخه وغواړئ چې خپل نظر شریک کړي.]

معلم: ډېر ښه. څوک به دوهمه پوښتنه ولولي؟ [بل شاګرد ته اجازه ورکړئ]

شاګرد: ۲. د هغه ګناهکار سړي کار ستاسو په نظر څنګه و؟

معلم: منته! اوس بیا له خپلو څنګلوریو ټولګیوالو سره د دې پوښتنې په اړه بحث وکړئ.

[شاګردان دې دوه دقیقې بحث وکړي او تاسې په ټولګي کې وګرځئ. وروسته له دوو شاګردانو څخه وغواړئ چې خپل نظر شریک کړي.]

معلم: ډېر ښه. اوس نو خپل ځوابونه په کتابچو کې مو ولیکئ.

[شاګردانو ته ۵ دقیقې وخت ورکړئ چې ځوابونه ولیکي. تاسې په ټولګي کې وګرځئ. که چا مرستې ته اړتیا درلوده، ورسره مرسته وکړئ. که ډېر شاګردان د کومې خاصې کلمې په لیکلو کې ستونزه ولر ي، نوټ یې کړئ او بیا یې پر تختې ولیکئ.]

### ۴. د کیسې په اړه خپل نظر لیکل (۱۰ دقیقې)

معلم: اوس به د کیسې په اړه خپل نظر ولیکئ. پر دې باندې فکر وکړئ چې کیسه څنګه وه؟ خوښه مو شوه که نه؟ د کیسې کومه برخه مو خوښه شوه او ولې مو خوښه شوه؟ له دې کیسې مو څه زده کړل؟ له خپلو څنګلوریو ټولګیوالو سره بحث وکړئ او په وار سره د کیسې په اړه خپل نظر ورته ووایئ.

[شاګردانو ته ۳ دقیقې وخت ورکړئ چې بحث وکړي. تاسې په ټولګي کې وګرځئ او شاګردان وڅارئ]

(c) ketabton.com: The Digital Library

معلم: اوس به په خپلو کتابچو کې د «الله مهرباني» کیسې په اړه خپل نظرونه ولیکئ.

[شاګردانو ته ٦ دقیقې وخت ورکړئ چې خپل نظرونه ولیکي. تاسې په ټولګي کې وګرځئ. که چا مرستې ته اړتیا درلوده، ورسره مرسته وکړئ. که ډېر شاګردان د کومې خاصې کلمې په لیکلو کې ستونزه ولري، نوټ یې کړئ او بیا یې پر تختې ولیکئ. که وخت پاتې و، په آخر کې یو یا دوه شاګردان راوبولئ چې خپله لیکنه ولولي.]

## فصل ۱ اونۍ ۲

## درسي ساعت ۱

### ۱. سلام، روغبړ، د ټولګي تنظیمول (۳ دقیقې)

### ۲. هجا (۳ دقیقې)

معلم: کتابونه مو پرانیزئ. د کتاب د دوهمې اونۍ د لومړي درس په سر کې شپږ کلمې وینئ. مونږ به د کلمو د لوستلو لپاره، د کلمو هره څپه ولولو.

معلم: راځئ چې لومړۍ کلمه په ګډه ولولو. [پر تختې ولیکئ: **ژغو – رېـ – د – لی**] ګورئ! د کلمې هرې برخې ته چې زه اشاره کوم، هماغه برخه به یې وایو. بیا به ټوله کلمه یو ځای ووایو. [شاګردان او معلم: **ژغـو – رېـ – د – لـی** (د کلمې هره برخه چې لولئ، ګوته پرې تېره کړئ.) بیا یې یو ځای ولولئ: **ژغورېدلی**.]

معلم: معلم: اوس به تاسې له څنګلوري ټولګیوال/ ټولګیوالې سره مو په ګډه کار وکړئ. په خپل کتاب کې د لومړۍ اونۍ لومړي درس ته وګورئ. په وار سره لومړۍ د کلمو څپې ولولئ او بیا ټوله کلمه یو ځای ولولئ.

### ۳. د نویو لغاتو فعالیتونه (۱۰ دقیقې)

زه یې ترسره کوم

معلم: ستاسو د کتاب په متن کې یوه جمله وایي: « *د نورو د احسان خاطره باید پر تیره وکړو چې هېڅ باد یې د رنګولو وس ونه لري.»* دلته د «احسان» کلمه نوې ده. [کلمه پر تختې ولیکئ]. راځئ چې دا کلمه درې ځله په لوړ غږ تکرار کړو.

[معلم او شاګردان درې ځله په ګډه په لوړ غږ وایي: احسان]

معلم: اوس به د دې کلمې معنا وګورو. احسان یعنې ښېګڼه، یعنې ښه کول. مثلاً زه وایم: «نجیبې په درسونو کې راسره ډېره مرسته وکړه. هغې احسان راباندې وکړ.»

معلم: بله جمله وایي: « دوی ښه مخ ته لاړل او یوې رغیاڼې ته ورسېدل.» نوې کلمه ده «رغیاڼه» [پر تختې یې ولیکې او له شاګردانو سره یې درې ځله تکرار کړئ] څوک پوهېږي چې «رغیاڼه» څه شي ته وایي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

[که په شاګردانو کې چا ګوته جګه کړه، اجازه ورکړئ چې معنا يې ووايي. که هېڅوک نه پوهېدل، تاسې يې پخپله معنا کړئ. رغيانه = په صحرا يا بيابان کې هغه ځای چې شين وي او اوبه په کې وي.]

معلم: څوک به رغيانه په جمله کې وکاروي؟

[دوو شاګردانو ته اجازه ورکړئ چې جمله جوړه کړي.]

معلم: بله جمله ده: «دوه خواړه ملګري په يوه بيابان کې په سفر روان وو.» [پر تختې وليکئ «بيابان» او له شاګردانو سره يې درې ځله تکرار کړئ.] د بيابان په معنا خو به پوهېږئ؟

[که شاګردان پوهېدل، دوو تنو ته يې اجازه ورکړئ چې معنا يې کړي او په جملو کې يې وکاروي.]

معلم: دې جملې ته غوږ شئ: « وهل شوی لا هم مانېجن و.» [پر تختې وليکئ «مانېجن» او له شاګردانو سره يې درې ځله تکرار کړئ.] که په شاګردانو کې دا مانېجن معنا د چا زده وه، ورنه وغواړئ چې معنا يې ووايي او په جمله کې يې وکاروي. که د چا نه وه زده، تاسې يې معنا کړئ.

**۴. لوستل (۱۵ دقيقې)**

**الف: تر لوستلو مخکې (۲ دقيقې)**

معلم: د نن د درس عنوان څه دی؟

شاګردان: احسان.

معلم: آفرين! اوس نو د دې درس تصوير ته ځير شئ.

[نيمه دقيقه وروسته] معلم: ښه نو، تاسو د درس عنوان او تصوير وکتل. څه فکر کوئ چې د درس موضوع به څه وي؟

شاګردان: له چا سره احسان کول.

معلم: ډېر ښه. څه فکر کوئ چې په دې کيسه کې به چا له چا سره احسان کړی وي؟

شاګردان: يوه ملګري له بل ملګري سره.

معلم: ډېر ښه. راځئ چې وګورو چې خبره همداسې ده، که نه.

**ب. د لوستلو په بهير کې (۱۰ دقيقې)**

معلم: اوس به تاسې په ټيټ غږ د کتاب متن تر هغه ځايه پورې ولولئ چې له تصوير څخه مخکې دی. [شاګردانو ته ۳ دقيقې وخت ورکړئ چې متن ولولي. تاسې په ټولګي کې وګرځئ او که چا مرستې ته اړتيا درلوده، ورسره مرسته وکړئ.]

[تر ۳ دقيقو وروسته] معلم: ښه نو، اوس لوستل بس کړئ. څه مو چې لوستلي دي، په ذهن کې به يې مجسم کړو. څوک به ووايي چې په ذهن کې يې څه تېر شول؟

[دوو شاګردانو ته اجازه ورکړئ چې خپل حال ووايي.]

معلم: اوس نو د کيسې پاتې برخه په ټيټ غږ ولولئ. [شاګردانو ته ۲ دقيقې وخت ورکړئ چې متن ولولي.]

(c) ketabton.com: The Digital Library

معلم: اوس به د کیسې پاتې برخه په ذهن کې مجسم کړئ. آفرین! سترگې مو پټې کړئ او څه مو چې ولوستل خپلو سترگو ته یې ودورئ. هر څوک دې خپل ځنگلوري ټولگیوال/ ټولگیوالې ته ووایي چې څه یې په ذهن کې تېر شول؟ [۲ دقیقې وخت ورکړئ. یوه دقیقه چې تېره شوه، د شاگردانو نقش بدل کړئ. چا چې تر اوسه پورې خبرې کولې، هغه دې غوږ ونیسي او چا چې تر اوسه پورې غوږ نیولی و، هغه دې خبرې وکړي.]

معلم: اوس به زه دا کیسه یو ځل بیا درته ولولم. [کیسه په لوړ غږ او مناسب لحن او تلفظ سره ولولئ]

**ج. تر لوستلو وروسته (۳ دقیقې)**

معلم: ښه نو. د متن تر لوستلو مخکې تاسو وویل چې یوه ملگري به له ملگري سره احسان کړی وي. ستاسو وړاندوینه سمه وه؟

شاگردان: هو.

معلم: ډېر ښه.

کورنۍ دنده: د احسان کولو په اړه ستاسو تجربه څه ده؟ په اړه یې څو جملې ولیکئ.

**دوهم درسي ساعت**

**۱. پر ربښې او روستاړي د کلمو وېشل (۱۰ دقیقې)**

معلم: په متن کې یوه کلمه ده « ماښېجن». [دا کلمه له شاگردانو سره درې ځله تکرار کړئ]

معلم: د دې کلمې اصلي برخه یعنې معنا داره برخه ده «ماښې»، د چا په یاد دي چې «ماښې» څه معنا؟ [اجازه ورکړئ چې شاگردان یې معنا په لوړ غږ ووایي]

معلم: ډېر ښه. د کلمې بله برخه څه ده؟

شاگردان: «جن».

معلم: «جن» د کلمې اصلي برخه ده که غیر اصلي برخه؟

شاگردان: غیر اصلي.

معلم: آفرین! «جن» وروستاړی دی او د هرې کلمې په آخر کې چې «جن» وي، د هماغه شي د لرلو صفت جوړوي، معنا یې دا کېږي چې هماغه شی لري، نو «ماښېجن» یعنې هغه څوک چې له چا څخه گیله ولري یعنې گیله‌من.

(c) ketabton.com: The Digital Library

معلم: اوس نو د چوکاټ پاتې کلمې تاسې له خپلو څنګلوریو ټولګیوالو سره پر برخوو ووېشئ او معناګانې بـه یـې ولیکـئ.
[زهرجن = زهري، له زهرو ډک – کرکجن = کرکه لرونکی - قهرجن = قهرېدلی، غوسه شوی – غمجن = خپه]

**۲. د کیسې نقشه (۲۰ دقیقې)**

محترمو ښوونکو! لاندې چارټ پر تختې رسم کړئ او لکه څنګه چې دلته یې وینئ او لاندې یې تشریح لـولئ، هـره برخـه یې په ترتیب سره ډکه کړئ.

| پیل | | منځ (د کیسې څوکه) | پای | |
|---|---|---|---|---|
| کرکټرونه | دوه ملګري | موسی (ع) حیرانېږي چې څنګه هماغه یو کس سهار تر ټولو بد بنده و، خو ماښام تر ټولو ښه بنده شو. | حل او نتیجه | هغه سړی چې د ډېرو ګناهونو په وجه تر ټولو بد بنده و، د الله (ج) په مهربانۍ تر ټولو ښه بنده شو. |
| ځای – زمان | ځای: بیابان<br>وخت: د اوړي یوه ورځ | | | |
| ستونزه | څنګه کېدای شي چې یو کس دی هم تر ټولو ښه وي او هم تر ټولو بد وي؟ | | سبق/ پیغام | هر څوک چې خپل ګناهونه ومني او توبه وکړي، خدای به یې وبخښي او هغه به ښه بنده شي. |

**زه یې ترسره کوم/ موږ یې ترسره کوو**

معلم: نن به د کیسې جوړښت راوسپړو. کیسې درې برخې لري. [پر تختې د پورتني چارټ غونډې درې ستنې وکاږئ او په سر کې یې پیل، منځ او پای ولیکئ]

معلم: د دې کیسې د پیل په برخه کې به څه شی معلوموو؟

شاګردان: کرکټرونه، ځای – زمان، ستونزه.

معلم: آفرین! [پر تختې د پیل برخې لاندې ولیکئ: کرکټرونه، ځای زمان، ستونزه/ مسأله]

[پر یوه شاګرد د کیسې پیل ولولئ] د اوړي په یوه ورځ کې دوه خواږه ملګري په یوه بیابان کې پـه سـفر روان وو. د مـزل په منځ کې یې څه خبره سره واړوله. دا یوه خپل ملګري ته کلکه څپېړه ورکړه. دا بل ژوبل شو، خوابدی شو، خـو څـه یـې ونه ویل او یوازې د بیابان پر شګو باندې یې ولیکل: «نن خپل ډېر خواږه ملګري پر مخ څپېړه راکړه.»

معلم: ښه نو د دې کیسې کرکټرونه څوک دي؟

شاګردان: دوه خواږه ملګري.

معلم [پر تختې، د کرکټرونو مخې ته ولیکئ: دوه خواږه ملګري] آفرین او ځای زمان یې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

شاگردان: د اوړي يوه ورځ، بيابان.

[پر تختې د ځای زمان مخې ته همدا کلمې وليکئ]

معلم: او ستونزه؟

شاگردان: دا چې يو ملگری بل په څپېړه وهي.

معلم: ډېر ښه. نو ستونزه دا ده چې يو ملگری له بل ملگري خپه شوی دی. د کيسې بله برخه ولولو چې د کيسـې څوکـه پيدا کړو. د کيسې څوکه څه ته وايي؟

شاگردان: د کيسې تر ټولو مهمه برخه چې ستونزه په کې خورا زياته شوې وي.

معلم: آفرين!

[يو بل شاگرد راوبولئ چې د کيسې دغه برخه ولولي: دوی بيا په بيابان کې راوان شول، خو لکـه يـو بـل چـې بېخـي نـه پېژني، خبرې يې نه کولې. وهل شوی لا هم ماتېجن و. وهونکی هم په خپل کار پښېمانه و، غمجـن و. دوی ښـه مـخ تـه لاړل او يوې رغيانې ته ورسېدل. د دواړو سخته گرمي شوې وه. د اوبو په ليدو د لامبلو هوس ورولوېد. اوبـو تـه ورغلـل. دا يو چې په څپېړه وهل شوی و، اوبو ته ونښويېد. اوبه ډېرې وې او د ده لامبو نه وه زده. اوبو لاندې کاوه]

معلم: مننه گرانه/ گرانې! ښه نو اوس هغه ملگری چې په څپېړه وهل شوی و، اوبو ته لوېدلی دی او لامبو يـې نـه ده زده. د کيسې څوکه همدا ده ځکه چې لويه ستونزه همدلته ده چې د يوه ملگري ژوند ته خطر دی.

معلم: تر دې وروسته د کيسې پای ته نژدې کېږو. څوک به د کيسې پاتې برخه ولولي؟

[يو بل شاگرد ته د لوستلو ووايئ: هغه بل اوبو ته ورټوپ کړ. ځان يې ورورساوه او هغه يې وژغوره. ژغورېدلی يو شـېبه د اوبـو په غاړه کې پرېوت چې ساه يې سمه شي. بيا راپاڅېد. چاکو يې راوايست او پـر يـوې ډبـرې يـې دا جملـه وکينـدلـه: «نـن خپل ډېر خواږه ملگري له لاهو کېدو څخه وژغورلم.» بيا يې په موسکه خوله ملگري ته وروکتل.

ملگری يې هم موسکی شو او ويې ويل: «هغه بل ځل دې د څپېړې خبره پر شگو وليکله او اوس دې د ډوبېدو خـبره پـر تيږه وکيندله، چې دا ولې؟»

ده ورته وويل: «د نورو د ناسم چلند خاطره بايد پر شگو وليکو چې د بخښنې لـه نـري بـاد سره ختمـه شي، خـو د نـورو د احسان خاطره بايد پر تيږه وکينو چې هېڅ باد يې د ړنگولو وس ونه لري.»]

معلم: مننه! اوس نو تاسې په خپلو کتابچو کې د کيسې چوکاټ رسم او ډک يې کړئ.

[کله چې شاگردان خپله دنده ترسره کوي، تاسې په ټولگي کې وگرځئ او که چا مرستې تـه اړتيـا درلـوده، ورسره مرسـته وکړئ.]

### ۳. د کرکټر د اعمالو ارزونه (۵ دقيقې)

(c) ketabton.com: The Digital Library

معلم: اوس به د کیسې د کرکټرونو اعمال یا کارونه وارزوو. د کیسې کرکټرونه څوک و؟

شاګردان: دوه خوارہ ملګري.

معلم: آفرین! اوس به له خپلو څنګلوریو ټولګیوالو سره د هر کرکټر پر اعمالو خبرې وکړئ. چا څه وکړل؟ ولې یې وکړل؟ کار یې سم و که ناسم؟ ستاسو په نظر د چا کارونه منطقي وو؟

[شاګردانو ته درې دقیقې وخت ورکړئ چې بحث وکړي. بیا څو تن راوبولئ چې د خپل بحث نتیجه شریکه کړي.]

**دریم درسي ساعت**

**۱. خبرې اترې (۲۵ دقیقې)**

**موږ یې ترسره کوو/ تاسې یې ترسره کوئ**

معلم: نن به بیا ډله‌ییز بحث وکړئ. شپږ شپږ کسان به یوه ډله شي. هر څوک به په خپله ډله کې بحث کوي. د بحث په پای کې به د هرې ډلې یو کس د خپلې ډلې د خبرو مهم ټکي راسره شریکوي.

معلم: نن به د «احسان» په اړه خبرې وکړو. موږ او تاسو د دې اونۍ په لومړي درس کې د احسان معنا وپېژندله. څوک به ووایي چې احسان څه معنا؟

شاګرد: احسان ښه کولو ته وایي.

معلم: آفرین! احسان یعنې له چا سره ښه کول. اوس به تاسې د تېرې اونۍ غونډې ډلې ډلې شئ. په هره ډله کې به شپږ تنه وي او د څو پوښتنو په اړه به خپل نظرونه ووایئ. لومړۍ پوښتنه ده: «کوم کارونه احسان بللی شو؟» [پوښتنه پر تختې ولیکئ]

معلم: ګورئ! کله چې بحث کوو، کېدای شي نظرونه مو سره توپیر ولري. مثلاً احمد به وایي چې: «که چا ته پیسې ورکړو، دا احسان دی.» خو زه بل ډول فکر کوم. زه وایم که فرضاً پوډري ته پیسې ورکړو، هغه به په دې پیسو پوډر اخلي نو دا خو ښه نه شو. کله چې زه خپل نظر څرګندوم، داسې وایم: «احمد جانه! ستا خبره سمه ده. که بې وزلو ته پیسې ورکړو، دا احسان دی خو زه فکر کوم چې هر چا ته د پیسو ورکول به احسان نه وي، مثلاً که پوډري ته پیسې ورکړم او هغه ورباندې پوډر واخلي، ما خو ورسره ښه ونه کړل.»

معلم: ښه نو، اوس به هر څوک د دې پوښتنې ځواب په خپله ډله کې وایي چې کوم کارونه احسان بللی شو. پام مو وي چې که ستاسو نظر د بل ټولګیوال له نظر سره توپیر ولري، خپل نظر به څنګه بیانوئ. اوس نو تاسې پنځه دقیقې په خپلو ډلو کې خبرې وکړئ. په آخر کې به د هرې ډلې استازی د خپلې ډلې د خبرو خلاصه موږ ته ووایي.

[شاګردان به پنځه دقیقې خبرې کوي.]

[کله چې شاګران خبرې اترې کوي، تاسې په ټولګي کې وګرځئ او د شاګردانو کره وړه او د بحث طریقه وڅارئ.]

(c) ketabton.com: The Digital Library

معلم: اوس به د هرې ډلې استازی د خپلو ملګرو د خبرو لنډيز ووايي. ښه نو، د هرې ډلې استازی دې لاس پورته کړي.

[شاګردان لاسونه جګوي. او تاسې به د هغو دريو ډلو استازو ته د خبرو وخت ورکوئ چې په تېره اونۍ کې ورته وار نه و رسېدلی. که ټولو ډلو ته وار رسېدلی وي، له سره يې پيل کړئ.]

[کله چې دوی خبرې کوي، ورته ځير شئ او که کومه کلم سم نه تلفظ کوي، يا يې په خبرو کې ګرامري تېروتنه ده، نوټ يې کړئ. د هغوی خبرې چې خلاصې شوې، تېروتنې يې داسې سمې کړئ چې هماغه کلمې ورته په نورو جملو کې سمې تلفظ کړئ، يا هماغه جمله سمه ووايئ چې د شاګردانو خپلو تېروتنو ته ورپام شي.]

معلم: بله پوښتنه ده: «له بدو خلکو سره احسان به څنګه وي؟» [پوښتنه پر تختې وليکئ]

معلم: ګورئ! فرضاً خدای مه کړه د يو چا ملګری نور ماشومان ځوروي؛ يا ستاسو خور د ګاونډي د لور نانځکه پټوي او تاسې يې وينئ؛ يا مو يو ټولګيوال غواړي چې د ټولګي چوکۍ ماته کړي. له داسې کسانو سره څرنګه احسان کولی شو؟ تاسې به پر دې موضوع بحث کوئ. د هرې ډلې استازی به د خپلې ډلې خبرې په ياد ساتي او په پای کې به يې له موږ سره شريکوي.

[شاګردانو ته پنځه دقيقې وخت ورکړئ چې خبرې اترې وکړي.]

[کله چې شاګران خبرې اترې کوي، تاسې په ټولګي کې وګرځئ او د شاګردانو کړه وړه وڅارئ.]

معلم: اوس به د هرې ډلې استازی د خپلې ډلې نظرونه راته ووايي خو تکراري نظر به څه کوو؟

شاګردان: تکراري نظر به خلاصه کوو يا به يې له سره وايو نه.

معلم: ډېر عالي!

[د دريو نورو ډلو استازي خبرو ته راوبولئ. که د دوی کومه خبره منطقي نه وي، تاسې يې اصلاح کړئ.]

معلم: ډېر ښه. بله پوښتنه به وڅېړو: «د احسان نتيجه به څه وي؟» [پوښتنه پر تختې وليکئ]

معلم: دا به د نن د بحث وروستۍ پوښتنه وي. د بحث په آخر کې به د هرې ډلې استازی د خپلې ډلې نظرونه راته وايي.

[شاګردانو ته ۵ دقيقې وخت ورکړئ چې بحث وکړي.]

[کله چې شاګران خبرې اترې کوي، تاسې په ټولګي کې وګرځئ او د شاګردانو کړه وړه وڅارئ.]

معلم: اوس به د څو ډلو استازي ووايي چې څه يې سره ويلي دي. پام مو وي چې تکراري خبرې به خلاصه کوئ يا به يې له پامه غورځوئ.

[د دريو نويو ډلو استازي وغږوئ. د هغوی خبرې چې خلاصې شوې، تېروتنې يې سمې کړئ.]

معلم: [د ټول بحث خلاصه په څو جملو کې وايي]: نن مو د احسان په اړه بحث وکړ. موږ او تاسو وويل چې: ۱. دغه کارونه احسان بللی شو: .....

۲. له بدو خلکو سره احسان دا دی چې: .......

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳. او د احسان نتیجه دا ده چې: ........

[که د بحثونو په بهیر کې مو کومه بې نظمي یا بل څه نوټ کړي وي، هغه شاگردانو ته ورياده کړئ، مثلاً: ما وليدل چې ځينو شاگردانو په بحث کې هېڅ خبرې ونه کړې. هر يو بايد خپل نظر ووايو. حتمي نه ده چې نظر مو سم وي. که مو نظر سم نه وي، د ډلې غړي به يې اصلاح کړي، خو هر څوک به خپله خبره کوي.]

**۲. گرامر (د ليکنښو کارول) (۱۰ دقيقې)**

معلم: د کتاب په ـــــ مخ کې پنځه جملې ليکل شوې دي چې ليکنښې نه لري. تاسې به جملې په کتابچو کې ليکئ او د [! . : « »] ليکنښې به په مناسبو ځايونو کې وکاروئ. لومړۍ جمله به يې په گډه کار کړو. څوک به يې ولولي؟

[شاگردان لاس جگوي. يوه شاگرد ته وايئ چې جمله په لوړ غږ ولولي. څنگه چې هغه جمله لولي، تاسې يې پر تختې وليکئ.]

معلم: ډېر ښه. جمله مو ده:

پر شگو باندې يې وليکل  نن خپل ډېر خواږه ملگري په مخ څپېړه راکړه

معلم: څوک به په دې جمله کې ليکنښې وکاروي؟

[يو شاگرد راوبولئ چې پر تختې ليکل شوې جمله کې ليکنښې وکاروي]

معلم: مننه! پاتې جملې په پخپلو کتابچو کې وليکئ او هرې جملې ته مناسبې ليکنښې وکاروئ.

### څلورم درسي ساعت

**۱. املا (۵ دقيقې)**

معلم: گرانو شاگردانو! اوس به خپلې کتابچې خلاصې کړئ او ځينې کلمې به وليکئ. د دې لپاره چې د کلمو ليکل راته آسانه شي، کلمې پر برخو وېشو. مثلاً « ماښېجن» دوې برخې لري «ماښې» او «جن».

معلم: به زه کلمې درته ووايم او تاسې به يې په خپلو کتابچو پر برخو ووېشئ او بيا به يې يو ځای وليکئ. [دغه کلمې شاگردانو ته ووايئ «ماښېجن، خوابدی، ژغورېدلی، غمجن، ورورساوه». په ټولگي کې وگرځئ او شاگردن وڅارئ. که چا مرستې ته اړتيا درلوده، ورسره مرسته وکړئ.]

**۲. د استنباطي پوښتنو د ځوابونو ليکل (۱۰ دقيقې)**

معلم: د کتاب په ـــــــ مخ کې د کيسې په اړه څو پوښتنې راغلي دي. لومړۍ پوښتنه به څوک ولولي؟ [شاگردان گوتې جگوي. يو تن ته ووايئ چې لومړۍ پوښتنه ولولي.]

شاگرد پوښتنه لولي: ۱. کله چې وهل شوی ملگری پر تيږې جمله وکيندله، ولې يې خپل ملگري ته په موسکه خوله وروکتل؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

معلم: د دې پوښتنې ځواب په کیسه کې شته؟

شاګردان: نه.

معلم: ډېر ښه. داسې پوښتنې چې ځواب يې په متن کې نه وي، څه بولو؟

شاګران: استنباطي پوښتنې.

معلم: اوس نو له څنګلوريو ټولګيوالو سره مو بحث وکړئ او د پوښتنې ځواب پيدا کړئ. بيا د دې پوښتنې ځواب په خپلو کتابچو کې وليکئ.

[کله چې شاګردان ځواب ليکي، تاسې په ټولګي کې وګرځئ او که چا مرستې ته اړتيا لرله، ورسره مرسته وکړئ.]

معلم: ښه نو. دوهمه پوښتنه به څوک ولولي؟ [يوه بل شاګرد ته اجازه ورکړئ چې پوښتنه په لوړ غږ ولولي.]

معلم: مننه .... جانه/ جانې! اوس نو له خپلو څنګلوريو ټولګيوالو سره بحث وکړئ چې: «وهل شوي ملګري چې د خپل ملګري ناسم چلند وباخښه، چا ګټه وکړه او ولې؟

[دوه دقيقې وخت ورکړئ چې شاګردان بحث وکړي او تاسې په ټولګي کې وګرځئ. وخت چې پوره شو، دوه شاګردان راوبولئ چې خپل ځواب ووايي.]

معلم: دريمه پوښتنه څوک لولي؟ [يو شاګرد دې پوښتنه ولولي]

معلم: مننه ..... ګله/ ګلې! اوس له څنګلوريو ټولګيوالو سره مو بحث وکړئ چې: «د بل د احسان نه هېرول څه ګټې لري؟»

[دوه دقيقې وخت ورکړئ چې شاګردان بحث وکړي. وخت چې پوره شو، دوه شاګردان راوبولئ چې خپل ځواب شريک کړي.]

معلم: ډېر ښه. د دې دوو پوښتنو ځوابونه به په کور کې په خپلو کتابچو وليکئ.

**۳. د کرکټرونو د اعمالو ليکنۍ ارزونه (۱۰ دقيقې)**

معلم: د دې اونۍ په دوهم درسي ساعت کې مو د کرکټرونه کارونه ورازول او ومو ويل چې د هغوی کارونه منطقي او سم و که نه. نن به د کرکټرونو په اړه خپله ارزونه وليکئ. ستاسو د کتاب په ـــــ مخ کې دوې پوښتنې دي. لومړۍ پوښتنه به څوک ولولي؟ [شاګردان لاسونه جګوي او يو تن ته د پوښتنې د لوستلو اجازه ورکړئ]

شاګرد پوښتنه لولي: ۱. هغه کس چې خپل ملګری يې په څپېړه وواهه، څنګه انسان و؟

معلم: مننه! اوس نو د دې پوښتنې په اړه له خپل څنګلوري ټولګيوال سره بحث وکړئ.

[شاګردان دې دوه دقيقې بحث وکړي او تاسې په ټولګي کې وګرځئ. وروسته له دوو شاګردانو څخه وغواړئ چې خپل نظر شريک کړي.]

(c) ketabton.com: The Digital Library

معلم: ډېر ښه. څوک به دوهمه پوښتنه ولولي؟ [یل شاګرد ته اجازه ورکړئ]

شاګرد: ۲. د وهل شوي ملګري چلند ستاسو په نظر څنګه و؟

معلم: مننه! اوس بيا له خپلو څنګلوريو ټولګيوالو سره د دې پوښتنې په اړه بحث وکړئ.

[شاګردان دې دوه دقيقې بحث وکړي او تاسې په ټولګي کې وګرځئ. وروسته له دوو شاګردانو څخه وغواړئ چې خپل نظر شريک کړي.]

معلم: ډېر ښه. اوس نو خپل ځوابونه په کتابچو کې مو وليکئ.

[شاګردانو ته ۵ دقيقې وخت ورکړئ چې ځوابونه وليکي. تاسې په ټولګي کې وګرځئ. که چا مرستې ته اړتيا درلوده، ورسره مرسته وکړئ. که ډېر شاګردان د کومې خاصې کلمې په ليکلو کې ستونزه ولري، نوټ يې کړئ او بيا يې پر تختې وليکئ.]

**۴. د کيسې په اړه خپل نظر ليکل (۱۰ دقيقې)**

معلم: اوس به د کيسې په اړه خپل نظر وليکئ. پر دې باندې فکر وکړئ چې کيسه څنګه وه؟ خوښه مو شوه که نه؟ د کيسې کومه برخه مو خوښه شوه او ولې مو خوښه شوه؟ له دې کيسې مو څه زده کړل؟ له خپلو څنګلوريو ټولګيوالو سره بحث وکړئ او په وار سره د کيسې په اړه خپل نظر ورته ووايئ.

[شاګردانو ته ۴ دقيقې وخت ورکړئ چې بحث وکړي. تاسې په ټولګي کې وګرځئ او شاګردان وڅارئ]

معلم: اوس به په خپلو کتابچو کې د «احسان» کيسې په اړه خپل نظرونه وليکئ.

[شاګردانو ته ۵ دقيقې وخت ورکړئ چې خپل نظرونه وليکي. تاسې په ټولګي کې وګرځئ. که چا مرستې ته اړتيا درلوده، ورسره مرسته وکړئ. که ډېر شاګردان د کومې خاصې کلمې په ليکلو کې ستونزه ولري، نوټ يې کړئ او بيا يې پر تختې وليکئ. که وخت پاتې و، په آخر کې يو يا دوه شاګردان راوبولئ چې خپله ليکنه ولولي.]

(c) ketabton.com: The Digital Library

## فصل ۱ اونۍ ۳

## درسي ساعت ۱

**۱. سلام، روغبړ، د ټولګي تنظيمول (۳ دقيقې)**

**۲. هجا (۳ دقيقې)**

معلم: کتابونه مو پرانيزئ. د کتاب د لومړۍ اونۍ د لومړي درس په سر کې شپږ کلمې وينئ. موږ به د کلمو د لوستلو لپاره، د کلمو هره څپه ولولو.

معلم: راځئ چې لومړۍ کلمه په ګډه ولولو. [پر تختې وليکئ: **کيـ – ـشـ – ـپه**] ګورئ! د کلمې هرې برخې ته چې زه اشاره کوم، هماغه برخه به يې وايو. بيا به ټوله کلمه يو ځای ووايو. [شاګردان او معلم: **کيـ – ـشـ – ـپه** (د کلمې هره برخه چې لولئ، ګوته پرې تېره کړئ.) بيا يې يو ځای ولولئ: **کيشپه**.]

معلم: معلم: اوس به تاسې له څنګلوري ټولګيوال/ ټولګيوالې سره مو په ګډه کار وکړئ. په خپل کتاب کې د لومړۍ اونۍ لومړي درس ته وګورئ. په وار سره لومړی د کلمو څپې ولولئ او بيا ټوله کلمه يو ځای ولولئ.

**۳. د نويو لغاتو فعاليتونه (۱۰ دقيقې)**

زه يې ترسره کوم

معلم: ستاسو د کتاب په متن کې يوه جمله وايي: « کيشپه ډېره کړتنه وه.» دلته «کړتنه» نوې کلمه ده. [دا کلمه پر تختې وليکئ]. راځئ چې دا کلمه درې ځله په لوړ غږ تکرار کړو. [معلم او شاګردان درې ځله په ګډه په لوړ غږ وايي: کړتنه]

معلم: اوس به د دې کلمې معنا وګورو. تر دې ووسته جمله وايي چې: « هر وخت به يې خوله خبرو ته خلاصه وه او هر وخت به يې خبرې کولې.» نو څه فکر کوئ چې «کړتنه» به څه ته وايي؟

شاګردان: «چا ته چې ډېرې خبرې کوي»

معلم: آفرين!

معلم: بله جمله وايي: « کيشپې مشوره ورکړه چې پتکې دې والوځي او چېرته بل ډنډ دې پيدا کړي.»

په دې جمله کې «مشوره» نوې کلمه ده [پر تختې يې وليکې او له شاګردانو سره يې درې ځله تکرار کړئ] څوک پوهېږي چې «مشوره» څه شي ته وايي؟

[که به شاګردانو کې چا ګوته جګه کړه، اجازه ورکړئ چې معنا يې ووايي. که هېڅوک نه پوهېدل، تاسې يې پخپله معنا کړئ. مشوره = د يوې ستونزې د حل لپاره چا ته خپل نظر ويل.]

معلم: څوک به مشوره په جمله کې وکاروي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

[دوو شاګردانو ته اجازه ورکړئ چې جمله جوړه کړي.]

معلم: بله جمله ده: « ستونزه دا وه چې ډنډ خورا لرې و.» [پر تختې ولیکئ «خورا» او له شاګردانو سره یې درې ځله تکرار کړئ.] د «خورا» په معنا خو به پوهېږئ؟

[که شاګردان پوهېدل، دوو تنو ته یې اجازه ورکړئ چې معنا یې کړي او په جملو کې یې وکاروي. خورا = ډېر، زیات]

معلم: دې جملې ته غوږ شئ: «یوه کیشپه او یوه جوړه پتکې سره ملګرې وې.» [پر تختې ولیکئ «پتکه» او له شاګردانو سره یې درې ځله تکرار کړئ.] که په شاګردانو کې د پتکې معنا د چا زده وه، ورنه وغواړئ چې معنا یې ووایي او په جمله کې یې وکاروي. که د چا نه وه زده، تاسې معنا کړئ. [پتکه = یو مارغه چې رنګ یې سپین او غاړه یې اوږده ده، او په جهیلونو او ډنډونو کې اوسېږي.»

**۴. لوستل (۱۵ دقیقې)**

**الف: تر لوستلو مخکې (۲ دقیقې)**

معلم: د نن د درس عنوان څه دی؟

شاګردان: ملګرتیا.

معلم: آفرین! اوس نو د دې درس تصویر ته ځیر شئ.

[نیمه دقیقه وروسته] معلم: ښه نو، تاسو د درس عنوان او تصویر وکتل. څه فکر کوئ چې د درس موضوع به څه وي؟

شاګردان: د کیشپې او پتکو ملګرتیا.

معلم: ډېر ښه. څه فکر کوئ چې په دې کیسه کې به د پتکو او کیشپې ملګرتیا څنګه وي؟

شاګردان: ملګرتیا به یې ښه وي ځکه چې پتکې کیشپې ته په هوا کې چکر ورکوي.

معلم: ډېر ښه. راځئ چې وګورو چې خبره همداسې ده، که نه.

**ب. د لوستلو په بهیر کې (۱۰ دقیقې)**

معلم: اوس به تاسې په ټیټ غږ د کتاب متن تر هغه ځایه پورې ولولئ چې له تصویر څخه مخکې دی. [شاګردانو ته ۳ دقیقې وخت ورکړئ چې متن ولولي. تاسې په ټولګي کې وګرځئ او که چا مرستې ته اړتیا درلوده، ورسره مرسته وکړئ.]

[تر ۳ دقیقو وروسته] معلم: ښه نو، اوس لوستل بس کړئ. څه مو چې لوستلي دي، په ذهن کې به یې مجسم کړو. څوک به ووایي چې په ذهن کې یې څه تېر شول؟

[دوو شاګردانو ته اجازه ورکړئ چې خپل حال ووایي.]

معلم: اوس نو د کیسې پاتې برخه په ټیټ غږ ولولئ. [شاګردانو ته ۲ دقیقې وخت ورکړئ چې متن ولولي.]

معلم: اوس به د کیسې پاتې برخه په ذهن کې مجسم کړئ. آفرین! سترګې مو پټې کړئ او څه مو چې ولوستل خپلو سترګو ته یې ودورئ. هر څوک دې خپل څنګلوري ټولګیوال/ ټولګیوالې ته ووایي چې څه یې په ذهن کې تېر شول؟ [۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

دقيقې وخت ورکړئ. يوه دقيقه چې تېره شوه، د شاګردانو نقش بدل کړئ. چا چې تر اوسه پورې خبرې کولې، هغه دې غوږ ونيسي او چا چې تر اوسه پورې غوږ نيولی و، هغه دې خبرې وکړي.]

معلم: اوس به زه دا کيسه يو ځل بيا درته ولولم. [کيسه په لوړ غږ او مناسب لحن او تلفظ سره ولولئ]

**ج. تر لوستلو وروسته (۳ دقيقې)**

معلم: ښه نو. د متن تر لوستلو مخکې تاسو وويل چې د پتکو او کيشپې ملګرتيا ښه وه. اوس به څه ووايئ؟

[دوو شاګردانو ته وخت ورکړئ چې خپل نظر ووايي.]

**کورنۍ دنده:** ستاسو ښه ملګری څوک دی يا ښه ملګرې مو څوک ده. په اړه يې څلور جملې وليکئ.

**دوهم درسي ساعت**

**۱. پر ربښې او وروستاړي د کلمو وېشل (۱۰ دقيقې)**

معلم: په متن کې يوه کلمه ده «ملګرتيا». [دا کلمه له شاګردانو سره درې ځله تکرار کړئ]

معلم: د دې کلمې اصلي برخه يعنې معنا داره برخه ده «ملګر» او دا د «ملګري» لنډه بڼه ده. ملګری څه معنا؟ [اجازه ورکړئ چې شاګردان يې معنا په لوړ غږ ووايي]

معلم: ډېر ښه. د کلمې بله برخه څه ده؟

شاګردان: «تيا».

معلم: «تيا» د کلمې اصلي برخه ده که غير اصلي برخه؟

شاګردان: غير اصلي.

معلم: آفرين! «تيا» وروستاړی دی او د هرې کلمې په آخر کې چې راشي، حالت ښيي. نو «ملګرتيا» يعنې هغه حالت چې څوک سره ملګري يا ملګرې وي.

معلم: اوس نو د چوکاټ پاتې کلمې تاسې له خپلو څنګلوريو ټولګيوالو سره پر برخوو ووېشئ او معناګانې به يې وليکئ. [**بلدتيا** = هغه حالت چې څوک بلد وي – **خبرتيا** = د خبرېدو حالت - **ژمنتيا** = د ژمنې کولو حالت – **ويښتيا** = د ويښوالي حالت]

**۲. د کيسې نقشه (۲۰ دقيقې)**

(c) ketabton.com: The Digital Library

محترمو ښوونکو! لاندې چارټ پر تختې رسم کړئ او لکه څنګه چې دلته يې وينئ او لاندې يې تشريح لـولئ، هـره برخـه يې په ترتيب سره ډکه کړئ.

| پيل | | منځ (د کيسې څوکه) | پای | |
|---|---|---|---|---|
| کرکټرونه | کيشپه او يوه جوړه پتکې | که کيشـپه پـه هـوا کـې خـبرې وکړي، وبه لوېږي. | حـــــل او نتيجه | کيشپې تر آخره حوصله ونه کـړه او خولـه يـې خـبرو تـه خلاصـه کـړه، هماغه وه چې ولوېده او مړه شوه. |
| ځای – زمان | ځای: ډنډ<br>وخت: يو کال | | | |
| ستونزه | د ډنډ وچېدل<br>نوي ډنډ ته د کيشپې بيول | | ســــبق/ پيغام | بايد فکر وکړو چې کوم کار زمـوږ د ملګرو لپاره ښه او بې خطره دي. |

**زه يې ترسره کوم/ موږ يې ترسره کوو**

معلم: اوس به کيسې جوړښت راوسپړو. کيسې څو برخې لري.

شاګردان: درې برخې: پيل، منځ، پای [پر تختې د پورتني چارټ غوندې درې ستنې وکاږئ او په سر کې يـې پيـل، مـنځ او پای وليکئ]

معلم: د کيسې د پيل په برخه کې به څه شی معلوموو؟

شاګردان: کرکټرونه، ځای – زمان، ستونزه.

معلم: آفرين! [پر تختې د پيل برخې لاندې وليکئ: کرکټرونه، ځای زمان، ستونزه/ مسأله]

[پر يوه شاګرد د کيسې پيل ولولئ] **يوه کيشپه او يوه جوړه پتکې سره ملګرې وې. دوی په يوه ډنډ کـې اوسـېدلې. دوی به هر وخت سره کيسې کولې. کيشپه ډېره کړتنه وه. هر وخت به يې خوله خبرو ته خلاصه وه او هر وخت به يـې خـبرې کولې . يو کال بارانونه کم وو او وچکالي راغله. د ډنډ اوبه په وچېدو وې. پتکو فکر وکړ چې که ډنـډ بېخـي وچ شي، دوی به څه کوي.**

معلم: ښه نو د دې کيسې کرکټرونه څوک دي؟

شاګردان: کيشپه او يوه جوړه پتکې.

معلم [پر تختې، د کرکټرونو مخې ته وليکئ: دوه خواړه ملګري] آفرين او ځای زمان يې؟

شاګردان: ځای يې ډنډ دی او وخت يې يو کال.

معلم: آفرين! په دې کيسه کې وخت دقيق نه دی بيان شوی. [پر تختې د ځای زمان مخې ته همدا کلمې وليکئ]

معلم: او ستونزه؟

شاګردان: دا چې د ډنډ اوبه په وچېدو وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

معلم: ډېر ښه. نو ستونزه دا ده چې ډنډ وچېږي او پتکې بې اوبو ژوند نه شي کولی. اوس نو دا د کتاب د چوکاټ په شان یو بل جدول په خپلو کتابچو کې وکاږئ او د کیسې د پیل برخه په کې ډکه کړئ.

[شاګردانو ته ۵ دقیقې وخت ورکړئ چې چوکاټ رسم او لومړۍ برخه یې ډکه کړي.]

معلم: اوس به د کیسې بله برخ ولولو چې د کیسې څوکې ته ورسېږو. د کیسې څوکه څه ته وایي؟

شاګردان: د کیسې تر ټولو مهمه برخه چې ستونزه په کې خورا زیاته شوې وي.

معلم: آفرین!

[یو بل شاګرد راوبولئ چې د کیسې دغه برخه ولولي: **کیشپې مشوره ورکړه چې پتکې دې والوځي او چېرته بل ډنډ دې پیدا کړي. بیا به درې واړه هلته ولاړې شي. پتکې والوتلې. ډېرې وګرځېدې او بیا راستنې شوې. دوی یو ښایسته ډنډ موندلی و، خو ستونزه دا وه چې ډنډ خورا لرې و. کیشپې ته خورا سخته وه چې تر هغه ځایه پورې لاړه شي. درې واړه غمجنې وې چې دا به څنګه شي؟**

**خو کیشپې بیا هم مشوره درلوده: «ګورئ! یوه کلکه لښته به راواخلو. دواړه سرونه یې تاسې په مښوکه کې ونیسئ او زه به د لښتې منځ په خوله ټینګ ونیسم. تاسې به والوځئ او ما به هم په هوا کړئ.»**

**یوې پتکې له خوشحالۍ ناره کړه: «واه! څومره ښه مشوره!»**

**بلې پتکې وویل: «مشوره خو ښه ده، خو ګوره ملګرې! ستا عادت دی چې خبرې ډېرې کوې. که ته په هوا کې خبرو ته خوله خلاصه کړې، نو بیا؟»]**

معلم: مننه ګرانه/ ګرانې! اوس له خپلو څنګلوریو ټولګیوالو سره بحث وکړئ او د کیسې څوکه معلومه کړئ.

[شاګردانو ته د بحث لپاره ۲ دقیقې وخت ورکړئ. بیا یو دوه شاګردان راوبولئ چې د کیسې د څوکې په اړه خپل نظر ووایي]

معلم: اوس به تاسې د چوکاټ بله برخه ډکه کړئ. د کیسې منځ یا څوکه.

[شاګردانو ته ۳ دقیقې وخت ورکړئ چې د چوکاټ بله برخه ډکه کړي. تاسې په ټولګي کې وګرځئ او که چا ستونزه درلوده، ورسره مرسته وکړئ]

معلم: تر دې وروسته د کیسې پای ته نژدې کېږو. څوک به د کیسې پاتې برخه ولولي؟

[یو بل شاګرد ته د لوستلو ووایئ: **کیشپې وویل: «بې غمه شه. زه به تر هغې پورې خبرې نه کوم چې ډنډ ته نه یو رسېدلې.» پتکو لښته په مښوکه کې ونیوه او کیشپې د لښتې منځ په خوله ټینګ کړ. درې واړه په هوا شوې. واه! له پاسه هر څه څومره بدل ښکاري! کیشپې ته دا پېښه ډېره په زړه پورې وه. څو وارې یې زړه وشو چې څه ووایي، خو دا خبره به یې ور په زړه شوه چې خوله باید خلاصه نه کړي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**له ډېر مزل وروسته، ډنډ ته ورسېدل. لوی ښکلی ډنډ چې اوبه یې د آسمان په رنګ نیلي وې. کیشپې د ډنډ په لیدو سره ناره کړه: «واه! څومره ښکلی ډنډ!» له دې خبرې سره له پاسه راخطا شوه او د ډنډ په غاړه کې پر تیږو ولوېده. خواره کۍ کیشپه څکه مړه شوه چې بې وخته یې خبرې وکړې.]**

معلم: مننه! اوس نو تاسې له څنګلوریو ټولګیوالو سره مو بحث وکړئ چې د کیسې پای او نتیجه څه شوه او تاسو ورنه څه زده کړل.

[شاګردانو ته ۲ دقیقې د بحث لپاره وخت ورکړئ. بیا یو دوه تنه راوبولئ چې خپل نظر ووایي.]

معلم: اوس به په خپلو کتابچو کې د کیسې د چوکاټ وروستۍ برخه ډکه کړئ.

[کله چې شاګردان خپله دنده ترسره کوي، تاسې په ټولګي کې وګرځئ او که چا مرستې ته اړتیا درلوده، ورسره مرسته وکړئ.]

### ۳. د کرکټر د اعمالو ارزونه (۵ دقیقې)

معلم: اوس به د کیسې د کرکټرونو اعمال یا کارونه وارزوو. د کیسې کرکټرونه څوک و؟

شاګردان: پتکې او کیشپه.

معلم: آفرین! اوس به له خپلو څنګلوریو ټولګیوالو سره د هر کرکټر پر اعمالو خبرې وکړئ. چا څه وکړل؟ ولې یې وکړل؟ کار یې سم و که ناسم؟ ستاسو په نظر د چا کارونه منطقي وو؟

[شاګردانو ته درې دقیقې وخت ورکړئ چې بحث وکړي. بیا څو تن راوبولئ چې د خپل بحث نتیجه شریکه کړي.]

## دریم درسي ساعت

### ۱. خبرې اترې (۲۵ دقیقې)

**موږ یې ترسره کوو/ تاسې یې ترسره کوئ**

معلم: نن به بیا ډله‌ییز بحث وکړئ. شپږ شپږ کسان به یوه ډله شي. هر څوک به په خپله ډله کې بحث کوي. د بحث په پای کې به د هرې ډلې یو کس د خپلې ډلې د خبرو مهم ټکي راسره شریکوي.

معلم: نن به د «ښه ملګري/ ملګرې» په اړه خبرې وکړو. ها بله ورځ مو د پتکو او کیشپې کیسه ولوسته. کیشپه ولې مړه شوه؟

شاګردان: څکه چې پتکو په هوا کړې وه او دا راولوېده.

معلم: پتکو ولې کیشپه په هوا کړې وه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

شاګردان: ځکه چې نه يې غوښتل چې کيشپه ملګرې يې يوازې پاتې شي او خپه شي.

معلم: ښه نو، موږ وليدل چې پټکو غوښتل له خپلې ملګرې سره ښه وکړي، خو دې ته يې فکر نه و کړی چې دا کار به په رښتيا د کيشپې په خير وي که نه. اوس به همدا موضوع راواخلو. لومړی پوښتنه ده: «ښه ملګری يا ښه ملګرې څه رقم بايد وي؟» [پوښتنه پر تختې وليکئ]

معلم: ګورئ! کله چې بحث کوو، کېدای شي نظرونه مو سره توپير ولري. دا طبيعي ده. حتمي نه ده چې ټول به راسره هم نظره وي. مثلاً که زه ووايم چې: «ښه ملګرې هغه ده چې هر وخت ورته ووايم، له ما سره لوبې وکړي.» خو جميله به وايي: «دا سمه ده چې ښه ملګرې ستا خوښې ته ګوري خو ته به هم د هغې خوښې ته وګورې. که هغه بل کار ولري يا يې لوبو ته زړه نه شي، نو ته به نه خپه کېږې.» دلته وينم چې د جميلې نظر منطقي دی، نو زه به يې ورسره ومنم چې همداسې ده.

معلم: ښه نو، اوس به هر څوک په خپله ډله کې وايي چې «ښه ملګری/ ښه ملګرې څه رقم وي؟» پام مو وي چې د يو بل ښه نظرونه به منئ. اوس نو تاسې پنځه دقيقې په خپلو ډلو کې خبرې وکړئ. په آخر کې به د هرې ډلې استازی د خپلې ډلې د خبرو خلاصه موږ ته ووايي.

[شاګردان به پنځه دقيقې خبرې کوي.]

[کله چې شاګران خبرې اترې کوي، تاسې په ټولګي کې وګرځئ او وګورئ چې د يو بل منطقي نظرونه څنګه مني.]

معلم: اوس به د هرې ډلې استازی د خپلو ملګرو د خبرو لنډيز ووايي. ښه نو، د هرې ډلې استازی دې لاس پورته کړي.

[شاګردان لاسونه جګوي. تاسې به د هغو دريو ډلو استازو ته د خبرو وخت ورکوئ چې په تېره اونۍ کې ورته وار نه و رسېدلی. که ټولو ډلو ته وار رسېدلی وي، له سره يې پيل کړئ.]

[کله چې دوی خبرې کوي، ورته ځير شئ. تېروتنې يې نوټ او په پای کې يې اصلاح کړئ. مثبت ټکي يې هم ياد کړئ، مثلاً: ګلالۍ چې خبرې کولې، موږ او تاسو ته به يې کتل. دا ښه خبره چې څوک خبرې کوي له اورېدونکو سره د سترګو تماس وساتي.]

معلم: بله پوښتنه ده: «موږ د ځان ملګری/ ملګرې کېدای شو؟» [پوښتنه پر تختې وليکئ]

معلم: ګورئ! مخکې مو وويل چې ښه ملګری د خپل ملګري ښه غواړي او تېروتنې يې ورته ښيي چې اصلاح يې کړي. موږ انسانان يو او کله کله تېر وځو. نو که د ځان ښه ملګری و، ځان ته به وايو چې دغه کار دې ښه نه و. دا کار دې بايد سم کړې. تاسې به پر همدې موضوع بحث کوئ چې څنګه د ځان ښه ملګری/ ملګرې کېدای شو. د هرې ډلې استازی به د خپلې ډلې خبرې په ياد ساتي او په پای کې به يې له موږ سره شريکوي.

[شاګردانو ته پنځه دقيقې وخت ورکړئ چې خبرې اترې وکړي.]

[کله چې شاګران خبرې اترې کوي، تاسې په ټولګي کې وګرځئ او وګورئ چې څنګه استدلال کوي.]

(c) ketabton.com: The Digital Library

معلم: اوس به د هرې ډلې استازی د خپلې ډلې نظرونه راته ووايي.

[د دريو نورو ډلو استازي خبرو ته راوبولئ. که د دوی کومه خبره منطقي نه وي، تاسې يې اصلاح کړئ.]

معلم: اوس نو بله خبره. موږ او تاسو وويل چې ښه ملګری له خپل ملګري سره مرسته کوي. کـه د چا ملګـری غـل وي او دی هم په غلا کې ورسره مرسته وکړي، دا به څنګه وي؟ دې ته ښه ملګرتيا ويلی شو؟

شاګردان: نه.

معلم: ډېر ښه. دا ښه ملګرتيا نه ده ځکه چې په ښه ملګرتيا کې چا ته بايد تاوان ونه رسـېږي. اوس بـه دا پوښـتنه وځېړو چې: «سمه ملګرتيا څنګه وي؟» [پوښتنه پر تختې وليکئ]

معلم: دا به د نن د بحث وروستۍ پوښتنه وي. د بحث په آخر کې به د هرې ډلې استازی د خپلې ډلې نظرونه راته وايي.

[شاګردانو ته ۵ دقيقې وخت ورکړئ چې بحث وکړي.]

[کله چې شاګران خبرې اترې کوي، تاسې په ټولګي کې وګرځئ او د شاګردانو کړه وړه وڅارئ.]

معلم: اوس به د څو ډلو استازي ووايي چې څه يې سره ويلي دي. پام مو وي چې تکراري خبرې به په لنډو کوئ.

[د دريو نويو ډلو استازي وغږوئ. د هغوی خبرې چې خلاصې شوې، تېروتنې يې سمې کړئ.]

معلم: [د ټول بحث خلاصه په څو جملو کې وايي]: نن مو د «ملګرتيا» په اړه بحث وکړ. مـوږ او تاسـو وويـل چـې: ۱. ښـه ملګری/ ملګرې داسې وي: .....

۲. هر څوک د ځان ملګری/ ملګرې کېدای شي، داسې چې: .......

۳. او سمه ملګرتيا داسې وي چې: .........

[که د بحثونو په بهير کې مو کومه بې نظمي يا بل څه نوټ کړي وي، هغه شاګردانو ته ورياده کړئ، مثلاً: ما وليـدل چـې ځينو شاګردانو په بحث کې دې خوا ها خوا کتل. کله چې څوک خبرې کوي، موږ بايد ورته غوږ ونيسو، بايد ورته وګورو.]

**۲. ګرامر (مفرد او جمع کلمې) (۱۰ دقيقې)**

معلم: د کتاب په ـــــ مخ کې جدول ته وګورئ. په دريو کرښو کې کلمې په کې ليکل شـوي دي. د هـرې کرښـې کلمـې سره يو شان جمع کېږي. تاسې به د هرې کرښې په سر کې نمونې ته وګورئ او بيا به پاتې کلمې پـه خپلـو کتـابچو کـې وليکئ او د هرې کلمې مخې ته به د هماغه کلمې جمع بڼه وليکئ.

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| **ملګری – ملګري** | سړی - | بريالی - | ښکلی - | ژوندی - |
| **خوښي – خوښۍ** | وچکالي - | خوشحالي - | وروري - | ښادي – |
| **مل – مله؛** | غل - | خر - | مړ - | شين - |

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۳. گرامر (اوس او تېر مهال) (۱۰ دقيقې)**

معلم: د کتاب په ـــــ مخ کې جدول ته وگورئ. په لومړي کتار کې د اوس مهال جملې دي، تاسې به دا جدول په خپلو کتابچو کې رسم کړئ او له نمونې سره سم، هره جمله په تېر مطلق او تېر جاري مهال واړوئ. څوک به نمونه جمله ولولي؟

[يو شاگرد راوبولئ چې جمله ولولي.]

معلم: مننه. گورئ! په مطلق تېر مهال کې کار ختم شوی وي. کله چې وايو «کيشپې کميس واغوست»، معنا يې دا ده چې کميس يې اغوستی دی. خو کله چې وايو «کيشپې کميس اغوسته»، په دې معنا چې کيشپه لا د کميس په اغوستلو لگيا وه. اوس به تاسې پاتې جملې په مطلق او جاري تېر مهال واړوئ.

| اوس مهال | مطلق تېر مهال | جاري تېر مهال |
| --- | --- | --- |
| کيشپه کميس اغوندي. | کيشپې کميس واغوست. | کيشپې کميس اغوسته. |
| کيشپه لښته په خوله نيسي. | | |
| پتکه ډوډۍ خوري. | | |
| د ډنډ اوبه وڅښړي. | | |
| کيشپه پر تيرو لوېږي. | | |

**څلورم درسي ساعت**

**۱. املا (۵ دقيقې)**

معلم: گرانو شاگردانو! اوس به خپلې کتابچې خلاصې کړئ او ځينې کلمې به وليکئ. د دې لپاره چې د کلمو ليکل راته آسانه شي، کلمې پر برخو وېشو. مثلاً «وچکالي» دوې برخې لري «وچ» او «کالي».

معلم: به زه کلمې درته ووايم او تاسې به يې په خپلو کتابچو پر برخو ووېشئ او بيا به يې يو ځای وليکئ. [دغه کلمې شاگردانو ته ووايئ «وچکالي، خوشحالي، خواره‌کی، غمجنې، ملگرتيا» په ټولگي کې وگرځئ او شاگردن وڅارئ. کـه چا مرستې ته اړتيا درلوده، ورسره مرسته وکړئ.]

**۲. د استنباطي پوښتنو د ځوابونو ليکل (۱۰ دقيقې)**

(c) ketabton.com: The Digital Library

معلم: د کتاب په ـــــــــ مخ کې د کیسې په اړه څو استنباطي پوښتنې راغلي دي. لومړۍ پوښتنه به څوک ولولي؟

[شاګردان ګوتې جګوي. یو تن ته ووایئ چې لومړۍ پوښتنه ولولي.]

شاګرد پوښتنه لولي: ۱. کومه پتکه مشره وه؟

معلم: مننه! اوس نو له څنګلوریو ټولګیوالو سره مو بحث وکړئ او د پوښتنې ځواب پیدا کړئ. بیا د دې پوښتنې ځواب په خپلو کتابچو کې ولیکئ. په یاد مو وي چې کله د استنباطي پوښتنې ځواب لیکو، باید د پوښتنې یوه برخه تکرار کړو او بیا خپل دلیل ولیکو، مثلاً داسې: «.... پتکه مشره وه ځکه چې ....»

[کله چې شاګردان ځواب لیکي، تاسې په ټولګي کې وګرځئ او که چا مرستې ته اړتیا لرله، ورسره مرسته وکړئ.]

معلم: ښه نو. دوهمه پوښتنه به څوک ولولي؟ [یوه بل شاګرد ته اجازه ورکړئ چې پوښتنه په لوړ غږ ولولي.]

معلم: مننه .... جانه/ جانې! اوس نو له خپلو څنګلوریو ټولګیوالو سره بحث وکړئ چې: « په کیسه کې ولې هر څل کیشپه مشوره ورکوي؟»

[دوه دقیقې وخت ورکړئ چې شاګردان بحث وکړي او تاسې په ټولګي کې وګرځئ. وخت چې پوره شو، دوه شاګردان راوبولئ چې خپل ځواب ووایي.]

معلم: دریمه پوښتنه څوک لولي؟ [یو شاګرد دې پوښتنه ولولي]

معلم: مننه ..... ګله/ ګلې! اوس له څنګلوریو ټولګیوالو سره مو بحث وکړئ چې: « پتکو ولې نه غوښتل چې کیشپه یوازې پرېږدي؟»

[دوه دقیقې وخت ورکړئ چې شاګردان بحث وکړي. وخت چې پوره شو، دوه شاګردان راوبولئ چې خپل ځواب شریک کړي.]

معلم: ډېر ښه. د دې دوو پوښتنو ځوابونه به په کور کې په خپلو کتابچو ولیکئ.

**۳. د کرکټرونو د اعمالو لیکنۍ ارزونه (۱۰ دقیقې)**

معلم: د دې اونۍ په دوهم درسي ساعت کې مو د کرکټرونه کارونه ورازول او ومو ویل چې د هغوی کارونه منطقي او سم و که نه. نن به د کرکټرونو په اړه خپله ارزونه ولیکئ. ستاسو د کتاب په ـــــ مخ کې دوې پوښتنې دي. لومړۍ پوښتنه به څوک ولولي؟ [شاګردان لاسونه جګوي او یو تن ته د پوښتنې د لوستلو اجازه ورکړئ]

شاګرد پوښتنه لولي: ۱. د پتکو کار درته څنګه ښکاري؟

معلم: مننه! اوس نو د دې پوښتنې په اړه له خپل څنګلوري ټولګیوال سره بحث وکړئ.

[شاګردان دې دوه دقیقې بحث وکړي او تاسې په ټولګي کې وګرځئ. وروسته له دوو شاګردانو څخه وغواړئ چې خپل نظر شریک کړي.]

(c) ketabton.com: The Digital Library

معلم: ډېر ښه. څوک به دوهمه پوښتنه ولولي؟ [بل شاگرد ته اجازه ورکړئ]

شاگرد: ۲. د کیشپې مشورې څنگه وې؟

معلم: مننه! اوس بیا له خپلو څنگلوریو ټولگیوالو سره د دې پوښتنې په اړه بحث وکړئ.

[شاگردان دې دوه دقیقې بحث وکړي او تاسې په ټولگي کې وگرځئ. وروسته له دوو شاگردانو څخه وغواړئ چې خپل نظر شریک کړي.]

معلم: ډېر ښه. اوس نو خپل ځوابونه په کتابچو کې مو ولیکئ.

[شاگردانو ته ۵ دقیقې وخت ورکړئ چې ځوابونه ولیکي. تاسې په ټولگي کې وگرځئ. که چا مرستې ته اړتیا درلوده، ورسره مرسته وکړئ. که ډېر شاگردان د کومې خاصې کلمې په لیکلو کې ستونزه ولري، نوټ یې کړئ او بیا یې پر تختې ولیکئ.]

(c) ketabton.com: The Digital Library

## فصل ۲ اونۍ ۱

د لومړي فصل د تشریح غونډې، د دې فصل د موضوع او ژانر، سترو مفکورو او اساسي پوښتنو په اړه له شاګردانو سره بحث وکړئ. د ژانر په باره کې ووایئ چې په معلوماتي ژانر کې د لیکوال اصلي هدف دا وي چې موږ ته معلومات راکړي البته معلوماتي متنونه هم خوندور وي خو اصلي هدف یې خوند نه وي. معلوماتي ژانر څو ډوله لري لکه توضیحي چې یوه موضوع راته تشریح کوي، مقایسي چې دوه شیان سره مقایسه یا پرتله کوي، لارښودیز چې د یوه کار د کولو یا د یوه شي د کارولو په باره کې راته لارښوونه کوي او څو نور ډولونه. د دې فصل ژانر معلوماتي مقایسي- دی یعنې معلومات د دوو شیانو د مقایسه کولو له لارې راته راکوي. کله چې دوه شیان سره مقایسه کوو، ګورو چې په څه کې سره ورته دي او کوم شیان په کې متفاوت دي.

## درسي ساعت ۱

**۱. سلام، روغبړ، د ټولګي تنظیمول (۳ دقیقې)**

**۲. هجا (۳ دقیقې)**

د تېرو اونیو په شان، له شاګردانو څخه وغواړئ چې د درس په پیل کې په چوکاټ کې راغلې کلمې څپه په څپه ولولي.

**۳. د نویو لغاتو فعالیتونه (۱۰ دقیقې)**

د درس نوې کلمې له شاګردانو سره یو ځای معنا کړئ. د هرې کلمې لپاره لاندې فعالیتونه ترسره کړئ:

۱. هغه جمله چې دا کلمه په کې راغلې وي، ولولئ.

۲. کلمه پر تختې ولیکئ او په شاګردانو یې درې ځله ولولئ.

۳. د کلمې معنا د شاګردانو په سویه، په واضحو او آسانو کلمو بیان کړئ.

۴. له شاګردانو څخه وغواړئ چې هره کلمه په جمله کې وکاروي.

د دې درس کلمې دي: [اقلیم = د یوې سیمې د هوا د ګرموالي - سوړوالي، لندبل، باد، باران، او واورې څرنګوالی؛ طبیعت = هر څه چې په خپل شاوخوا کې یې وینو او انسان نه وي جوړ کړي؛ تورغوړی = د پیشوګانو د ذات یو ډول وحشي حیوان چې د غوږونو په څوکو کې یې د تورو ویښتانو یوه غونچه د ځوندې غونډې ښکاري او نور بدن یې معمولاً ژېړبخون وي؛ تورلمی = یو وحشي داړونکی ځناور چې لکۍ او پښې یې تورې او نور بدن یې ژېړبخون وي.]

**۴. لوستل (۲۰ دقیقې)**

**الف: تر لوستلو مخکې (۱۰ دقیقې)**

**زه یې ترسره کوم**

معلم: ستاسو په کتابونو کې تر درسي متن وړاندې شپږ جملې راغلي دي. دا جملې به لولئ او وایئ به چې سمې دي که ناسمې. بیا متن لولئ او ګورئ چې ستاسو خبره سمه وه که نه. دا فعالیت معلوموي چې د متن تر لوستلو مخکې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې موضوع په اړه څومره پوهېږئ. نو کله چې متن ولولئ پوه به شئ چې څومره شیان مو زده وو او څومره نوي مو زده کړل.

معلم: [دا جمله پر تختې ولیکئ] (**نورستان او هلمند دواړه د افغانستان مرکزي ولایتونه دي.**) زه وایم نه، ځکه چې ما د افغانستان په نقشه کې لیدلي دي چې نورستان او هلمند د افغانستان په مرکزي برخه کې نه دي. زما یادېږي چې هلمند د کندهار په څنګ کې دی چې د افغانستان په جنوب کې راځي.

معلم: اوس د متن لومړی پراګراف لولو چې زما خبره سمه ده که نه: "**نورستان او هلمند دواړه د افغانستان سرحدي ولایتونه دي. دواړه له پاکستان سره سرحد لري، خو نورستان د هېواد په ختیځ او هلمند په جنوب کې پروت دی.**» نو زما خبره سمه وختله.

**موږ یې ترسره کوو**

اوس به په ګډه بله جمله وګورو. څوک به یې ولولي؟

[یوه شاګرد نه وغواړئ چې جمله ولولي او تاسې یې پر تختې باندې ولیکئ] (**داوړه ګڼ ځنګلونه لري.**)

معلم: څوک فکر کوي دا خبره سمه ده که غلطه؟ [د اکثریت پرېکړه پر تختې ولیکئ.]

معلم: اوس به دوهم پراګراف ولولو او وبه وینو چې دغه خبره سمه ده که ناسمه.

[له یوه شاګرد څخه وغواړئ چې دوهم پراګراف ولولي: **نورستان او هلمند دواړه ښکلی طبیعت لري. نورستان غرنۍ سیمه ده او غرونه یې په طبیعي ځنګلونو پوښلي دي. د نورستان په ځنګلونو کې د نښتر، لمنځې، څېړۍ، ښوون (زیتون)، جلغوزیو، بادام، انځر او نورې ونې دي. د هلمند ډېره برخه هواره ده، غرونه په کې کم او ډاګونه زیات دي. په هلمند کې طبیعي ځنګلونه خورا کم دي، خو د انګورو، انارو او بادامو باغونه په کې ډېر دي.**]

معلم: ښه نو، ستاسو وړاندوینه سمه وه که ناسمه؟

شاګردان: ...

**تاسو یې ترسره کوئ**

معلم: اوس به پاتې جملې په خپلو کتابچو کې ولیکئ. د سمو جملو مخې ته «ص» او د غلطو جملو مخې ته د «غ» توری ولیکئ. بیا به متن ولولئ او درته معلومه به شي چې د هلمند او نورستان په اړه څومره پوهېدلئ.

**ب. د لوستلو په بهیر کې (۱۰ دقیقې)**

معلم: اوس به تاسې د کتاب متن تر پایه پورې په ټیټ غږ ولولئ. د هر پراګراف تر لوستلو وروسته، یو ځل د هماغه پراګراف په اړه د وړاندوینې جمله وګورئ. که مو د جملې خبره سمه بللې وي او اوس ناسمه ختلې وي، مخې ته یې چلیپا وکاږئ او که ستاسو خبره سمه ختلې وي، د جملې مخې ته دغه نښه ( ✓ ) ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کورنۍ دنده:** د کتاب او کتابچې په اړه فکر وکړئ. د دواړو توپیرونـه او ورتـه‌والي پیـدا کـړئ. بیـا د خپلـې کتـابچې یـوه صفحه په یوه عمودي کرښه نیمايي کړئ. د صفحې په ښۍ خوا کې د کتاب او کتابچې توپیرونه او پـه بلـه خـوا کـې یـې ورته‌والي ولیکئ.

**دوهم درسي ساعت**


**۱. پر رېښې او وروستاړي د کلمو وېشل (۱۰ دقیقې)**

د تېرو اونیو په شان، لاندې کلمې له شاگردانو سره په گډه پر برخو (رېښې او وروستاي) ووېشئ او معنا یې کړئ.

[واورین = له واورو جوړ شوی یا د واورې غوندې – خاورین = له خاورې جوړ شـوی یـا د خـاورې پـه شـان - ډبـرین = لـه ډبرې څخه جوړ شوی، ډېر وزمه – لرگین = له لرگیو څخه جـوړ شـوی – زریـن = لـه زرو څخـه جـوړ شـوی، د زر پـه شـان قیمتي، د سرو زرو په رنگ]

**۲. د مقایسې ډیاگرام (۲۰ دقیقې)**

محترمو ښوونکو! لومړی لاندې ډیاگرام پر تختې رسم کړئ او لکه څنگه چې دلته یې وینـئ او لانـدې یـې تشریح لـولئ، هره برخه یې په ترتیب سره ډکه کړئ.




**زه یې ترسره کوم/ موږ یې ترسره کوو**

(c) ketabton.com: The Digital Library

معلم: د دې لپاره چې د دوو شيانو توپيرونه او ورته‌والي بهتره وګورو، د مقايسې ډياګرام کاروو. [ډياګرام پر تختې رسم کړئ] تاسې وينئ چې دا ډياګرام له دوو دايرو څخه رغېدلی دی چې په يوه ځای کې سره تېرې ېبرې دي او يوه دايره د بلې پر سر راغلې ده، پاتې برخې يې آزادې دي. موږ د دوو شيانو ورته‌والي په سره تېره ېبره برخه کې ليکو او توپيرونه يې د دايرو په آزادو برخو کې. نن به د هلمند او نورستان مقايسه وکړو. څه چې دواړه ولايتونه په کې ورته دي، هغه به د دايرو په تېره ېبره برخه کې وليکو. د ښۍ دايرې په آزاده برخه کې به هلمند او د چپې دايرې په آزاره برخه کې به نورستان توپيرونه وليکو.

معلم: ښه نو، د متن لومړی پراګراف به څوک ولولي؟

[له يوه شاګرد څخه غواړئ چې د متن پيل ولولي: **نورستان او هلمند دواړه د افغانستان سرحدي ولايتونه دي. دواړه له پاکستان سره سرحد لري، خو نورستان د هېواد په ختيځ او هلمند په جنوب کې پروت دی. نورستان کوچنی دی خو هلمند د هېواد خورا لوی ولايت دی. د هلمند مساحت (۶۱۸۲۹) مربع کيلومتره دی خو د نورستان خاوره (۹۹۴۲) مربع کيلومتره دی. د هلمند اکثره اوسېدونکي پښتانه دي، خو د نورستان ډېر خلک په قوم نورستانيان دي او ژبه يې نورستاني ده.**]

معلم: مننه. په دې پراګراف کې کوم شی دی چې نورستان او هلمند په کې سره ورته وي؟

شاګردان: دواړه سرحدي ولايتونه دي.

معلم: آفرين! هر کله چې د دوو شيانو ورته‌والي بيانوو، نو د «دواړه» کلمه کاروو. هر چېرته چې مو «دواړه» وليده، پوه شئ چې دا ورته‌والی ښيي. مخکې مو وويل چې ورته‌والي د ډياګرام په کومه برخه کې ليکو؟

شاګردان: په تېره ېبره برخه کې.

معلم: ډېر ښه. زه به دلته وليکم «سرحدي ولايتونه» [پر تختې د ډياګرام په منځنۍ برخه کې وليکئ «سرحدي»] ښه، د نورستان او هلمند تر منځ بل ګډ ټکی څه شی دی؟

شاګردان: دواړه له پاکستان سره سرحد لري.

معلم: آفرين! دلته د سرحدي کلمې په څنګ کې به وليکم «له پاکستان سره سرحد». او توپيرونه يې؟

شاګردان: هلمند په جنوب کې دی خو نورستان په ختيځ کې.

معلم: همداسې ده. ګورئ په دې جمله کې د «خو» کلمه لرو. په هر ځای کې چې «**خو**» وي، هلته د توپير خبره شوې وي. توپيرونه به د دايرو په کومه برخه کې ليکو؟

شاګردان: په آزاده برخه کې يې.

معلم: آفرين! [په ښۍ دايره کې «جنوب» او په چپه دايره کې «ختيځ» وليکئ.]

دا فعاليت همداسې دپراګراف تر پايه پورې ترسره او ډياګرام ډک کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

معلم: اوس نو تاسې وپوهېدئ چې دا ډیاګرام څنګه ډکوو. تاسې ډیاګرام په خپلو کتابچو کې رسم کړئ. بیا د متن پاتې پراګرافونه یو په یو له خپلو څنګلوریو ټولګیوالو سره ولولئ او د د هلمند او نورستان ورتهوالي د ډیاګرام په منځنۍ او توپیرونه یې د دایرو په آزادو برخو کې ولیکئ.

[کله چې شاګردان فعالیت ترسره کوي، تاسې په ټولګي کې وګرځئ او که چا مرستې ته اړتیا لرله، ورسره مرسته وکړئ]

**۳. د متن شفاهي ارزونه (۵ دقیقې)**

معلم: اوس به دا متن په دې لحاظ وارزوو چې پوهېدل پرې سخته وو، که آسانه؟ معلومات یې په زړه پورې وو که زړه مو ورسره تنګ شو؟ لیکوال د خپلې دعوې لپاره دلیل او ثبوت راوړی و که نه؟ ښه نو، لومړی پوښتنه دا ده چې د متن کومې کلمې درته سختې یا نا آشنا وې؟

شاګردان: [کېدای شي دغه کلمې یادې کړي: تورغوړی، تورلمی، خانې، خړلمی ...]

معلم: پوهېږئ چې ولې؟

شاګردان: مختلف ځوابونه

معلم: آفرین! دا کلمې ځکه درته نا آشنا وې چې داسې ژوي په هر ځای کې نشته او تاسو نه پېژندل. او بله پوښتنه دا ده چې معلومات یې ستاسو په نظر څنګه وو، په زړه پورې وو که زړه مو ورسره تنګ شو؟ یوه دقیقه له خپلو څنګلوریو ټولګیوالو سره په دې اړه خبرې وکړئ.

[شاګردانو ته یوه دقیقه وخت ورکړئ چې بحث وکړي. بیا څو تنه راوبولئ چې د خپل بحث نتیجه شریکه کړي.]

معلم: او وروستۍ پوښتنه «په متن کې کومه دعوا شوې وه او د اثبات لپاره یې کوم دلیل یا ثبوت وړاندې شوی و؟ مثلاً په یو ځای کې لیکل شوي وو چې هلمند خورا لوی ولایت دی خو نورستان کوچنی دی. وروسته بیا د دواړو د مساحتونو اندازې راغلې وې او موږ ولیدل چې نورستان څه باندې ۹ زره مربع کیلومره دی حال دا چې هلمند څه باندې ٦١ زره مربع کیلومتره دی نو د لیکوال ثبوت سم دی. اوس به تاسې له خپلو څنګلوریو ټولګیوالو سره پر دې بحث وکړئ چې په متن کې بله داسې دعوا شوې ده چې ثبوت یې هم وړاندې شوی وي.

[شاګردانو ته دوه دقیقې وخت ورکړئ چې بحث وکړي او بیا دوو تنو نه وغواړئ چې خپل نظر شریک کړي. کله چې شاګردان بحث کوي، تاسې په ټولګي کې وګرځئ.]

**کورنۍ دنده:** د مقایسې ډیاګرام په خپلو کتابچو کې رسم کړئ او بیا غوا له مېږې سره مقایسه کړئ. په یاد مو وي چې د دواړو ورته شیان د دایرو په تېره بېره برخه کې او توپیرونه یې د دایرو په آزادو برخو کې ولیکئ.

**دریم درسي ساعت**

**۱. خبرې اترې (۲۵ دقیقې)**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**موږ یې ترسره کوو/ تاسې یې ترسره کوئ**

معلم: نن به بیا ډله‌ییز بحث وکړئ. شپږ شپږ کسان به یوه ډله شي. هر څوک به په خپله ډله کې بحث کوي. د بحث په پای کې به د هرې ډلې یو کس د خپلې ډلې د خبرو مهم ټکي راسره شریکوي.

معلم: تېره اونۍ مو د «ښه ملګري/ ملګرې» په اړه خبرې وکړې. نن به ښه ملګری/ ملګرې له بد ملګري/ ملګرې سره مقایسه کړو. تاسو په تېر درس کې وکتل چې کله دوه شیان سره مقایسه کوو، په دې باندې فکر کوو چې په څه شي کې سره ورته دي او کوم توپیرونه لري. مثلاً: ښه ملګری هم راسره مرسته کوي او بد ملګری هم. ښه ملګرې هم راسره لوبه کوي، بده ملګرې هم.

معلم: ښه نو، لومړۍ پوښتنه ده چې: «ښه او بد ملګری/ ملګرې په څه شي کې سره ورته وي؟» [پوښتنه پر تختې ولیکئ]

معلم: ښه نو، اوس به هر څوک په خپله ډله کې بحث کوي. پام مو وي چې د یو بل ښه نظرونه به منئ. تاسې پنځه دقیقې په خپلو ډلو کې خبرې وکړئ. په آخر کې به د هرې ډلې استازی د خپلې ډلې د خبرو خلاصه موږ ته ووایي.

[شاګردان به پنځه دقیقې خبرې کوي.]

[کله چې شاګران خبرې اترې کوي، تاسې په ټولګي کې وګرځئ او وګورئ چې هر شاګرد په بحث کې برخه اخلي که نه.]

معلم: اوس به د هرې ډلې استازی د خپلو ملګرو د خبرو لنډيز ووایي.

[د دریو نویو ډلو استازي راوبولئ. کله چې دوی خبرې کوي، ورته ځیر شئ. وګورئ چې د غږ لوړوالی، لحن، او تلفظ یې څنګه دی. د دوی خبرې چې خلاصې شوې، د ښه والي لپاره یې مشورې ورکړئ. مثلاً: کله چې خبرې کوو، سر باید جګ ونیسو، غږ مو دومره لوړ وي چې ټول یې واوري. چېرته چې په کار وي، لاسونه وخوځوو.]

معلم: بله پوښتنه ده: «ښه او بد ملګري/ ملګرې کوم توپیرونه لري؟» [پوښتنه پر تختې ولیکئ]

معلم: ګورئ! مخکې مو وویل چې ښه او بد ملګری/ ملګرې دواړه راسره لوبې کوي او راسره مرسته کوي. په دې کې دواړه سره یو شان وو خو په ځینو شیانو کې سره توپیر لري، مثلاً: یو ملګری مې وایي راځه چې لوبه وکړو. زه ورته وایم اوس خو ګرمي ده او زه باید خپله کورنۍ دنده ترسره کړم. مازدیګر به لوبه وکړو. که هغه ښه ملګری وي، وایي «سمه ده. ته ښه وایې.» خو که بد ملګری وي، وایي چې: «په کورنۍ دندې پسې مه ګرځه، سبا بیا معلم ته ووایه چې کتابچه مې په کور پاتې ده. راځه چې ساعت تېر کړو.» دی بد ملګری دی ځکه چې ما د کورنۍ دندې له ترسره کولو منع کوي او غواړي دروغ راباندې ووایي. اوس به تاسې د ښه او بد ملګري/ ملګرې نور توپیرونه پیدا کړئ.

[شاګردانو ته پنځه دقیقې وخت ورکړئ چې خبرې اترې وکړي.]

[کله چې شاګران خبرې اترې کوي، تاسې په ټولګي کې وګرځئ او د خبرو او استدلال طریقه یې وڅارئ.]

(c) ketabton.com: The Digital Library

معلم: اوس به د هرې ډلې استازی د خپلې ډلې نظرونه راته ووايي.

[د دريو نورو ډلو استازي خبرو ته راوبولئ. ښه نظرونه يې په آفرين، شاباس، ډېر ښه، په ويلو وستايئ. کـه د دوی کومـه خبره منطقي نه وي، تاسې يې اصلاح کړئ.]

معلم: اوس به پر دې پوښتنې خبرې وکړو چې: «بد ملگری/ ملگرې په ښه ملگري/ ملگرې څنگه اړولی شو؟» [پوښتنه پـر تختې وليکئ]

معلم: موږ او تاسو په تېره اوونۍ کې وويل چې ښه ملگری/ ملگرې د خپل ملگري/ ملگرې ښـه غـواړي. نـو کـه زمـوږ کـوم ملگری/ ملگرې بد عادتونه لري، موږ يې بايد اصلاح کړو. هماغه مثال به بيا راواخلو. يو ملگری مې وايـي راځـه چـې لوبـه وکړو. زه ورته وايم اوس خو گرمي ده او زه بايد خپله کورنۍ دنده ترسره کړم. مازديگر به لوبه وکړو. هغه که بد ملگری وي، وايي چې: «په کورنۍ دندې پسې مه گرځه، سبا بيا معلم ته ووايه چې کتابچه مې په کور پاتې ده. راځه چې ساعت تېـر کړو.» زه به هڅه وکړم چې وپوهوم چې دا ښه کار نه دی. نو زه به ووايم: «گوره! ته مه خپه کېږه خو انسان بايـد دروغ ونـه وايي. ملگري بايد يو بل ښو کارونو ته وهڅوي. راځه چې دواړه خپلې کورنۍ دندې ترسره کړو، بيا بـه لـوبې وکـړو. څنگـه دې خوښه ده؟» اوس نو تاسې دا پوښتنه وڅېړئ چې «خپل بد ملگري څنگه ښه کړو؟»

[شاگردانو ته ۵ دقيقې وخت ورکړئ چې بحث وکړي.]

[کله چـې شـاگران خـبرې اتـرې کـوي، تاسـې پـه ټـولگي کـې وگرځـئ او وگـورئ چـې شـاگردان د بحـث ادبونـه څنگـه مراعاتوي.]

معلم: اوس به د څو ډلو استازي ووايي چې څه يې سره ويلي دي. پام مو وي چې تکراري خبرې به خلاصه کوئ.

[د دريو نويو ډلو استازي وغږوئ. د هغوی خبرې چې خلاصې شوې، تېروتنې يې سمې کړئ.]

معلم: [د ټول بحث خلاصه په څو جملو کې وايي]: نن مو د «ښه او بـد ملگـري/ ملگـرې» پـه اړه بحـث وکـړ. مـوږ او تاسـو وويل چې:

۱. ښه او بد ملگري/ ملگرې په دغو شيانو کې سره ورته وي: .....

۲. ښه او بد ملگري/ ملگرې دغه توپيرونه لري: .......

۳. او په دغو لارو بد ملگري ښه کولی شو: .........

[که د بحثونو په بهير کې مو مثبت ټکي نوټ کړي وي، هغه شاگردانو ته ورياد کـړئ، مـثلاً: مـا وليـدل چـې گـل‌غوټۍ د بحث په وخت کې د خپلې ډلې د ملگرو خبرې نوټ کولې. دا د ډلې استازې وه او دا کار يې زمـا خـوښ شـو ځکـه کـه د خبرو مهم ټکي نوټ کړو، بيا يې په آسانۍ سره رايادولی شو.]

**۲. گرامر (د ليکنښو کارول) (۱۰ دقيقې)**

(c) ketabton.com: The Digital Library

معلم: د کتاب په ــــ مخ کې پنځه جملې لیکل شوې دي چې لیکنښې نه لري. تاسې به جملې په کتابچو کې لیکئ او (،) لیکنښه به په مناسبو ځایونو کې وکاروئ. لومړۍ جمله به یې په ګډه کار کړو. څوک بـه یـې ولـولي؟ [شـاګردان لاس جګوي. یوه شاګرد ته وایئ چې جمله په لوړ غږ ولولي. څنګه چې هغه جمله لولي، تاسې یې پر تختې ولیکـئ.]

معلم: ډېر ښه. جمله مو ده:

د هلمند ډېره برخه هواره ده غرونه په کې کم او ډاګونه زیات دي.

معلم: په دې جمله کې دوې جملې دي نو کله چې یوه جمله ختمېږي، کامه به ورکوو چـې لـه بلـې جملـې جـلا شي. د لومړۍ جملې پای کوم دی؟

شاګردان: هواره ده. په «ده» سره جمله ختمه شوې ده.

معلم: آفرین! [تر «ده» وروسته کامه کېږدئ] اوس به پاتې جملې په کتابچو کې ولیکئ او (،) په کې وکاروئ.

**کورنۍ دنده:** د مقایسې ډیاګرام په خپلو کتابچو کې رسم کړئ او بیا خپل دوه ملګري سره مقایسه کړئ. پـه یـاد مـو وي چې د دواړو ورته شیان د دایرو په تېره ښېره برخه کې او توپیرونه یې د دایرو په آزادو برخو کې ولیکئ.

## څلورم درسي ساعت

### ۱. املا (۵ دقیقې)

معلم: ګرانو شاګردانو! اوس به خپلې کتابچې خلاصې کړئ او ځینې کلمې به ولیکئ. د دې لپاره چې د کلمو لیکل راته آسانه شي، کلمې پر برخو وېشو. مثلاً « واورین» دوې برخې لري «واور» او «ین».

معلم: به زه کلمې درته ووایم او تاسې به یې په خپلو کتابچو پر برخو ووېشئ او بیا به یـې یـو ځـای ولیکـئ. [دغـه کلمـې شاګردانو ته ووایئ «زرین، زینتي، تورلمی، تورغوړی»]. په ټولګي کې وګرځئ او شاګردن وڅارئ. که چا مرسـتې تـه اړتیـا درلوده، ورسره مرسته وکړئ.]

### ۲. د استنباطي پوښتنو د ځوابونو لیکل (۱۰ دقیقې)

معلم: د کتاب په ـــــــ مخ کې د کیسې په اړه څو استنباطي پوښتنې راغـلي دي. لـومړۍ پوښـتنه بـه څـوک ولـولي؟ [شاګردان ګوتې جګوي. یو تن ته ووایئ چې لومړۍ پوښتنه ولولي.]

شاګرد پوښتنه لولي: ۱. په نورستان کې وحشي ژوي ولې ډېر دي؟

معلم: اوس نو له څنګلوریو ټولګیوالو سره مو بحث وکړئ او د پوښتنې ځواب پیدا کړئ. بیا د دې پوښتنې ځواب په خپلـو کتابچو کې ولیکئ.

[کله چې د شاګردانو بحث تمام شو، له دوو تنو وغواړئ چې خپل ځواب له نـورو سره شریـک کـړي. کلـه چـې شـاګردان ځواب لیکي، تاسې په ټولګي کې وګرځئ او که چا مرستې ته اړتیا لرله، ورسره مرسته وکړئ.]

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا فعالیت د دوو نورو پوښتنو لپاره هم ترسره کړئ. پاتې پوښتنې دا دي:

۲. باران په هلمند کې ډېر اوري که په نورستان کې، ولې؟

۳. سفر او تګ راتګ په هلمند او نورستان کې څه توپیرونه لري؟

**۳. د متن ارزونه (۱۰ دقیقې)**

معلم: ستاسو د کتاب په ـــــ مخ کې دوې پوښتنې دي. لومړۍ پوښتنه به څوک ولولي؟ [شاګردان لاسونه جګوي او یو تن ته د پوښتنې د لوستلو اجازه ورکړئ]

شاګرد پوښتنه لولي: ۱. د متن جملې د وضاحت په لحاظ څنګه وې؟

معلم: مننه! اوس نو د دې پوښتنې په اړه له خپلو څنګلوریو ټولګیوالو سره بحث وکړئ. پر دې وغږېږئ چې د متن جملې واضحې وې او پوهېدل وربانديې آسانه وو، که نه.

[شاګردان دې دوه دقیقې بحث وکړي او تاسې په ټولګي کې وګرځئ. وروسته له دوو شاګردانو څخه وغواړئ چې خپل نظر شریک کړي.]

همدا فعالیت د دوهمې پوښتنې لپاره هم ترسره کړئ.

۲. د متن کومې جملې روانې لوستل کېدې او د کومو جملو لوستل ګران وو؟

[شاګردانو ته ۵ دقیقې وخت ورکړئ چې ځوابونه په خپلو کتابچو کې ولیکي. تاسې په ټولګي کې وګرځئ. که چا مرستې ته اړتیا درلوده، ورسره مرسته وکړئ. که ډېر شاګردان د کومې خاصې کلمې په لیکلو کې ستونزه ولري، نوټ یې کړئ او بیا یې پر تختې ولیکئ.]

**۴. د متن په اړه خپل نظر لیکل (۱۰ دقیقې)**

معلم: اوس به د متن په اړه خپل نظر ولیکئ. پر دې باندې فکر وکړئ چې متن څنګه و؟ خوښ مو شو که نه؟ د متن کومه برخه مو خوښه شوه او ولې مو خوښه شوه؟ له دې متن څخه مو څه زده کړل؟ له خپلو څنګلوریو ټولګیوالو سره بحث وکړئ او په وار سره د کیسې په اړه خپل نظر ورته ووایئ.

[شاګردانو ته ۴ دقیقې وخت ورکړئ چې بحث وکړي. تاسې په ټولګي کې وګرځئ او شاګردان وڅارئ]

معلم: اوس به په خپلو کتابچو کې د «هلمند او نورستان» متن په اړه خپل نظرونه ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

[شاگردانو ته ۵ دقيقې وخت ورکړئ چې خپل نظرونه وليکي. تاسې په ټولګي کې وګرځئ. که چا مرستې ته اړتيا درلوده، ورسره مرسته وکړئ. که ډېر شاګردان د کومې خاصې کلمې په ليکلو کې ستونزه ولري، نوټ يې کړئ او بيا يې پر تختې وليکئ. که وخت پاتې و، په آخر کې يو يا دوه شاګردان راوبولئ چې خپله ليکنه ولولي.]

(c) ketabton.com: The Digital Library

## فصل ۲ اونۍ ۲

## درسي ساعت ۱

**۱. سلام، روغبړ، د ټولګي تنظیمول (۳ دقیقې)**

**۲. هجا (۳ دقیقې)**

د تېرو اونیو په شان، له شاګردانو څخه وغواړئ چې د درس په پیل کې په چوکاټ کې راغلې کلمې ځپه په ځپه ولولي.

**۳. د نویو لغاتو فعالیتونه (۱۰ دقیقې)**

د درس نوې کلمې له شاګردانو سره یو ځای معنا کړئ. د هرې کلمې لپاره لاندې فعالیتونه ترسره کړئ:

۱. هغه جمله چې دا کلمه په کې راغلې وي، ولولئ.

۲. کلمه پر تختې ولیکئ او په شاګردانو یې درې ځله ولولئ.

۳. د کلمې معنا د شاګردانو په سویه، په واضحو او آسانو کلمو بیان کړئ.

۴. له شاګردانو څخه وغواړئ چې هره کلمه په جمله کې وکاروي.

د دې درس کلمې دي: [ژوندي ساري = ژوندي موجودات؛ چاپېریال = د ژوندي سارو شاوخوا ته طبیعت لکه خاوره، اوبه، هوا؛ د کمر ګل = یو ډول بوټي چې د تیږو او کمرونو پر سر شنه کېږي او کلک ورپورې نښتي وي، همدارنګه د ونو پر ښاخونو هم وده کوي؛ بندوکی = یو ډول بوټی چې بندونه لري او ځینې خلک یې بندکی هم بولي.]

**۴. لوستل (۲۰ دقیقې)**

**الف: تر لوستلو مخکې (۱۰ دقیقې)**

**زه یې ترسره کوم/ موږ یې ترسره کوو**

معلم: ستاسو په کتابونو کې تر درسي متن وړاندې شپږ جملې راغلي دي. دا جملې به لولئ او وایئ به چې سمې دي که ناسمې. بیا متن لولئ او ګورئ چې ستاسو خبره سمه وه که نه. دا فعالیت معلوموي چې د متن تر لوستلو مخکې د دې موضوع په اړه څومره پوهېږئ. نو کله چې متن ولولئ پوه به شئ چې څومره شیان مو زده وو او څومره مو نوي زده کړل.

معلم: [دا جمله پر تختې ولیکئ] (**ونې او بوټي دواړه یو شان ریښې، ساقې او پاڼې لري.**)

معلم: تاسو خو ونې او بوټي دواړه لیدلي دي، نو دا جمله درته څنګه ښکاري؟

شاګردان: دا غلطه ده ځکه چې د بوټو ریښې نرۍ وي او د ونو پېړې وي.

[پر تختې د دې جملې مخې ته (غ) ولیکئ]

معلم: اوس د متن لومړی پراګراف لولو چې ستاسو خبره سمه ده که نه: " **ونې او بوټي دواړه ژوندي ساري او دواړه نباتات دي. ونې او بوټي دواړه ریښې، سټه (ساقه) او پاڼې لري. د ونو ریښې غټې او اوږدې وي، خو د بوټو ریښې نرۍ او لنډې**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دي. د ونو ستې کلکې او پېړې دي، خو د بوټو ساقې نرمې او نرۍ وي. د ونو پاڼې ډېرې دي او يوه ونه شاوخوا ۳۵۰۰۰ پاڼې لري، خو د بوټو پاڼې کمې وي.»** نو ستاسو خبره سمه وختله.

**تاسو يې ترسره کوئ**

معلم: اوس به پاتې جملې په خپلو کتابچو کې وليکئ. د سمو جملو مخې ته «ص» او د غلطو جملو مخې ته د «غ» توری وليکئ. بيا به متن ولولئ او درته معلومه به شي چې د ونو او بوټو په اړه څومره پوهېدلئ.

**ب. د لوستلو په بهير کې (۱۰ دقيقې)**

معلم: اوس به تاسې د کتاب متن تر پايه پورې په ټيټ غږ ولولئ. د هر پراګراف تر لوستلو وروسته، يو ځل د هماغه پراګراف په اړه د وړاندوينې جمله وګورئ. که مو د جملې خبره سمه بللې وي او اوس ناسمه ختلې وي، مخې ته يې چليپا وکاږئ او که ستاسو خبره سمه ختلې وي، د جملې مخې ته دغه نښه ( ✓ ) وکاږئ.

**کورنۍ دنده:** په خپل کور يا سيمه کې دوه مختلف بوټي پيدا کړئ. دواړو ته ځير شئ او د دواړو توپيرونه او ورته‌والي پيدا کړئ. بيا په خپله کتابچه کې د مقايسې ډياګرام رسم او د دوو بوټو ورته‌والي او توپيرونه په کې وليکئ.

**دوهم درسي ساعت**

**۱. پر رېښې او وروستاړي د کلمو وېشل (۱۰ دقيقې)**


د تېرو اونيو په شان، لاندې کلمې له شاګردانو سره په ګډه پر برخو (رېښې او وروستاي) ووېشئ او معنا يې کړئ.

| کلمه | د کلمې برخې | د کلمې معنا |
|---|---|---|
| همدارنګه | **هم ـــ دا رنګه** | **هم** = ګډ، سره يو شان، **دا رنګه** = را رقم، دا ډول<br>**همدارنګه** = هغه مهال کاروو چې دوه شيان سره يو ډول وي |
| همغږی | **هم ـــ غږ ـــ ی** | څوک چې له چا سره خپل غږ يو ځای کوي، يعنې يو نظر لري او يوه خبره کوي. |
| همفکر | **هم ـــ فکر** | څوک چې له چا سره يو شان فکر کوي. |
| همکار | **هم ـــ کار** | څوک چې له چا سره په ګډه يا په يوه ځای کې کار کوي. |
| همزولی | **هم ـــ زو ـــ لی** | څوک چې له چا سره هم عمره وي او د زوکړې وخت يې سره نژدې وي. |

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۲. د مقایسې ډیاګرام (۲۰ دقیقې)**

محترمو ښوونکو! لاندې ډیاګرام پر تختې رسم کړئ او لکه څنګه چې دلته یې وینئ او لاندې یې تشریح لولئ، هره برخه یې په ترتیب سره ډکه کړئ.




**زه یې ترسره کوم/ موږ یې ترسره کوو**

[ډیاګرام پر تختې رسم کړئ]

معلم: د مقایسې ډیاګرام د څه شي لپاره کاروو؟

شاګردان: د دې لپاره چې د دوو شیانو توپیرونه او ورته‌والي بهتره وګورو.

معلم: آفرین! د دوو شیانو ورته والي د ډیاګرام په کومه برخه کې لیکو؟

شاګردان: د دایرو په سره تېره ببره برخه کې.

معلم: او توپیرونه یې؟

شاګردان: د دایرو په آزاده برخه کې.

معلم: ښه نو، د متن لومړی پراګراف به څوک ولولي؟

[له یوه شاګرد څخه غواړئ چې د متن پیل ولولي: **ونې او بوټي دواړه ژوندي ساري او دواړه نباتات دي. ونې او بوټي دواړه ریښې، سته (ساقه) او پاڼې لري. د ونو ریښې غټې او اوږدې وي، خو د بوټو ریښې نرۍ او لنډې دي. د ونو ستې کلکې او پېړې دي، خو د بوټو ډنډر نرم او نری وي. د ونو پاڼې ډېرې دي او یوه ونه شاوخوا ۳۵۰۰۰ پاڼې لري، خو د بوټو پاڼې کمې وي.**]

معلم: مننه. په دې پراګراف کې ونې او بوټي په څه شي کې سره ورته دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

شاگردان: دواړه ژوندي ساري او نباتات دي.

معلم: آفرین! هر کله چې د دوو شیانو ورته‌والي بیانوو، نو د «دواړه» کلمه کاروو. هر چېرته چې مو «دواړه» ولیده، پوه شئ چې دا ورته‌والی ښیي.

معلم: ډېر ښه. زه به دلته ولیکم «ژوندي ساري» [پر تختې د ډیاګرام په منځنۍ برخه کې ولیکئ «ژوندي ساري»] ښـه، د ونو او بوټو تر منځ بل ګډ ټکی څه شی دی؟

شاگردان: دواړه ریښې، ستې، او پاڼې لري.

معلم: آفرین! او توپیرونه یې؟

شاگردان: د ونې ریښې اوږدې دي، د بوټو لنډې.

معلم: همداسې ده. ګورئ په دې جمله کې د «خو» کلمه لرو. په هر ځای کې چې «خو» وي، هلتـه د تـوپیر خـبره شـوې وي. توپیرونه به د دایرو په کومه برخه کې لیکو؟

شاگردان: په آزاده برخه کې یې.

معلم: آفرین! [په ښۍ دایره کې «اوږدې ریښې، کلکه سته، ډېرې پاڼې» او په چپه دایـره کـې «لنـډې ریښـې، نـرم ډنـډر، لږې پاڼې» ولیکئ.]

معلم: اوس نو تاسې ډیاګرام په خپلو کتابچو کـې رسـم کـړئ. بیـا د مـتن پـاتې پراګرافونـه یـو پـه یـو لـه خپلـو څنګلوریـو ټولګیوالو سره ولولئ او د د ونو او بوټو ورته‌والي د ډیاګرام په منځنۍ او توپیرونه یې د دایرو په آزادو برخو کې ولیکئ.

[کله چې شاگردان فعالیت ترسره کوي، تاسې په ټولګي کې وګرځئ او که چا مرستې ته اړتیا لرله، ورسره مرسته وکړئ]

**۳. د متن شفاهي ارزونه (۵ دقیقې)**

معلم: اوس به دا متن په دې لحاظ وارزوو چې پوهېدل پرې سخته وو، که آسانه؟ معلومات یې په زړه پـورې وو کـه زړه مـو ورسره تنګ شو؟ لیکوال د خپلې دعوې لپاره دلیل او ثبـوت راوړی و کـه نـه؟ ښـه نـو، لـومړی پوښـتنه دا ده چـې د مـتن کومې کلمې درته سختې یا نا آشنا وې؟

شاگردان: [کېدای شي دغه کلمې یادې کړي: چاپېریال، ماموت، لمنځه ...]

معلم: بله پوښتنه دا ده چې معلومات یې ستاسو په نظر څنګه وو، په زړه پورې وو که زړه مو ورسره تنګ شو؟ یوه دقیقه له خپلو څنګلوریو ټولګیوالو سره په دې اړه خبرې وکړئ.

[شاگردانو ته یوه دقیقه وخت ورکړئ چې بحث وکړي. بیا څو تنه راوبولئ چې د خپل بحث نتیجه شریکه کړي.]

معلم: او وروستۍ پوښتنه «په متن کې کومه دعوا شوې وه او د اثبات لپاره یې کوم دلیل یا ثبـوت وړانـدې شـوی و؟ مـثلاً په یو ځای کې لیکل شوي وو چې ونې ډېرې پاڼې لري خو بـوټي کمـې پـاڼې لـري. بیـا یـې لـیکلي وو چـې د ونـو پـاڼې شاوخوا ۳۵۰۰۰ دانې وي. نو دا ثبوت موږ قانع کوي چې په رښتیا هم د ونـو پـاڼې ډېـرې دي. اوس بـه تاسـې لـه خپلـو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځنګلوریو ټولګیوالو سره پر دې بحث وکړئ چې په متن کې بله کومه داسې دعوا شوې ده چې ثبوت یې هم وړاندې شوی وي.

[شاګردانو ته دوه دقیقې وخت ورکړئ چې بحث وکړي او بیا دوو تنو نه وغواړئ چې خپل نظر شریک کړي. کله چې شاګردان بحث کوي، تاسې په ټولګي کې وګرځئ.]

**کورنۍ دنده:** د مقایسې ډیاګرام په خپلو کتابچو کې رسم کړئ او بیا واښه له ګلانو سره مقایسه کړئ. په یاد مو وي چې د دواړو ورته شیان د دایرو په تېره ببره برخه کې او توپیرونه یې د دایرو په آزادو برخو کې ولیکئ.

**دریم درسي ساعت**

**۱. خبرې اترې (۲۵ دقیقې)**

**موږ یې ترسره کوو/ تاسې یې ترسره کوئ**

[شاګردان په شپږ کسیزو ډلو کې تنظیم کړئ]

معلم: ها بله ورځ مو د ونو او بوټو متن ولوست. موږ تاسې هر یو ځینې شیان خوښوو. د چا د سیند غاړه خوښېږي، د چا ځنګل. څوک د ونو بوټو ننداره ښه اېسوي، څوک د مرغانو سندرې. نن به په دې باندې خبرې وکړو چې ولې یو شی خوښوو. زما ځنګل خوښ دی ځکه چې په ځنګل کې ځان آرام احساسوم. د ډول ډول ونو لیدل خوند راکوي. په ځنګله کې چې وګرځم، تر پښو لاندې مې د تویو شویو وچو پاڼو شغها خېژي. د ځنګله په ونو کې د مختلفو مرغانو ځالې وي. د که ونې سر ته وخېژم، لرې ځایونه هم لیدلی شم. نو همدا وجه ده چې ځنګل مې خوښ دی.

معلم: ښه نو، لومړی پوښتنه ده چې: «موږ ځینې شیان ولې خوښوو؟» [پوښتنه پر تختې ولیکئ]

معلم: اوس به هر څوک په خپله ډله کې وایي چې په طبیعت کې یې څه شی خوښ دی او ولې؟

[شاګردان به پنځه دقیقې خبرې کوي.]

[کله چې شاګران خبرې اترې کوي، تاسې په ټولګي کې وګرځئ او وګورئ چې د بحث ادبونه مراعاتوي که نه.]

معلم: اوس به د هرې ډلې استازی د خپلو ملګرو د خبرو لنډیز ووایي.

[د دریو نویو ډلو استازي راوبولئ. کله چې دوی خبرې کوي، ورته ځیر شئ. مثبت ټکي یې وستایئ، مثلاً: موږ ولیدل چې ملالۍ د خبرو پر مهال هرې ټولګیوالې ته کتل. دا ښه خبره ده چې د وینا په وخت کې ټولو اورېدونکو ته په وار سره وګورو.]

معلم: بله خبره دا ده چې مثلاً زما د ټلویزیون خپرونې خوښېږي خو زه باید نور کارونه هم وکړم. مثلاً ستاسو د درس لپاره باید تیاری ونیسم. نو کله کله چې ټلویزیون ته کېنم، له ځان سره وایم چې نور نو بس دی، باید ټلویزیون بند کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library

او کتاب راواخلم، خو بیا هم ناست یم او ټلویزیون ګورم. که زه ځان اداره نه کړم او خپلې خوښې ته وګورم نو ټول کارونه به مې پاتې وي. نو پوښتنه ده چې: «د خپلې خوښې له کارونو څخه ځان څنګه اداره کړو؟» [پوښتنه پر تختې ولیکئ]

[شاګردانو ته پنځه دقیقې وخت ورکړئ چې خبرې اترې وکړي.]

[کله چې شاګران خبرې اترې کوي، تاسې په ټولګي کې وګرځئ او وګورئ چې بحث په سړه سینه کوي، که احساساتي کېږي.]

معلم: اوس به د هرې ډلې استازی د خپلې ډلې نظرونه راته ووايي.

[د دريو نورو ډلو استازي خبرو ته راوبولئ. مثبت ټکي يې وستايئ، مثلاً: موږ وليدل چې ستاسو ټولګيوالو ښې روانې خبرې وکړې. دا ښه خبره ده چې تر وينا مخکې خپلې خبرې په خپل ذهن کې جوړې کړو، بيا چې کله خبرې کوو، د همدوی غوندې روانې خبرې کولی شو.]

معلم: اوس به پر دې پوښتنې خبرې وکړو چې کېدای شي زموږ د خوښې شیان بېل وي. مثلاً تاسې له خپلو همزولو سره لوبې ته تللي يئ. څو کسان وايي «راځئ چې کرېکټ وکړو»، څو نور وايي چې «نه، کرېکټ زموږ نه دی خوښ. فوټبال به کوو.» بل ملګری به مو وايي چې «پټ پټانی به وکړو.» پوښتنه دا ده چې: «که مو ملګري مختلفې لوبې خوښوي، څه وکړو چې ټول يوه لوبه خوښه کړي؟» [پوښتنه پر تختې ولیکئ]

[شاګردانو ته ۵ دقیقې وخت ورکړئ چې بحث وکړي.]

[کله چې شاګران خبرې اترې کوي، تاسې په ټولګي کې وګرځئ او وګورئ چې شاګردان د بحث ادبونه څنګه مراعاتوي.]

معلم: اوس به د څو ډلو استازي ووايي چې څه يې سره ويلي دي.

[د دريو نويو ډلو استازي وغږوئ. د هغوی خبرې چې خلاصې شوې، تېروتنې يې سمې کړئ.]

معلم: [د ټول بحث خلاصه په څو جملو کې وايي]: نن مو د «خپلو خوښو» اړه بحث وکړ. موږ او تاسو وويل چې:

۱. موږ ځينې شيان په دې خاطر خوښوو چې: .....

۲. د خپلې خوښې له کارونو څخه به ځان داسې اداره کوو: .......

۳. که مو ملګري مختلفې لوبې خوښوي داسې يې سره يوه خوله کولی شو: .........

[که د بحثونو په بهير کې مو مثبت ټکي نوټ کړي وي، هغه شاګردانو ته ورياده کړئ، مثلاً: ما وليدل چې تاسو په بحث کې ډېر په کراره خبرې کولې. دا ډېره ښه خبره ده چې خپلې خبرې په سړه سينه وکړو او احساساتي نه شو.]

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۲. گرامر (د لیکنښو کارول) (۱۰ دقیقې)**

معلم: د کتاب په ــــ مخ کې پنځه جملې لیکل شوې دي چې لیکنښې نه لري. تاسې به جملې په کتابچو کې لیکئ او (،) لیکنښه به په مناسبو ځایونو کې وکاروئ. لومړۍ جمله به یې په ګډه کار کړو. څوک بـه یـې ولـولي؟ [شـاګردان لاس جګوي. یوه شاګرد ته وایئ چې جمله په لوړ غږ ولولي. څنګه چې هغه جمله لولي، تاسې یې پر تختې ولیکئ.]

معلم: ډېر ښه. جمله مو ده:

د هلمند ډېره برخه هواره ده غرونه په کې کم او ډاګونه زیات دي.

معلم: په دې جمله کې دوې جملې دي نو کله چې یوه جمله ختمېږي، کامه به ورکوو چې لـه بلـې جملـې جـلا شي. د لومړۍ جملې پای کوم دی؟

شاګردان: هواره ده. په «ده» سره جمله ختمه شوې ده.

معلم: آفرین! [تر «ده» وروسته کامه کېږدئ] اوس به پاتې جملې په کتابچو کې ولیکئ او (،) په کې وکاروئ.

**کورنۍ دنده:** د مقایسې ډیاګرام په خپلو کتابچو کې رسم کړئ او بیا خپل دوه ملګري سره مقایسه کړئ. پـه یـاد مـو وي چې د دواړو ورته شیان د دایرو په ټېره ټېره برخه کې او توپیرونه یې د دایرو په آزادو برخو کې ولیکئ.

**څلورم درسي ساعت**

**۱. املا (۵ دقیقې)**

معلم: ګرانو شاګردانو! اوس به خپلې کتابچې خلاصې کړئ او ځینې کلمې به ولیکئ. د دې لپاره چې د کلمو لیکل راته آسانه شي، کلمې پر برخو وېشو. مثلاً « واورین» دوې برخې لري «واور» او «ین».

معلم: به زه کلمې درته ووایم او تاسې به یې په خپلو کتابچو پر برخو ووېشئ او بیا به یـې یـو ځـای ولیکـئ. [دغـه کلمـې شاګردانو ته ووایئ «زرین، زینتي، تورلمی، تورغوړی». په ټولګي کې وګرځئ او شاګردن وڅارئ. که چـا مرسـتې تـه اړتیـا درلوده، ورسره مرسته وکړئ.]

**۲. د استنباطي پوښتنو د ځوابونو لیکل (۱۰ دقیقې)**

معلم: د کتاب په ـــــــ مخ کې د کیسې په اړه څو استنباطي پوښتنې راغـلي دي. لـومړۍ پوښـتنه بـه څـوک ولـولي؟ [شاګردان ګوتې جګوي. یو تن ته ووایئ چې لومړۍ پوښتنه ولولي.]

شاګرد پوښتنه لولي: ۱. په نورستان کې وحشي ژوي ولې ډېر دي؟

معلم: اوس نو له څنګلوریو ټولګیوالو سره مو بحث وکړئ او د پوښتنې ځواب پیدا کړئ. بیا د دې پوښتنې ځواب په خپلـو کتابچو کې ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

[کله چې د شاګردانو بحث تمام شو، له دوو تنو وغواړئ چې خپل ځواب له نورو سره شریک کړي. کله چې شاګردان ځواب لیکي، تاسې په ټولګي کې وګرځئ او که چا مرستې ته اړتیا لرله، ورسره مرسته وکړئ.]

دا فعالیت د دوو نورو پوښتنو لپاره هم ترسره کړئ. پاتې پوښتنې دا دي:

۲. باران په هلمند کې ډېر اوري که په نورستان کې، ولې؟

۳. سفر او تګ راتګ په هلمند او نورستان کې څه توپیرونه لري؟

**۳. د متن ارزونه (۱۰ دقیقې)**

معلم: ستاسو د کتاب په ـــــ مخ کې دوې پوښتنې دي. لومړۍ پوښتنه به څوک ولولي؟ [شاګردان لاسونه جګوي او یو تن ته د پوښتنې د لوستلو اجازه ورکړئ]

شاګرد پوښتنه لولي: ۱. د متن جملې د وضاحت په لحاظ څنګه وې؟

معلم: منته! اوس نو د دې پوښتنې په اړه له خپلو څنګلوریو ټولګیوالو سره بحث وکړئ. پر دې وغږېږئ چې د متن جملې واضحې وې او پوهېدل ورباندې آسانه وو، که نه.

[شاګردان دې دوه دقیقې بحث وکړي او تاسې په ټولګي کې وګرځئ. وروسته له دوو شاګردانو څخه وغواړئ چې خپل نظر شریک کړي.]

همدا فعالیت د دوهمې پوښتنې لپاره هم ترسره کړئ.

۲. د متن کومې جملې روانې لوستل کېدې او د کومو جملو لوستل ګران وو؟

[شاګردانو ته ۵ دقیقې وخت ورکړئ چې ځوابونه په خپلو کتابچو کې ولیکي. تاسې په ټولګي کې وګرځئ. که چا مرستې ته اړتیا درلوده، ورسره مرسته وکړئ. که ډېر شاګردان د کومې خاصې کلمې په لیکلو کې ستونزه ولري، نوټ یې کړئ او بیا یې پر تختې ولیکئ.]

**۴. د متن په اړه خپل نظر لیکل (۱۰ دقیقې)**

معلم: اوس به د متن په اړه خپل نظر ولیکئ. پر دې باندې فکر وکړئ چې متن څنګه و؟ خوښ مو شو که نه؟ د متن کومه برخه مو خوښه شوه او ولې مو خوښه شوه؟ له دې متن څخه مو څه زده کړل؟ له خپلو څنګلوریو ټولګیوالو سره بحث وکړئ او په وار سره د کیسې په اړه خپل نظر ورته ووایئ.

[شاګردانو ته ۴ دقیقې وخت ورکړئ چې بحث وکړي. تاسې په ټولګي کې وګرځئ او شاګردان وڅارئ]

معلم: اوس به په خپلو کتابچو کې د «هلمند او نورستان» متن په اړه خپل نظرونه ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

[شاگردانو ته ۵ دقيقې وخت ورکړئ چې خپل نظرونه وليکي. تاسې په ټولګي کې وګرځئ. که چا مرستې ته اړتيا درلوده، ورسره مرسته وکړئ. که ډېر شاګردان د کومې خاصې کلمې په ليکلو کې ستونزه ولري، نوټ يې کړئ او بيا يې پر تختې وليکئ. که وخت پاتې و، په آخر کې يو يا دوه شاګردان راوبولئ چې خپله ليکنه ولولي.]

## فصل ۲ اونۍ ۳

## درسي ساعت ۱

**۱. سلام، روغبړ، د ټولګي تنظيمول (۳ دقيقې)**

**۲. هجا (۳ دقيقې)**

د تېرو اونيو په شان، له شاګردانو څخه وغواړئ چې د درس په پيل کې په چوکاټ کې راغلې کلمې څپه په څپه ولولي.

**۳. د نويو لغاتو فعاليتونه (۱۰ دقيقې)**

د درس نوې کلمې له شاګردانو سره يو ځای معنا کړئ. د هرې کلمې لپاره لاندې فعاليتونه ترسره کړئ:

۱. هغه جمله چې دا کلمه په کې راغلې وي، ولولئ.

۲. کلمه پر تختې وليکئ او په شاګردانو يې درې ځله ولولئ.

۳. د کلمې معنا د شاګردانو په سويه، په واضحو او آسانو کلمو بيان کړئ.

۴. له شاګردانو څخه وغواړئ چې هره کلمه په جمله کې وکاروي.

د دې درس کلمې دي: [طبيعي مواد = هغه مواد چې په طبيعت کې شته او انسان نه دي جوړ کړي؛ ذره = د موادو خورا وړې ټوټې؛ زينتي شيان = هغه شيان چې کورونو او دفترونو د ښايست لپاره کارول کېږي، لکه د رسامۍ تابلوګانې، مجسمې، ښايسته لوښي او داسې نور؛ کانکرېټ = د شګو، جغلو او سمنټو ګډوله چې کېدای شي اوسپنيز سيخونه يې هم په منځ کې وي او د ودانيو، پلونو، سړکونو او برجونو په جوړولو کې کارول کېږي.]

**۴. لوستل (۲۰ دقيقې)**

**الف: تر لوستلو مخکې (۱۰ دقيقې)**

**زه يې ترسره کوم/ موږ يې ترسره کوو**

معلم: ستاسو په کتابونو کې تر درسي متن وړاندې شپږ جملې راغلي دي. دا جملې به لولئ او وايئ به چې سمې دي که ناسمې. بيا متن لولئ او ګورئ چې ستاسو خبره سمه وه که نه. دا فعاليت معلوموي چې د متن تر لوستلو مخکې د دې موضوع په اړه څومره پوهېږئ. نو کله چې متن ولولئ پوه به شئ چې څومره شيان مو زده وو او څومره مو نوي زده کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

معلم: [دا جمله پر تختې ولیکئ] (**خاوره او شګه له تیږو څخه جوړېږي.**)

معلم: دا جمله درته څنګه ښکاري؟

شاګردان: دا غلطه ده ځکه چې خاوره خو په هواره ځمکه کې وي.

[پر تختې د دې جملې مخې ته (غ) ولیکئ]

معلم: اوس د متن لومړی پراګراف لولو چې ستاسو خبره سمه ده که نه: «**خاوره او شګه دواړه طبیعي مواد دي. دواړه جامد دي او د پوډر بڼه لري. دواړه په زرګونو کلونو کې له تیږو څخه جوړېږي. په شګه کې یوازې د تیږو ذرې دي، خو په خاوره کې نور مواد هم ګډ وي. خاورې د ځمکې د مخ ډېره برخه پوښلې ده، خو شګه یوازې د سمندر او سیندونو په غاړو او په ځینو ډاګونو کې وي.**» نو ستاسو خبره غلطه وختله.

**تاسو یې ترسره کوئ**

معلم: اوس به پاتې جملې په خپلو کتابچو کې ولیکئ. د سمو جملو مخې ته «ص» او د غلطو جملو مخې ته د «غ» توری ولیکئ. بیا به متن ولولئ او درته معلومه به شي چې د ونو او بوټو په اړه څومره پوهېدلئ.

**ب. د لوستلو په بهیر کې (۱۰ دقیقې)**

معلم: اوس به تاسې د کتاب متن تر پایه پورې په ټیټ غږ ولولئ. د هر پراګراف تر لوستلو وروسته، یو ځل د هماغه پراګراف په اړه د وړاندوینې جمله وګورئ. که مو د جملې خبره سمه بللې وي او اوس ناسمه ختلې وي، مخې ته یې چلیپا وکاږئ او که ستاسو خبره سمه ختلې وي، د جملې مخې ته دغه نښه ( ✓ ) وکاږئ.

**کورنۍ دنده:** د تیږې او لوټې ټوټې پیدا کړئ. دواړو ته ځیر شئ او د دواړو توپیرونه او ورته‌والي پیدا کړئ. بیا په خپله کتابچه کې د مقایسې ډیاګرام رسم او د تیږې او لوټې ورته‌والي او توپیرونه په کې ولیکئ.

**دوهم درسي ساعت**

**۱. پر ریښې او وروستاړي د کلمو وېشل (۱۰ دقیقې)**

د تېرو اونیو په شان، لاندې کلمې له شاګردانو سره په ګډه پر برخو (ریښې او وروستاي) ووېشئ او معنا یې کړئ.


| کلمه | د کلمې برخې | د کلمې معنا |
|---|---|---|
| توربخونه | **تور ــ بخون ــ ـه** | **تور** = د تیارې رنګ **بخون** = غوندې، په رنګ **ـه** = د ښځینه نوم نښه **توربخونه** = هغه شی چې نوم یې ښځینه وي او رنګ یې تور وزمه وي، خو بېخي توره نه وي. |
| سوربخون | **سور ـ بخون** | **سور** = د وینې رنګ **بخون** = غوندې، په رنګ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| ژېړبخونې | **ژېړ ــ بخون ــ ې** | **ژېړ** = د تیارې رنګ **بخون** = غونډې، په رنګ **ې** = د جمع ښځینه نوم نښه |
| سپینچک | **سپین ــ چک** | **سپین** = د واورې رنګ **چک** = غونډې، په رنګ |
| زرغونچک | **زرغون ــ چک** | **زرغون** = د پاڼې رنګ **چک** = غونډې، په رنګ |

**۲. د مقایسې ډیاګرام (۲۰ دقیقې)**

محترمو ښوونکو! لاندې ډیاګرام پر تختې رسم کړئ او لکه څنګه چې دلته یې وینئ او لاندې یې تشریح لولئ، هره برخه یې په ترتیب سره ډکه کړئ.




**زه یې ترسره کوم/ موږ یې ترسره کوو**

ډیاګرام پر تختې رسم کړئ او شاګردان په شپږو ډلو ووېشئ چې هره ډله یو پراګراف ولولي او د خاورې او شګې ورته‌والي او توپیرونه پیدا کړي. بیا د هرې ډلې یو یو کس راوبولئ چې په ډیاګرام کې د خاورې او شګې یو یا دوه ورته والي او یو یا دوه توپیرونه ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا شاګردانو ته ووایئ: اوس نو تاسې ډیاګرام په خپلو کتابچو کې رسم کړئ. بیا د متن پاتې پراګرافونه یو په یو له خپلو څنګلوریو ټولګیوالو سره ولولئ او د د شګې او خاورې ورتهوالي د ډیاګرام په منځنۍ او توپیرونه یې د دایرو په آزادو برخو کې ولیکئ.

[کله چې شاګردان فعالیت ترسره کوي، تاسې په ټولګي کې وګرځئ او که چا مرستې ته اړتیا لرله، ورسره مرسته وکړئ]

**۳. د متن شفاهي ارزونه (۵ دقیقې)**

۱. شاګردانو ته ووایئ: اوس به دا متن په دې لحاظ وارزوو چې پوهېدل پرې سخته وو، که آسانه؟ معلومات یې په زړه پورې وو که زړه مو ورسره تنګ شو؟ لیکوال د خپلې دعوې لپاره دلیل او ثبوت راوړی و که نه؟ ښه نو، لومړی پوښتنه دا ده چې د متن کومې کلمې درته سختې یا نا آشنا وې؟

[شاګردانو ته یوه دقیقه وخت ورکړئ چې بحث وکړي. بیا څو تنه راوبولئ چې د خپل بحث نتیجه شریکه کړي.]

۲. شاګردانو ته ووایئ: بله پوښتنه دا ده چې معلومات یې ستاسو په نظر څنګه وو، په زړه پورې وو که زړه مو ورسره تنګ شو؟ یوه دقیقه له خپلو څنګلوریو ټولګیوالو سره په دې اړه خبرې وکړئ.

[شاګردانو ته یوه دقیقه وخت ورکړئ چې بحث وکړي. بیا څو تنه راوبولئ چې د خپل بحث نتیجه شریکه کړي.]

۳. شاګردانو ته ووایئ: او وروستۍ پوښتنه «په متن کې کومه دعوا شوې وه او د اثبات لپاره یې کوم دلیل یا ثبوت وړاندې شوی و؟

[شاګردانو ته دوه دقیقې وخت ورکړئ چې بحث وکړي او بیا دوو تنو ته وغواړئ چې خپل نظر شریک کړي. کله چې شاګردان بحث کوي، تاسې په ټولګي کې وګرځئ.]

**کورنۍ دنده:** غره او غونډۍ ته ځیر شئ او سره مقایسه یې کړئ. بیا د مقایسې ډیاګرام په خپلو کتابچو کې رسم کړئ. په یاد مو وي چې د دواړو ورته شیان د دایرو په تېره ښېره برخه کې او توپیرونه یې د دایرو په آزادو برخو کې ولیکئ.

**دریم درسي ساعت**

**۱. خبرې اترې (۲۵ دقیقې)**

**موږ یې ترسره کوو/ تاسې یې ترسره کوئ**

[شاګردان په شپږ کسیزو ډلو کې تنظیم کړئ]

معلم: ها بله ورځ مو د خاورې او شګې متن ولوست. ډېر واړه ماشومان به مو لیدلي وي چې غواړي په خټو کې لوبې وکړي. واړه ماشومان هر څه غواړي خو نه پوهېږي چې ولې یې غواړي. نن به مو د بحث موضوع «خپلې غوښتنې» وي.

معلم: ښه نو، لومړی پوښتنه ده چې: «ځینې شیان ولې غواړو؟» [پوښتنه پر تختې ولیکئ]

معلم: اوس به هر څوک په خپله ډله کې وایي چې څه شی غواړي او ولې یې غواړي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

[شاګردان به پنځه دقیقې خبرې کوي.]

[کله چې شاګران خبرې اترې کوي، تاسې په ټولګي کې وګرځئ او وګورئ چې ټول په بحث کې برخه اخلي، که نه.]

معلم: اوس به د هرې ډلې استازی د خپلو ملګرو د خبرو لنډیز ووایي.

[د دریو نویو ډلو استازي راوبولئ. کله چې دوی خبرې کوي، ورته ځیر شئ. مثبت ټکي یې وستایئ، مثلاً: ومو لیدل چې مجیب الله مخکې تر دې چې د خبرو وار ورته ورسېږي، څو وارې لویه ساه واخیسته. دا ښه کار دی. که د ډلې په مخ کې د خبرو په وخت کې وېره ولرو، ښه به وي چې څو وارې لویه ساه واخلو. داسې به مو وېره کمه شي.]

معلم: بله خبره دا ده چې که فرضاً تاسو ته ډېر توتان ایښي وي او تاسو دومره توتان خوړلي وي چې ماړه وئ. تاسې ښه پوهېږئ چې تر دې زیات خوراک به ستاسو نس وخوږوي خو بیا هم غواړئ چې نور توتان وخورئ. نو تاسې پخپله ووایئ چې دا غوښتنه منطقي ده؟

شاګردان: نه.

معلم: آفرین! د بحث بله پوښتنه دا ده چې: «منطقي او غیرمنطقي غوښتنې څه توپیرونه لري؟» [پوښتنه پر تختې ولیکئ]

[شاګردانو ته پنځه دقیقې وخت ورکړئ چې خبرې اترې وکړي.]

[کله چې شاګران خبرې اترې کوي، تاسې په ټولګي کې وګرځئ او وګورئ چې کله یو تن خبرې کوي، نور ورته څنګه غوږ نیسي.]

معلم: اوس به د هرې ډلې استازی د خپلې ډلې نظرونه راته ووایي.

[د دریو نورو ډلو استازي خبرو ته راوبولئ. مثبت ټکي یې وستایئ، مثلاً: جمیلې د خبرو پر مهال قلم په لاس کې نیولی و او کله کله یې ښوراوه او له یوه لاس بل لاس ته ورکاوه. دا کار مو پر ځان باور زیاتوي.]

معلم: اوس به هماغه مثال بیا راواخلو چې ماړه یئ خو بیا هم غواړئ چې نور توتان وخورئ، له دې سره سره چې پوهېږئ دا کار به مو ناروغه کړي. نو که هغه وخت دریاد کړئ چې نس مو خوږېده او هره ګړۍ به مو تشناب ته منډې وهلې، او له ډېره درده ژړا درغلې وه، بیا کېدای شي چې منطقي پرېکړه وکړئ او خوراک بس کړئ. پوښتنه دا ده چې: «له خپلو غیر منطقي غوښتنو څنګه تېر شو؟» [پوښتنه پر تختې ولیکئ]

[شاګردانو ته ۵ دقیقې وخت ورکړئ چې بحث وکړي.]

[کله چې شاګران خبرې اترې کوي، تاسې په ټولګي کې وګرځئ او وګورئ چې ټول شاګردان په بحث کې فعاله ونډه واخلي.]

معلم: اوس به د څو ډلو استازي ووایي چې څه یې سره ویلي دي.

[د دریو نویو ډلو استازي وغږوئ. د هغوی خبرې چې خلاصې شوې، تېروتنې یې سمې کړئ.]

(c) ketabton.com: The Digital Library

معلم: [د ټول بحث خلاصه په څو جملو کې وايي او د بحث بهير ارزوي]: نن مو ډېر ښه بحث وکړ. تاسو ډېر ښه نظرونه ورکړل. مور او تاسو وويل چې:

١. مور ځينې شيان په دې خاطر غواړو چې: .....

٢. منطقي او غير منطقي غوښتنې دغه توپيرونه لري: .......

٣. له خپلو غير منطقي غوښتنو څخه داسې تېرېداى شو چې: .........

**٢. گرامر (د ليکنښو کارول) (١٠ دقيقې)**

١. شاگردانو ته وايئ: د کتاب په ــــ مخ کې ٨ جملې ليکل شوې دي چې تش ځايونه لري. د هرې جملې مخې ته يوه کلمه په ليندېو کې راغلې ده. تاسې به د جملې په تش ځاى کې د هماغه کلمې اوښتې بڼه وليکئ. تاسې پوهېږئ چې ځينې کلمې کله چې له «د، له، په، ته» سره راشي بڼه يې اوړي.

٢. لومړۍ جمله په يوه شاگرد ولولئ او تاسې يې پر تختې وليکئ.

ميږي په ........... کې اوسېږي. (ميږتون)

شاگردانو ته وايئ: د ميږتون اوښتې بڼه «ميږتانه» ده. نو دلته به وليکو «ميږتانه»

٣. شاگردانو ته وايئ: اوس به تاسې له خپلو څنگلوريو ټولگيوالو سره بحث وکړئ او د پاتې جملو تش ځايونه په مناسبو کلمو سره ډک کړي.

کله چې شاگردان کار کوي، تاسې په ټولگي کې وگرځئ او که چا مرستې ته اړتيا لرله، ورسره مرسته وکړئ.

**کورنۍ دنده:** د مقايسې ډياگرام په خپلو کتابچو کې رسم کړئ او بيا خښته او تيږه سره مقايسه کړئ. په ياد مو وي چې د دواړو ورته شيان د دايرو په تېره ښېره برخه کې او توپيرونه يې د دايرو په آزادو برخو کې وليکئ.

**څلورم درسي ساعت**

**١. املا (٥ دقيقې)**

معلم: گرانو شاگردانو! اوس به خپلې کتابچې خلاصې کړئ او ځينې کلمې به وليکئ. د دې لپاره چې د کلمو ليکل راته آسانه شي، کلمې پر برخو وېشو. مثلاً «لاسونو» دوې برخې لري «لاس» او «ونو».

معلم: به زه کلمې درته وايم او تاسې به يې په خپلو کتابچو پر برخو ووېشئ او بيا به يې يو ځاى وليکئ. [دغه کلمې شاگردانو ته وايئ «ډولونه، رنگونو، دېوالونه، ډاگونو». په ټولگي کې وگرځئ او شاگردن وڅارئ. که چا مرستې ته اړتيا درلوده، ورسره مرسته وکړئ.]

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۲. د استنباطي پوښتنو د ځوابونو ليکل (۱۰ دقيقې)**

معلم: د کتاب په ـــــــ مخ کې د کيسې په اړه ځو استنباطي پوښتنې راغلي دي. لومړۍ پوښتنه به څوک ولولي؟

[شاګردان ګوتې جګوي. يو تن ته ووايئ چې لومړۍ پوښتنه ولولي.]

شاګرد پوښتنه لولي: ۱. **تيرې ولې په شګو او خاورو اوړي؟**

معلم: اوس نو له څنګلوريو ټولګيوالو سره مو بحث وکړئ او د پوښتنې ځواب پيدا کړئ. بيا د دې پوښتنې ځواب په خپلو کتابچو کې وليکئ.

[کله چې د شاګردانو بحث تمام شو، له دوو تنو وغواړئ چې خپل ځواب له نورو سره شريک کړي. کله چې شاګردان ځواب ليکي، تاسې په ټولګي کې وګرځئ او که چا مرستې ته اړتيا لرله، ورسره مرسته وکړئ.]

دا فعاليت د دوو نورو پوښتنو لپاره هم ترسره کړئ. پاتې پوښتنې دا دي:

**۲. ټولې خاورې يو رقم دي که سره توپير لري؟**

**۳. په خاوره کې ولې د ژوو ډېر ډولونه اوسېږي؟**

**۳. د متن ارزونه (۱۰ دقيقې)**

معلم: ستاسو د کتاب په ـــــ مخ کې دوې پوښتنې دي. لومړۍ پوښتنه به څوک ولولي؟ [شاګردان لاسونه جګوي او يو تن ته د پوښتنې د لوستلو اجازه ورکړئ]

شاګرد پوښتنه لولي: ۱. د متن جملې د وضاحت په لحاظ څنګه وې؟

معلم: مننه! اوس نو د دې پوښتنې په اړه له خپلو څنګلوريو ټولګيوالو سره بحث وکړئ. پر دې وغږېږئ چې د متن جملې واضحې وې او پوهېدل ورباندې آسانه وو، که نه.

[شاګردان دې دوه دقيقې بحث وکړي او تاسې په ټولګي کې وګرځئ. وروسته له دوو شاګردانو څخه وغواړئ چې خپل نظر شريک کړي.]

همدا فعاليت د دوهمې پوښتنې لپاره هم ترسره کړئ.

۲. د متن کومې جملې روانې لوستل کېدې او د کومو جملو لوستل ګران وو؟

[شاګردانو ته ۵ دقيقې وخت ورکړئ چې ځوابونه په خپلو کتابچو کې وليکي. تاسې په ټولګي کې وګرځئ. که چا مرستې ته اړتيا درلوده، ورسره مرسته وکړئ. که ډېر شاګردان د کومې خاصې کلمې په ليکلو کې ستونزه ولري، نوټ يې کړئ او بيا يې پر تختې وليکئ.]

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۴. د متن په اړه خپل نظر لیکل (۱۰ دقیقې)**

معلم: اوس به د متن په اړه خپل نظر ولیکئ. پر دې باندې فکر وکړئ چې متن څنګه و؟ خوښ مو شو که نه؟ د متن کومه برخه مو خوښه شوه او ولې مو خوښه شوه؟ له دې متن څخه مو څه زده کړل؟ له خپلو ټولګیوالو ټولګیوالو سره بحث وکړئ او په وار سره د کیسې په اړه خپل نظر ورته ووایئ.

[شاګردانو ته ۴ دقیقې وخت ورکړئ چې بحث وکړي. تاسې په ټولګي کې وګرځئ او شاګردان وڅارئ]

معلم: اوس به په خپلو کتابچو کې د «هلمند او نورستان» متن په اړه خپل نظرونه ولیکئ.

[شاګردانو ته ۵ دقیقې وخت ورکړئ چې خپل نظرونه ولیکي. تاسې په ټولګي کې وګرځئ. که چا مرستې ته اړتیا درلوده، ورسره مرسته وکړئ. که ډېر شاګردان د کومې خاصې کلمې په لیکلو کې ستونزه ولري، نوټ یې کړئ او بیا یې پر تختې ولیکئ. که وخت پاتې و، په آخر کې یو یا دوه شاګردان راوبولئ چې خپله لیکنه ولولي.]

**کورنۍ دنده:**

شاګردانو ته ووایئ: تاسو د مختلفو شیانو مقایسه کول زده کړل. کورنۍ دنده مو دا ده چې دوه شیان پخپله انتخاب او مقایسه یې کړئ. د مقایسې د ډیاګرام په کارولو سره د دواړو ورتهوالي او توپیرونه ولیکئ. بیا یوه مقاله ولیکئ چې په یوه پراګراف کې یې د هغو شیانو ورته ځانګړنې یادې شوې وي او په بل پراګراف کې یې توپیرونه بیان شوي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## فصل ۳ اونۍ ۱

د فصل د موضوع، ژانر، سترو مفکورو او اساسي پوښتنو په باره کې له شاګردانو سره بحث وکړئ.

## درسي ساعت ۱

**۱. سلام، روغبړ، د ټولګي تنظیمول (۳ دقیقې)**

**۲. هجا (۳ دقیقې)**

د چوکاټ کلمې پر تختې ولیکئ او له شاګردانو سره په ګډه یې هجا کړئ. هره کلمه په شاګردانو درې ځله ولولئ.

**۳. د نویو لغاتو فعالیتونه (۱۰ دقیقې)**

د درس نوې کلمې له شاګردانو سره یو ځای معنا کړئ. د هرې کلمې لپاره لاندې فعالیتونه ترسره کړئ:

۱. هغه جمله چې دا کلمه په کې راغلې وي، ولولئ.

۲. کلمه پر تختې ولیکئ او په شاګردانو یې درې ځله ولولئ.

۳. د کلمې معنا د شاګردانو په سویه، په واضحو او آسانو کلمو بیان کړئ.

۴. له شاګردانو څخه وغواړئ چې هره کلمه په جمله کې وکاروي.

د دې درس کلمې دي: [**حکیم** = پوه، عالم، هوښیار ؛ **مُلک** = هېواد، وطن؛ **معمولي** = عادي، نورو غوندې؛ **طریقه** = لاره، د یوه کار د ترسره کولو لاره]

**۴. لوستل (۱۵ دقیقې)**

**الف: تر لوستلو مخکې (۲ دقیقې)**

له شاګردانو څخه وغواړئ چې د کیسې د عنوان او انځور له مخې وړاندوینه وکړي چې په کیسه کې به څه پېښ شوي وي.

**ب. د لوستلو په بهیر کې (۱۰ دقیقې)**

۱. شاګردانو ته ووایئ چې په ټیټ غږ د کتاب متن تر هغه ځایه پورې ولولئ چې له تصویر څخه مخکې دی.

۲. شاګردانو ته ۳ دقیقې وخت ورکړئ چې متن ولولي. تاسې په ټولګي کې وګرځئ او که چا مرستې ته اړتیا درلوده، ورسره مرسته وکړئ.

۳. [تر ۳ دقیقو وروسته] شاګردانو ته ووایئ: اوس لوستل بس کړئ او څه مو چې لوستي دي، په ذهن کې یې مجسم کړئ.

۴. دوو شاګردانو ته اجازه ورکړئ چې په خپل ذهن کې مجسم کړی تصویر تشریح کړي.

۵. شاګردانو ته ووایئ: اوس نو د کیسې پاتې برخه په ټیټ غږ ولولئ. [شاګردانو ته ۲ دقیقې وخت ورکړئ چې متن ولولي.]

(c) ketabton.com: The Digital Library

٦. شاگردانو ته ووايئ: اوس به د کيسې پاتې برخه په ذهن کې مجسم کړئ. آفرين! سترګې مو پټې کړئ او څه مو چې ولوستل خپلو سترګو ته يې ودورئ. [يوه دقيقه وخت ورکړئ]

٧. شاگردانو ته ووايئ: اوس دې هر څوک خپل څنګلوري ټولګيوال/ ټولګيوالې ته ووايي چې څه يې په ذهن کې تېر شول؟ [٢ دقيقې وخت ورکړئ. يوه دقيقه چې تېره شوه، د شاگردانو نقش بدل کړئ. چا چې تر اوسه پورې خبرې کولې، هغه دې غوږ ونيسي او چا چې تر اوسه پورې غوږ نيولی و، هغه دې خبرې وکړي.]

٨. کيسه په لوړ غږ او مناسب لحن او تلفظ سره ولولئ او له شاگردانو څخه وغواړئ چې کله تاسې کيسه لولئ، هغوی دې پر لوستل شويو کلمو ګوتې تېرې کړي.

**ج. تر لوستلو وروسته (٣ دقيقې)**

١. له شاگردانو څخه پوښتنه وکړئ چې د دوی وړاندوينه څنګه وه. د چا اټکل سم وخوت او د چا ناسم.

٢.دوو شاگردانو ته وخت ورکړئ چې خپل نظر ووايي.

**کورنۍ دنده:** تاسو به هم ځينې ستونزې حل کړې وي. کورنۍ دنده مو دا ده چې په دې اړه خپله کيسه وليکئ چې کومه ستونزه مو څنګه حل کړې ده.

**دوهم درسي ساعت**

**١. پر ربښې او وروستاړي د کلمو وېشل (١٠ دقيقې)**

١. د چوکاټ لومړۍ کلمه پخپله پر برخو ووېشئ او معنا يې کړئ.

٢. پاتې کلمې په شاگردانو پر برخو ووېشئ. کله چې شاگردان کار کوي، تاسې په ټولګي کې وګرځئ او که چا مرستې ته اړتيا درلوده، ورسره مرسته وکړئ.

٣. له څلورو شاگردانو څخه وغواړئ چې يوه يوه کلمه تجزيه او معنا کړي.

| کلمه | د کلمې برخې | د کلمې معنا |
|---|---|---|
| غير معمولي | **غير ــــ معمولي** | **غير** = نا، سيوا **معمولي** = عادي، د نورو غوندې<br>**غيرمعمولي** = هغه څه چې له نورو سيوا وي، د نورو غوندې نه وي. |
| غير واقعي | **غير ــــ واقعي** | **غير** = نا، سيوا **واقعي** = ربښتاني<br>**غير واقعي** = هغه څه ربښتيا نه وي. |
| غير قانوني | **غير ــــ قانوني** | **غير** = نا، سيوا **قانوني** = له قانون سره سم، په قانون برابر<br>**غيرقانوني** = هغه کار چې په قانون برابر نه وي. |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| غیر ارادي | **غیر ـــ ارادي** | **غیر** = نا، سیوا **ارادي** = په واک، په خپل اختیار<br>**غیر ارادي** = هغه کار چې په خپل اختیار یې نه کوو، بلکې پخپله کېږي. |
| غیر حاضر | **غیر ـــ حاضر** | **غیر** = نا، سیوا **حاضر** = شته، موجود<br>**غیر حاضر** = څوک چې نه وي. |

**۲. د کیسې نقشه (۲۰ دقیقې)**

۱. شاگردانو ته ووایئ چې د کتاب له مخې دې د کیسې چارټ په کتابچو کې رسم کړي.

۲. د لومړي فصل غوندي د کیسې پیل په شاگردانو ولولئ او ورته ووایئ چې د چارټ د پیل برخې د ډکولو لپاره دې له خپلو څنگلوریو ټولگیوالو سره بحث وکړي.

۳. د کیسې منځ په شاگردانو ولولئ او ورته ووایئ چې د چارټ د منځ برخې د ډکولو لپاره دې له خپلو څنگلوریو ټولگیوالو سره بحث وکړي.

۴. د کیسې پای په شاگردانو ولولئ او ورته ووایئ چې د چارټ د پای برخې د ډکولو لپاره دې له خپلو څنگلوریو ټولگیوالو سره بحث وکړي.

۵. کله چې شاگردان فعالیت کوي، تاسې په ټولگي کې وگرځئ او که چا مرستې ته اړتیا لرله، ورسره مرسته وکړئ.

٦. دوه شاگردان تختې ته راوبولې چې د کیسې پیل، منځ او پای تشریح کړي.

لاندې ډک شوی چارټ به د شاگردانو د کار په ارزولو کې درسره مرسته وکړي.

| **پیل** | | **منځ (د کیسې څوکه)** | **پای** | |
|---|---|---|---|---|
| کرکټرونه | پاچا او څلور حکیمان | درې حکیمان په حساب لگیا دي چې د کولپ د خلاصولو لاره پیدا کړي او یو حکیم وزگار ناست دی. | حل او نتیجه | څلورم حکیم فکر وکړ چې باید کولپ وگوري چې په رښتیا بند دی او په رښتیا غیر معمولي دی، که نه. |
| ځای – زمان | ځای: نه دی معلوم<br>وخت: پخوا زمانه | | | |
| ستونزه | د غیر معمولي کولپ خلاصول | | سبق/ پیغام | د ستونزې رښتیا او درواغ معلومول، د ستونزې په حل کې راسره مرسته کوي. |

**۳. د کرکټر د اعمالو ارزونه (۵ دقیقې)**

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱. شاګردانو ته ووایئ: اوس به د کیسې د کرکټرونو اعمال یا کارونه وارزوو. له خپلو څنګلوریو ټولګیوالو سره د هر کرکټر پر اعمالو خبرې وکړئ. چا څه وکړل؟ ولې یې وکړل؟ کار یې سم و که ناسم؟ ستاسو په نظر د چا کارونه منطقي وو؟
۲. شاګردانو ته درې دقیقې وخت ورکړئ چې بحث وکړي. بیا څو تنه راوبولئ چې د خپل بحث نتیجه شریکه کړي.

**دریم درسي ساعت**

**۱. خبرې اترې (۲۵ دقیقې)**

**موږ یې ترسره کوو/ تاسې یې ترسره کوئ**

[شاګردان په شپږ کسیزو ډلو کې تنظیم کړئ او د لاندې سناریو له مخې د مباحثې فعالیت ورباندې اجرا کړئ]

معلم: نن به مو د بحث موضوع «علم او پوهه» وي. تاسو به اورېدلي یا لوستلي وي چې وایي «پوهه رڼا ده» یا دا چې «ناپوهه انسانان لکه ړانده وي». وایي یو ساده سړي ته چا ویلي وو چې ته خو بېخي پوهه نه لرې. هغه بله ورځ دوکان ته تللی و، دوکاندار ته یې ویلي وو: ماما! د سلو روپو پوهه خو راته وتله. د بحث لومړی پوښتنه مو دا ده چې: «پوهه څه ده؟» [پوښتنه پر تختې ولیکئ]

[شاګردان به پنځه دقیقې خبرې کوي.]

[کله چې شاګران خبرې اترې کوي، تاسې په ټولګي کې وګرځئ او ویې هڅوئ]

معلم: اوس به د هرې ډلې استازی د خپلو ملګرو د خبرو خلاصه ووایي.

[د دریو نویو ډلو استازي راوبولئ. کله چې دوی خبرې کوي، ورته ځیر شئ. مثبت ټکي یې وستایئ.]

معلم: بله پوښتنه دا ده چې: «پوهه څنګه ترلاسه کولی شو؟» [پوښتنه پر تختې ولیکئ]

[شاګردانو ته پنځه دقیقې وخت ورکړئ چې خبرې اترې وکړي.]

[کله چې شاګران خبرې اترې کوي، تاسې په ټولګي کې وګرځئ او شاګردان وڅارئ.]

معلم: اوس به د هرې ډلې استازی د خپلې ډلې نظرونه راته ووایي.

[د دریو نورو ډلو استازي خبرو ته راوبولئ. مثبت ټکي یې وستایئ.]

معلم: هغه ټوکه به مو اورېدلې وي چې وایي یو سړی ونې ته ختلی و، بیا کوزېدای نه شو. بل چا غوښتل ورسره مرسته وکړي. پړی یې ور اچولی و چې دا دې په ملا پورې وتړه. بیا یې هغه راکش کړی و. سړی پر ځمکه لوېدلی او مړ شوی و. خلکو چې ورته وویل: ولې دې داسې وکړل: ده ځواب ورکړی و چې: ما په همدې پړي ډېر کسان له کوهي نه روغ رمټ را ایستلي وو. نو بله پوښتنه دا ده چې: «خپله پوهه څنګه په مناسب ځای کې کارولی شو؟»

[شاګردانو ته ۵ دقیقې وخت ورکړئ چې بحث وکړي.]

(c) ketabton.com: The Digital Library

[کله چې شاګران خبرې اترې کوي، تاسې په ټولګي کې وګرځئ او وګورئ چې ټول شاګردان په بحث کې فعاله ونډه واخلي.]

معلم: اوس به د دريو نورو ډلو استازي ووايي چې څه يې سره ويلي دي.

[د دريو نويو ډلو استازي وغږوئ. د هغوی خبرې چې خلاصې شوې، ويې هڅوئ.]

معلم: څوک به د ټولو خبرو خلاصه او نتيجه ووايئ؟

[شاګردان لاسونه جګوي. يو تن په کې انتخاب کړئ او د تختې سر ته يې دروغواړئ.]

معلم: آفرين! د ټول بحث خلاصه څه ده؟

[يو شاګرد تختې ته راوبولې چې د بحث نتيجه ووايي. که کوم ټکی ورنه پاتې و، هغه تاسې ورياد کړئ]

**۲. ګرامر (د ذات او معنا نومونه) (۱۰ دقيقې)**

شاګردانو ته ووايئ: د کتاب په ـــــ مخ کې جدول ته وګورئ. په جدول کې ځينې کلمې ليکل شوې دي چې يا به د ذات نومونه وي، يا د معنا. د خبرو اترو په فعاليت کې مو د پوهې او علم په باره کې بحث وکړ. پوهه په سترګو معلومېږي؟ پوهه لمس کولی شو؟ پوهه بويولی شو؟ نه، ځکه چې پوهه ماده نه ده. داسې شيان چې مادي نه دي، نومونه يې د معنا نومونه بلل کېږي خو ميز، قلم، اوبه، هوا ... چې مادي دي، نومونه يې د ذات نومونه بلل کېږي. تاسې به د چوکاټ نومونه لولئ او له خپلو څنګلوريو ټولګيوالو سره به خبرې کوئ چې کومه کلمه د ذات نوم دی، کومه د معنا. بيا به په خپلو کتابچو کې د ذات نومونه جلا او د معنا نومونه جلا وليکئ.

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| اوسپنه | هوښياري | لرګی | مشکل | ذهن | مُلک |
| ستوری | کتابچه | علم | کولپ | سيالي | وزير |
| عقل | تجربه | کوتره | طريقه | کاغذ | خوښي |

**خلورم درسي ساعت**

**۱. املا (۵ دقيقې)**

شاګردانو ته ووايئ: اوس به خپلې کتابچې خلاصې کړئ او ځينې کلمې به وليکئ. د دې لپاره چې د کلمو ليکل راته آسانه شي، کلمې پر برخو وېشو. مثلاً «خلاصولو» دوې برخې لري «خلاصــ» او «ــولو». [نورې کلمې دي: پرانيستلو، اوربدلو، پيلاوه، بېلاوه]

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۲. د استنباطي پوښتنو د ځوابونو ليکل (۱۰ دقيقې)**

۱. شاگردانو ته ووايئ: د کتاب په ــــــــ مخ کې د کيسې په اړه څو استنباطي پوښتنې راغلي دي. تاسې به د هرې پوښتنې په اړه له خپلو څنگلوريو ټولگيوالو سره بحث وکړئ او ځواب به يې پيدا او بيا وليکئ.

۲. لومړۍ پوښتنه په يوه شاگرد ولولئ.

۳. دوه دقيقې وخت ورکړئ چې شاگردان بحث وکړي او تاسې په ټولگي کې وگرځئ. وخت چې پوره شو، دوه شاگردان راوبولئ چې خپل ځواب ووايي.

۴. عين فعاليت د دوهمې او دريمې پوښتنې لپاره هم ترسره کړئ.

۵. شاگردانو ته ووايئ: اوس نو د هرې پوښتنې ځواب په خپلو کتابچو کې وليکئ.

**۳. د کرکټرونو د اعمالو ليکنې ارزونه (۱۰ دقيقې)**

معلم: د دې اونۍ په دوهم درسي ساعت کې مو د کرکټرونه کارونه ورازول او ومو ويل چې د هغوی کارونه منطقي او سم و که نه. نن به د کرکټرونو په اړه خپله ارزونه وليکئ. ستاسو د کتاب په ــــــ مخ کې دوې پوښتنې دي. تاسې به د هرې پوښتنې په اړه له خپلو څنگلوريو ټولگيوالو سره بحث وکړئ او ځواب به يې پيدا او بيا وليکئ.

۲. لومړۍ پوښتنه په يوه شاگرد ولولئ.

۳. دوه دقيقې وخت ورکړئ چې شاگردان بحث وکړي او تاسې په ټولگي کې وگرځئ. وخت چې پوره شو، دوه شاگردان راوبولئ چې خپل ځواب ووايي.

۴. عين فعاليت د دوهمې پوښتنې لپاره هم ترسره کړئ.

۵. شاگردانو ته ووايئ: ډېر ښه. اوس نو خپل ځوابونه په کتابچو کې مو وليکئ.

[شاگردانو ته ۵ دقيقې وخت ورکړئ چې ځوابونه وليکي. تاسې په ټولگي کې وگرځئ. که چا مرستې ته اړتيا درلوده، ورسره مرسته وکړئ. که ډېر شاگردان د کومې خاصې کلمې په ليکلو کې ستونزه ولري، نوټ يې کړئ او بيا يې پر تختې وليکئ.]

**۴. د کيسې په اړه خپل نظر ليکل (۱۰ دقيقې)**

۱. شاگردانو ته ووايئ: اوس به د کيسې په اړه خپل نظر وليکئ. پر دې باندې فکر وکړئ چې کيسه څنگه وه؟ خوښه مو شوه که نه؟ د کيسې کومه برخه مو خوښه شوه او ولې مو خوښه شوه؟ له دې کيسې مو څه زده کړل؟ له خپلو څنگلوريو ټولگيوالو سره بحث وکړئ او په وار سره د کيسې په اړه خپل نظر ورته ووايئ.

[شاگردانو ته ۴ دقيقې وخت ورکړئ چې بحث وکړي. تاسې په ټولگي کې وگرځئ او شاگردان وڅارئ]

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲. شاګردانو ته ووایئ: اوس به په خپلو کتابچو کې د «څلورم حکیم» کیسې په اړه خپل نظرونه ولیکئ.

[شاګردانو ته ۵ دقیقې وخت ورکړئ چې خپل نظرونه ولیکي. تاسې په ټولګي کې وګرځئ. که چا مرستې ته اړتیا درلوده، ورسره مرسته وکړئ. که ډېر شاګردان د کومې خاصې کلمې یا عبارت په لیکلو کې ستونزه ولري، نوټ یې کړئ او بیا یې پر تختې ولیکئ. که وخت پاتې و، په آخر کې یو یا دوه شاګردان راوبولئ چې خپله لیکنه ولولي.]

## فصل ۳ اونۍ ۲

## درسي ساعت ۱

**۱. سلام، روغبړ، د ټولګي تنظیمول (۳ دقیقې)**

**۲. هجا (۳ دقیقې)**

د چوکاټ کلمې پر تختې ولیکئ او له شاګردانو سره په ګډه یې هجا کړئ. هره کلمه په شاګردانو درې ځله ولولئ.

**۳. د نویو لغاتو فعالیتونه (۱۰ دقیقې)**

د درس نوې کلمې له شاګردانو سره یو ځای معنا کړئ. د هرې کلمې لپاره لاندې فعالیتونه ترسره کړئ:

۱. هغه جمله چې دا کلمه په کې راغلې وي، ولولئ.

۲. کلمه پر تختې ولیکئ او په شاګردانو یې درې ځله ولولئ.

۳. د کلمې معنا د شاګردانو په سویه، په واضحو او آسانو کلمو بیان کړئ.

۴. له شاګردانو څخه وغواړئ چې هره کلمه په جمله کې وکاروي.

د دې درس کلمې دي: [**حضور** = د چا مخ ته، د چا وړاندې ؛ **څنګلوری** = ګاونډ؛ **دربار** = د پاچایانو د ناستې ځای؛ **افسوس** = دریغه، حیف]

**۴. لوستل (۱۵ دقیقې)**

**الف: تر لوستلو مخکې (۲ دقیقې)**

له شاګردانو څخه وغواړئ چې د کیسې د عنوان او انځور له مخې وړاندوینه وکړي چې په کیسه کې به څه پېښ شوي وي.

**ب. د لوستلو په بهیر کې (۱۰ دقیقې)**

۱. شاګردانو ته ووایئ چې په ټیټ غږ د کتاب متن تر هغه ځایه پورې ولولئ چې له تصویر څخه مخکې دی.

۲. شاګردانو ته ۳ دقیقې وخت ورکړئ چې متن ولولي. تاسې په ټولګي کې وګرځئ او که چا مرستې ته اړتیا درلوده، ورسره مرسته وکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳. [تر ۳ دقیقو وروسته] شاګردانو ته ووایئ: اوس لوستل بس کړئ او څه مو چې لوستي دي، په ذهن کې یې مجسم کړئ.

۴. دوو شاګردانو ته اجازه ورکړئ چې په خپل ذهن کې مجسم کړی تصویر تشریح کړي.

۵. شاګردانو ته ووایئ: اوس نو د کیسې پاتې برخه په ټیټ غږ ولولئ. [شاګردانو ته ۲ دقیقې وخت ورکړئ چې متن ولولي.]

٦. شاګردانو ته ووایئ: اوس به د کیسې پاتې برخه په ذهن کې مجسم کړئ. آفرین! سترګې مو پټې کړئ او څه مو چې ولوستل خپلو سترګو ته یې ودورئ. [یوه دقیقه وخت ورکړئ]

۷. شاګردانو ته ووایئ: اوس دې هر څوک خپل څنګلوري ټولګیوال/ ټولګیوالې ته ووایي چې څه یې په ذهن کې تېر شول؟ [۲ دقیقې وخت ورکړئ. یوه دقیقه چې تېره شوه، د شاګردانو نقش بدل کړئ. چا چې تر اوسه پورې خبرې کولې، هغه دې غوږ ونیسي او چا چې تر اوسه پورې غوږ نیولی و، هغه دې خبرې وکړي.]

۸. کیسه په لوړ غږ او مناسب لحن او تلفظ سره ولولئ او له شاګردانو څخه وغواړئ چې کله تاسې کیسه لولئ، هغوی دې پر لوستل شویو کلمو ګوتې تېرې کړي.

**ج. تر لوستلو وروسته (۳ دقیقې)**

۱. له شاګردانو څخه پوښتنه وکړئ چې د دوی وړاندوینه څنګه وه. د چا اټکل سم وخوت او د چا ناسم.

۲.دوو شاګردانو ته وخت ورکړئ چې خپل نظر ووایي.

**کورنۍ دنده:** تاسې په دې اړه خپله کیسه ولیکئ چې څنګه مو کومه ستونزه په هوښیارۍ سره حل کړې ده.

**دوهم درسي ساعت**

**۱. پر ربښې او وروستاړي د کلمو وېشل (۱۰ دقیقې)**

۱. د چوکاټ لومړۍ کلمه پخپله پر برخو ووېشئ او معنا یې کړئ.

۲. پاتې کلمې په شاګردانو پر برخو ووېشئ. کله چې شاګردان کار کوي، تاسې په ټولګي کې وګرځئ او که چا مرستې ته اړتیا درلوده، ورسره مرسته وکړئ.

۳. له څلورو شاګردانو څخه وغواړئ چې یوه یوه کلمه تجزیه او معنا کړي.

| کلمه | د کلمې برخې | د کلمې معنا |
|---|---|---|
| خوشحالي | **خوش ــ حال ــ ي** | **خوش** = خوښ **حال** = مزاج **ي** = د حالت وروستاړی<br>**خوشحالي** = د خوښۍ حالت |
| هوښیاري | **هوښـ ــ یار ــ ي** | **هوښ** = فکر **یار** = ملګری **ي** = د حالت وروستاړی<br>**هوښیاري** = هغه حالت چې څوک د فکر ملګرتیا کوي، څیرکي |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| **همکاري** | **همـ ــ ـکار ــ ي** | **هم** = یوځای **کار** = کار، چار **ي** = د حالت وروستاړی<br>**همکاري** = په ګډه کار کول |
| **بې کاري** | **بې ــ ـکار ــ ي** | **بې** = پرته، نه شتون **کار** = کار، چار **ي** = د حالت وروستاړی<br>**بې کاري** = نه کار کول، وزګارتیا |
| **بیماري** | **بیمار ــ ي** | **بیمار** = ناروغ، رنځور **ي** = د حالت وروستاړی<br>**بیماري** = ناروغي، ناجوړي |

**۲. د کیسې نقشه (۲۰ دقیقې)**

۱. شاګردانو ته ووایئ چې د کتاب له مخې دې د کیسې چارټ په کتابچو کې رسم کړي.

۲. د لومړي فصل غوندې د کیسې پیل په شاګردانو ولولئ او ورته ووایئ چې د چارټ د پیل برخې د ډکولو لپاره دې له خپلو ځنګلوریو ټولګیوالو سره بحث وکړي.

۳. د کیسې منځ په شاګردانو ولولئ او ورته ووایئ چې د چارټ د منځ برخې د ډکولو لپاره دې له خپلو ځنګلوریو ټولګیوالو سره بحث وکړي.

۴. د کیسې پای په شاګردانو ولولئ او ورته ووایئ چې د چارټ د پای برخې د ډکولو لپاره دې له خپلو ځنګلوریو ټولګیوالو سره بحث وکړي.

۵. کله چې شاګردان فعالیت کوي، تاسې په ټولګي کې وګرځئ او که چا مرستې ته اړتیا لرله، ورسره مرسته وکړئ.

٦. دوه شاګردان تختې ته راوبولې چې د کیسې پیل، منځ او پای تشریح کړي.

لاندې ډک شوی چارټ به د شاګردانو د کار په ارزولو کې درسره مرسته وکړي.

| **پیل** | | **منځ (د کیسې ځوکه)** | **پای** | |
|---|---|---|---|---|
| کرکټرونه | یو پوه او مغرور انسان، پاچا او حکمیان یې، ټوکي | ټوکي له حکیم سره سیالي پیلوي. | حل او نتیجه | ټوکي په خپلې هوښیارۍ مغرور حکیم ته ماتې ورکوي او غاړه کې ګټي. |
| ځای – زمان | ځای: د بلې پاچاهۍ دربار<br>وخت: یو وخت (نامعلوم) | | | |
| ستونزه | له حکیم سره سیالۍ ته ځوک نه حاضرېږي. | | سبق/ پیغام | غرور مو ماتوي او هوښیاري دا رازده کوي چې څنګه سیالي وګټو. |

**۳. د کرکټر د اعمالو ارزونه (۵ دقیقې)**

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱. شاګردانو ته ووایئ: اوس به د کیسې د کرکټرونو اعمال یا کارونه وارزوو. له خپلو څنګلوریو ټولګیوالو سره د هر کرکټر پر اعمالو خبرې وکړئ. چا څه وکړل؟ ولې یې وکړل؟ کار یې سم و که ناسم؟ ستاسو په نظر د چا کارونه منطقي وو؟
۲. شاګردانو ته درې دقیقې وخت ورکړئ چې بحث وکړي. بیا څو تنه راوبولئ چې د خپل بحث نتیجه شریکه کړي.

**دریم درسي ساعت**

**۱. خبرې اترې (۲۵ دقیقې)**

**موږ یې ترسره کوو/ تاسې یې ترسره کوئ**

[شاګردان په شپږ کسیزو ډلو کې تنظیم کړئ او د لاندې سناریو له مخې د مباحثې فعالیت ورباندې اجرا کړئ]

معلم: نن به مو د بحث موضوع «تفکر او تدبر» وي. تاسو په قرآن شریف کې د «تفکرون» او «تدبرون» کلمې لوستلې وي. په ورځني ژوند کې هم ډېر ځله د فکر کلمه اورئ. کله مو له ځانه پوښتنه کړې ده چې فکر څه شی دی؟ نن به لومړی همدا پوښتنه وڅېړو چې: «فکر څه شی دی؟» [پوښتنه پر تختې ولیکئ]

[شاګردان به پنځه دقیقې خبرې کوي.]

[کله چې شاګران خبرې اترې کوي، تاسې په ټولګي کې وګرځئ او ویې هڅوئ]

معلم: اوس به د هرې ډلې استازی د خپلو ملګرو د خبرو خلاصه ووایي.

[د دریو نویو ډلو استازي راوبولئ. کله چې دوی خبرې کوي، ورته ځیر شئ. مثبت ټکي یې وستایئ.]

معلم: دې ته به مو پام شوی وي چې کله کله د درس ویلو په وخت کې مو فکر بلې خوا ته لاړ شي. یو وخت مو پام شي چې د متن یوه برخه مو لوستلې ده خو هېڅ مو نه وي په یاد چې څه یې په کې ویلي وو. نو بله پوښتنه دا ده چې: «د لوستلو په وخت کې خپل فکر متن ته څنګه ورواړوو؟»

[پوښتنه پر تختې ولیکئ]

[شاګردانو ته پنځه دقیقې وخت ورکړئ چې خبرې اترې وکړي.]

[کله چې شاګران خبرې اترې کوي، تاسې په ټولګي کې وګرځئ او شاګردان وڅارئ.]

معلم: اوس به د هرې ډلې استازی د خپلې ډلې نظرونه راته ووایي.

[د دریو نورو ډلو استازي خبرو ته راوبولئ. مثبت ټکي یې وستایئ.]

معلم: که مو پام کړی وي، موږ او تاسې تر هر کار مخکې لومړی فکر کوو. مثلاً مخکې له دې چې زه یو څه ووایم، د هغې په اړه فکر کوم. مخکې له دې چې یوه جمله پر تختې ولیکم، اول فکر کوم. همداسې که ناسم کارونه هم کوو، اول مو د هماغه کار د کولو فکر په ذهن کې تېرېږي، مثلاً: اول مو به ذهن کې دا فکر پیدا کېږي چې راځه ملګری/ ملګرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي وځوروه. بيا هغه ځورو. نو که بد فکرونه وکړو، کېدای شي بد کارونه هم وکړو. بله پوښتنه دا ده چې: «بد فکرونه له خپل ذهن څخه څنګه وباسو؟»

[شاګردانو ته ۵ دقيقې وخت ورکړئ چې بحث وکړي.]

[کله چې شاګران خبرې اترې کوي، تاسې په ټولګي کې وګرځئ او وګورئ چې ټول شاګردان په بحث کې فعاله ونډه واخلي.]

معلم: اوس به د دريو نورو ډلو استازي ووايي چې څه يې سره ويلي دي.

[د دريو نويو ډلو استازي وغږوئ. د هغوی خبرې چې خلاصې شوې، ويې هڅوئ.]

معلم: څوک به د ټولو خبرو خلاصه او نتيجه ووايئ؟

[شاګردان لاسونه جګوي. يو تن په کې انتخاب کړئ او د تختې سر ته يې دروغواړئ.]

معلم: آفرين! د ټول بحث خلاصه څه ده؟

[شاګرد د بحث نتيجه وايي. که کوم ټکی ورنه پاتې و، هغه تاسې ورياد کړئ]

**۲. ګرامر (د ذات او معنا نومونه) (۱۰ دقيقې)**

شاګردانو ته ووايئ: د کتاب په ـــــ مخ کې جدول ته وګورئ. په جدول کې ځينې کلمې ليکل شوي دي چې يا به د ذات نومونه وي، يا د معنا. د خبرو اترو په فعاليت کې مو د پوهې او علم په باره کې بحث وکړ. پوهه په سترګو معلومېږي؟ پوهه لمس کولی شو؟ پوهه بويولی شو؟ نه، ځکه چې پوهه ماده نه ده. داسې شيان چې مادي نه دي، نومونه يې د معنا نومونه بلل کېږي خو مېز، قلم، اوبه، هوا ... چې مادي دي، نومونه يې د ذات نومونه بلل کېږي. تاسې به د چوکاټ نومونه لولئ او له خپلو څنګلوريو ټولګيوالو سره به خبرې کوئ چې کومه کلمه د ذات نوم دی، کومه د معنا. بيا به په خپلو کتابچو کې د ذات نومونه جلا او د معنا نومونه جلا وليکئ.

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| دربار | خوشحالي | ماته | مُلک | ځواب | رښتيا |
| غرور | غاړه‌کۍ | غاړه | پوښتنه | لاس | پاچا |
| کبر | سره زر | ټوکي | بحث | پيغام | فکر |

**۳. ګرامر (د (،) او (.) کارول) (۵ دقيقې)**

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱. شاګردانو ته ووايئ: د کتاب په ـــــ مخ کې جملو ته وګورئ. له خپلو څنګلوريو ټولګيوالو سره په هره جمله کې د (،) او (.) د کارولو مناسب ځای پيدا او په کتابچو کې يې وليکئ.

۲. کله چې شاګردان فعاليت ترسره کوي، تاسې جملې پر تختې وليکئ. د دوی فعاليت چې تمام شو، له ټو تنو شاګردانو څخه وغواړئ چې تختې ته راشي او په جملو کې (،) او (.) وکاروي.

نوټ: (،) تر هو او نه وروسته راځي او (.) د جملو په پای کې.

**څلورم درسي ساعت**

**۱. املا (۵ دقيقې)**

شاګردانو ته ووايئ: اوس به خپلې کتابچې خلاصې کړئ او ځينې کلمې به وليکئ. د دې لپاره چې د کلمو ليکل راته آسانه شي، کلمې پر برخو وېشو. مثلاً «څنګلوری» دوې برخې لري «څنګ» او «لوری». [نورې کلمې دي: کبرجن، خوشحالي، سره زر، غاړه‌کۍ]

**۲. د استنباطي پوښتنو د ځوابونو ليکل (۱۰ دقيقې)**

۱. شاګردانو ته ووايئ: د کتاب په ـــــــ مخ کې د کيسې په اړه څو استنباطي پوښتنې راغلي دي. تاسې به د هرې پوښتنې په اړه له خپلو څنګلوريو ټولګيوالو سره بحث وکړئ او ځواب به يې پيدا او بيا وليکئ.

۲. لومړۍ پوښتنه په يوه شاګرد ولولئ.

۳. دوه دقيقې وخت ورکړئ چې شاګردان بحث وکړي او تاسې په ټولګي کې وګرځئ. وخت چې پوره شو، دوه شاګردان راوبولئ چې خپل ځواب ووايي.

۴. عين فعاليت د دوهمې او دريمې پوښتنې لپاره هم ترسره کړئ.

۵. شاګردانو ته ووايئ: اوس نو د هرې پوښتنې ځواب په خپلو کتابچو کې وليکئ.

**۳. د کرکټرونو د اعمالو ليکنۍ ارزونه (۱۰ دقيقې)**

معلم: د دې اونۍ په دوهم درسي ساعت کې مو د کرکټرونه کارونه ورازول او ومو ويل چې د هغوی کارونه منطقي او سم و که نه. نن به د کرکټرونو په اړه خپله ارزونه وليکئ. ستاسو د کتاب په ـــــ مخ کې دوې پوښتنې دي. تاسې به د هرې پوښتنې په اړه له خپلو څنګلوريو ټولګيوالو سره بحث وکړئ او ځواب به يې پيدا او بيا وليکئ.

۲. لومړۍ پوښتنه په يوه شاګرد ولولئ.

۳. دوه دقيقې وخت ورکړئ چې شاګردان بحث وکړي او تاسې په ټولګي کې وګرځئ. وخت چې پوره شو، دوه شاګردان راوبولئ چې خپل ځواب ووايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴. عین فعالیت د دوهمې پوښتنې لپاره هم ترسره کړئ.

۵. شاګردانو ته ووایئ: ډېر ښه. اوس نو خپل ځوابونه په کتابچو کې مو ولیکئ.

[شاګردانو ته ۵ دقیقې وخت ورکړئ چې ځوابونه ولیکي. تاسې په ټولګي کې وګرځئ. که چا مرستې ته اړتیا درلوده، ورسره مرسته وکړئ. که ډېر شاګردان د کومې خاصې کلمې په لیکلو کې ستونزه ولري، نوټ یې کړئ او بیا یې پر تختې ولیکئ.]

**۴. د کیسې په اړه خپل نظر لیکل (۱۰ دقیقې)**

۱. شاګردانو ته ووایئ: اوس به د کیسې په اړه خپل نظر ولیکئ. پر دې باندې فکر وکړئ چې کیسه څنګه وه؟ خوښه مو شوه که نه؟ د کیسې کومه برخه مو خوښه شوه او ولې مو خوښه شوه؟ له دې کیسې مو څه زده کړل؟ له خپلو څنګلوریو ټولګیوالو سره بحث وکړئ او په وار سره د کیسې په اړه خپل نظر ورته ووایئ.

[شاګردانو ته ۴ دقیقې وخت ورکړئ چې بحث وکړي. تاسې په ټولګي کې وګرځئ او شاګردان وڅارئ]

۲. شاګردانو ته ووایئ: اوس به په خپلو کتابچو کې د «څلورم حکیم» کیسې په اړه خپل نظرونه ولیکئ.

[شاګردانو ته ۵ دقیقې وخت ورکړئ چې خپل نظرونه ولیکي. تاسې په ټولګي کې وګرځئ. که چا مرستې ته اړتیا درلوده، ورسره مرسته وکړئ. که ډېر شاګردان د کومې خاصې کلمې یا عبارت په لیکلو کې ستونزه ولري، نوټ یې کړئ او بیا یې پر تختې ولیکئ. که وخت پاتې و، په آخر کې یو یا دوه شاګردان راوبولئ چې خپله لیکنه ولولي.]

## فصل ۳ اونۍ ۳

### درسي ساعت ۱

**۱. سلام، روغبړ، د ټولګي تنظیمول (۳ دقیقې)**

**۲. هجا (۳ دقیقې)**

د چوکاټ کلمې پر تختې ولیکئ او له شاګردانو سره په ګډه یې هجا کړئ. هره کلمه په شاګردانو درې ځله ولولئ.

**۳. د نویو لغاتو فعالیتونه (۱۰ دقیقې)**

د درس نوې کلمې له شاګردانو سره یو ځای معنا کړئ. د هرې کلمې لپاره لاندې فعالیتونه ترسره کړئ:

۱. هغه جمله چې دا کلمه په کې راغلې وي، ولولئ.

۲. کلمه پر تختې ولیکئ او په شاګردانو یې درې ځله ولولئ.

۳. د کلمې معنا د شاګردانو په سویه، په واضحو او آسانو کلمو بیان کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴. له شاګردانو څخه وغواړئ چې هره کلمه په جمله کې وکاروي.

د دې درس کلمې دي: [**پلټونکې** = څوک چې لټه او لټون کوي؛ **لاحول** = د لاحول و لا قوة الا بالله يعنې له الله پرته بل څوک قوت او ځواک نه لري. دا خبره هله کېږي چې شيطان انسان غوسې او وارخطايۍ ته هڅوي؛ **کاهدانه** = د پروړو او بوسو د زېرمه کولو کوټنۍ؛ **ذهن** = فکر، اعصاب]

**۴. لوستل (۱۵ دقيقې)**

**الف: تر لوستلو مخکې (۲ دقيقې)**

له شاګردانو څخه وغواړئ چې د کيسې د عنوان او انځور له مخې وړاندوينه وکړي چې په کيسه کې به څه پېښ شوي وي.

**ب. د لوستلو په بهير کې (۱۰ دقيقې)**

۱ . شاګردانو ته ووايئ چې په ټيټ غږ د کتاب متن تر هغه ځايه پورې ولولئ چې له تصوير څخه مخکې دی.

۲. شاګردانو ته ۳ دقيقې وخت ورکړئ چې متن ولولي. تاسې په ټولګي کې وګرځئ او که چا مرستې ته اړتيا درلوده، ورسره مرسته وکړئ.

۳. [تر ۳ دقيقو وروسته] شاګردانو ته ووايئ: اوس لوستل بس کړئ او څه مو چې لوستي دي، په ذهن کې يې مجسم کړئ.

۴. دوو شاګردانو ته اجازه ورکړئ چې په خپل ذهن کې مجسم کړی تصوير تشريح کړي.

۵. شاګردانو ته ووايئ: اوس نو د کيسې پاتې برخه په ټيټ غږ ولولئ. [شاګردانو ته ۲ دقيقې وخت ورکړئ چې متن ولولي.]

٦. شاګردانو ته ووايئ: اوس به د کيسې پاتې برخه په ذهن کې مجسم کړئ. آفرين! سترګې مو پټې کړئ او څه مو چې ولوستل خپلو سترګو ته يې ودورئ. [يوه دقيقه وخت ورکړئ]

۷. شاګردانو ته ووايئ: اوس دې هر څوک خپل څنګلوري ټولګيوال/ ټولګيوالې ته ووايي چې څه يې په ذهن کې تېر شول؟ [۲ دقيقې وخت ورکړئ. يوه دقيقه چې تېره شوه، د شاګردانو نقش بدل کړئ. چا چې تر اوسه پورې خبرې کولې، هغه دې غوږ ونيسي او چا چې تر اوسه پورې غوږ نيولی و، هغه دې خبرې وکړي.]

۸. کيسه په لوړ غږ او مناسب لحن او تلفظ سره ولولئ او له شاګردانو څخه وغواړئ چې کله تاسې کيسه لولئ، هغوی دې پر لوستل شويو کلمو ګوتې تېرې کړي.

**ج. تر لوستلو وروسته (۳ دقيقې)**

۱ . له شاګردانو څخه پوښتنه وکړئ چې د دوی وړاندوينه څنګه وه. د چا اټکل سم وخوت او د چا ناسم.

۲.دوو شاګردانو ته وخت ورکړئ چې خپل نظر ووايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کورنۍ دنده:** تاسې په دې اړه خپله کیسه ولیکئ چې څنګه مو کومه ستونزه په آرام ذهن او په هوښیارۍ سره حل کړې ده.

**دوهم درسي ساعت**

**۱. پر ربښې او وروستاړي د کلمو وېشل (۱۰ دقیقې)**

۱. د چوکاټ لومړۍ کلمه پخپله پر برخو ووېشئ او معنا یې کړئ.

۲. پاتې کلمې په شاګردانو پر برخو ووېشئ. کله چې شاګردان کار کوي، تاسې په ټولګي کې وګرځئ او که چا مرستې ته اړتیا درلوده، ورسره مرسته وکړئ.

۳. له څلورو شاګردانو څخه وغواړئ چې یوه یوه کلمه تجزیه او معنا کړي.

| کلمه | د کلمې برخې | د کلمې معنا |
|---|---|---|
| پلټونکې | **پلټل ــ ـونکې** | **پلټل** = لټون، لټول **ـونکې** = فاعلي وروستاړی، ترسره کوونکې<br>**پلټونکې** = څوک چې څه شی لټوي او په څه شي پسې ګرځي. |
| زده‌کوونکې | **زده ــ کوونکې** | **زده** = یادول **کوونکې** = فاعلي وروستاړی، ترسره کوونکې<br>**زده‌کوونکې** = څوک چې څه شی زده کوي. |
| جوړوونکې | **جوړ ــ ـوونکې** | **جوړ** = ساز، رغول **وونکې** = فاعلي وروستاړی، ترسره کوونکې<br>**جوړوونکې** = څوک چې څه شی جوړوي/ رغوي. |
| لوستونکې | **لوست ــ ـونکې** | **لوست** = ویل، لوستل **ـونکې** = فاعلي وروستاړی، ترسره کوونکې<br>**لوستونکې** = څوک چې څه شی لولي. |
| لیکونکې | **لیک ــ ـونکې** | **لیک** = خط، لیکل **ـونکې** = فاعلي وروستاړی، ترسره کوونکې<br>**لیکونکې** = څوک چې څه شی لیکي. |

**۲. د کیسې نقشه (۲۰ دقیقې)**

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱. شاگردانو ته ووایئ چې د کتاب له مخې دې د کیسې چارټ په کتابچو کې رسم کړي.

۲. د لومړي فصل غوندې د کیسې پیل په شاگردانو ولولئ او ورته ووایئ چې د چارټ د پیل برخې د ډکولو لپاره دې له خپلو ځنګلوریو ټولګیوالو سره بحث وکړي.

۳. د کیسې منځ په شاگردانو ولولئ او ورته ووایئ چې د چارټ د منځ برخې د ډکولو لپاره دې له خپلو ځنګلوریو ټولګیوالو سره بحث وکړي.

۴. د کیسې پای په شاگردانو ولولئ او ورته ووایئ چې د چارټ د پای برخې د ډکولو لپاره دې له خپلو ځنګلوریو ټولګیوالو سره بحث وکړي.

۵. کله چې شاگردان فعالیت کوي، تاسې په ټولګي کې وګرځئ او که چا مرستې ته اړتیا لرله، ورسره مرسته وکړئ.

۶. دوه شاگردان تختې ته راوبولې چې د کیسې پیل، منځ او پای تشریح کړي.

لاندې ډک شوی چارټ به د شاگردانو د کار په ارزولو کې درسره مرسته وکړي.

| **پیل** | | **منځ (د کیسې ځوکه)** | **پای** | |
|---|---|---|---|---|
| کرکټرونه | بزګر، هلکان | د بزګر لور راځي او وايي چې ساعت به پیدا کړي. | حل او نتیجه | پلټونکې نجلۍ په هوښیارۍ او په آرام ذهن سره ساعت د ټک ټک له آواز څخه پیدا کوي. |
| ځای – زمان | ځای: کلی<br>وخت: ماښام ته نږدې وخت | | | |
| ستونزه | د بزګر ساعت په کاهدانه کې ورک دی. | | سبق/ پیغام | په آرام ذهن سره کارونه ښه کېږي. |

**۳. د کرکټر د اعمالو ارزونه (۵ دقیقې)**

۱. شاگردانو ته ووایئ: اوس به د کیسې د کرکټرونو اعمال یا کارونه وارزوو. له خپلو ځنګلوریو ټولګیوالو سره د هر کرکټر پر اعمالو خبرې وکړئ. چا څه وکړل؟ ولې یې وکړل؟ کار یې سم و که ناسم؟ ستاسو په نظر د چا کارونه منطقي وو؟

۲. شاگردانو ته درې دقیقې وخت ورکړئ چې بحث وکړي. بیا څو تنه راوبولئ چې د خپل بحث نتیجه شریکه کړي.

**دریم درسي ساعت**

**۱. خبرې اترې (۲۵ دقیقې)**

**مور یې ترسره کوو/ تاسې یې ترسره کوئ**

(c) ketabton.com: The Digital Library

[شاگردان په شپږ کسیزو ډلو کې تنظیم کړئ او د لاندې سناریو له مخې د مباحثې فعالیت ورباندې اجرا کړئ]

[شاگردان په شپږ کسیزو ډلو کې تنظیم کړئ]

معلم: نن به مو د بحث موضوع «پلټنه» وي. تاسو په کور کې واړه ورونه او وړې خویندې لرئ؟

[شاگردان: مختلف ځوابونه]

معلم: ډېر ښه. هغوی پوښتنې ډېرې کوي که کمې؟

شاگردان: ډېرې پوښتنې کوي.

معلم: همداسې ده. څه فکر کوئ چې ماشومان ولې ډېرې پوښتنې کوي؟

شاگردان: ځکه چې په ډېرو شیانو نه پوهېږي.

معلم: هو، ماشومان غواړي په هر څه پوه شي، ځکه خو پوښتنې ډېرې کوي.

معلم: ښه نو، د بحث یوه پوښتنه مو دا ده چې: «موږ پوښتنه ولې کوو؟» [پوښتنه پر تختې ولیکئ]

[شاگردان به پنځه دقیقې خبرې کوي.]

[کله چې شاگران خبرې اترې کوي، تاسې په ټولگي کې وگرځئ او ویې هڅوئ]

معلم: اوس به د هرې ډلې استازی د خپلو ملگرو د خبرو خلاصه ووایي.

[د دریو نویو ډلو استازي راوبولئ. کله چې دوی خبرې کوي، ورته ځیر شئ. مثبت ټکي یې وستایئ.]

معلم: د پوښتنې په اړه یوه ټوکه به ووایم.

[وایي سلیم خپل ملگري کلیم ته ټیلفون وکړ، پوښتنه یې وکړه: څه شی کوې؟

هغه وویل: کله؟

سیلم وویل: همدا شېبه.

کلیم وویل: له تا سره په ټیلفون خبرې کوم.

سلیم وویل: نه، غیر له دې؟

کلیم وویل: امممممم. ساه اخلم.

سلیم وویل: ساه خو هر څوک اخلي، مطلب مې دا دی چې څه شی کوې؟

کلیم وویل: فکر کوم.

سلیم وویل: ته ولې نه پوهېږې؟ پوښتنه کوم چې همدا اوس څه شی کوې؟

کلیم په خندا وویل: تا سره خبرې کوم.]

معلم: ښه نو، تاسې څه فکر کوئ چې د سلیم مطلب به څه و؟

شاگردان: مطلب به یې دا و چې کلیم هغه وخت په کوم کار لیگا و چې سلیم ورته زنگ وواهه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

معلم: ډېر ښه. نو بله پوښتنه دا ده چې: «خپله پوښتنه څنګه باید وکړو؟»

[پوښتنه پر تختې وليکئ]

[شاګردانو ته پنځه دقيقې وخت ورکړئ چې خبرې اترې وکړي.]

[کله چې شاګران خبرې اترې کوي، تاسې په ټولګي کې وګرځئ او شاګردان وڅارئ.]

معلم: اوس به د هرې ډلې استازی د خپلې ډلې نظرونه راته ووايي.

[د درېو نورو ډلو استازي خبرو ته راوبولئ. مثبت ټکي يې وستايئ.]

معلم: وايي يو سړی ګل‌ولي نومېده. چې څوک به نه وو، هغه به د نورو په پټي کې ودرېد، وبه يې ويل: دا سړی دی ګل ولي، نه يې پوله، نه پټي. نو د دې پټي نه دې لږ روميان يوسي که نه؟ بيا به يې پخپله ځواب ورکړ چې: ولې نه، يو دې يې سي. بيا به يې څه روميان وشکول او په څادر کې به يې واچول، کور ته به يې يووړل.

معلم: نو، وروستۍ پوښتنه: «له ځان ځخه پوښتنه کولی شو؟ څنګه؟»

[شاګردانو ته ۵ دقيقې وخت ورکړئ چې بحث وکړي.]

[کله چې شاګران خبرې اترې کوي، تاسې په ټولګي کې وګرځئ او وګورئ چې ټول شاګردان په بحث کې فعاله ونډه واخلي.]

معلم: اوس به د دريو نورو ډلو استازي ووايي چې څه يې سره ويلي دي.

[د درېو نويو ډلو استازي وغږوئ. د هغوی خبرې چې خلاصې شوې، ويې هڅوئ.]

معلم: څوک به د ټولو خبرو خلاصه او نتيجه ووايئ؟

[شاګردان لاسونه جګوي. يو تن په کې انتخاب کړئ او د تختې سر ته يې دروغواړئ.]

معلم: آفرين! د ټول بحث خلاصه څه ده؟

[شاګرد د بحث نتيجه وايي. که کوم ټکی ورنه پاتې و، هغه تاسې وریاد کړئ]

**۲. ګرامر (د ذات او معنا نومونه) (۱۰ دقيقې)**

شاګردانو ته ووايئ: د کتاب په ــــ مخ کې جدول ته وګورئ. په جدول کې ځينې کلمې ليکل شوې دي چې يا به د ذات نومونه وي، يا د معنا. هغه شيان چې زموږ په شاوخوا کې شته او ماده بلل کېږي، نومونه يې د ذات نومونه دي. هغه شيان چې په طبيعت کې نشته او يوازې زموږ په ذهن کې معنا لري، نوم يې د معنا نوم دی. تاسې به د چوکاټ نومونه لولئ او له خپلو څنګلوريو ټولګيوالو سره به خبرې کوئ چې کومه کلمه د ذات نوم دی، کومه د معنا. بيا به په خپلو کتابچو کې د ذات نومونه جلا او د معنا نومونه جلا وليکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| چوپتيا | ځمکه | بدنی | ستوماني | ساعت | غوسه |
| کاهدانه | ګومان | بزګر | شېبه | وخت | هلک |
| حوصله | تياره | شيطاني | اودس | ستړيا | نجلۍ |

**۳. ګرامر (د (،) او (.) کارول) (۵ دقيقې)**

۱. شاګردانو ته ووايئ: د کتاب په ـــــ مخ کې جملو ته وګورئ.

۲. لومړۍ جمله يې پر تختې وليکئ او په تېر مطلق او تېر جاري مهال يې واوړئ.

۳. شاګردانو ته ووايئ: اوس به تاسې پاتې جملې په خپلو کتابچو کې وليکئ. د خپلو څنګلوريو ټولګيوالو سره بحث وکړئ او د هرې جملې مطلق او جاري تېر مهال پيدا او ويې ليکئ.

۴. کله چې شاګردان فعاليت ترسره کوي، تاسې جملې پر تختې وليکئ. د دوی فعاليت چې تمام شو، له ځو تنو شاګردانو څخه وغواړئ چې تختې ته راشي او يوه يوه جمله تېر مطلق او تېر جاري مهال ته واړوي.

| اوس مهال | مطلق تېر مهال | جاري تېر مهال |
|---|---|---|
| لمر لوېږي. | لمر ولوېد. | لمر لوېده. |
| بزګر غوسه دی. | بزګر غوسه شو. | بزګر غوسه کېده. |
| شيطان ته لاحول وايي. | شيطان ته يې لاحول وويل. | شيطان ته يې لاحول ويل. |
| ما پلټونکې نجلۍ بولي. | زه يې پلټونکې نجلۍ وبللم. | زه يې پلټونکې نجلۍ بللم. |
| په پوره چوپتيا غوږ نيسم. | په پوره چوپتيا مې غوږ ونيو. | په پوره چوپتيا مې غوږ نيوه. |

**څلورم درسي ساعت**

**۱. املا (۵ دقيقې)**

(c) ketabton.com: The Digital Library

شاګردانو ته ووایئ: اوس به خپلې کتابچې خلاصې کړئ او ځینې کلمې به ولیکئ. د دې لپاره چې د کلمو لیکل راته آسانه شي، کلمې پر برخو وېشو. مثلاً «شیطاني» دوې برخې لري «شیطانــ» او «ــي». [نورې کلمې دي: ستوماني، ایماني، افغاني، مسلماني]

**۲. د استنباطي پوښتنو د ځوابونو لیکل (۱۰ دقیقې)**

۱. شاګردانو ته ووایئ: د کتاب په ـــــــ مخ کې د کیسې په اړه څو استنباطي پوښتنې راغلي دي. تاسې به د هرې پوښتنې په اړه له خپلو څنګلوریو ټولګیوالو سره بحث وکړئ او ځواب به یې پیدا او بیا ولیکئ.

۲. لومړۍ پوښتنه په یوه شاګرد ولولئ.

۳. دوه دقیقې وخت ورکړئ چې شاګردان بحث وکړي او تاسې په ټولګي کې وګرځئ. وخت چې پوره شو، دوه شاګردان راوبولئ چې خپل ځواب ووایي.

۴. عین فعالیت د دوهمې او دریمې پوښتنې لپاره هم ترسره کړئ.

۵. شاګردانو ته ووایئ: اوس نو د هرې پوښتنې ځواب په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

**۳. د کرکټرونو د اعمالو لیکنۍ ارزونه (۱۰ دقیقې)**

معلم: د دې اونۍ په دوهم درسي ساعت کې مو د کرکټرونه کارونه ورازول او ومو ویل چې د هغوی کارونه منطقي او سم و که نه. نن به د کرکټرونو په اړه خپله ارزونه ولیکئ. ستاسو د کتاب په ــــ مخ کې دوې پوښتنې دي. تاسې به د هرې پوښتنې په اړه له خپلو څنګلوریو ټولګیوالو سره بحث وکړئ او ځواب به یې پیدا او بیا ولیکئ.

۲. لومړۍ پوښتنه په یوه شاګرد ولولئ.

۳. دوه دقیقې وخت ورکړئ چې شاګردان بحث وکړي او تاسې په ټولګي کې وګرځئ. وخت چې پوره شو، دوه شاګردان راوبولئ چې خپل ځواب ووایي.

۴. عین فعالیت د دوهمې پوښتنې لپاره هم ترسره کړئ.

۵. شاګردانو ته ووایئ: ډېر ښه. اوس نو خپل ځوابونه په کتابچو کې مو ولیکئ.

[شاګردانو ته ۵ دقیقې وخت ورکړئ چې ځوابونه ولیکي. تاسې په ټولګي کې وګرځئ. که چا مرستې ته اړتیا درلوده، ورسره مرسته وکړئ. که ډېر شاګردان د کومې خاصې کلمې په لیکلو کې ستونزه ولري، نوټ یې کړئ او بیا یې پر تختې ولیکئ.]

**۴. د کیسې په اړه خپل نظر لیکل (۱۰ دقیقې)**

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱. شاگردانو ته ووايئ: اوس به د کيسې په اړه خپل نظر وليکئ. پر دې باندې فکر وکړئ چې کيسه څنګه وه؟ خوښه مو شوه که نه؟ د کيسې کومه برخه مو خوښه شوه او ولې مو خوښه شوه؟ له دې کيسې مو څه زده کړل؟ له خپلو څنګلوريو ټولګيوالو سره بحث وکړئ او په وار سره د کيسې په اړه خپل نظر ورته ووايئ.

[شاګردانو ته ۴ دقيقې وخت ورکړئ چې بحث وکړي. تاسې په ټولګي کې وګرځئ او شاګردان وڅارئ]

۲. شاګردانو ته ووايئ: اوس به په خپلو کتابچو کې د «څلورم حکيم» کيسې په اړه خپل نظرونه وليکئ.

[شاګردانو ته ۵ دقيقې وخت ورکړئ چې خپل نظرونه وليکي. تاسې په ټولګي کې وګرځئ. که چا مرستې ته اړتيا درلوده، ورسره مرسته وکړئ. که ډېر شاګردان د کومې خاصې کلمې يا عبارت په ليکلو کې ستونزه ولري، نوټ يې کړئ او بيا يې پر تختې وليکئ. که وخت پاتې و، په آخر کې يو يا دوه شاګردان راوبولئ چې خپله ليکنه ولولي.]

(c) ketabton.com: The Digital Library

## فصل ۴ اونۍ ۱

د فصل پر موضوع، ژانر، سترو مفکورو او اساسي پوښتنو له شاګردانو سره بحث وکړئ.

## درسي ساعت ۱

**۱. سلام، روغبړ، د ټولګي تنظیمول (۳ دقیقې)**

**۲. هجا (۳ دقیقې)**

د تېرو اونیو په شان، له شاګردانو څخه وغواړئ چې د درس په پیل کې په چوکاټ کې راغلې کلمې څپه په څپه ولولي.

**۳. د نویو لغاتو فعالیتونه (۱۰ دقیقې)**

د درس نوې کلمې له شاګردانو سره یو ځای معنا کړئ. د هرې کلمې لپاره لاندې فعالیتونه ترسره کړئ:

۱. هغه جمله چې دا کلمه په کې راغلې وي، ولولئ.

۲. کلمه پر تختې ولیکئ او په شاګردانو یې درې ځله ولولئ.

۳. د کلمې معنا د شاګردانو په سویه، په واضحو او آسانو کلمو بیان کړئ.

۴. له شاګردانو څخه وغواړئ چې هره کلمه په جمله کې وکاروي.

د دې درس کلمې دي: [**ټولنیز ژوند** = په ټولنه کې یعنې په کورنۍ، قبیله، کلي، ښار کې له نورو سره ګډ ژوند؛ **شامپانزي** = د بیزوګانو د ذات یو ډول چې په کړو وړو کې انسان ته نژدې دي؛ **شاهي نظام** = هغه دولت چې په سر کې یې پاچا وي او واکمني په کې میراثي وي؛ **داړه** = د سپیو، شغالانو، او لېوانو ډله.]

**۴. لوستل (۲۰ دقیقې)**

**الف: تر لوستلو مخکې (۱۰ دقیقې)**

**زه یې ترسره کوم/ موږ یې ترسره کوو**

معلم: ستاسو په کتابونو کې تر درسي متن وړاندې شپږ جملې راغلي دي. دا جملې به لولئ او وایئ به چې سمې دي که ناسمې. بیا متن لولئ او ګورئ چې ستاسو خبره سمه وه که نه. دا فعالیت معلوموي چې د متن تر لوستلو مخکې د دې موضوع په اړه څومره پوهېږئ. نو کله چې متن ولولئ پوه به شئ چې څومره شیان مو زده وو او څومره مو نوي زده کړل.

معلم: [دا جمله پر تختې ولیکئ] (**ژوي له یو بل سره مینه او خواخوږي کوي.**)

معلم: دا جمله درته څنګه ښکاري؟

شاګردان: دا سمه ده ځکه چې موږ سپي لیدلي دي چې خپل کوترې نازوي.

[پر تختې د دې جملې مخې ته (ص) ولیکئ]

(c) ketabton.com: The Digital Library

معلم: اوس د متن لومړی پراګراف لولو چې ستاسو خبره سمه ده که نه: «**ځینې خلک ګومان کوي چې یوازې انسانان ټولنیز ژوند لري، خو ځینې ژوي هم د انسانانو غوندې کورنۍ لري. انسانان په کورنیو کې ژوند کوي چې د یو بل خیال وساتي، د خپلو بچیو روزنه او پالنه وکړي، او له یو بل سره مینه وکړي. شامپانزي‌ګانې چې د یو بل بدن ګروي، یوازې د صفا کولو لپاره نه وي، بلکې یو بل ته مینه هم ورکوي. همدارنګه زمرۍ یو بل په څټلو نازوي او زمري خپل سرونه سره موښي. په ۲۰۱۳ کال کې خلکو پنځه ډولفینان ولیدل چې لکه جاله سره جوخت روان وو. دوی پر خپل سر باندې یو بل زخمي ډولفین نیولی و چې ډوب نه شي.**» نو ستاسو خبره سمه وختله.

**تاسو یې ترسره کوئ**

معلم: اوس به پاتې جملې په خپلو کتابچو کې ولیکئ. د سمو جملو مخې ته «ص» او د غلطو جملو مخې ته د «غ» توری ولیکئ. بیا به متن ولولئ او درته معلومه به شي چې د ونو او بوټو په اړه څومره پوهېدلئ.

**ب. د لوستلو په بهیر کې (۱۰ دقیقې)**

معلم: اوس به تاسې د کتاب متن تر پایه پورې په ټیټ غږ ولولئ. د هر پراګراف تر لوستلو وروسته، یو ځل د هماغه پراګراف په اړه د وړاندوینې جمله وګورئ. که مو وړاندوینه ناسمه ختلې وي، مخې ته یې چلیپا وکاږئ او که ستاسو خبره سمه ختلې وي، د جملې مخې ته دغه نښه ( ✓ ) وکاږئ.

**کورنۍ دنده:** په خپل چم ګاونډ کې د میږیو، مچیو، مرغیو، چرګانو، مرغانو یا نورو ژوو ژوند ته ځیر شئ. وګورئ چې دوی ډله‌ییز او ټولنیز ژوند لري، که جلا جلا اوسېږي. بیا د دوو یا دریو ژوو د ژوندانه توپیرونه او ورته‌والي پیدا کړئ او په کتابچو کې یې ولیکئ.

**دوهم درسي ساعت**

**۱. پر رېښې او وروستاړي د کلمو وېشل (۱۰ دقیقې)**

د تېرو اونیو په شان، لاندې کلمې له شاګردانو سره په ګډه پر برخو (رېښې او وروستاي) ووېشئ او معنا یې کړئ.


| کلمه | د کلمې برخې | د کلمې معنا |
|---|---|---|
| ټولنیز | **ټولنـ ــ یز** | **ټولنه** = اجتماع، ډله، سره یو ځای اوسېدونکي کسان **یز** = صفتي وروستاړی<br>**ټولنیز** = څه چې د ټولنې او ډلې په بڼه وي، یا په ټولنې پورې تړلی وي. |
| ډله‌ییز | **ډله ــ ییز** | **ډله** = څو کسان چې سره یو ځای وي **ییز** = صفتي وروستاړی<br>**ډله‌ییز** = څه چې د ډلې په بڼه وي، په ډلې پورې تړلی. |
| وسپنیز | **وسپن ــ یز** | **وسپنه** = هغه کلک توربخون شی چې تبر، څټک، یوم، ګاډر، سیخان او نور شیان ورنه جوړېږي. **یز** = صفتي وروستاړی |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| | | **وسپنیز** = څه چې د وسپنې غوندې کلک وي، له وسپنې څخه جوړ. |
| غړیز | **غړ ــ یز** | **غړ** = آواز **یز** = صفتي وروستاړی<br>**غړیز** = څه چې غړ ولري، په غړ پورې تړلی. |
| لنډیز | **لنډ ــ یز** | **لنډ** = څه چې په اوږدو کې کم وي **یز** = صفتي وروستاړی<br>**لنډیز** = څه چې لنډ شوي وي، خلاصه، په لنډو ټکو د یو څه لیکل یا ویل |

**۲. د مقایسې ډیاګرام (۲۰ دقیقې)**

محترمو ښوونکو! لاندې ډیاګرام پر تختې رسم کړئ او لکه څنګه چې دلته یې وینئ او لاندې یې تشریح لولئ، هره برخه یې په ترتیب سره ډکه کړئ.




**زه یې ترسره کوم/ موږ یې ترسره کوو**

ډیاګرام پر تختې رسم کړئ او شاګردان په دریو ډلو ووېشئ. یوه ډله دې له خپلو څنګلوریو ټولګیوالو سره د فیل او انسان ټولنیز ژوند سره پرتله کړه، د بلې ټولې شاګردان دې د نهنګانو او لېوانو او د دریمې ډلې شاګردان دې د شامپانزي‌ګانو او انسانانو ټولنیز ژوند سره پرتله کړي. بیا د هرې ډلې یو یو کس راوبولئ چې پر تختې د مقایسه کړیو ژوو ورته والي او توپیرونه په ډیاګرام کې ولیکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا شاگردانو ته ووایئ: اوس نو تاسې ډیاگرام په خپلو کتابچو کې رسم کړئ. بیا د متن پاتې پراگرافونه یو په یو له خپلو څنگلوریو ټولگیوالو سره ولولئ او د د ونو او بوټو ورته‌والي د ډیاگرام په منځنۍ او توپیرونه یې د دایرو په آزادو برخو کې ولیکئ.

[کله چې شاگردان فعالیت ترسره کوي، تاسې په ټولگي کې وگرځئ او که چا مرستې ته اړتیا لرله، ورسره مرسته وکړئ]

**۳. د متن شفاهي ارزونه (۵ دقیقې)**

۱. شاگردانو ته ووایئ: اوس به دا متن په دې لحاظ وارزوې چې پوهېدل پرې سخته وو، که آسانه؟ معلومات یې په زړه پورې وو که زړه مو ورسره تنگ شو؟ لیکوال د خپلې دعوې لپاره دلیل او ثبوت راوړی و که نه؟ ښه نو، لومړی پوښتنه دا ده چې د متن کومې کلمې درته سختې یا نا آشنا وې؟

[شاگردانو ته یوه دقیقه وخت ورکړئ چې بحث وکړي. بیا څو تنه راوبولئ چې د خپل بحث نتیجه شریکه کړي.]

۲. شاگردانو ته ووایئ: بله پوښتنه دا ده چې معلومات یې ستاسو په نظر څنگه وو، په زړه پورې وو که زړه مو ورسره تنگ شو؟ یوه دقیقه له خپلو څنگلوریو ټولگیوالو سره په دې اړه خبرې وکړئ.

[شاگردانو ته یوه دقیقه وخت ورکړئ چې بحث وکړي. بیا څو تنه راوبولئ چې د خپل بحث نتیجه شریکه کړي.]

۳. شاگردانو ته ووایئ: او وروستۍ پوښتنه «په متن کې کومه دعوا شوې وه او د اثبات لپاره یې کوم دلیل یا ثبوت وړاندې شوی و؟

[شاگردانو ته دوه دقیقې وخت ورکړئ چې بحث وکړي او بیا دوو تنو ته وغواړئ چې خپل نظر شریک کړي. کله چې شاگردان بحث کوي، تاسې په ټولگي کې وگرځئ.]

**کورنۍ دنده:** د انسانانو کورنۍ د کوترو له سېل سره مقایسه کړئ. بیا د مقایسې ډیاگرام په خپلو کتابچو کې رسم کړئ. په یاد مو وي چې د دواړو ورته شیان د دایرو په ټېره ښېره برخه کې او توپیرونه یې د دایرو په آزادو برخو کې ولیکئ.

**دریم درسي ساعت**

**۱. خبرې اترې (۲۵ دقیقې)**

**موږ یې ترسره کوو/ تاسې یې ترسره کوئ**

[شاگردان په شپږ کسیزو ډلو کې تنظیم کړئ]

معلم: نن به مو د بحث موضوع «ټولنیز ژوند» وي. تاسو به ډېر ژوي او مرغان لیدلي وي. دوی څنگه اوسېږي؟ په ټولنه کې په گډه، که هر یو بېل بېل؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

شاګردان: مرغان معمولاً جوړه جوړه وي، پیشوګانې او سپي جلا جلا اوسېږي ...

معلم: آفرین! او انسانان څنګه؟

شاګردان: انسانان یو ځای سره اوسېږي. انسان کورنۍ لري، کلي لري، ښارونه لري.

معلم: ډېر ښه. همدې ته ټولنیز ژوند وایي. ښه نو، لومړۍ پوښتنه دا ده چې: « انسانان ولې په ټولنو کې ژوند کوي؟»

[پوښتنه پر تختې ولیکئ]

[شاګردان به پنځه دقیقې خبرې کوي.]

[کله چې شاګران خبرې اترې کوي، تاسې په ټولګي کې وګرځئ او وګورئ چې ټول په بحث کې برخه اخلي، که نه.]

معلم: اوس به د هرې ډلې استازی د خپلو ملګرو د خبرو لنډیز ووایي.

[د دریو نویو ډلو استازي راوبولئ. کله چې دوی خبرې کوي، ورته ځیر شئ. مثبت ټکي یې وستایئ.]

معلم: بله خبره دا ده چې که فرضاً یو څوک په ځنګله کې یوازې سر اوسېږي، نه کورنۍ لري، نه خپلوان، نه ملګري، نه دوستان. نو د هغه ژوند به څنګه وي؟

[پوښتنه پر تختې ولیکئ]

[شاګردانو ته پنځه دقیقې وخت ورکړئ چې خبرې اترې وکړي.]

[کله چې شاګران خبرې اترې کوي، تاسې په ټولګي کې وګرځئ او شاګردان وڅارئ.]

معلم: اوس به د هرې ډلې استازی د خپلې ډلې نظرونه راته ووایي.

[د دریو نورو ډلو استازي خبرو ته راوبولئ. مثبت ټکي یې وستایئ.]

معلم: اوس به د همدغه انسان ژوند چې په ځنګل کې یوازې سر اوسېږي، د هغو انسانانو له ژوند سره مقایسه کړو چې په ټولنه کې ژوند کوي، کورنۍ، کور، کلی، خپلوان او دوستان لري.

[شاګردانو ته ۵ دقیقې وخت ورکړئ چې بحث وکړي.]

[کله چې شاګران خبرې اترې کوي، تاسې په ټولګي کې وګرځئ او وګورئ چې ټول شاګردان په بحث کې فعاله ونډه واخلي.]

معلم: اوس به د دریو نورو ډلو استازي ووایي چې څه یې سره ویلي دي.

[د دریو نویو ډلو استازي وغږوئ. د هغوی خبرې چې خلاصې شوې، ویې هڅوئ.]

معلم: اوس ستاسو وار دی چې د ټولو خبرو خلاصه او نتیجه ووایئ. څوک به دا کار وکړي؟

[شاګردان لاسونه جګوي. یو تن په کې انتخاب کړئ او د تختې سر ته یې دروغواړئ.]

معلم: دا دی، سپوږمۍ به د بحث خلاصه راته ووایي. سپوږمۍ جانې! ستا ټولګیوالو دې پوښتنې ته کوم ځوابونه ورکړل چې « انسانان ولې په ټولنو کې ژوند کوي؟»

(c) ketabton.com: The Digital Library

[شاګرد د بحث نتيجه وايي. که کوم ټکی ورنه پاتې و، هغه تاسې وریاد کړئ]

معلم: آفرين! ښه نو بله پوښتنه د هغه کس په اړه وه چې په ځنګله کې يوازې سر اوسېږي او موږ او تاسو څه وويل؟

[شاګرد د ټولګيوالو د خبرو خلاصه وايي.]

معلم: ډېر عالي! او دريمه پوښتنه څه وه؟

شاګرد: د هغه ځنګلي انسان او د هغو کسانو د ژوند مقايسه چې په ټولنه کې اوسېږي.

معلم: آفرين! او زموږ د خبرو نتيجه؟

[شاګرد د ټولګيوالو د خبرو خلاصه وايي.]

### ۲. ګرامر (د ليکنښو کارول) (۱۰ دقيقې)

۱. شاګردانو ته ووايئ: د کتاب په ـــــ مخ کې په پنځو کتارونو کې نومونه ليکل شوي دي او د هر کتار په آخر کې يو صنف په ليندیو کې راغلی دی. تاسې به د مثال په شان د هر نوم لپاره د ورکړل شوي صفت مناسبه بڼه ليکئ.

| | | | |
|---|---|---|---|
| زمری ............... | زمري ............... | زمرۍ ............... | کرښې ............... (سور) |
| نهنګ ............... | نهنګان ............... | پاڼه ............... | پاڼې ............... (شين) |
| خټکی ............... | خټکي ............... | هندوانه ............... | هندوانې ............... (اوم) |
| انار ............... | انارونه ............... | مالټه ............... | مالټې ............... (خوږ) |
| ناک ............... | توتان ............... | مڼه ............... | مڼې ............... (پوخ) |

۲. کار شوی مثال له شاګردانو سره يو ځل ولولئ او ورته تشريح يې کړئ چې ولې «سور زمری» وايو او «سره زمرۍ».

۳. شاګردانو ته ووايئ: اوس به تاسې له خپلو ځنګلوريو ټولګيوالو سره بحث وکړئ او د پاتې جملو تش ځايونه په مناسبو کلمو سره ډک کړي.

کله چې شاګردان کار کوي، تاسې په ټولګي کې وګرځئ او که چا مرستې ته اړتيا لرله، ورسره مرسته وکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کورنۍ دنده:** د مقایسې ډیاګرام په خپلو کتابچو کې رسم کړئ او بیا د متن د معلوماتو له مخې د فیلانو او شامپانزي ګانو ژوند سره مقایسه کړئ. په یاد مو وي چې د دواړو ورته ځانګړنې د دایرو په تېره برخه کې او توپیرونه یې د دایرو په آزادو برخو کې ولیکئ.

**څلورم درسي ساعت**

**۱. املا (۵ دقیقې)**

معلم: ګرانو شاګردانو! اوس به خپلې کتابچې خلاصې کړئ او ځینې کلمې به ولیکئ. د دې لپاره چې د کلمو لیکل راته آسانه شي، کلمې پر برخو وېشو. مثلاً «ټولګی» دوې برخې لري «ټول» او «ګی».

معلم: به زه کلمې درته ووایم او تاسې به یې په خپلو کتابچو پر برخو ووېشئ او بیا به یې یو ځای ولیکئ. [دغه کلمې شاګردانو ته ووایئ «ټولنه = ټول + نه، ټولنیز = ټولنه + یز، ټولې = ټول + ی، ټولنپوه = ټولنه + پوه». په ټولګي کې وګرځئ او شاګردن وڅارئ. که چا مرستې ته اړتیا درلوده، ورسره مرسته وکړئ.]

**۲. د استنباطي پوښتنو د ځوابونو لیکل (۱۰ دقیقې)**

معلم: د کتاب په ــــــــ مخ کې د کیسې په اړه څو استنباطي پوښتنې راغلي دي. لومړۍ پوښتنه به څوک ولولي؟

[شاګردان ګوتې جګوي. یو تن ته ووایئ چې لومړۍ پوښتنه ولولي.]

شاګرد پوښتنه لولي: **۱ .فیلان او شامپانزي ګانې ولې د خپلې ډلې لپاره مشر/ مشره لري؟**

معلم: اوس نو له څنګلوریو ټولګیوالو سره مو بحث وکړئ او د پوښتنې ځواب پیدا کړئ. بیا د دې پوښتنې ځواب په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

[کله چې د شاګردانو بحث تمام شو، له دوو تنو وغواړئ چې خپل ځواب له نورو سره شریک کړي. کله چې شاګردان ځواب لیکي، تاسې په ټولګي کې وګرځئ او که چا مرستې ته اړتیا لرله، ورسره مرسته وکړئ.]

دا فعالیت د دوو نورو پوښتنو لپاره هم ترسره کړئ. پاتې پوښتنې دا دي:

**۲ .نهنګان له څو ساعته جلا سفر څخه وروسته، څنګه خپله کورنۍ بېرته پیدا کوي؟**

**۳. د زمریانو نر بچي چې ۲ -۳ کلن شي او له ګلې څخه وځي، بیا چېرته ځي؟**

**۳. د متن ارزونه (۱۰ دقیقې)**

معلم: ستاسو د کتاب په ــــــ مخ کې دوې پوښتنې دي. لومړۍ پوښتنه به څوک ولولي؟ [شاګردان لاسونه جګوي او یو تن ته د پوښتنې د لوستلو اجازه ورکړئ]

(c) ketabton.com: The Digital Library

شاگرد پوښتنه لولي: ۱. د متن جملې د وضاحت په لحاظ څنګه وې؟

معلم: مننه! اوس نو د دې پوښتنې په اړه لـه خپلـو څنګلوریـو ټولګیوالـو سره بحث وکـړئ. پـر دې وغږېـږئ چـې د مـتن جملې واضحې وې او پوهېدل ورباندې آسانه وو، که نه.

[شاګردان دې دوه دقیقې بحث وکړي او تاسې په ټولګي کې وګرځئ. وروسته له دوو شاګردانو څخه وغـواړئ چـې خپـل نظر شریک کړي.]

همدا فعالیت د دوهمې پوښتنې لپاره هم ترسره کړئ.

۲. د متن کومې جملې روانې لوستل کېدې او د کومو جملو لوستل ګران وو؟

[شاګردانو ته ۵ دقیقې وخت ورکړئ چې ځوابونه په خپلو کتـابچو کـې ولیکـي. تاسـې پـه ټـولګي کـې وګرځـئ. کـه چـا مرستې ته اړتیا درلوده، ورسره مرسته وکړئ. که ډېر شاګردان د کومې خاصې کلمې په لیکلو کې ستونزه ولري، نـوټ یـې کړئ او بیا یې پر تختې ولیکئ.]

**۴. د متن په اړه خپل نظر لیکل (۱۰ دقیقې)**

معلم: اوس به د متن په اړه خپل نظر ولیکئ. پر دې باندې فکر وکړئ چې متن څنګـه و؟ خـوښ مـو شـو کـه نـه؟ د مـتن کومه برخه مو خوښه شوه او ولې مو خوښه شوه؟ له دې متن څخه مـو څـه زده کـړل؟ لـه خپلـو څنګلوریـو ټولګیوالـو سره بحث وکړئ او په وار سره د کیسې په اړه خپل نظر ورته ووایئ.

[شاګردانو ته ۴ دقیقې وخت ورکړئ چې بحث وکړي. تاسې په ټولګي کې وګرځئ او شاګردان وڅارئ]

معلم: اوس به په خپلو کتابچو کې د «هلمند او نورستان» متن په اړه خپل نظرونه ولیکئ.

[شاګردانو ته ۵ دقیقې وخت ورکړئ چې خپل نظرونه ولیکـي. تاسـې پـه ټـولګي کـې وګرځـئ. کـه چـا مرسـتې تـه اړتیـا درلوده، ورسره مرسته وکړئ. که ډېر شاګردان د کومې خاصې کلمې په لیکلو کې ستونزه ولري، نوټ یې کـړئ او بیـا یـې پر تختې ولیکئ. که وخت پاتې و، په آخر کې یو یا دوه شاګردان راوبولئ چې خپله لیکنه ولولي.]

**کورنۍ دنده:**

شاګردانو ته ووایئ: د خپلې کورنۍ په باره کې څو جملې ولیکئ. دا ولیکئ چې په کورنۍ کـې مـو څـوک څـوک دي، پـه کورنۍ کې اوسېدل ولې درته مهم دي، که خدای مه کړه له خپلې کورنۍ څخه لرې شئ، څه به وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## فصل ۴ اونۍ ۲

## درسي ساعت ۱

**۱. سلام، روغبړ، د ټولګي تنظيمول (۳ دقيقې)**

**۲. هجا (۳ دقيقې)**

د تېرو اونيو په شان، له شاګردانو څخه وغواړئ چې د درس په پيل کې په چوکاټ کې راغلې کلمې څپه په څپه ولولي.

**۳. د نويو لغاتو فعاليتونه (۱۰ دقيقې)**

د درس نوې کلمې له شاګردانو سره يو ځای معنا کړئ. د هرې کلمې لپاره لاندې فعاليتونه ترسره کړئ:

۱. هغه جمله چې دا کلمه په کې راغلې وي، ولولئ.

۲. کلمه پر تختې وليکئ او په شاګردانو يې درې ځله ولولئ.

۳. د کلمې معنا د شاګردانو په سويه، په واضحو او آسانو کلمو بيان کړئ.

۴. له شاګردانو څخه وغواړئ چې هره کلمه په جمله کې وکاروي.

د دې درس کلمې دي: [**بانډار** = مجلس، د ملګرو او دوستانو خبرې اترې او ګپ شپ؛ **مقاومت** = ستونزو ته ټينګېدل، د ستونزو مخه کول، د ستونزو په وړاندې درېدل؛ **معمولي** = عادي، هغه څه چې خاص نه وي او هر وخت کېږي؛ **جهيل** = د اوبو ډېر لوی ډنډ، د اوبو داسې لوی ډنډ چې چارچاپېره يې وچه وي.]

**۴. لوستل (۲۰ دقيقې)**

**الف: تر لوستلو مخکې (۱۰ دقيقې)**

**زه يې ترسره کوم/ موږ يې ترسره کوو**

شاګردانو ته ووايئ: ستاسو په کتابونو کې تر درسي متن وړاندې شپږ جملې راغلي دي. دا جملې ولولئ او فکر وکړئ چې سمې دي که ناسمې. که فکر کوئ چې د جملې خبره سمه ده، مخې ته يې (ص) وليکئ او که فکر کوئ چې غلطه ده، مخې ته يې (غ) وليکئ. بيا د کتاب متن لولئ او ګورئ چې ستاسو خبره سمه وه که نه. دا فعاليت معلوموي چې د متن تر لوستلو مخکې د دې موضوع په اړه څومره پوهېږئ. نو کله چې متن ولولئ پوه به شئ چې څومره شيان مو زده وو او څومره مو نوي زده کړل.

دا جمله پر تختې وليکئ: **مېلمه او چکر يوازې د ساعت تېرۍ لپاره دي او بله ګټه نه لري.**

له شاګردانو څخه پوښتنه وکړئ چې دا جمله سمه بولي که غلطه. بيا د هغوی د اکثرو نظر وګورئ، که ډېرو شاګردانو جمله سمه وبلله، مخې ته يې (ص) وليکئ او که ډېرو غلطه وبلل، د جملې مخې ته (غ) وليکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا د متن لومړی پراګراف پر یوه شاګرد ولولئ: « **مېله او چکر د انسان ذهن او بدن دواړو ته ګټه لري. په مېله او چکر کې د انسان پام غلطېږي، ذهن یې آرامېږي او ستوماني یې لرې کېږي. همدارنګه په مېله کې خلک ډېر ګرځي راګرځي، لوبې کوي، او نور فیزیکي فعالیتونه کوي چې د ورزش غوندې بدن ته ګټه لري. په مېلو او چکرونو کې ټوکې ټکالې، بانډار او ګپ شپ وي چې دا د انسان زړه خوشحالوي. فیزیکي فعالیت، خندا او خوشحالي د ناروغیو په وړاندې د بدن مقاومت زیاتوي. همدارنګه د مېله ځایونو تازه هوا سږو، زړه، مغزو او د بدن نورو برخو ته ګټوره ده.**»

له شاګردانو سره بحث وکړئ چې د دوی اټکل سم نه که ناسم.

**تاسو یې ترسره کوئ**

شاګردانو ته ووایئ: اوس به پاتې جملې په خپلو کتابچو کې ولیکئ. د سمو جملو مخې ته «ص» او د غلطو جملو مخې ته د «غ» توری ولیکئ. بیا به متن ولولئ او وګورئ چې اټکل مو سم و، که نه.

**ب. د لوستلو په بهیر کې (۱۰ دقیقې)**

شاګردانو ته ووایئ: اوس به تاسې د کتاب متن تر پایه پورې په ټیټ غږ ولولئ. د هر پراګراف تر لوستلو وروسته، یو ځل د هماغه پراګراف په اړه د وړاندوینې جمله وګورئ. که مو وړاندوینه ناسمه ختلې وي، مخې ته یې چلیپا وکاږئ او که ستاسو خبره سمه ختلې وي، د جملې مخې ته دغه نښه ( ✓ ) وکاږئ.

کله چې شاګردان دغه فعالیت ترسره کوي، تاسې په ټولګي کې وګرځئ او که چا مرستې ته اړتیا درلوده، ورسره مرسته وکړئ.

د فعالیت په پای کې دوه یا درې شاګردان وغږوئ چې کومه وړاندوینه یې سمه وه او کومه یې ناسمه.

**کورنۍ دنده:** مېله او چکر مو له خپلې کورنۍ سره خوښېږي که له خپلو ملګرو او همزولو سره؟ د مېلې دا دوه ډولونه سره مقایسه کړئ. په خپلو کتابچو کې د مقایسې ډیاګرام رسم کړئ او د دې مېلو ورته والي او توپیرونه وښیئ.

**دوهم درسي ساعت**

**۱. پر رېښې او وروستاړي د کلمو وېشل (۱۰ دقیقې)**

د تېرو اونیو په شان، لاندې کلمې له شاګردانو سره په ګډه پر برخو (رېښې او وروستاي) ووېشئ او معنا یې کړئ.


| کلمه | د کلمې برخې | د کلمې معنا |
|---|---|---|
| مېله‌ځای | **مېله ــ ځای** | **مېله** = د تفریح او چکر لپاره له خپلې کورنۍ یا ملګرو سره له کوره وتل **ځای** = مکاني وروستاړی |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| | | **مېله‌ځای** = هغه ځای چې خلک د مېلې لپاره ورځي |
| تمځای | **تم ـــ ځای** | **مېله** = درېدل، انتظار، صبر **ځای** = مکاني وروستاړی<br>**تمځای** = هغه ځای چې موټرونه تم کېږي چې سپرلۍ ور وخېژي یا ورنه کښته شي |
| څرځای | **څر ـــ ځای** | **څر** = څر، څرېدل، هغه حالت چې څاروي په ورشوګانو کې واښه خوري **ځای** = مکاني وروستاړی<br>**څرځای** = هغه ځای چې څاروي په کې څري، ورشو |
| پناه‌ځای | **پناه ـــ ځای** | **پناه** = خوندي، امن **ځای** = مکاني وروستاړی<br>**پناه‌ځای** = هغه ځای چې خلک له خطر څخه خوندي کېږي |
| پټېدنځای | **پټېدن ـــ ځای** | **پټېدن** = پټېدنه، پټېدل **ځای** = مکاني وروستاړی<br>**پټېدنځای** = هغه ځای چې خلک ځان په کې پټوي |

### ۲. د مقایسې ډیاګرام (۲۰ دقیقې)

محترمو ښوونکو! لاندې ډیاګرام پر تختې رسم کړئ او شاګردانو ته ووایئ چې د کتاب متن ولولي او ډیاګرام هره برخه په ترتیب سره ډکه کړئ.




### موږ یې ترسره کوو/ تاسې یې ترسره کوئ

ډیاګرام پر تختې رسم کړئ بیا شاګردانو ته ووایئ: اوس نو تاسې ډیاګرام په خپلو کتابچو کې رسم کړئ. بیا له خپلو څنګلوریو ټولګیوالو سره په متن کې طبیعي او مصنوعي مېله‌ځایونو معلومات ولولئ. بیا د دواړو مېله‌ځایونو ورته‌والي د ډیاګرام په منځنۍ برخه او توپیرونه یې د دایرو په آزادو برخو کې ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

[کله چې شاګردان فعالیت ترسره کوي، تاسې په ټولګي کې وګرځئ او که چا مرستې ته اړتیا لرله، ورسره مرسته وکړئ] د فعالیت په پای کې دوه یا درې شاګردان راوبولئ چې خپل ډک کړی ډیاګرام تشریح کړي.

**۳. د متن شفاهي ارزونه (۵ دقیقې)**

۱. شاګردانو ته ووایئ: اوس به دا متن په دې لحاظ وارزوې چې پوهېدل پرې سخته وو، که آسانه؟ معلومات یې په زړه پورې وو که زړه مو ورسره تنګ شو؟ لیکوال د خپلې دعوې لپاره دلیل او ثبوت راوړی و که نه؟ ښه نو، لومړی پوښتنه دا ده چې د متن کومې کلمې درته سختې یا نا آشنا وې؟

[شاګردانو ته یوه دقیقه وخت ورکړئ چې بحث وکړي. بیا څو تنه راوبولئ چې د خپل بحث نتیجه شریکه کړي.]

۲. شاګردانو ته ووایئ: بله پوښتنه دا ده چې معلومات یې ستاسو په نظر څنګه وو، په زړه پورې وو که زړه مو ورسره تنګ شو؟ یوه دقیقه له خپلو څنګلوریو ټولګیوالو سره په دې اړه خبرې وکړئ.

[شاګردانو ته یوه دقیقه وخت ورکړئ چې بحث وکړي. بیا څو تنه راوبولئ چې د خپل بحث نتیجه شریکه کړي.]

۳. شاګردانو ته ووایئ: او وروستۍ پوښتنه «په متن کې کومه دعوا شوې وه او د اثبات لپاره یې کوم دلیل یا ثبوت وړاندې شوی و؟

[شاګردانو ته دوه دقیقې وخت ورکړئ چې بحث وکړي او بیا دوو تنو نه وغواړئ چې خپل نظر شریک کړي. کله چې شاګردان بحث کوي، تاسې په ټولګي کې وګرځئ.]

**کورنۍ دنده:** ستاسو کومې لوبې خوښېږي چې په مېلو کې یې وکړئ. د مقایسې د ډیاګرام په کارولو سره، دوې هغه لوبې چې ماشومان یې په مېلو کې کوي، سره مقایسه کړئ. په یاد مو وي چې د دواړو ورته شیان د دایرو په تېره برخه کې او توپیرونه یې د دایرو په آزادو برخو کې ولیکئ.

**دریم درسي ساعت**

**۱. خبرې اترې (۲۵ دقیقې)**

**موږ یې ترسره کوو/ تاسې یې ترسره کوئ**

[شاګردان په شپږ کسیزو ډلو کې تنظیم کړئ]

معلم: نن به مو د بحث موضوع «مېله او چکر» وي. تاسې د تفریح لپاره په کومو ځایونو کې ګرځېدلي یاست؟

[شاګردان: مختلف ځوابونه]

معلم: او خوند مو اخیستی دی؟

شاګردان: ډېر.

(c) ketabton.com: The Digital Library

معلم: ډېر ښه. «له مېلې او چکر څخه ولې خوند اخلو؟» لومړۍ پوښتنه همدا ده. مثلاً زه ځکه له چکر څخه خوند اخلم چې ذهن مې آراموي. اوس به تاسې په خپلو ډلو کې وربانـدې بحث وکـړئ چـې: «لـه مېلـې او چکـر څخـه ولـې خونـد اخلو؟» [پوښتنه پر تختې وليکئ]

[شاګردان به پنځه دقيقې خبرې کوي.]

[کله چې شاګران خبرې اترې کوي، تاسې په ټولګي کې وګرځئ او ويې هڅوئ]

معلم: اوس به د هرې ډلې استازی د خپلو ملګرو د خبرو خلاصه ووايي.

[د دريو نويو ډلو استازي راوبولئ. کله چې دوی خبرې کوي، ورته ځير شئ. مثبت ټکي يې وستايئ.]

معلم: بله خبره دا ده چې کله مېله کوو، ښايي په خپله باغچه، پټي يا انګړ کې يې وکړو چې دا زموږ شخصي ځايونـه دي خو ځينې ځايونه عمومي وي او هر څوک ورځي لکه پارک، ځنګـل، د سـيند غـاړه، عمـومي باغونـه، او نـور مېلـه ځايونـه. تاسې به دا دوه رقم ځايونه سره مقايسه کړئ. پوښتنه دا ده چې: «عمومي مېله ځايونه له شخصي مېله ځايونو څخـه څـه توپيرونه لري او په څه شي کې سره ورته دي؟»

[پوښتنه پر تختې وليکئ]

[شاګردانو ته پنځه دقيقې وخت ورکړئ چې خبرې اترې وکړي.]

[کله چې شاګران خبرې اترې کوي، تاسې په ټولګي کې وګرځئ او شاګردان وڅارئ.]

معلم: اوس به د هرې ډلې استازی د خپلې ډلې نظرونه راته ووايي.

[د دريو نورو ډلو استازي خبرو ته راوبولئ. مثبت ټکي يې وستايئ.]

معلم: موږ په ټولنه کې ژوند کوو نو بايد د نورو خيال هم وساتو. موږ غواړو له خپلې مېلې او چکر څخه خوند واخلو او نـور خلک هم غواړي چې خوند واخلي. نو په عمومي ځايونو کې داسې کارونه بايد ونه کړو چې نور پـه عـذاب کـړي. اوس بـه تاسې پر دې بحث وکړئ چې «په عمومي مېله ځايونو کې کوم کارونه مناسب نه دي؟»

[شاګردانو ته ۵ دقيقې وخت ورکړئ چې بحث وکړي.]

[کله چې شاګران خبرې اترې کوي، تاسې په ټولګي کې وګرځئ او وګورئ چې ټول شاګردان پـه بحـث کـې فعالـه ونـډه واخلي.]

معلم: اوس به د دريو نورو ډلو استازي ووايي چې څه يې سره ويلي دي.

[د دريو نويو ډلو استازي وغږوئ. د هغوی خبرې چې خلاصې شوې، ويې هڅوئ.]

معلم: اوس ستاسو وار دی چې د ټولو خبرو خلاصه او نتيجه ووايئ. څوک به دا کار وکړي؟

[شاګردان لاسونه جګوي. يو تن په کې انتخاب کړئ او د تختې سر ته يې دروغواړئ.]

(c) ketabton.com: The Digital Library

معلم: آفرین! د تختې پر سر درې پوښتنې لیکل شوې دي. اوس به هرې پوښتنې ته ګورې او د هماغه پوښتنې په اړه د خپلو ملګرو د خبرو خلاصه به وایې.

[شاګرد د بحث نتیجه وایي. که کوم ټکی ورنه پاتې و، هغه تاسې ورياد کړئ]

**۲. ګرامر (د لیکنښو کارول) (۱۰ دقیقې)**

۱. شاګردانو ته ووایئ: د کتاب په ـــــ مخ کې په پنځو کتارونو کې نوmونه لیکل شوي دي او د هر کتار په آخر کې یو صنف په لیندیو کې راغلی دی. تاسې به د مثال په شان د هر نوم لپاره د ورکړل شوي صفت مناسبه بڼه لیکئ.

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| .............. بوټی | .............. بوټي | .............. پاڼه | .............. پاڼې | (تریخ) |
| .............. تندی | .............. تندي | .............. ټنډه | .............. ټنډې | (تریو) |
| .............. کمیس | .............. کمیسونه | .............. لمن | .............. لمنې | (اوږد) |
| .............. پیتاوی | .............. پیتاوي | .............. هوا | .............. بړستنې | (تود) |
| .............. وینښته | .............. وینښتان | .............. شړۍ | .............. جامې | (څیرې) |

۲. کار شوی مثال له شاګردانو سره یو ځل ولولئ او ورته تشریح یې کړئ چې ولې «سور زمری» وایو او «سره زمري».

۳. شاګردانو ته ووایئ: اوس به تاسې له خپلو څنګلوریو ټولګیوالو سره بحث وکړئ او د پاتې جملو تش ځایونه په مناسبو کلمو سره ډک کړي.

کله چې شاګردان کار کوي، تاسې په ټولګي کې وګرځئ او که چا مرستې ته اړتیا لرله، ورسره مرسته وکړئ.

**کورنۍ دنده:** د مقایسې ډیاګرام په خپلو کتابچو کې رسم کړئ او بیا هغه کارونه چې په عمومي او شخصي- مېلهځایونو کې کولی شو، سره مقایسه کړئ. په یاد مو وي چې د دواړو ورته ځانګړنې د دایرو په ګډه برخه کې او توپیرونه یې د دایرو په آزادو برخو کې ولیکئ.

**څلورم درسي ساعت**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۱. املا (۵ دقیقې)**

معلم: ګرانو شاګردانو! اوس به خپلې کتابچې خلاصې کړئ او ځینې کلمې به ولیکئ. د دې لپاره چې د کلمو لیکل راته آسانه شي، کلمې پر برخو وېشو. مثلاً «غلطېږي» دوې برخې لري «غلط» او «ېږي».

معلم: به زه کلمې درته ووایم او تاسې به یې په خپلو کتابچو پر برخو ووېشئ او بیا به یې یو ځای ولیکئ. [دغه کلمې شاګردانو ته ووایئ «آرامېږي، کرارېږي، تولیدېږي، لرې کېږي». په ټولګي کې وګرځئ او شاګردن وڅارئ. که چا مرستې ته اړتیا درلوده، ورسره مرسته وکړئ.]

**۲. د استنباطي پوښتنو د ځوابونو لیکل (۱۰ دقیقې)**

معلم: د کتاب په ــــــــ مخ کې د کیسې په اړه څو استنباطي پوښتنې راغلې دي. لومړۍ پوښتنه به څوک ولولي؟

[شاګردان ګوتې جګوي. یو تن ته ووایئ چې لومړۍ پوښتنه ولولي.]

شاګرد پوښتنه لولي: **۱. د ښارونو خلک د مېلې لپاره ولې کلیوالو سیمو ته ځي؟**

معلم: اوس نو له څنګلوریو ټولګیوالو سره مو بحث وکړئ او د پوښتنې ځواب پیدا کړئ. بیا د دې پوښتنې ځواب په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

[کله چې د شاګردانو بحث تمام شو، له دوو تنو وغواړئ چې خپل ځواب له نورو سره شریک کړي. کله چې شاګردان ځواب لیکي، تاسې په ټولګي کې وګرځئ او که چا مرستې ته اړتیا لرله، ورسره مرسته وکړئ.]

دا فعالیت د دوو نورو پوښتنو لپاره هم ترسره کړئ. پاتې پوښتنې دا دي:

**۲ .په مېلو کې کوم خطرونه وي چې ځان باید ترې وساتو؟**

**۳. مېلې ته چې ځو، کوم شیان باید راسره واخلو؟**

**۳. د متن ارزونه (۱۰ دقیقې)**

معلم: ستاسو د کتاب په ــــــ مخ کې دوې پوښتنې دي. لومړۍ پوښتنه به څوک ولولي؟ [شاګردان لاسونه جګوي او یو تن ته د پوښتنې د لوستلو اجازه ورکړئ]

شاګرد پوښتنه لولي: ۱. د متن جملې د وضاحت په لحاظ څنګه وې؟

معلم: مننه! اوس نو د دې پوښتنې په اړه له خپلو څنګلوریو ټولګیوالو سره بحث وکړئ. پر دې وغږېږئ چې د متن جملې واضحې وې او پوهېدل ورباندې آسانه وو، که نه.

[شاګردان دې دوه دقیقې بحث وکړي او تاسې په ټولګي کې وګرځئ. وروسته له دوو شاګردانو څخه وغواړئ چې خپل نظر شریک کړي.]

همدا فعالیت د دوهمې پوښتنې لپاره هم ترسره کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲. د متن کومې جملې روانې لوستل کېدې او د کومو جملو لوستل گران وو؟

[شاگردانو ته ۵ دقیقې وخت ورکړئ چې ځوابونه په خپلو کتابچو کې ولیکي. تاسې په ټولگي کې وگرځئ. که چا مرستې ته اړتیا درلوده، ورسره مرسته وکړئ. که ډېر شاگردان د کومې خاصې کلمې په لیکلو کې ستونزه ولري، نوټ یې کړئ او بیا یې پر تختې ولیکئ.]

## ۴. د متن په اړه خپل نظر لیکل (۱۰ دقیقې)

معلم: اوس به د متن په اړه خپل نظر ولیکئ. پر دې باندې فکر وکړئ چې متن څنگه و؟ خوښ مو شو که نه؟ د متن کومه برخه مو خوښه شوه او ولې مو خوښه شوه؟ له دې متن څخه مو څه زده کړل؟ له خپلو څنگلوریو ټولگیوالو سره بحث وکړئ او په وار سره د کیسې په اړه خپل نظر ورته ووایئ.

[شاگردانو ته ۴ دقیقې وخت ورکړئ چې بحث وکړي. تاسې په ټولگي کې وگرځئ او شاگردان وڅارئ]

معلم: اوس به په خپلو کتابچو کې د «هلمند او نورستان» متن په اړه خپل نظرونه ولیکئ.

[شاگردانو ته ۵ دقیقې وخت ورکړئ چې خپل نظرونه ولیکي. تاسې په ټولگي کې وگرځئ. که چا مرستې ته اړتیا درلوده، ورسره مرسته وکړئ. که ډېر شاگردان د کومې خاصې کلمې په لیکلو کې ستونزه ولري، نوټ یې کړئ او بیا یې پر تختې ولیکئ. که وخت پاتې و، په آخر کې یو یا دوه شاگردان راوبولئ چې خپله لیکنه ولولي.]

**کورنۍ دنده:**

شاگردانو ته ووایئ: د مقایسې د ډیاگرام په کارولو سره د سیند په غاړه کې مېله او په ځنگله کې مېله سره پرتله کړئ. بیا په یوه پراگراف د دواړو مېلو ورتهوالي او په بل پراگراف کې د دې دوو مېلو توپیرونه ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## فصل ۴ اونۍ ۳

## درسي ساعت ۱

**۱. سلام، روغبړ، د ټولګي تنظيمول (۳ دقيقې)**

**۲. هجا (۳ دقيقې)**

د تېرو اونيو په شان، له شاګردانو څخه وغواړئ چې د درس په پيل کې په چوکاټ کې راغلې کلمې څپه په څپه ولولي.

**۳. د نويو لغاتو فعاليتونه (۱۰ دقيقې)**

د درس نوې کلمې له شاګردانو سره يو ځای معنا کړئ. د هرې کلمې لپاره لاندې فعاليتونه ترسره کړئ:

۱. هغه جمله چې دا کلمه په کې راغلې وي، ولولئ.

۲. کلمه پر تختې وليکئ او په شاګردانو يې درې ځله ولولئ.

۳. د کلمې معنا د شاګردانو په سويه، په واضحو او آسانو کلمو بيان کړئ.

۴. له شاګردانو څخه وغواړئ چې هره کلمه په جمله کې وکاروي.

د دې درس کلمې دي: [**استوګنه** = اوسېدل؛ **معمولاً** = هغه څه يا هغه حالت چې عام او زيات وي؛ **ککړتيا** = ناپاکي، ناولتوب، د ناولتوب حالت؛ **هوټل** = هغه ځای چې مسافرو ته په کې د خوب او اوسېدلو لپاره کوټه ورکول کېږي.]

**۴. لوستل (۲۰ دقيقې)**

**الف: تر لوستلو مخکې (۱۰ دقيقې)**

**زه يې ترسره کوم/ موږ يې ترسره کوو**

شاګردانو ته ووايئ: ستاسو په کتابونو کې تر درسي متن وړاندې شپږ جملې راغلي دي. دا جملې ولولئ او فکر وکړئ چې سمې دي که ناسمې. که فکر کوئ چې د جملې خبره سمه ده، مخې ته يې (ص) وليکئ او که فکر کوئ چې غلطه ده، مخې ته يې (غ) وليکئ. بيا د کتاب متن لولئ او ګورئ چې ستاسو خبره سمه وه که نه. دا فعاليت معلوموي چې د متن تر لوستلو مخکې د دې موضوع په اړه څومره پوهېږئ. نو کله چې متن ولولئ پوه به شئ چې څومره شيان مو زده وو او څومره مو نوي زده کړل.

دا جمله پر تختې وليکئ: **په ښارونو کې د هرې کوڅې ټول اوسېدونکي سره خپلوان وي.**

له شاګردانو څخه پوښتنه وکړئ چې دا جمله سمه بولي که غلطه. بيا د هغوی د اکثرو نظر وګورئ، که ډېرو شاګردانو جمله سمه وبلله، مخې ته يې (ص) وليکئ او که ډېرو غلطه وبلل، د جملې مخې ته (غ) وليکئ.

بيا د متن لومړی پراګراف پر يوه شاګرد ولولئ: « **ښار او کلی دواړه د انسانانو د استوګنې سيمې دي. په دواړو کې وګړي له نورو انسانانو سره ګډ ژوند کوي. په ښارونو کې ډېر زيات خلک اوسېږي او کورونه په کې واړه خو ډېر دي، خو په کليو**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کې خلک او کورونه کم وي. د کلي کورونه د ښار تر کورونو لوی وي. د یوه کلي خلک معمولاً سره خپل وي خو په ښارونو کې پردي خلک سره ګاونډیان وي.»**

له شاګردانو سره بحث وکړئ چې د دوی اټکل سم نه که ناسم.

**تاسو یې ترسره کوئ**

شاګردانو ته ووایئ: اوس به پاتې جملې په خپلو کتابچو کې ولیکئ. د سمو جملو مخې ته «ص» او د غلطو جملو مخې ته د «غ» توری ولیکئ. بیا به متن ولولئ او وګورئ چې اټکل مو سم و، که نه.

**ب. د لوستلو په بهیر کې (۱۰ دقیقې)**

شاګردانو ته ووایئ: اوس به تاسې د کتاب متن تر پایه پورې په ټیټ غږ ولولئ. د هر پراګراف تر لوستلو وروسته، یو ځل د هماغه پراګراف په اړه د وړاندوینې جمله وګورئ. که مو وړاندوینه ناسمه ختلې وي، مخې ته یې چلیپا وکاږئ او که ستاسو خبره سمه ختلې وي، د جملې مخې ته دغه نښه ( ✓ ) وکاږئ.

کله چې شاګردان دغه فعالیت ترسره کوي، تاسې په ټولګي کې وګرځئ او که چا مرستې ته اړتیا درلوده، ورسره مرسته وکړئ.

د فعالیت په پای کې دوه یا درې شاګردان وغږوئ چې کومه وړاندوینه یې سمه وه او کومه یې ناسمه.

**کورنۍ دنده:** که تاسې په کلي کې اوسېږئ، خپل کلی د خپلو ماماخېلو له کلي سره مقایسه کړئ. که په ښار کې اوسېږئ، خپله کوڅه له یوې بلې کوڅې سره مقایسه کړئ. بیا په خپلو کتابچو کې د مقایسې ډیاګرام رسم او ډک یې کړئ.

**دوهم درسي ساعت**

**۱. پر رېښې او وروستاړي د کلمو وېشل (۱۰ دقیقې)**

د تېرو اونیو په شان، لاندې کلمې له شاګردانو سره په ګډه پر برخو (رېښې او وروستاي) ووېشئ او معنا یې کړئ.


| کلمه | د کلمې برخې | د کلمې معنا |
|---|---|---|
| روغتون | **روغ ــ تون** | **روغ** = جوړ، **تون** = ځای، مکاني وروستاړی<br>**روغتون** = هغه ځای چې ناروغان په کې رغېږي. |
| پوهنتون | **پوهن ــ تون** | **پوهن** = پوهنه، علم **تون** = ځای، مکاني وروستاړی<br>**پوهنتون** = هغه ځای چې پوهه او علم په کې حاصلېږي. |
| میرتون | **میر ــ تون** | **میر** = میرن **تون** = ځای، مکاني وروستاړی |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| | | **میرتون** = هغه ځای چې میرې په کې اوسېږي، د میرېو کور. |
| وسله‌تون | **وسله ــ تون** | **وسله** = توره، ټوپک او د جنګ نورې وسیلې **تون** = ځای، مکاني وروستاړی<br>**وسله‌تون** = هغه ځای چې وسلې په کې ساتل کېږي. |
| کتابتون | **کتاب ــ تون** | **کتاب** = کتاب، **تون** = ځای، مکاني وروستاړی<br>**کتابتون** = هغه ځای چې کتابونه په کې اېښي دي او خلک يې لولي. |

**۲. د مقایسې ډیاګرام (۲۰ دقیقې)**

محترمو ښوونکو! لاندې ډیاګرام پر تختې رسم کړئ او شاګردانو ته ووایئ چې د کتاب متن ولولي او ډیاګرام هره برخه په ترتیب سره ډکه کړئ.




**موږ يې ترسره کوو/ تاسې يې ترسره کوئ**

ډیاګرام پر تختې رسم کړئ بیا شاګردانو ته ووایئ: اوس نو تاسې ډیاګرام په خپلو کتابچو کې رسم کړئ. بیا له خپلو ټولګیوالو سره په متن کې طبیعي او مصنوعي مېله‌ځایونو معلومات ولولئ. بیا د دواړو مېله‌ځایونو ورته‌والي د ډیاګرام په منځنۍ برخه او توپیرونه يې د دایرو په آزادو برخو کې ولیکئ.

[کله چې شاګردان فعالیت ترسره کوي، تاسې په ټولګي کې وګرځئ او که چا مرستې ته اړتیا لرله، ورسره مرسته وکړئ]

د فعالیت په پای کې دوه یا درې شاګردان راوبولئ چې خپل ډک کړی ډیاګرام تشریح کړي.

**۳. د متن شفاهي ارزونه (۵ دقیقې)**

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱. شاگردانو ته ووایئ: اوس به دا متن په دې لحاظ وارزوي چې پوهېدل پرې سخته وو، که آسانه؟ معلومات يې په زړه پورې وو که زړه مو ورسره تنګ شو؟ ليکوال د خپلې دعوې لپاره دليل او ثبوت راوړی و که نه؟ ښه نو، لومړی پوښتنه دا ده چې د متن کومې کلمې درته سختې يا نا آشنا وې؟

[شاګردانو ته يوه دقيقه وخت ورکړئ چې بحث وکړي. بيا څو تنه راوبولئ چې د خپل بحث نتيجه شريکه کړي.]

۲. شاګردانو ته ووايئ: بله پوښتنه دا ده چې معلومات يې ستاسو په نظر څنګه وو، په زړه پورې وو که زړه مو ورسره تنګ شو؟ يوه دقيقه له خپلو څنګلوريو ټولګيوالو سره په دې اړه خبرې وکړئ.

[شاګردانو ته يوه دقيقه وخت ورکړئ چې بحث وکړي. بيا څو تنه راوبولئ چې د خپل بحث نتيجه شريکه کړي.]

۳. شاګردانو ته ووايئ: او وروستۍ پوښتنه «په متن کې کومه دعوا شوې وه او د اثبات لپاره يې کوم دليل يا ثبوت وړاندې شوی و؟

[شاګردانو ته دوه دقيقې وخت ورکړئ چې بحث وکړي او بيا دوو تنو نه وغواړئ چې خپل نظر شريک کړي. کله چې شاګردان بحث کوي، تاسې په ټولګي کې وګرځئ.]

**کورنۍ دنده:** د خپلې کورنۍ د مشرانو په مرسته، د کلي او ښار دودونه سره مقايسه کړئ. د مقايسې ډياګرام په خپلو کتابچو کې رسم کړئ. د دواړو ورته دودونه د دايرو په تېره ښېره برخه کې او توپيرونه يې د دايرو په آزادو برخو کې وليکئ.

**دريم درسي ساعت**

**۱. خبرې اترې (۲۵ دقيقې)**

**مور يې ترسره کوو/ تاسې يې ترسره کوئ**

[شاګردان په شپږ کسيزو ډلو کې تنظيم کړئ]

معلم: نن به مو د بحث موضوع «ښار او کلی» وي. تاسو کوم کلي او کوم ښارونه ليدلي دي؟

[شاګردان: مختلف ځوابونه]

معلم: ډېر ښه، د بحث يوه پوښتنه مو دا ده چې: «ولې ځينې خلک په کليو کې ژوند کوي، ځينې په ښارونو کې؟»

[پوښتنه پر تختې وليکئ]

[شاګردان به پنځه دقيقې خبرې کوي.]

[کله چې شاګران خبرې اترې کوي، تاسې په ټولګي کې وګرځئ او ويې هڅوئ]

معلم: اوس به د هرې ډلې استازی د خپلو ملګرو د خبرو خلاصه ووايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

[د دریو نویو ډلو استازي راوبولئ. کله چې دوی خبرې کوي، ورته ځیر شئ. مثبت ټکي یې وستایئ.]

معلم: بله پوښتنه دا ده چې: «که ټول خلک په کلیو کې ژوند وکړي یا ټول خلک په ښارونو کې واوسېږي، نو څه به وشي؟»

[پوښتنه پر تختې ولیکئ]

[شاگردانو ته پنځه دقیقې وخت ورکړئ چې خبرې اترې وکړي.]

[کله چې شاگران خبرې اترې کوي، تاسې په ټولگي کې وگرځئ او شاگردان وڅارئ.]

معلم: اوس به د هرې ډلې استازی د خپلې ډلې نظرونه راته ووایي.

[د دریو نورو ډلو استازي خبرو ته راوبولئ. مثبت ټکي یې وستایئ.]

معلم: اوس به کلیوال ژوند له ښاري ژوند سره مقایسه کړئ. په خپلو ډلو کې پر دې بحث وکړئ چې «کلیوال ژوند له ښاري ژوند سره کوم توپیرونه لري او څه شی په دواړو کې یو شان دي؟»

[شاگردانو ته ۵ دقیقې وخت ورکړئ چې بحث وکړي.]

[کله چې شاگران خبرې اترې کوي، تاسې په ټولگي کې وگرځئ او وگورئ چې ټول شاگردان په بحث کې فعاله ونډه واخلي.]

معلم: اوس به د دریو نورو ډلو استازي ووایي چې څه یې سره ویلي دي.

[د دریو نویو ډلو استازي وغږوئ. د هغوی خبرې چې خلاصې شوې، ویې هڅوئ.]

معلم: څوک به د ټولو خبرو خلاصه او نتیجه ووایئ؟

[شاگردان لاسونه جگوي. یو تن په کې انتخاب کړئ او تختې ته یې دروغواړئ.]

معلم: آفرین! د ټول بحث خلاصه څه ده؟

[شاگرد د بحث نتیجه وایي. که کوم ټکی ورنه پاتې و، هغه تاسې ورياد کړئ]

**۲. گرامر (د لیکنښو کارول) (۱۰ دقیقې)**

۱. شاگردانو ته ووایئ: د کتاب په ــــ مخ کې په پنځو کتارونو کې نومونه لیکل شوي دي او د هر کتار په آخر کې یو صنف په لیندیو کې راغلی دی. تاسې به د مثال په شان د هر نوم لپاره د ورکړل شوي صفت مناسبه بڼه لیکئ.

| | | | |
|---|---|---|---|
| ............. کتاب | ............. کتابونه | ............. کتابچه | ............. کتابچې (خپور) |
| ............. سړی | ............. سړي | ............. ښځه | ............. ښځې (سپور) |
| ............. ټوکر | ............. لاسونه | ............. ډوډۍ | ............. گوتې (پوست) |
| ............. لرگی | ............. لرگي | ............. دره | ............. درې (وروست) |
| ............. بار | ............. بارونه | ............. پنډه | ............. پنډې (دروند) |

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲. کار شوی مثال له شاگردانو سره یو ځال ولولئ او ورته تشریح یې کړئ چې ولې «سور زمری» وایو او «سره زمري».

۳. شاگردانو ته ووایئ: اوس به تاسې له خپلو څنگلوریو ټولگیوالو سره بحث وکړئ او د پاتې جملو تش ځایونه په مناسبو کلمو سره ډک کړي.

کله چې شاگردان کار کوي، تاسې په ټولگي کې وگرځئ او که چا مرستې ته اړتیا لرله، ورسره مرسته وکړئ.

**کورنۍ دنده:** د مقایسې ډیاگرام په خپلو کتابچو کې رسم کړئ او بیا د خپلو کورنیو د مشرانو په مرسته د کلي او د ښار کورونه سره مقایسه کړئ. په یاد مو وي چې د دواړو ورته ځانگړنې د دایرو په تېره بېره برخه کې او توپیرونه یې د دایرو په آزادو برخو کې ولیکئ.

**څلورم درسي ساعت**

**۱. املا (۵ دقیقې)**

معلم: گرانو شاگردانو! اوس به خپلې کتابچې خلاصې کړئ او ځینې کلمې به ولیکئ. د دې لپاره چې د کلمو لیکل راته آسانه شي، کلمې پر برخو وېشو. مثلاً «نجاري» دوې برخې لري «نجار» او «ي».

معلم: به زه کلمې درته ووایم او تاسې به یې په خپلو کتابچو پر برخو ووېشئ او بیا به یې یو ځای ولیکئ. [دغه کلمې شاگردانو ته ووایئ «ډرېوري، دفتري، ډاکټري، زرگري». په ټولگي کې وگرځئ او شاگردن وڅارئ. که چا مرستې ته اړتیا درلوده، ورسره مرسته وکړئ.]

**۲. د استنباطي پوښتنو د ځوابونو لیکل (۱۰ دقیقې)**

معلم: د کتاب په ______ مخ کې د کیسې په اړه څو استنباطي پوښتنې راغلي دي. لومړۍ پوښتنه به څوک ولولي؟

[شاگردان گوتې جگوي. یو تن ته ووایئ چې لومړۍ پوښتنه ولولي.]

شاگرد پوښتنه لولي: **۱ .د کلي خلک په کومو کارونو کې تکړه دي؟**

معلم: اوس نو له څنگلوریو ټولگیوالو سره مو بحث وکړئ او د پوښتنې ځواب پیدا کړئ. بیا د دې پوښتنې ځواب په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

[کله چې د شاگردانو بحث تمام شو، له دوو تنو وغواړئ چې خپل ځواب له نورو سره شریک کړي. کله چې شاگردان ځواب لیکي، تاسې په ټولگي کې وگرځئ او که چا مرستې ته اړتیا لرله، ورسره مرسته وکړئ.]

دا فعالیت د دوو نورو پوښتنو لپاره هم ترسره کړئ. پاتې پوښتنې دا دي:

**۲ .په ښارونو کې خلک ولې په مختلفو دندو او کارونو بوخت دي؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۳. خلک ولې ښارونو ته مخه کوي؟**

### ۳. د متن ارزونه (۱۰ دقیقې)

معلم: ستاسو د کتاب په ـــــ مخ کې دوې پوښتنې دي. لومړۍ پوښتنه به څوک ولولي؟ [شاگردان لاسونه جگوي او یو تن ته د پوښتنې د لوستلو اجازه ورکړئ]

شاگرد پوښتنه لولي: ۱. د متن جملې د وضاحت په لحاظ څنگه وې؟

معلم: مننه! اوس نو د دې پوښتنې په اړه له خپلو څنگلوریو ټولگیوالو سره بحث وکړئ. پر دې وغږېږئ چې د متن جملې واضحې وې او پوهېدل وربانديې آسانه وو، که نه.

[شاگردان دې دوه دقیقې بحث وکړي او تاسې په ټولگي کې وگرځئ. وروسته له دوو شاگردانو څخه وغواړئ چې خپل نظر شریک کړي.]

همدا فعالیت د دوهمې پوښتنې لپاره هم ترسره کړئ.

۲. د متن کومې جملې روانې لوستل کېدې او د کومو جملو لوستل گران وو؟

[شاگردانو ته ۵ دقیقې وخت ورکړئ چې ځوابونه په خپلو کتابچو کې ولیکي. تاسې په ټولگي کې وگرځئ. که چا مرستې ته اړتیا درلوده، ورسره مرسته وکړئ. که ډېر شاگردان د کومې خاصې کلمې په لیکلو کې ستونزه ولري، نوټ یې کړئ او بیا یې پر تختې ولیکئ.]

### ۴. د متن په اړه خپل نظر لیکل (۱۰ دقیقې)

معلم: اوس به د متن په اړه خپل نظر ولیکئ. پر دې باندې فکر وکړئ چې متن څنگه و؟ خوښ مو شو که نه؟ د متن کومه برخه مو خوښه شوه او ولې مو خوښه شوه؟ له دې متن څخه مو څه زده کړل؟ له خپلو څنگلوریو ټولگیوالو سره بحث وکړئ او په وار سره د کیسې په اړه خپل نظر ورته ووایئ.

[شاگردانو ته ۴ دقیقې وخت ورکړئ چې بحث وکړي. تاسې په ټولگي کې وگرځئ او شاگردان وڅارئ]

معلم: اوس به په خپلو کتابچو کې د «هلمند او نورستان» متن په اړه خپل نظرونه ولیکئ.

[شاگردانو ته ۵ دقیقې وخت ورکړئ چې خپل نظرونه ولیکي. تاسې په ټولگي کې وگرځئ. که چا مرستې ته اړتیا درلوده، ورسره مرسته وکړئ. که ډېر شاگردان د کومې خاصې کلمې په لیکلو کې ستونزه ولري، نوټ یې کړئ او بیا یې پر تختې ولیکئ. که وخت پاتې و، په آخر کې یو یا دوه شاگردان راوبولئ چې خپله لیکنه ولولي.]

**کورنۍ دنده:**

شاگردانو ته ووایئ: د مقایسې د ډیاگرام په کارولو سره د سیند په غاړه کې مېله او په ځنگله کې مېله سره پرتله کړئ. بیا په یوه پراگراف د دواړو مېلو ورته‌والي او په بل پراگراف کې د دې دوو مېلو توپیرونه ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## فصل ۵ اونۍ ۱

د فصل پر ژانر، موضوع، سترو مفکورو او اساسي پوښتنو له شاګردانو سره بحث وکړئ. د دې فصل ژانر بیوګرافي ده. بیوګرافي یا ژوندلیک د یو چا د ژوند کیسه راته کوي. هغه کس چې ژوندلیک یې لیکل کېږي، باید واقعي انسان وي. د خیالي کسانو بیوګرافي نه لیکل کېږي. په بیوګرافي کې د چا د ژوند مهمې پېښې لکه زوکړه، ماشومتوب، کورنۍ، تعلیم او زده‌کړې، دندې او بریاوو خبرې کېږي.

## درسي ساعت ۱

**۱. سلام، روغبړ، د ټولګي تنظیمول (۳ دقیقې)**

**۲. هجا (۵ دقیقې)**

د تېرو اونیو په شان، له شاګردانو څخه وغواړئ چې د درس په پیل کې په چوکاټ کې راغلې کلمې څپه په څپه ولولي.

**۳. د نویو لغاتو فعالیتونه (۱۰ دقیقې)**

د درس نوې کلمې له شاګردانو سره یو ځای معنا کړئ. د هرې کلمې لپاره لاندې فعالیتونه ترسره کړئ:

۱. هغه جمله چې دا کلمه په کې راغلې وي، ولولئ.

۲. کلمه پر تختې ولیکئ او په شاګردانو یې درې ځله ولولئ.

۳. د کلمې معنا د شاګردانو په سویه، په واضحو او آسانو کلمو بیان کړئ.

۴. له شاګردانو څخه وغواړئ چې هره کلمه په جمله کې وکاروي.

د دې درس کلمې دي: [**ژباړونکې** = هغه څوک چې د یوې ژبې لیکنې بلې ژبې ته اړوي؛ **لیکواله** = څوک چې کتابونه او کیسې لیکي؛ **ناهیلې** = څوک چې هیله ونه لري او له هلو ځلو څخه لاس په سر شي؛ **د کور مېرمن** = هغه مېرمن چې رسمي وظیفه نه لري او یوازې کور سمبالوي.]

**۴. لوستل (۲۵ دقیقې)**

**زه یې ترسره کوم**

شاګردانو ته ووایئ: موږ هغه مهال یو څه ښه یادولی شو چې زموږ لپاره معنا ولري. کله کله یوه کیسه لولو چې د واقعي ژوند غوندې وي او موږ د کرکټر احساسات او هیلې خپلې ګڼو. موږ داسې خلک او ځایونه رایادوو چې د کیسې د کرکټرونو او ځایونو غوندې دي. دغه رابطې راسره مرسته کوي چې کیسه په یاد وساتو ځکه چې د کیسې د کرکټرونو په احساساتو او عملونو کې شریک کېږو. نن به هغه لاره زده کړو چې له متن سره د رابطې جوړولو چل راښیي او بیا متن په آسانۍ سره یادولی شو. دا رابطه کېدای شي شخصي وي یعنې موږ پخپله همداسې کسان، ځایونه یا پېښې لیدلي وي، کېدای شي همداسې معلومات مو په نورو کتابونو کې پخوا لوستي وي، کېدای شي له بل چا څخه مو همداسې خبرې اورېدلي وي یا مو په ټلویزیون کې لیدلي وي. راځئ چې یو مثال یې وګورو. لومړی به زه متن ولولم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

[د متن لومړی پراګراف ولولئ: **اناهيتا روهي ۲۴ کاله له زده‌کړو لرې پاتې شوه، خو ناهيلې نـه شـوه. اناهيتـا روهـي تکړه شاعره، ليکواله او ژباړونکې ده. هغه د ۱۳۵۷ کال د ثور په ۲ نېټـه پـه کابـل کـې زېږېـدلې ده. پلرنـی ټاټوبی يـې د خوست ولايت د اسماعيل خېلو ولسوالي ده. پلار يې پوځي افسر و او مور يې د کور مېرمن.**]

شاګردانو ته په دې اړه د خپلو معلوماتو له مخې يوه خاطره يا کيسه ووايئ، مثلاً: دلته مو ولوستل چې اناهيتـا روهـي ۲۴ له تعليم څخه لرې پاتې شوه، خو ناهيلې نه شوه. دا ما ته زموږ د سيمې يوه زړه ښـځه را يـادوي چـې زوی يـې مسـافر و. پخوا وختونو کې موبايلونه او ټيلفون نه وو. مسافرو به کله کله خپلې کورنۍ ته د چا په لاس ليک استاوه. دې مېرمنـې بـه کله يو چا ته زارۍ کولې چې ليک ورته ولولي، کله بل ته. بيا د دوی کلي ته نژدې د سواد د زده‌کړې کورس جوړ شـو. دا ورغله او په سپين سر يې ليک لوست زده کړل. بيا يې د خپل زوی ليکونه پخپله لوستلی شول.

**موږ يې ترسره کوو**

شاګردان ته ووايئ: ښه نو، تاسې به له دې کيسې سره څنګه رابطه جوړه کړئ؟ دا د کومې بلـې کيسـې غونـډې ده چـې پخوا مو لوستې ده، که دا درته يو بل څوک دريادوي؟

[مختلف شاګردان وپوښتئ او ځوابونو ته يې غوږ ونيسئ]

شاګردانو ته ووايئ: عالي! زه مطمين يم چې کله تاسې د اناهيتا روهي د ژوند په اړه فکـر کـوئ، تاسـو تـه بـه نـور کسـان درياد شي چې د بريالي کېدو لپاره يې ډېره خواري کړې ده.

**تاسې يې ترسره کوئ**

شاګردانو ته ووايئ: نو کله چې متن لولئ، له خپلو پخوانيو معلوماتو سره يې رابطه جوړه کړئ چې دې ته ورتـه خـبرې مـو چېرې اورېدلې، لوستلې يا ليدلې وې. دا د لوستل شوي متن په يادولو کې درسره مرسته کوي. اوس نو پاتې متن پخپلـه ولولئ. د متن هر پراګراف چې لولئ، له ځانه وپوښتنئ چې «دا ما ته څه شی را يادوي؟»

شاګردانو ته د هر پراګراف د لوستلو لپاره ۲ دقيقې وخت ورکړئ. د هر پراګراف تر لوستلو وروسته ۲ دقيقې وخت ورکـړئ چې خپلو څنګلوريو ټولګيوالو ته ووايي چې د متن له دې برخې سره يې څنګه رابطه جوړه کړې ده.

**کورنۍ دنده:** د کورنۍ يوه مشر/ مشرې لکه بابا، انا، مور، يا پلار ته کېنـئ او ورته ووايـئ چې د خپل ژونـد کيسـه درته وکړي. تاسې د هغه/ هغې د ژوند مهمې پېښې وليکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دوهم درسي ساعت**

**۱. د ژوندلیک معلوماتي چارټ (۲۰ دقیقې)**

**زه يې ترسره کوم**

شاګردانو ته ووایئ: نن به د یوه ادبي ژانر په اړه چې ژوندلیک یا بیوګرافي نومېږي، خبرې وکړو. چا د بیوګرافۍ یا ژوندلیک کلمه اورېدلې ده؟

[شاګردان به مختلف ځوابونه درکوي.]

شاګردانو ته ووایئ: ژوندلیک یا بیوګرافي د یو چا د ژوند کیسه ده چې بل چا لیکلې وي. دا د چا د خپل ژوند کیسه نه ده. که څوک د خپل ژوند کیسه پخپله ولیکي، هغې ته بیا اټوبیوګرافي یا خپل ژوندلیک وايي. نو کله چې ستاسو کیسه بل څوک لیکي، هغه بیوګرافي ده.

کله چې یو متن لولم او ګورم چې د چا د ژوند په اړه دی، نو ځینې عنصرونه په کې وینم چې ما پوهوي چې دا ژوندلیک دی. تر هر څه مخکې دا کیسه بل چا ویلې وي نو په داسې جملو نه پیلېږي، لکه: «دا زما د ژوند کیسه ده» یا «زه په .... کال کې زېږېدلی یم.» د نورو کیسو په شان به دا هم پیل، منځ او پای ولري، خو دا خیالي کیسه نه ده. مور د یوه خیالي کس ژوندلیک لیکلی شو؟

[شاګردان به وايي: نه]

تاسې ووایئ: همداسې ده. یوازې د واقعي کسانو ژوندلیکونه لیکل کېږي. اکثره ژوندلیکونه سره ورته عنصرونه لري. په ژوندلیک کې عموماً نېټې وي، د زېږېدو نېټه، د ژوند د مهمو پېښو نېټې، او د مړینې نېټه (البته که د ژوندلیک څښتن مړ وي، خو د ژوندیو خلکو بیوګرافي هم لیکل کېږي). همدارنګه په ژوندلیک کې د واقعي شخص د زېږېدو ځای او د هغه د ماشومتوب او د کورنۍ په اړه معلومات هم وي .

هغه متن چې مور او تاسو په تېر ساعت کې ولوست، د اناهیتا روهي په اړه یې ویلي وو: « **اناهیتا روهي ۲۴ کاله له زده‌کړو لرې پاتې شوه، خو ناهیلې نه شوه. اناهیتا روهي تکړه شاعره، لیکواله او ژباړونکې ده. هغه د ۱۳۵۷ کال د ثور په ۲ نېټه په کابل کې زېږېدلې ده. پلرنی ټاټوبی یې د خوست ولایت د اسماعیل خېلو ولسوالي ده. پلار یې پوځي افسر و او مور یې د کور مېرمن.»**


له شاګردانو پوښتنه وکړئ: څنګه، دا درته د ژوندلیک غوندې ښکاري؟ [شاګردان به ووايي «هو»]

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا شاگردانو ته ووایئ: ژوندلیک معمولاً د یو چا د ژوند مهمې پېښې او شخصي برياوې راته وايي. دلته يې يو مثال ګورو:
« **اناهيتا روهي تر ۲۴ کاله څنډ وروسته په ۳۹ کلنۍ کې بېرته تعليم پيل کړ. هغه چې له ماشومانو سره ډېره مينه لري، د ماشومانو د ښوونې او روزنې په برخه کې يې مسلکي زده‌کړې وکړې. د اناهيتا روهي لسګونه کتابونه او ژباړې په پښتو ژبه چاپ شوي دي.**»
د ژوندلیک بله ځانګړنه دا ده چې پېښې په کې په زماني ترتيب سره وړاندې کېږي څکه چې کيسې همداسې ويل کېږي. اول، بيا، وروسته، ورپسې، او ځينې نورې کلمې د دې ډول متنونو نښې دي.

**موږ يې ترسره کوو/ تاسې يې ترسره کوئ**

لاندې چارټ پر تختې رسم کړئ او شاګردانو ته ووایئ: موږ د ژوندلیک لپاره هم معلوماتي چارټ کارولی شو چې د وګړي د ژوند مختلفې برخې په کې تشريح کړو. راځئ چې د اناهيتا روهي د ژوندلیک معلومات په دې چارټ کې وليکو.




**تاسې يې ترسره کوئ**

شاګردانو ته ووایئ: اوس له تاسو غواړم چې د بيوګرافۍ معلوماتي چارټ په خپلو کتابچو کې رسم کړئ او هر برخه يې ډکه کړئ.
[که وخت وي، مختلف شاګردان دې خپل کړی کار نورو ته ولولي او معلم دې هم پر تختې باندې د چارټ ډکولو ته دوام ورکړي.]

**۲. د کيسې لوستل او مجسم کول (۲۰ دقيقې)**

(c) ketabton.com: The Digital Library

شاگردانو ته ووایئ: په کتاب کې مو د انا‌هیتا روهي یوه کیسه راغلې ده چې عنوان یې دی «شنه پاڼه او سره مماڼه».
تاسې په ټیټ غږ کیسه ولولئ او د هرې برخې تر لوستلو وروسته، تم شئ او څه مو چې لوستلي دي، هغه په ذهن کې داسې مجسم کړئ لکه په رښتیا چې یې وینئ.
کله چې شاگردانو لوستل تمام کړل، د کیسې د پیل، منځ او پای په اړ څو شاگردان وپوښتئ چې په ذهن کې یې څه تېر شوي وو.

**کورنۍ دنده:** شاگردانو ته ووایئ: د خپلې کورنۍ د یوه مشر/ مشرې د ژوند په اړه معلومات په چارټ کې ترتیب کړئ.
**نوټ: پنځه شاگردان انتخاب کړئ چې په بل درسي ساعت کې د خپلې کورنۍ د یوه غړي ژوندلیک واوروي. هغوی وپوهوئ چې په بل درسې ساعت کې به پنځه پنځه دقیقې د خپلې کورنۍ د یوه غړي د ژوند معلومات په زماني ترتیب سره وايي. داسې چې کله په کوم ځای کې زېږېدلی دی، ماشومتوب یې په کوم ځای کې او څنگه تېر شوی دی، په کوم عمر یې تعلیم پیل کړی دی، څومره تعلیم یې کړی دی، بیا یې کوم کارونه کړي دي.**

## دریم درسي ساعت

### ۱. وینا (۳۰ دقیقې)

شاگردانو ته ووایئ: نن به ستاسو پنځه تنه ټولگیوال د خپلو کورنیو د یوه غړي ژوندلیک راته وايي. دوی به دغه معلومات په زماني ترتیب سره وايي، یعنې اول څه وشول، بیا څه وشول، ورپسې، وروسته ... او د خپلې کورنۍ د غړو په اړه معلومات راکړي چې په کومه نېټه او په کوم ځای کې زېږېدلی، په ماشومتوب کې یې څه کړي دي، په کوم عمر مکتب کې شامل شوی او په کوم مکتب کې یې درس ویلی دی، کوم مضمون یې خوښ و، په درسونو کې څنگه و، له مکتبه وروسته یې څه وکړل، کوم کسب یا دنده لري او دغسې نور معلومات.
شاگردانو ته ووایئ: کله چې چا ته وینا کوو، ځینې اصول باید مراعات کړو، مثلاً:

- خپلې خبرې به په بسم الله الرحمن الرحیم پیلوو، د وینا په پیل کې به وایو: السلام علیکم و رحمت الله و برکاته. د محترم ښوونکي/ ښوونکې او گرانو ټولگیوالو په اجازه، غواړم نن د .... په اړه خبرې وکړم.
- کله چې وینا کوو، مختلفو اورېدونکو ته وگورو.
- غږ مو باید دومره اوچت وي چې ټولو ته ورسېږي.
- د وینا پر مهال که اړتیا وي، د لاس، اوږو او مخ له حرکتونو کار واخلو.

بیا شاگردانو ته ووایئ: اوس به تاسې د خپلو ټولگیوالو خبرو ته په ځیر غوږ ونیسئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا انتخاب شوي شاګردان په وار سره د ټولګي مخې ته راوغواړئ چې وینا وکړي. کله چې دوی وینا کوي، تاسې یې وارزوئ چې:

- خبرې یې رواني، منسجمې، واضحې دي که نه.
- غږ یې په کافي اندازه اوچت دی که نه.
- د خبرو په وخت کې د لاس او مخ له حرکتونو څه کار اخلي که نه.
- له مخاطبانو سره د سترګو تماس ساتي که نه.

همدارنګه نور شاګردان په دې لحاظ وڅارئ چې:

- له ویناوال سره د سترګو تماس ساتي که نه.
- خپله علاقه او لېوالتیا د سر په خوځولو، موسکا، یا کلامي نښو لکه «ډېر ښه، امممم، واه، ...» ښیي که نه.

که د شاګردانو په چلند کې کومه ستونزه وینئ، د دوو ویناوو تر منځ وقفه کې یې وریاده کړئ، مثلاً که ویناوال د خبرو پر مهال ځمکې ته ګوري، بې له دې د هغه نوم یاد کړئ، ووایئ: کله چې وینا کوو، ښه به وي چې اورېدونکو ته وګورو. په دې توګه به هغوی زموږ خبرو ته لا په مینه غوږ ونیسي.

**۲. ګرامر: د شخصي ضمیرونو اصلي او مغیره حالتونه (۱۰ دقیقې)**

شاګردانو ته ووایئ: په کتاب کې مو پنځه جملې راغلي دي. هره بیاني جمله په سوالي جمله اوښتې ده. تاسې دا جملې ولولئ او له خپلو څنګلوریو ټولګیوالو سره بحث وکړئ چې د نوم پر ځای کوم ضمیر باید ولیکل شي. بیا جملې په خپلو کتابچو کې ولیکئ او د هرې جملې د نوم پر ځای مناسب ضمیرونه وکاروئ.

۱. د رڼا ښاپېرۍ ممانې ته وکتل.

چا ممانې ته وکتل؟

۲. ممانه ډېره خوشحاله شوه.

......هغه... ډېره خوشحاله شوه؟

۳. ستورو به له یو بل سره پټ پټانی کاوه.

......هغوی...... به له یو بل سره پټ پټانی کاوه؟

۴. ټول پر ما ملنډې وهي.

.....هغوی..... پر ما ملنډې وهي؟

۵. د سپوږمۍ په منځ کې د رڼا ښاپېرۍ ناسته ده.

....هغه..... د سپوږمۍ په منځ کې ناسته ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کورنۍ دنده:** شاگردانو ته ووایئ: د ممانې د کیسې په اړه خپل نظر ولیکئ چې د کیسې کومه برخه مو خوښه شوه او ولې مو خوښه شوه.

**څلورم درسي ساعت**

**۱. املا (۵ دقیقې)**

شاگردانو ته ووایئ: اوس به خپلې کتابچې خلاصې کړئ او ځینې کلمې به ولیکئ. د دې لپاره چې د کلمو لیکل راته آسانه شي، کلمې پر برخو وېشو. مثلاً «ناهیلی» دوې برخې لري «نا» او «هیلی». «نا» د نشتوالي معنا لري او «هیلی» یعنې هیله‌منې نو ناهیلی یعنې هغه څوک چې هیله‌من نه دی.

شاگردانو ته ووایئ: به زه کلمې درته ووایم او تاسې به یې په خپلو کتابچو پر برخو ووېشئ او بیا به یې یو ځای ولیکئ.

[دغه کلمې شاگردانو ته ووایئ «ناروغ، ناکس، ناپوه، نالایق». په ټولگي کې وگرځئ او شاگردن وڅارئ. که چا مرستې ته اړتیا درلوده، ورسره مرسته وکړئ.]

**۲. د استنباطي پوښتنو د ځوابونو لیکل** (۱۰ دقیقې)

معلم: د کتاب په ـــــــ مخ کې د کیسې په اړه څو استنباطي پوښتنې راغلي دي. لومړۍ پوښتنه به څوک ولولي؟

[شاگردان گوتې جگوي. یو تن ته ووایئ چې لومړۍ پوښتنه ولولي.]

شاگرد پوښتنه لولي: **۱ .اناهیتا روهي به له کتابتون څخه کوم کتابونه د لوستلو لپاره راوړل؟**

معلم: اوس نو له خپلو څنگلوریو ټولگیوالو سره بحث وکړئ او د پوښتنې ځواب پیدا کړئ. بیا د دې پوښتنې ځواب په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

[کله چې د شاگردانو بحث تمام شو، له دوو تنو وغواړئ چې خپل ځواب له نورو سره شریک کړي. کله چې شاگردان ځواب لیکي، تاسې په ټولگي کې وگرځئ او که چا مرستې ته اړتیا لرله، ورسره مرسته وکړئ.]

دا فعالیت د دوو نورو پوښتنو لپاره هم ترسره کړئ. پاتې پوښتنې دا دي:

**۲ .د دري مضمون معلمه ولې پر اناهیتا روهي ډېره گرانه وه؟**

**۳. د جنگ په کلونو کې به اناهیتا په څه شي پسې ډېره خپه وه؟**

**۳. د متن ارزونه** (۱۰ دقیقې)

شاگردانو ته ووایئ: ستاسو د کتاب په ـــــ مخ کې دوې پوښتنې دي. لومړۍ پوښتنه به څوک ولولي؟ [شاگردان لاسونه جگوي او یو تن ته د پوښتنې د لوستلو اجازه ورکړئ]

شاگرد پوښتنه لولي: **۱. په ژوند لیک کې راغلي معلومات څومره واضح او په زړه پورې وو؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا ووایئ: منته! اوس نو د دې پوښتنې په اړه له خپلو څنګلوریو ټولګیوالو سره بحث وکړئ. پر دې وغږېږئ چې د متن معلومات واضح او په زړه پورې وو، که نه.

[شاګردان دې دوه دقیقې بحث وکړي او تاسې په ټولګي کې وګرځئ. وروسته له دوو شاګردانو څخه وغواړئ چې خپل نظر شریک کړي.]

همدا فعالیت د دوهمې پوښتنې لپاره هم ترسره کړئ.

**۲. په متن کې څه شی کم دی؟ ستاسو په نظر، نور کوم معلومات باید په کې راغلي وای؟**

[شاګردانو ته ۵ دقیقې وخت ورکړئ چې ځوابونه په خپلو کتابچو کې ولیکي. تاسې په ټولګي کې وګرځئ. که چا مرستې ته اړتیا درلوده، ورسره مرسته وکړئ. که ډېر شاګردان د کومې خاصې کلمې په لیکلو کې ستونزه ولري، نوټ یې کړئ او بیا یې پر تختې ولیکئ.]

**۴. د متن په اړه خپل نظر لیکل (۱۰ دقیقې)**

معلم: اوس به د متن په اړه خپل نظر ولیکئ. پر دې باندې فکر وکړئ چې متن څنګه و؟ خوښ مو شو که نه؟ د متن کومه برخه مو خوښه شوه او ولې مو خوښه شوه؟ له دې متن څخه مو څه زده کړل؟ له خپلو څنګلوریو ټولګیوالو سره بحث وکړئ او په وار سره د کیسې په اړه خپل نظر ورته ووایئ.

[شاګردانو ته ۴ دقیقې وخت ورکړئ چې بحث وکړي. تاسې په ټولګي کې وګرځئ او شاګردان وڅارئ]

معلم: اوس به په خپلو کتابچو کې د «هلمند او نورستان» متن په اړه خپل نظرونه ولیکئ.

[شاګردانو ته ۵ دقیقې وخت ورکړئ چې خپل نظرونه ولیکي. تاسې په ټولګي کې وګرځئ. که چا مرستې ته اړتیا درلوده، ورسره مرسته وکړئ. که ډېر شاګردان د کومې خاصې کلمې په لیکلو کې ستونزه ولري، نوټ یې کړئ او بیا یې پر تختې ولیکئ. که وخت پاتې و، په آخر کې یو یا دوه شاګردان راوبولئ چې خپله لیکنه ولولي.]

**کورنۍ دنده:**

شاګردانو ته ووایئ: د خپلې کورنۍ د یوه مشر/ مشرې لنډ ژوندلیک ولیکئ. په ژوندلیک کې د هغه/ هغې د ماشوماتوب، مور او پلار، تعلیم، د ژوند ستونزې او بریاوې په اړه معلومات ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## فصل ۵ اونۍ ۲

## درسي ساعت ۱

**۱. سلام، روغبړ، د ټولګي تنظیمول (۳ دقیقې)**

**۲. هجا (۵ دقیقې)**

د تېرو اونیو په شان، له شاګردانو څخه وغواړئ چې د درس په پیل کې په چوکاټ کې راغلې کلمې څپه په څپه ولولي.

**۳. د نویو لغاتو فعالیتونه (۱۰ دقیقې)**

د درس نوې کلمې له شاګردانو سره یو ځای معنا کړئ. د هرې کلمې لپاره لاندې فعالیتونه ترسره کړئ:

۱. هغه جمله چې دا کلمه په کې راغلې وي، ولولئ.

۲. کلمه پر تختې ولیکئ او په شاګردانو یې درې ځله ولولئ.

۳. د کلمې معنا د شاګردانو په سویه، په واضحو او آسانو کلمو بیان کړئ.

۴. له شاګردانو څخه وغواړئ چې هره کلمه په جمله کې وکاروي.

د دې درس کلمې دي: [**روزونکی** = استاد، څوک چې شاګردان روزي او یو خاص مهارت ورزده کوي؛ **کډوال** = څوک چې له خپل وطن څخه وتلی وي او په بل وطن کې اوسي؛ **پارا اولمپیک** = هغه اولمپیکي لوبې چې لوبغاړي یې معلولان دي؛ **پناه غوښتونکی** = څوک چې د جګړې یا نورو ستونزو له امله په بل وطن کې پناه غواړي.]

**۴. لوستل (۲۵ دقیقې)**

**زه یې ترسره کوم/ موږ یې ترسره کوو**

شاګردانو ته ووایئ: د لوستل شویو معلوماتو د یادولو یوه ښه لاره دا ده چې په ذهن کې مو ورسره رابطه جوړه کړو. دغه رابطه کېدای شي شخصي وي، داسې څه چې ستاسو په تجربو، باورونو، خپلوۍ، احساساتو او عواطفو پورې اړه ولري. دا کېدای شي ستاسو له شخصي تجربو سره نه، بلکې د واقعي نړۍ له ځینو نورو شیانو سره رابطه وي یعنې همداسې کسان یا پېښې مو لیدلي وي، یا مو د هغوی په اړه پخوا څه لوستي وي. ان کېدای شي موضوع یې هم یوه نه وي خو د بل متن ځینې شیان به د همدې متن غوندې وي چې اوس یې لولئ. نن به د یوه بې لاسو اتل ورزشکار ژوندلیک ولولو. تاسو ته بل داسې څوک یادېږي چې معلول وي خو په ژوند کې بریالی وي؟

[شاګردان به مختلف ځوابونه درکوي]

له شاګردانو څخه وپوښتئ: ښه. له متن سره د رابطې جوړولو نورې لارې کومې دي؟

[کېدای شي شاګردان دغه ځوابونه درکړي: موږ هغه وخت رایادولی شو چې د کرکټر په شان به مو فکر کاوه؛ موږ نور داسې کسان رایادولی شو چې د دې کرکټر غوندې په ژوند کې له همداسې وضعیت سره مخامخ شوي وو.]

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاسې ووایئ: هو. همدا د رابطې جوړولو لارې دي.

**تاسې یې ترسره کوئ**

شاګردانو ته ووایئ: کله کله سخته وي چې له داسې شیانو سره رابطه جوړه کړو چې زموږ د تجربې له دایرې بهر وي، خو یوه لاره چې دا کار ورباندې کولی شو، دا ده چې ځان د کرکټر په ځای تصور کړو. داسې وګڼې چې د عباس کریمي پر ځای تاسې یاست، له کوره، له دوستانو او له خپلې کورنۍ څخه لرې یاست، په مسافرۍ کې ژوند کوئ او خدای مه کړه لاسونه مو هم نشته، هره ورځ باید تمرین وکړئ چې په پارا اولمپیکي لوبو کې ښه وځلېږئ. کور ته چې ولاړئ، د عباس کریمي له خوا خپلې کورنۍ ته یو لیک ولیکئ او خپلې ستونزې، خپلې هلې ځلې او خپل پلان ورسره شریک کړئ.

شاګردانو ته ووایئ: ښه نو، کله چې متن لولئ، له خپلو پخوانیو معلوماتو سره یې رابطه جوړه کړئ چې دې ته ورته خبرې مو چېرې اورېدلې، لوستلې یا لیدلې وي. دا د لوستل شوي متن په یادولو کې درسره مرسته کوي. اوس د عباس کریمي په اړه متن پخپله ولولئ. د متن هر پراګراف چې لولئ، له ځانه وپوښتنئ چې «دا ما ته څه شی را یادوي؟»
شاګردانو ته د هر پراګراف د لوستلو لپاره ۲ دقیقې وخت ورکړئ. د هر پراګراف تر لوستلو وروسته ۲ دقیقې وخت ورکړئ چې خپلو څنګلوریو ټولګیوالو ته ووایي چې د متن له دې برخې سره یې څنګه رابطه جوړه کړې ده.

**کورنۍ دنده**

**شاګردانو ته ووایئ:** داسې وګڼې چې د عباس کریمي پر ځای تاسې یاست. په مسافرۍ کې ژوند کوئ او له خپلې کورنۍ او دوستانو څخه لرې یاست او خدای مه کړه لاسونه مو هم نشته. هره ورځ باید تمرین وکړئ چې په پارا اولمپیکي لوبو کې ښه وځلېږئ. له همداسې تصور سره خپلې کورنۍ ته یو لیک ولیکئ او خپلې ستونزې، خپلې هلې ځلې او خپل پلان ورسره شریک کړئ.

**دوهم درسي ساعت**

**۱. د ژوندلیک معلوماتي چارټ (۲۰ دقیقې)**

**زه یې ترسره کوم/ موږ یې ترسره کوو**

شاګردانو ته ووایئ: راځئ چې د ژوندلیک ځانګړنو ته یو ځل بیا وګورو. اول به دا ووایو چې ژوندلیک یا بیوګرافي څه ده؟
[شاګردان به ووایي: دا د یوه واقعي شخص د ژوند واقعي کیسه ده.]

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاسې ووايئ: آفرين! ښه نو، بيوګرافي يا ژوندليک د ليکوال د خپل ژوند کيسه وي؟ [د شاګردانو احتمالي ځواب: نه. دا د بل چا د ژوند کيسه وي.]

بيا ووايئ: که څوک د خپل ژوند کيسه وليکي، هغې ته بيا څه وايو؟ [شاګردان به ووايي: اتوبيوګرافي يا خپل ژوندليک]

تاسې ووايئ: بالکل. د بيوګرافۍ يا ژوندليک عنصرونه د چا په ياد دي؟ [د شاګردانو احتمالي ځوابونه: دا د يو چا د ژوند پېښې لکه د زېږېدو ځای او نېټه، ماشومتوب، او مرګ بيانوي.]


ورته ووايئ: همداسې ده. په ژوندليک کې پېښې معمولاً په کوم ترتيب ليکل کېږي؟ [د شاګردانو احتمالي ځواب: د بهير يا لړۍ په شان، په زماني ترتيب سره]

تاسې ووايئ: آفرين! اوس به د ژوندليک په چارټ باندې کار وکړو.

**تاسې يې ترسره کوئ**

شاګردانو ته ووايئ: زه درنه غواړم چې په کتاب کې مو راغلې بيوګرافي ولولئ او معلومات يې په ګرافيکي چارټ کې وليکئ. چارټ له کتاب څخه خپلو کتابچو ته کاپي کړئ.

[که وخت وي، مختلف شاګردان دې خپل کړی کار نورو ته ولولي او معلم دې هم پر تختې باندې د چارټ ډکولو ته دوام ورکړي.]




.

**۲. د کرکټر د کړنو ارزونه (۱۰ دقيقې)**

(c) ketabton.com: The Digital Library

شاگردانو ته ووایئ: اوس به د عباس کریمي کړه وړه او اعمال وارزوئ. ستاسو په کتاب کې دوې پوښتنې دي. لومړۍ پوښتنه به څوک ولولي؟

په یوه شاگرد پوښتنه ولولئ: **عباس کریمي وايي: «هر څه په شوق کېږي. هر شی چې د زړه له تله وغواړې، تر لاسه به یې کړې.» تاسو ته د ده خبره څنگه ښکاري؟**

ورته ووایئ: اوس نو تاسې له خپلو څنگلوریو ټولگیوالو سره بحث وکړئ او په دې اړه خپل نظرونه شریک کړئ.

شاگردانو ته ۳ دقیقې وخت ورکړئ چې بحث وکړي. بیا د مختلفو څوکیو دوه یا درې شاگران وغږوئ چې څه یې ویلي دي. که لازمه وه، تاسې هم خپله تبصره وکړئ.

بیا دوهمه پوښتنه په یوه بل شاگرد ولولئ: **د عباس کریمي دواړه لاسونه نه وو خو بیا یې هم د لامبو د زده کولو نیت وکړ، دا کار یې منطقي و؟ دلیلونه مو ووایئ.**

شاگردانو ته ۳ دقیقې وخت ورکړئ چې بحث وکړي. بیا د مختلفو څوکیو دوه یا درې شاگران وغږوئ چې څه یې ویلي دي. که لازمه وه، تاسې هم خپله تبصره وکړئ.

### کورنۍ دنده

شاگردانو ته ووایئ: خپلې کورنۍ ته د عباس کریمي کیسه وکړئ او پوښتنه وکړئ چې دوی کوم بل څوک پېژني چې معلول و، خو د ژوند په چارو کې بریالی شو. د هغه/ هغې په اړه معلومات ولیکئ.

**نوټ: پنځه شاگردان انتخاب کړئ چې په بل درسي ساعت کې د خپلې کورنۍ د یوه غړي ژوندلیک واوروي. هغوی وپوهوئ چې په بل درسي ساعت کې به پنځه پنځه دقیقې د خپلې کورنۍ د یوه غړي د ژوند معلومات په زماني ترتیب سره وايي. داسې چې کله په کوم ځای کې زېږېدلی دی، ماشومتوب یې په کوم ځای کې او څنگه تېر شوی دی، په کوم عمر یې تعلیم پیل کړی دی، څومره تعلیم یې کړی دی، بیا یې کوم کارونه کړي دي.**

### دریم درسي ساعت

#### ۱. وینا (۳۰ دقیقې)

شاگردانو ته ووایئ: نن به ستاسو پنځه تنه ټولگیوال د خپلو کورنیو د یوه غړي ژوندلیک راته ووايي. دوی به دغه معلومات په زماني ترتیب سره ووايي، یعنې اول څه وشول، بیا څه وشول، ورپسې، وروسته ... او د خپلې کورنۍ د غړو په اړه معلومات راکړي چې په کومه نېټه او په کوم ځای کې زېږېدلی، په ماشومتوب کې یې څه کړي دي، په کوم عمر مکتب

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې شامل شوی او په کوم مکتب کې يې درس ويلی دی، کوم مضمون يې خوښ و، په درسونو کې څنګه و، له مکتبه وروسته يې څه وکړل، کوم کسب يا دنده لري او دغسې نور معلومات.

شاګردان وپوښتۍ: کله چې چا ته وينا کوو، کوم اصول بايد مراعات کړو؟

شاګردان ممکن دغه ټکي ووايي:

- د وينا په پيل کې به وايو: بسم الله الرحمن الرحيم. السلام عليکم و رحمت الله و برکاته.
- د محترم ښوونکي/ ښوونکې او ګرانو ټولګيوالو په اجازه، غواړم نن د .... په اړه خبرې وکړم.
- کله چې وينا کوو، مختلفو اورېدونکو ته وګورو.
- غږ مو بايد دومره اوچت وي چې ټولو ته ورسېږي.
- د وينا پر مهال که اړتيا وي، د لاس، اوږو او مخ له حرکتونو کار واخلو.

که له شاګردانو څخه کومه خبره پاتې وه، هغه تاسې ووايئ.

بيا شاګردانو ته ووايئ: اوس به تاسې د خپلو ټولګيوالو خبرو ته په ځير غوږ ونيسئ، ځکه چې کورنۍ دنده به مو د دوی په خبرو پورې اړه ولري. سمه ده؟

بيا انتخاب شوي شاګردان په وار سره د ټولګي مخې ته راوغواړئ چې وينا وکړي. کله چې دوی وينا کوي، تاسې يې وارزوئ چې:

- خبرې يې روانې، منسجمې، واضحې دي که نه.
- غږ يې په کافي اندازه اوچت دی که نه.
- د خبرو په وخت کې د لاس او مخ له حرکتونو څه کار اخلي که نه.
- له مخاطبانو سره د سترګو تماس ساتي که نه.

همدارنګه نور شاګردان په دې لحاظ وڅارئ چې:

- له ويناوال سره د سترګو تماس ساتي که نه.
- خپله علاقه او لېوالتيا د سر په خوځولو، موسکا، يا کلامي نښو لکه «ډېر ښه، امممم، واه، ...» ښيي که نه.

که د شاګردانو په چلند کې کومه ستونزه وينئ، د دوو ويناوو تر منځ وقفه کې يې ورياده کړئ، مثلاً که ويناوال د خبرو پر مهال اضطراب لري او ژبه نښلي، بې له دې د هغه نوم ياد کړئ، ووايئ: کله چې وينا کوو، ښه به وي چې زړور وغږېږو. که څوک د وينا په وخت کې وېره لري، بايد د وينا له پيلولو مخکې څو وارې ژوره ساه واخلي، يا د وينا پر مهال، قلم په لاس کې ونيسي او په ګوتو يې ټينګ کړي.

### ۲. ګرامر: د شخصي ضميرونو اصلي او مغيره حالتونه (۱۰ دقيقې)

(c) ketabton.com: The Digital Library

شاگردانو ته ووایئ: په کتاب کې مو پنځه جملې راغلې دي. تاسې دا جملې ولولئ او له خپلو څنګلوريو ټولګيوالو سره بحث وکړئ چې د نوم پر ځای کوم ضمير بايد وليکل شي. بيا جملې په خپلو کتابچو کې وليکئ او د هرې جملې د نوم پر ځای مناسب ضميرونه وکاروئ.

۱. عباس کريمي اوس خپلې ټولې چارې پخپله ترسره کوي.

هغه اوس خپلې ټولې چارې پخپله ترسره کوي.

۲. ښاپېرۍ ووېل: شپه په خير!

.....هغې.... ووېل: شپه په خير!

۳. ستورو به له يو بل سره پټ پټانی کاوه.

.......هغوی..... به له يو بل سره پټ پټانی کاوه.

۴. مور يې ژړل.

.....هغې..... ژړل.

۵. د عباس کريمي او محمد کريمي مور ډېره خوشحاله ده.

د .....هغوی.... مور ډېره خوشحاله ده.

**کورنۍ دنده**

شاگردانو ته ووایئ: نن ستاسو ځينو ټولګيوالو د خپلې کورنۍ د غړو په اړه وينا وکړې. د چا د وينا کومه برخه مو خوښه شوه او ولې مو خوښه شوه. په دې اړه څو جملې وليکئ.

**څلورم درسي ساعت**

**۱. املا (۵ دقيقې)**

شاگردانو ته ووایئ: اوس به خپلې کتابچې خلاصې کړئ او ځينې کلمې به وليکئ. د دې لپاره چې د کلمو ليکل راته آسانه شي، کلمې پر برخو وېشو. مثلاً «ناهيلی» دوې برخې لري «کډ» او «وال». «کډ» د کډې لنډه بڼه ده او «وال» يعنې مربوط، اړوند، ورپورې تړلی. نو کډوال يعنې هغه څوک چې کډه يې کړې وي، يعنې هغه څوک چې له خپل وطنه بل وطن ته د اوسېدلو لپاره تللی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شاگردانو ته ووايئ: به زه کلمې درته ووايم او تاسې به يې په خپلو کتابچو پر برخو وويشئ او بيا به يې يو ځای وليکئ.

[دغه کلمې شاگردانو ته ووايئ «نړىوال، بېوال، ټولگيوال، انډيوال». په ټولگي کې وگرځئ او شاگردن وڅارئ. که چا مرستې ته اړتيا درلوده، ورسره مرسته وکړئ.]

**۲. د استنباطي پوښتنو د ځوابونو ليکل (۱۰ دقيقې)**

معلم: د کتاب په ـــــــ مخ کې د کيسې په اړه څو استنباطي پوښتنې راغلي دي. لومړۍ پوښتنه به څوک ولولي؟

[شاگردان گوتې جگوي. يو تن ته ووايئ چې لومړۍ پوښتنه ولولي.]

شاگرد پوښتنه لولي: ۱ .**څه شی د عباس کريمي د بري سبب شو؟**

معلم: اوس نو له خپلو څنگلوريو ټولگيوالو سره بحث وکړئ او د پوښتنې ځواب پيدا کړئ. بيا د دې پوښتنې ځواب په خپلو کتابچو کې وليکئ.

[کله چې د شاگردانو بحث تمام شو، له دوو تنو وغواړئ چې خپل ځواب له نورو سره شريک کړي. کله چې شاگردان ځواب ليکي، تاسې په ټولگي کې وگرځئ او که چا مرستې ته اړتيا لرله، ورسره مرسته وکړئ.]

دا فعاليت د دوو نورو پوښتنو لپاره هم ترسره کړئ. پاتې پوښتنې دا دي:

**۲. عباس کريمي څنگه پوه شو چې په لامبو وهلو کې تکړه کېدای شي؟**

**۳. د لامبو وهلو روزونکي څنگه په ډاډه زړه وويل چې له عباس کريمي څخه به اتل جوړوي؟**

**۳. د متن ارزونه (۱۰ دقيقې)**

شاگردانو ته ووايئ: ستاسو د کتاب په ـــــ مخ کې دوې پوښتنې دي. لومړۍ پوښتنه به څوک ولولي؟ [شاگردان لاسونه جگوي او يو تن ته د پوښتنې د لوستلو اجازه ورکړئ]

شاگرد پوښتنه لولي: **۱. په ژوند ليک کې راغلي معلومات څومره واضح او په زړه پورې وو؟**

بيا ووايئ: مننه! اوس نو د دې پوښتنې په اړه له خپلو څنگلوريو ټولگيوالو سره بحث وکړئ. پر دې وغږېږئ چې د متن معلومات واضح او په زړه پورې وو، که نه.

[شاگردان دې دوه دقيقې بحث وکړي او تاسې په ټولگي کې وگرځئ. وروسته له دوو شاگردانو څخه وغواړئ چې خپل نظر شريک کړي.]

همدا فعاليت د دوهمې پوښتنې لپاره هم ترسره کړئ.

**۲. په متن کې څه شی کم دی؟ ستاسو په نظر، نور کوم معلومات بايد په کې راغلی وای؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library

[شاګردانو ته ۵ دقیقې وخت ورکړئ چې ځوابونه په خپلو کتابچو کې ولیکي. تاسې په ټولګي کې وګرځئ. که چا مرستې ته اړتیا درلوده، ورسره مرسته وکړئ. که ډېر شاګردان د کومې خاصې کلمې په لیکلو کې ستونزه ولري، نوټ یې کړئ او بیا یې پر تختې ولیکئ.]

**۴. د متن په اړه خپل نظر لیکل (۱۰ دقیقې)**

معلم: اوس به د متن په اړه خپل نظر ولیکئ. پر دې باندې فکر وکړئ چې متن څنګه و؟ خوښ مو شو که نه؟ د متن کومه برخه مو خوښه شوه او ولې مو خوښه شوه؟ له دې متن څخه مو څه زده کړل؟ له خپلو څنګلوریو ټولګیوالو سره بحث وکړئ او په وار سره د کیسې په اړه خپل نظر ورته ووایئ.

[شاګردانو ته ۴ دقیقې وخت ورکړئ چې بحث وکړي. تاسې په ټولګي کې وګرځئ او شاګردان وڅارئ]

معلم: اوس به په خپلو کتابچو کې د «هلمند او نورستان» متن په اړه خپل نظرونه ولیکئ.

[شاګردانو ته ۵ دقیقې وخت ورکړئ چې خپل نظرونه ولیکي. تاسې په ټولګي کې وګرځئ. که چا مرستې ته اړتیا درلوده، ورسره مرسته وکړئ. که ډېر شاګردان د کومې خاصې کلمې په لیکلو کې ستونزه ولري، نوټ یې کړئ او بیا یې پر تختې ولیکئ. که وخت پاتې و، په آخر کې یو یا دوه شاګردان راوبولئ چې خپله لیکنه ولولي.]

**کورنۍ دنده:**

شاګردانو ته ووایئ: د خپلې کورنۍ په مرسته د داسې کس لنډ ژوندلیک ولیکئ چې په خوارۍ او زحمت سره بریالی شوی وي. په ژوندلیک کې د هغه/ هغې د ماشوماتوب، مور او پلار، تعلیم، د ژوند ستونزې او بریاوې په اړه معلومات ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**فصل ۵ اونۍ ۳**

**درسي ساعت ۱**

**۱. سلام، روغبړ، د ټولګي تنظیمول (۳ دقیقې)**

**۲. هجا (۵ دقیقې)**

د تېرو اونیو په شان، له شاګردانو څخه وغواړئ چې د درس په پیل کې په چوکاټ کې راغلې کلمې څپه په څپه ولولي.

**۳. د نویو لغاتو فعالیتونه (۱۰ دقیقې)**

د درس نوې کلمې له شاګردانو سره یو ځای معنا کړئ. د هرې کلمې لپاره لاندې فعالیتونه ترسره کړئ:

۱. هغه جمله چې دا کلمه په کې راغلې وي، ولولئ.

۲. کلمه پر تختې ولیکئ او په شاګردانو یې درې ځله ولولئ.

۳. د کلمې معنا د شاګردانو په سویه، په واضحو او آسانو کلمو بیان کړئ.

۴. له شاګردانو څخه وغواړئ چې هره کلمه په جمله کې وکاروي.

د دې درس کلمې دي: [**لوړې زده کړې** = د ښوونځي له تماملو وروسته نور تعلیم چې په پوهنتون یا تحصیلي موسسو کې کېږي؛ **پوهنځی** = په پوهنتون کې د ځانګړي مسلک څانګه لکه طب، انجینیري، حقوق، ادبیات او هر بل مسلک پوهنځی؛ **پروګرام** = هغه منظمې پلان شوې چارې چې د یوه مقصد د پوره کولو لپاره برابرېږي؛ **ولسي جرګه** = د هغو وکیلانو جرګه چې د هر ولایت خلک یې په انتخاباتو کې ټاکي چې د خلکو په ګټه قانونونه جوړ کړي او د حکومت کارونه وڅاري.]

**۴. لوستل (۲۵ دقیقې)**

**زه یې ترسره کوم/ موږ یې ترسره کوو**

شاګردان وپوښتئ: د دې لپاره چې د متن معلومات ښه یاد کړو، څه باید وکړو؟

[شاګردان به احتمالاً ووایي: باید له خپلو تجربو او پخوانیو معلوماتو سره یې رابطه جوړه کړو]

تاسې ووایئ: ډېر ښه. له متن سره د رابطې جوړولو لارې کومې دي؟

[کېدای شي شاګردان دغه ځوابونه درکړي: دا چې د متن د هرې برخې تر لوستلو وروسته له ځان سره فکر وکړو چې همداسې خبرې مو پخوا چېرې اورېدلې، لوستې، یا لیدلې وې.]

تاسې ووایئ: آفرین!

**تاسې یې ترسره کوئ**

(c) ketabton.com: The Digital Library

شاګردانو ته ووایئ: ښه نو، کله چې متن لولئ، له خپلو پخوانیو معلوماتو سره یې رابطه جوړه کړئ چې دې ته ورته خبرې مو چېرې اورېدلې، لوستلې یا لیدلې وي. دا د لوستل شوي متن په یادولو کې درسره مرسته کوي. اوس د مېرمن کبرا نورزۍ په اړه متن پخپله ولولئ. د متن هر پراګراف چې لولئ، له ځانه وپوښتنئ چې «دا ما ته څه شی را یادوي؟»
شاګردانو ته د هر پراګراف د لوستلو لپاره ۲ دقیقې وخت ورکړئ. د هر پراګراف تر لوستلو وروسته ۲ دقیقې وخت ورکړئ چې خپلو څنګلوریو ټولګیوالو ته ووایي چې د متن له دې برخې سره یې څنګه رابطه جوړه کړې ده.
[که وخت وي، یو څو شاګردان وغږوئ چې د کوم پراګراف په لوستلو سره څه شی ورياد شوی دی.]

**کورنۍ دنده**

**شاګردانو ته ووایئ:** د خپلې کورنۍ د یوې مشرې یا یوه مشر کیسه واورئ چې مکتب یې په څو کلنۍ کې پیل کړ، څومره تعلیم یې وکړ، کوم مضمون یې خوښ و، او خپل درسونه به یې څنګه زده کول. بیا همدغه معلومات ولیکئ.

**دوهم درسي ساعت**

**۱. د ژوندلیک معلوماتي چارټ (۲۰ دقیقې)**

**زه یې ترسره کوم/ موږ یې ترسره کوو**


شاګردانو ته ووایئ: راځئ چې د ژوندلیک ځانګړنو ته یو ځل بیا وګورو. اول به دا ووایو چې ژوندلیک یا بیوګرافي څه ده؟
[شاګردان به ووایي: دا د یوه واقعي شخص د ژوند واقعي کیسه ده.]
تاسې ووایئ: آفرین! ښه نو، بیوګرافي یا ژوندلیک د لیکوال د خپل ژوند کیسه وي که د بل چا؟ [د شاګردانو احتمالي ځواب: نه. دا د بل چا د ژوند کیسه وي.]
بیا ووایئ: که څوک د خپل ژوند کیسه ولیکي، هغې ته بیا څه وایو؟ [شاګردان به ووایي: اټوبیوګرافي یا خپل ژوندلیک]
تاسې ووایئ: بالکل. د بیوګرافۍ یا ژوندلیک عنصرونه د چا په یاد دي؟ [د شاګردانو احتمالي ځوابونه: دا د یو چا د ژوند پېښې لکه د زېږېدو ځای او نېټه، ماشومتوب، او مرګ بیانوي.]
ورته ووایئ: همداسې ده. په ژوندلیک کې پېښې معمولاً په کوم ترتیب لیکل کېږي؟ [د شاګردانو احتمالي ځواب: د بهیر یا لړۍ په شان، په زماني ترتیب سره]
تاسې ووایئ: آفرین! په ژوندلیک کې نورې کومې خبرې وي؟
[شاګردان ممکن ووایي: د یو چا بریاوې او اهمیت]

**تاسې یې ترسره کوئ**

شاګردانو ته ووایئ: ډېر ښه. اوس درنه غواړم چې په کتاب کې مو د مېرمن کبرا نورزۍ ژوندلیک ولولئ او معلومات یې په ګرافیکي چارټ کې ولیکئ. چارټ له کتاب څخه خپلو کتابچو ته کاپي کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

[که وخت وي، مختلف شاګردان دې خپل کړی کار نورو ته ولولي او معلم دې هم پر تختې باندې د چارټ ډکولو ته دوام ورکړي.]




.

**۲. د کرکټر د کړنو ارزونه (۱۰ دقيقې)**

شاګردانو ته ووايئ: اوس به د مېرمن کبرا نورزۍ کړه وړه او اعمال وارزوئ. ستاسو په کتاب کې دوې پوښتنې دي. لومړۍ پوښتنه به څوک ولولي؟

په يوه شاګرد پوښتنه ولولئ: **مېرمن کبرا نورزۍ په ملالۍ ليسه کې لابراتوارونه جوړ کړل او کتابتون ته يې نوي کتابونه راوړل، دا کار يې تاسو ته څنګه ښکاري؟**

ورته ووايئ: اوس نو تاسې له خپلو څنګلوريو ټولګيوالو سره بحث وکړئ او په دې اړه خپل نظرونه شريک کړئ.

شاګردانو ته ۳ دقيقې وخت ورکړئ چې بحث وکړي. بيا د مختلفو څوکيو دوه يا درې شاګران وغږوئ چې څه يې ويلي دي. که لازمه وه، تاسې هم خپله تبصره وکړئ.

بيا دوهمه پوښتنه په يوه بل شاګرد ولولئ: **د جنګ په کلونو کې ډېر خلک له وطن څخه ولاړل، خو مېرمن نورزۍ په وطن کې پاتې شوه، دا کار يې څنګه ارزوئ؟**

شاګردانو ته ۳ دقيقې وخت ورکړئ چې بحث وکړي. بيا د مختلفو څوکيو دوه يا درې شاګران وغږوئ چې څه يې ويلي دي. که لازمه وه، تاسې هم خپله تبصره وکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کورنۍ دنده**

شاگردانو ته ووايئ: خپلې کورنۍ ته د مېرمن کبرا نورزۍ کيسه وکړئ او پوښتنه وکړئ چې دوی کومه بله مېرمن پېژني چې خلکو ته يې ښه خدمت کړی وي. د هغې په اړه معلومات وليکئ.

**نوټ: پنځه شاگردان انتخاب کړئ چې په بل درسي ساعت کې د خپلې کورنۍ د يوه غړي ژوندليک واوروي. هغوی وپوهوئ چې په بل درسي ساعت کې به پنځه پنځه دقيقې د خپلې کورنۍ د يوه غړي د ژوند معلومات په زماني ترتيب سره وايي. داسې چې کله په کوم ځای کې زېږېدلی دی، ماشومتوب يې په کوم ځای کې او څنگه تېر شوی دی، په کوم عمر يې تعليم پيل کړی دی، څومره تعليم يې کړی دی، بيا يې کوم کارونه کړي دي.**

**دريم درسي ساعت**

**۱. وينا (۳۰ دقيقې)**

شاگردانو ته ووايئ: نن به ستاسو پنځه تنه ټولگيوال د خپلو کورنيو د يوه غړي ژوندليک راته ووايي. دوی به دغه معلومات په زماني ترتيب سره ووايي.

شاگردان وپوښتئ: کله چې چا ته وينا کوو، کوم اصول بايد مراعات کړو؟

شاگردان ممکن دغه ټکي ووايي:

- د وينا په پيل کې به وايو: بسم الله الرحمن الرحيم. السلام عليکم و رحمت الله و برکاته.
- د محترم ښوونکي/ ښوونکې او گرانو ټولگيوالو په اجازه، غواړم نن د .... په اړه خبرې وکړم.
- کله چې وينا کوو، مختلفو اورېدونکو ته وگورو.
- غږ مو بايد دومره اوچت وي چې ټولو ته ورسېږي.
- د وينا پر مهال که اړتيا وي، د لاس، اوږو او مخ له حرکتونو کار واخلو.

که له شاگردانو څخه کومه خبره پاتې وه، هغه تاسې ووايئ.

بيا شاگردانو ته ووايئ: اوس به تاسې د خپلو ټولگيوالو خبرو ته په ځير غوږ ونيسئ، ځکه چې کورنۍ دنده به مو د دوی په خبرو پورې اړه ولري. سمه ده؟

بيا انتخاب شوي شاگردان په وار سره د ټولگي مخې ته راوغواړئ چې وينا وکړي. کله چې دوی وينا کوي، تاسې يې وارزوئ چې:

- خبرې يې رواني، منسجمې، واضحې دي که نه.
- غږ يې په کافي اندازه اوچت دی که نه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د خبرو په وخت کې د لاس او مخ له حرکتونو څه کار اخلي که نه.
- له مخاطبانو سره د سترګو تماس ساتي که نه.

همدارنګه نور شاګردان په دې لحاظ وڅارئ چې:

- له ویناوال سره د سترګو تماس ساتي که نه.
- خپله علاقه او لېوالتیا د سر په خوځولو، موسکا، یا کلامي نښو لکه «ډېر ښه، اممممم، واه، ...» ښیي که نه.

که د شاګردانو په چلند کې کومه ستونزه وینئ، د دوو ویناوو تر منځ وقفه کې یې وریاده کړئ، مثلاً که ویناوال د خبرو پر مهال بې ځایه خاندي، بې له دې د هغه نوم یاد کړئ، ووایئ: کله چې وینا کوو، ښه به وي چې هسې بې ځایه ونه خاندو.

**۲. ګرامر: د شخصي ضمیرونو اصلي او مغیره حالتونه (۱۰ دقیقې)**

شاګردانو ته ووایئ: په کتاب کې مو پنځه جملې راغلې دي. تاسې دا جملې ولولئ او له خپلو څنګلوریو ټولګیوالو سره بحث وکړئ چې د نوم پر ځای کوم ضمیر باید ولیکل شي. بیا جملې په خپلو کتابچو کې ولیکئ او د هرې جملې د نوم پر ځای مناسب ضمیرونه وکاروئ.

۱. مېرمن کبرا نورزۍ کلینیکونه جوړ کړل.

هغې کلینیکونه جوړ کړل.

۲. کبرا په کابل کې وزېږېده.

.....هغه.... په کابل کې وزېږېده.

۳. مېرمنو ته یې د لیک لوست پروګرامونه زیات کړل.

......هغوی...... ته یې د لیک لوست پروګرامونه زیات کړل.

۴. د کبرا پلار پوهېده چې تعلیم هلکانو او نجونو دواړو ته ګټور دي.

د .....هغې.... پلار پوهېده چې تعلیم هلکانو او نجونو دواړو ته ګټور دي.

۵. د کابل خلکو ته د مېرمن کبرا خدمتونه معلوم وو.

د کابل خلکو ته د ....هغې..... خدمتونه معلوم وو.

**کورنۍ دنده**

شاګردانو ته ووایئ: نن ستاسو ځینو ټولګیوالو د خپلې کورنۍ د غړو په اړه وینا وکړې. د چا د وینا کومه برخه مو خوښه شوه او ولې مو خوښه شوه. په دې اړه څو جملې ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**څلورم درسي ساعت**

**۱. املا (۵ دقیقې)**

شاگردانو ته ووایئ: اوس به خپلې کتابچې خلاصې کړئ او ځینې کلمې به ولیکئ. د دې لپاره چې د کلمو لیکل راته آسانه شي، کلمې پر برخو وېشو. مثلاً «نورزی» دوې برخې لري «نور» او «زی». «نور» نوم دی، د یوې قبیلې نوم او «زی» یعنې لور. نو نورزی هغه مېرمن چې د نورزیو له قبیلې ښځه وي.

شاگردانو ته ووایئ: به زه کلمې درته ووایم او تاسې به یې په خپلو کتابچو پر برخو ووېشئ او بیا به یې یو ځای ولیکئ. [دغه کلمې شاگردانو ته ووایئ «بارکزی، احمدزی، پوپلزی، اڅکزی». په ټولگي کې وگرځئ او شاگردن وڅارئ. که چا مرستې ته اړتیا درلوده، ورسره مرسته وکړئ.]

**۲. د استنباطي پوښتنو د ځوابونو لیکل (۱۰ دقیقې)**

معلم: د کتاب په ــــــــ مخ کې د کیسې په اړه څو استنباطي پوښتنې راغلي دي. لومړی پوښتنه به څوک ولولي؟ [شاگردان گوتې جگوي. یو تن ته ووایئ چې لومړی پوښتنه ولولي.]

شاگرد پوښتنه لولي: ۱ .**کله چې مېرمن کبرا نورزی د ملالی لیسې مدیره وه، دا لیسه ولې د نجونو بهترینه لیسه شوه؟**

معلم: اوس نو له خپلو څنگلوریو ټولگیوالو سره بحث وکړئ او د پوښتنې ځواب پیدا کړئ. بیا د دې پوښتنې ځواب په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

[کله چې د شاگردانو بحث تمام شو، له دوو تنو وغواړئ چې خپل ځواب له نورو سره شریک کړي. کله چې شاگردان ځواب لیکي، تاسې په ټولگي کې وگرځئ او که چا مرستې ته اړتیا لرله، ورسره مرسته وکړئ.]

دا فعالیت د دوو نورو پوښتنو لپاره هم ترسره کړئ. پاتې پوښتنې دا دي:

**۲ .مېرمن نورزی چې د روغتیا وزیره وه، ولې به یې ولایتونو ته سفرونه کول؟**

**۳. مېرمن نورزی ولې دوه وارې د مېرمنو ټولنې رییسه شوه؟**

**۳. د متن ارزونه (۱۰ دقیقې)**

شاگردانو ته ووایئ: ستاسو د کتاب په ــــــ مخ کې دوې پوښتنې دي. لومړی پوښتنه به څوک ولولي؟ [شاگردان لاسونه جگوي او یو تن ته د پوښتنې د لوستلو اجازه ورکړئ]

شاگرد پوښتنه لولي: **۱. په ژوند لیک کې راغلي معلومات څومره واضح او په زړه پورې وو؟**

بیا ووایئ: مننه! اوس نو د دې پوښتنې په اړه له خپلو څنگلوریو ټولگیوالو سره بحث وکړئ. پر دې وغږېږئ چې د متن معلومات واضح او په زړه پورې وو، که نه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

[شاگردان دې دوه دقيقې بحث وکړي او تاسې په ټولگي کې وگرځئ. وروسته له دوو شاگردانو څخه وغواړئ چې خپل نظر شريک کړي.]

همدا فعاليت د دوهمې پوښتنې لپاره هم ترسره کړئ.

**۲. په متن کې څه شی کم دی؟ ستاسو په نظر، نور کوم معلومات بايد په کې راغلی وای؟**

[شاگردانو ته ۵ دقيقې وخت ورکړئ چې ځوابونه په خپلو کتابچو کې وليکي. تاسې په ټولگي کې وگرځئ. که چا مرستې ته اړتيا درلوده، ورسره مرسته وکړئ. که ډېر شاگردان د کومې خاصې کلمې په ليکلو کې ستونزه ولري، نوټ يې کړئ او بيا يې پر تختې وليکئ.]

**۴. د متن په اړه خپل نظر ليکل** (۱۰ دقيقې)

معلم: اوس به د متن په اړه خپل نظر وليکئ. پر دې باندې فکر وکړئ چې متن څنگه و؟ خوښ مو شو که نه؟ د متن کومه برخه مو خوښه شوه او ولې مو خوښه شوه؟ له دې متن څخه مو څه زده کړل؟ له خپلو څنگلوريو ټولگيوالو سره بحث وکړئ او په وار سره د کيسې په اړه خپل نظر ورته ووايئ.

[شاگردانو ته ۴ دقيقې وخت ورکړئ چې بحث وکړي. تاسې په ټولگي کې وگرځئ او شاگردان وڅارئ]

معلم: اوس به په خپلو کتابچو کې د «هلمند او نورستان» متن په اړه خپل نظرونه وليکئ.

[شاگردانو ته ۵ دقيقې وخت ورکړئ چې خپل نظرونه وليکي. تاسې په ټولگي کې وگرځئ. که چا مرستې ته اړتيا درلوده، ورسره مرسته وکړئ. که ډېر شاگردان د کومې خاصې کلمې په ليکلو کې ستونزه ولري، نوټ يې کړئ او بيا يې پر تختې وليکئ. که وخت پاتې و، په آخر کې يو يا دوه شاگردان راوبولئ چې خپله ليکنه ولولي.]

**کورنۍ دنده**

شاگردانو ته ووايئ: د خپلې کورنۍ په مرسته د خپلې سيمې د داسې ښځې يا سړي لنډ ژوندليک وليکئ چې مهم کارونه يې کړي وي او خلکو ته يې ډېر خدمت کړی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## فصل ٦ اونۍ ١

د فصل پر ژانر، ستړې مفکورې او اساسي پوښتنو بحث وکړئ. په دې فصل کې د شعر ژانر راغلی دی. په شعر کې انسان خپل احساسات او عواطف بیانوي. شعر له نورو لیکنو یعنې له نثري لیکنو سره ځینې توپیرونه لري. په شعر کې معمولاً جملې د څپو د شمېر په حساب سره برابرې وي چې دې ته وزن وایو. همدارنګه د شعر د هرې جملې یا کرښې په پای کې داسې هم‌قافیه کلمې راځي. هم‌قافیه کلمې هغه دي چې د پای غږونه یې یو شان وي لکه تیار، سهار، کرار؛ آسمان، جهان، وران، ودان.

## درسي ساعت ١

**١. سلام، روغبړ، د ټولګي تنظیمول (٣ دقیقې)**

**٢. هجا (٢ دقیقې)**

له شاګردانو څخه وغواړئ چې د درس په پیل کې په چوکاټ کې راغلې کلمې څپه په څپه ولولي.

**٣. د نویو لغتونو فعالیتونه (١٠ دقیقې)**

د درس نوې کلمې له شاګردانو سره یو ځای معنا کړئ. د هرې کلمې لپاره لاندې فعالیتونه ترسره کړئ:

١. هغه بیت چې دا کلمه په کې راغلې، ولولئ.

٢. کلمه پر تختې ولیکئ او په شاګردانو یې درې ځله ولولئ.

٣. د کلمې معنا د شاګردانو په سویه، واضح او آسان بیان کړئ.

٤. له شاګردانو څخه وغواړئ چې هره کلمه په جمله کې وکاروي.

د دې درس کلمې دي: [**راکښېنم** = راویښ شم، له خوبه راپاڅم؛ **ناشتا** = سبناری، د سهار چای او خواړه؛ **ترپا** = په ترپکو تګ کول؛ **مدار** = کرار، ورو.]

**٤. لوستل**

**الف. تر لوستلو مخکې او د لوستلو په بهیر کې (١٠ دقیقې)**

١. شاګردانو ته ووایئ: نن به تاسې یو ښکلی شعر ولولئ. په تېرو درسونو کې مو کیسې، معلوماتي متنونه او ژوندلیکونه لوستي وو. دغه شعر چې لولئ، فکر وکړئ چې شعر له هغو نورو متنونو سره څه توپیر لري.

٢. شعر په لوړ غږ او په مناسب لحن او آهنګ سره ولولئ. بیا په دوو یا دریو شاګردانو شعر ولولئ.

**ب. تر لوستلو وروسته (٢٠ دقیقې)**

**١. شاګردانو ته ووایئ:** ښه نو، اوس تاسې ووایاست چې شعر له نثر سره کوم توپیرونه لري.

کېدای شي شاګردان د شعر او نثر ځینې توپیرونه ووایي. د هغوی د خبرو اورېدو ته ٣ دقیقې وخت ورکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا ورته ووایئ: ډېر ښه. د شعر او نثر یو توپیر دا دی چې نثر جملې او پراګرافونه لري، خو په شعر کې بیتونه او مسرې دي. **چې راکښېنم سهار** **خپل کالي کړم تیار** دا یو بیت دی او څنګه چې په نثر کې یوه جمله یوه خاصه خبره راته کوي، په شعر کې یو بیت لکه یوه جمله یوه بشپړه خبره کوي. هر بیت بیا دوې مسرې لري. مثلاً په دې بیت کې «**چې راکښېنم سهار**» یوه مسره ده او «**خپل کالي کړم تیار**» بله مسره. دا دواړه مسرې چې سره یوځای شي خبره تکمیلېږي چې «سهار چې له خوبه راپاڅم، خپل کالي تیاورم.»

دا د جملې غوندې پوره خبره ده؟ [شاګردان به ووایي: هو.]

تاسې ووایئ: آفرین! اوس نو تاسې د شعر هر بیت جلا جلا ولیکئ او د هر بیت مسرې په نښه کړئ.

شاګردانو ته ۵ دقیقې وخت ورکړئ چې شعر بیت په بیت ولیکي. تاسې په ټولګي کې وګرځئ او که چا مرستې ته اړتیا درلوده، ورسره مرسته وکړئ.

**۲. شاګردانو ته ووایئ:** د شعر او نثر بل توپیر دا دی چې د نثر جملې ټولې یوه اندازه نه وي، کېدای شي یوه یې اوږده وي، بله لنډه. په شعر کې بیا هره مسره د څپو په حساب یوه اندازه وي، که یوه مسره ۵ څپې وي، بله به هم ۵ څپې وي. لکه د تلې دوه پلې چې سره برابرې وي. دې ته وزن وایي. نو په شعر کې د ټولو مسرو وزن یوه شی وي. ښه نو، څوک به دې شعر د لومړۍ مسرې څپې وګڼي؟

یو یا دوو شاګردانو ته وخت ورکړئ چې د لومړۍ مسرې څپې حساب کړي. بیا یو یا دوه نور شاګردان راوبولئ چې د دوهمې مسرې څپې وګڼي.

بیا تاسې ووایئ: آفرین! لکه څنګه چې وینئ، دا دواړه مسرې ٦ – ٦ څپې لري، یعنې وزن یې برابر دی. اوس نو تاسې د هر بیت هره مسره ولولئ او څپې یې حساب کړئ. په خپلو کتابچو کې د هرې مسرې د څپو شمېر ولیکئ.

شاګردانو ته ۵ دقیقې وخت ورکړئ چې شعر بیت په بیت ولیکي. تاسې په ټولګي کې وګرځئ او که چا مرستې ته اړتیا درلوده، ورسره مرسته وکړئ.

**۳. شاګردانو ته ووایئ:** دې ته مو پام شوی دی چې د شعر د هر بیت په پای کې داسې کلمې راغلې دي چې د پای غږونه یې سره یو شان دي؟ لکه په دې شعر کې د لومړي بیت اوله مسره په «سهار» ختمېږي او دوهمه یې په «تیار». د «سهار» او «تیار» په پای کې کوم غږ یو شان دی؟

[کېدای شي شاګردان ووایي چې د دواړو په آخر کې «آر» یو شان دی.]

تاسې ووایئ: آفرین! د سهار په آخر کې هم د /آر/ غږ لرو او د «تیار» په آخر کې هم د /آر/ غږ دی. داسې کلمو ته چې د مسرو په پای کې راځي او وروستي غږونه یې سره یو شان دي، همقافیه ویل کېږي. اوس نو تاسې په دې شعر کې نورې داسې کلمې پیدا کړئ چې د مسرو په پای کې راغلې وي او د پای غږونه یې سره یو شان وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۴. فعالیت**: شاګردانو ته ۵ دقیقې وخت ورکړئ چې د شعر بیتونه جلا جلا ولیکي. تاسې په ټولګي کې وګرځئ او که چا مرستې ته اړتیا درلوده، ورسره مرسته وکړئ.

**۵.شاګردانو ته ووایئ:** کورنۍ دنده مو دا ده چې د شعر مفهوم په خپله ژبه ولیکئ، داسې چې د هر بیت پر ځای یې یوه جمله راغلې وي، لکه:

| | |
|---|---|
| **چې راکښېنم سهار** | **خپل کالي کړم تیار** |
| **سهار چې له خوبه راپاځم، خپلې کالي تیاروم.** | |

## درسي ساعت ۲

**۱. سلام، روغبړ، د ټولګي تنظیمول (۳ دقیقې)**

**۲. هجا (۲ دقیقې)**

له شاګردانو څخه وغواړئ چې د درس په پیل کې په چوکاټ کې راغلې کلمې څپه په څپه ولولي.

**۳. د نویو لغتونو فعالیتونه (۱۰ دقیقې)**

د درس نوې کلمې له شاګردانو سره یو ځای معنا کړئ. د هرې کلمې لپاره لاندې فعالیتونه ترسره کړئ:

۱. هغه بیت چې دا کلمه په کې راغلې، ولولئ.

۲. کلمه پر تختې ولیکئ او په شاګردانو یې درې ځله ولولئ.

۳. د کلمې معنا د شاګردانو په سویه، واضح او آسان بیان کړئ.

۴. له شاګردانو څخه وغواړئ چې هره کلمه په جمله کې وکاروي.

د دې درس کلمې دي: [**ټنۍ** = ګروی، تکمه؛ **پنډوسکی** = توپ، ګېن، ټوپکی؛ **چابکې** = چالاکې، چټکې؛ **جینۍ** = نجلۍ، جینکۍ.]

**۴. لوستل**

**الف. تر لوستلو مخکې او د لوستلو په بهیر کې (۱۰ دقیقې)**

۱. شاګردانو ته ووایئ: نن به بیا یو شعر ولولو او بیا به د شعر او نثر پر توپیرونو بحث وکړو.

۲. شعر په لوړ غږ او په مناسب لحن او آهنګ سره ولولئ. بیا دوه یا درې شاګردان راوبولئ چې شعر ولولي.

**ب. تر لوستلو وروسته (۲۰ دقیقې)**

**۱. شاګردانو ته ووایئ:** ښه نو، شعر له نثر سره کوم توپیرونه لري؟

کېدای شي شاګردان د شعر او نثر ځینې توپیرونه ووایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغوی د خبرو اورېدو ته ۳ دقیقې وخت ورکړئ.

بیا ورته ووایئ: ډېر ښه. د شعر او نثر یو توپیر دا دی چې نثر جملې او پراګرافونه لري، خو په شعر کې بیتونه او مسرې دي. «**زما لاس کې مری لیکې، لیکې مرغی**» دا څه شی دی؟

شاګردان به وایي: دا یو بیت دی.

تاسې ووایئ: آفرین! او مسرې یې کومې دي.

شاګردان به ووایي: « **زما لاس کې مری**» یوه مسره ده او « **لیکې، لیکې مرغی**» بله مسره.

تاسې ووایئ: آفرین! اوس نو تاسې د شعر هر بیت جلا جلا ولیکئ او د هر بیت مسرې په نښه کړئ.

شاګردانو ته ۵ دقیقې وخت ورکړئ چې شعر بیت په بیت ولیکي. تاسې په ټولګي کې وګرځئ او که چا مرستې ته اړتیا درلوده، ورسره مرسته وکړئ.

**۲. شاګردانو ته ووایئ:** د شعر او نثر بل توپیر دا و چې په شعر کې هره مسره د څپو په حساب یوه اندازه وي، که یوه مسره ٦ څپې وي، بله به یې هم ٦ څپې وي. دې ته څه وایي؟

شاګردان به وایي: دې ته وزن وایي.]

بیا تاسې ووایئ: آفرین! اوس نو تاسې د هر بیت هره مسره ولولئ او څپې یې حساب کړئ. په خپلو کتابچو کې د هرې مسرې د څپو شمېر ولیکئ.

شاګردانو ته ۵ دقیقې وخت ورکړئ چې شعر بیت په بیت ولیکي. تاسې په ټولګي کې وګرځئ او که چا مرستې ته اړتیا درلوده، ورسره مرسته وکړئ.

**۳. شاګردانو ته ووایئ:** دې ته مو پام شوی دی چې د شعر د هر بیت په پای کې داسې کلمې راغلې دي چې د پای غږونه یې سره یو شان دي؟ لکه په دې شعر کې د لومړي بیت اوله مسره په «مری» ختمېږي او دوهمه یې په «مرغی». د «مری» او «مرغی» په پای کې کوم غږ یو شان دی؟

[کېدای شي شاګردان ووایي چې د دواړو په آخر کې «ی» یو شان دی.]

تاسې ووایئ: آفرین! د مری په آخر کې هم د */ی/* غږ لرو او د «مرغی» په آخر کې هم د */ی/* غږ دی. داسې کلمو ته چې د مسرو په پای کې راځي او وروستي غږونه یې سره یو شان دي، څه ویل کېږي؟

شاګردان به ځواب درکړي: هم‌قافیه

تاسې ووایئ: آفرین! اوس نو تاسې په دې شعر کې نورې داسې کلمې پیدا کړئ چې د مسرو په پای کې راغلې وي او د پای غږونه یې سره یو شان وي.

بیا ووایئ: ډېر ښه! دلته به د شعر او نثر بل توپیر هم وپېژنئ. په دې بیت کې چې وایي «**زما لاس کې مری لیکې، لیکې مرغی**» دلته خبره پوره شوې ده، که څه کمی په کې شته؟ دا خبره که په نثر کې ولیکو، نو وایو به چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما په لاس کې مرۍ دي او ليکې ليکې مرغۍ دي. خو په شعر کې کله کله د جملې فعل غورځول کېږي، لکه دلته چې «دي» غورځېدلې ده.

**۴. فعاليت**: شاګردانو ته ۵ دقيقې وخت ورکړئ چې د شعر بيتونه جلا جلا وليکي. تاسې پـه ټـولګي کـې وګرځـئ او کـه چا مرستې ته اړتيا درلوده، ورسره مرسته وکړئ.

**۵. شاګردانو ته ووايئ:** کورنۍ دنده مو دا ده چې د شعر هر بيت په يوه جمله کې وليکئ او که په بيت کې فعل نـه وي، تاسې په جمله کې فعل هم وليکئ چې پوره شي.

## درسي ساعت ۳

**۱. سلام، روغبړ، د ټولګي تنظيمول (۳ دقيقې)**

**۲. هجا (۲ دقيقې)**

له شاګردانو څخه وغواړئ چې د درس په پيل کې په چوکاټ کې راغلې کلمې څپه په څپه ولولي.

**۳. د نويو لغتونو فعاليتونه (۱۰ دقيقې)**

د درس نوې کلمې له شاګردانو سره يو ځای معنا کړئ. د هرې کلمې لپاره لاندې فعاليتونه ترسره کړئ:

۱. هغه بيت چې دا کلمه په کې راغلې، ولولئ.

۲. کلمه پر تختې وليکئ او په شاګردانو يې درې ځله ولولئ.

۳. د کلمې معنا د شاګردانو په سويه، واضح او آسان بيان کړئ.

۴. له شاګردانو څخه وغواړئ چې هره کلمه په جمله کې وکاروي.

د دې درس کلمې دي: [**پڼې** = زرين ښايسته بوټونه، چووټې؛ **سدرۍ** = واسکټ؛ **چرمـه** = د سرو زرو يـا سـپينو زرو پـه رنګ نرۍ رتياړې چې په کميس او واسکټ باندې ګنډل کېږي؛ **لښتۍ** = غوړوالی، هغه ګاڼه چې په غوږونو کـې ځـړول کېږي.]

**۴. لوستل**

**الف. تر لوستلو مخکې او د لوستلو په بهير کې (۱۰ دقيقې)**

۱. شاګردانو ته ووايئ: نن به بيا يو شعر ولولو او بيا به د شعر او نثر پر توپيرونو بحث وکړو.

۲. شعر په لوړ غږ او په مناسب لحن او آهنګ سره ولولئ. بيا دوه يا درې شاګردان راوبولئ چې شعر ولولي.

**ب. تر لوستلو وروسته (۲۰ دقيقې)**

**۱. شاګردانو ته ووايئ:** ښه نو، شعر له نثر سره کوم توپيرونه لري؟

کېدای شي شاګردان د شعر او نثر ځينې توپيرونه ووايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغوی د خبرو اورېدو ته ۳ دقیقې وخت ورکړئ.

بیا ورته ووایئ: ډېر ښه. د شعر او نثر یو توپیر دا دی چې نثر جملې او پراګرافونه لري، خو په شعر کې بیتونه او مسرې دي. « **زما کمیس خامکي ستا کمیس د چرمو**» دا څه شی دی؟

شاګردان به وایي: دا یو بیت دی.

تاسې ووایئ: آفرین! او مسرې یې کومې دي.

شاګردان به ووایي: « **زما کمیس خامکي**» یوه مسره ده او «**ستا کمیس د چرمو**» بله مسره.

تاسې ووایئ: آفرین! اوس نو تاسې د شعر هر بیت جلا جلا ولیکئ او د هر بیت مسرې په نښه کړئ.

شاګردانو ته ۵ دقیقې وخت ورکړئ چې شعر بیت په بیت ولیکي. تاسې په ټولګي کې وګرځئ او که چا مرستې ته اړتیا درلوده، ورسره مرسته وکړئ.

**۲. شاګردانو ته ووایئ:** د شعر او نثر بل توپیر دا و چې په شعر کې هره مسره د څپو په حساب یوه اندازه وي. دې ته څه وایي؟

[شاګردان به وایي: دې ته وزن وایي.]

بیا تاسې ووایئ: آفرین! د دې شعر لومړی او دوهمه مسره ٦ – ٦ څپې لري.

| |
|---|
| **زما ـ ک ـ ـمیس ـ خا ـ مـ ـ ـکي** (٦ څپې) **ستا ـ ک ـ ـمیس ـ د ـ چر ـ مو** (٦څپې) |

شاګردانو ته ووایئ: ګورئ! په هغه بل شعر کې مو «زما» په ۲ څپو حساب کړې وه «ز ـ ما» خو په دې شعر کې مو یوه څپه وګڼله «زما». نو ځینې کلمې په شعر کې د وزن د پوره کولو لپاره کله یوه څپه کله دوه څپې ویل کېږي. اوس نو تاسې د هر بیت هره مسره ولولئ او څپې یې حساب کړئ. په خپلو کتابچو کې د هرې مسرې د څپو شمېر ولیکئ.

شاګردانو ته ۵ دقیقې وخت ورکړئ چې شعر بیت په بیت ولیکي. تاسې په ټولګي کې وګرځئ او که چا مرستې ته اړتیا درلوده، ورسره مرسته وکړئ.

**۳. شاګردانو ته ووایئ:** هغه کلمې چې د هر بیت په پای کې راغلې دي او د پای غږونه یې سره یو شان دي، څه شی بولو؟ [شاګردان به ځواب درکړي: هم‌قافیه]

تاسې ووایئ: ډېر ښه. د دې شعر د لومړي بیت په آخر کې «چرمو» او د دوهم بیت په آخر کې یې «پښو» راغلې ده. په دوی کې کوم غږ یو شان دی؟

[کېدای شي شاګردان ووایي چې د دواړو په آخر کې «و» یو شان دی.]

تاسې ووایئ: آفرین! د چرمو په آخر کې هم د /و/ غږ لرو او د «پښو» په آخر کې هم د /و/ غږ دی. اوس نو تاسې په دې شعر کې نورې داسې کلمې پیدا کړئ چې د بیتونو په پای کې راغلې وي او د پای غږونه یې سره یو شان وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۴. فعالیت:** شاگردانو ته ۵ دقیقې وخت ورکړئ چې شعر بیت په بیت ولیکي. تاسې په ټولګي کې وګرځئ او که چا مرستې ته اړتیا درلوده، ورسره مرسته وکړئ.

بیا ووایئ: په دې بیت کې چې وایي « **زما کمیس خامکي ستا کمیس د چرمو**» دلته څه شی کم دی؟ دا خبره که په نثر کې ولیکو، نو وایو به چې زما کمیس خامکي دی او ستا کمیس د چرمو دی. خو په شعر کې کله کله د جملې فعل غورځي، لکه دلته چې د مسرو په پای کې«دی» نشته.

**۵. شاګردانو ته ووایئ:** کورنۍ دنده مو دا ده چې د شعر هر بیت په یوه جمله کې ولیکئ او که په بیت کې فعل نه وي، تاسې په جمله کې فعل هم ولیکئ چې خبره پوره شي.

## درسي ساعت ۴

**۱. سلام، روغبړ، د ټولګي تنظیمول (۳ دقیقې)**

**۲. هجا (۲ دقیقې)**

له شاګردانو څخه وغواړئ چې د درس په پیل کې په چوکاټ کې راغلې کلمې څپه په څپه ولولي.

**۳. د نویو لغتونو فعالیتونه (۱۰ دقیقې)**

د درس نوې کلمې له شاګردانو سره یو ځای معنا کړئ. د هرې کلمې لپاره لاندې فعالیتونه ترسره کړئ:

۱. هغه بیت چې دا کلمه په کې راغلې، ولولئ.

۲. کلمه پر تختې ولیکئ او په شاګردانو یې درې ځله ولولئ.

۳. د کلمې معنا د شاګردانو په سویه، واضح او آسان بیان کړئ.

۴. له شاګردانو څخه وغواړئ چې هره کلمه په جمله کې وکاروي.

د دې درس کلمې دي: [**کوکوپښ** = ملاچرګک؛ **چندرۍ** = هغه لوبه چې معمولاً نجونې یې کوي او پر ځمکه څو مستطیلي خانې رسموي او بیا یوه هواره ګرده ښویه تیږه په لومړۍ خانه کې یې ږدي او په یوه پښه یې له یوې بلې خانې ته پورې وهي؛ **ججوغه** = تاج؛ **شخه** = کلکه، لَکَه.]

**۴. لوستل**

**الف. تر لوستلو مخکې او د لوستلو په بهیر کې (۱۰ دقیقې)**

۱. شاګردانو ته ووایئ: نن به بیا یو شعر ولولو او بیا به د شعر او نثر پر توپیرونو بحث وکړو.

۲. شعر په لوړ غږ او په مناسب لحن او آهنګ سره ولولئ. بیا دوه یا درې شاګردان راوبولئ چې شعر ولولي.

**ب. تر لوستلو وروسته (۲۰ دقیقې)**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۱. شاګردانو ته ووایئ:** د شعر او نثر یو توپیر دا دی چې نثر جملې او پراګرافونه لري، خو په شعر کې بیتونه او مسرې دي. یو بیت لکه یوه جمله وي. ځینې شعرونه بیا بندونه لري. لکه په پراګراف کې چې څو جملې وي، په یو بند کې هم څو بیتونه وي. دا شعر چې نن مو ولوست، بندونه لري چې د هر بند قافیه یې له بل بند سره توپیر لري. اوس نو تاسې د دې شعر هر بند جلا جلا ولیکئ او د هر بند بیتونه حساب کړئ.

شاګردانو ته ۵ دقیقې وخت ورکړئ چې شعر بند په بند ولیکي. تاسې په ټولګي کې وګرځئ او که چا مرستې ته اړتیا درلوده، ورسره مرسته وکړئ.

**۲. شاګردانو ته ووایئ:** د شعر او نثر بل توپیر دا و چې په شعر کې هره مسره د څپو په حساب یوه اندازه وي. دې ته څه وایي؟

[شاګردان به وایي: دې ته وزن وایي.]

بیا تاسې ووایئ: آفرین! اوس نو تاسې د هر بیت هره مسره ولولئ او څپې یې حساب کړئ. په خپلو کتابچو کې د هرې مسرې د څپو شمېر ولیکئ.

شاګردانو ته ۵ دقیقې وخت ورکړئ چې شعر بیت په بیت ولیکي. تاسې په ټولګي کې وګرځئ او که چا مرستې ته اړتیا درلوده، ورسره مرسته وکړئ.

**۳. شاګردانو ته ووایئ:** هغه کلمې چې د هر بیت په پای کې راغلې دي او د پای غږونه یې سره یو شان دي، څه شی بولو؟ [شاګردان به ځواب درکړي: همقافیه]

تاسې ووایئ: آفرین! په دې شعر کې د هر بند قافیه جلا ده. تاسې به د هر بند قافیې جلا جلا ولیکئ.

شاګردانو ته ۵ دقیقې وخت ورکړئ چې شعر بیت په بیت ولیکي. تاسې په ټولګي کې وګرځئ او که چا مرستې ته اړتیا درلوده، ورسره مرسته وکړئ.

بیا ووایئ: په دې بیت کې چې وایي « **موږ ته راکړه دوې بڼکې   کوکوپښه، پښه، پښه**» دا خبره که په نثر کې ولیکو، نو وایو به چې «کوکوپښه! موږ ته دوې بڼکې راکړه. په نثر کې فعل د جملې په پای کې راځي، خو په شعر کې کله کله فعل په سر یا منځ کې هم راځي، لکه دلته چې «راکړه» د مسرې په منځ کې راغلې ده.

**۵. شاګردانو ته ووایئ:** کورنۍ دنده مو دا ده چې د شعر هر بیت په یوه جمله کې ولیکئ او که په بیت کې فعل په خپل ځای نه وي راغلی، تاسې په جمله کې فعل په خپل ځای کې یعنې د جملې په پای کې ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## فصل ٦ اونۍ ٢

## درسي ساعت ١

**١. سلام، روغبړ، د ټولګي تنظیمول (٣ دقیقې)**

**٢. هجا (٢ دقیقې)**

له شاګردانو څخه وغواړئ چې د درس په پیل کې په چوکاټ کې راغلې کلمې څپه په څپه ولولي.

**٣. د نويو لغتونو فعالیتونه (١٠ دقیقې)**

د درس نوې کلمې له شاګردانو سره یو ځای معنا کړئ. د هرې کلمې لپاره لاندې فعالیتونه ترسره کړئ:

١. هغه بیت چې دا کلمه په کې راغلې، ولولئ.

٢. کلمه پر تختې ولیکئ او په شاګردانو یې درې ځله ولولئ.

٣. د کلمې معنا د شاګردانو په سویه، واضح او آسان بیان کړئ.

٤. له شاګردانو څخه وغواړئ چې هره کلمه په جمله کې وکاروي.

د دې درس کلمې دي: [**غومبر** = د کوترو ناره؛ **ستایي** = صفت یې کوي؛ **کوینه** = کوي، په شعر کې «نه» ځکه ورپورې نښلول کېږي چې د شعر وزن پوره شي او د کلمې آهنګ ښکلی شي.]

**٤. لوستل**

**الف. تر لوستلو مخکې او د لوستلو په بهیر کې (١٠ دقیقې)**

١. شاګردانو ته ووایئ: نن به بیا یو شعر ولولو او بیا به پر دې بحث وکړو چې دا شعر له هغو شعرونو سره چې په تېره اونۍ کې مو ولوستل، څه توپیر لري.

٢. شاګردان په دوو ډلو ووېشئ. د هر بیت لومړۍ مسره دې یوه ډله په لوړ غږ ولولي، بله مسره یې بله ډله. بیا یو ځل تاسې پخپله شعر په لوړ غږ او مناسب لحن سره ولولئ.

**ب. تر لوستلو وروسته (٢٠ دقیقې)**

**١. شاګردانو ته ووایئ:** ښه نو، دا شعر د تېرې اونۍ له شعرونو څه توپیر لري؟


[کېدای شي شاګردان مختلف ځوابونه درکړي]


تاسې ووایئ: که مو پام شوی وي د تېرې اونۍ شعرونه داسې وو چې په هر شعر کې د هر بیت په آخر کې همقافیه کلمې راغلې وې، لکه سهار، تیار، خودکار، پرکار، کرار، هوار ... دا رقم شعر ته غزل ویل کېږي. خو په دې شعر کې د هر بیت قافیه جلا ده. د هر بیت د دواړو مسرو په پای کې همقافیه کلمې راغلي دي، لکه په اول بیت کې چې «ګوره» او

(c) ketabton.com: The Digital Library

«توره» راغلي دي او په دوهم بيت کې «ملګرې» او «خبرې»، همداسې تر پايه پورې هر بيت جلا قافيه لري. دا رقم شعر ته مثنوي وايو.

بيا پر تختې دغه شکلونه رسم کړئ او په غزل او مثنوي کې د قافيې ځايونه ورته وښيئ.




**۲. فعاليت - شاګردانو ته ووايئ:** په دې شعر کې يو بيت وايي: **په يو بل باندې دې ګرانې لکه** خويندې ماشومانې
يعنې کوترې لکه ماشومانې خويندې په يو بل باندې ګرانې دي. دا ډول خبرې ته تشبيه ويل کېږي. په تشبيه کې دوه شيان چې سره ورته وي، يادېږي. لکه دلته چې کوترې له خويندو ماشومانو سره په دې کې ورته دي چې په يو بل باندې ګرانې دي. خويندې سره ګرانې وي، که نه؟

[شاګردان به وايي: هو]

تاسې ووايئ: بالکل. نو د دې لپاره چې مور وپوهېږو چې کوترې په يو بل باندې څنګه ګرانې دي، شاعر د هغوی ګرانښت د خويندو له ګرانښت سره تشبيه کړی دی. په بل بيت کې وايي: ملګرتيا او مينه ښه وي/ زړونه پاک لکه ښيښه وي. دلته زړه له ښيښې سره ورته بلل شوی دی. په څه شي کې سره ورته بلل شوي دي؟

[شاګردان به ووايي: په پاکۍ کې]

تاسې ووايئ: همداسې ده. په ملګرتيا کې زړونه لکه ښيښه پاک وي. اوس به تاسې د تشبيه تمرين وکړئ. د کوترو ګرانښت د خويندو پر ځای له بل شي سره تشبيه کړئ او همدارنګه د زړونو پاکي د ښيښې پر ځای له بل شي سره ورته وګڼئ. مثلاً: زه وايم کوترې داسې سره ګرانې وي لکه دوې ټولګيوالې. يا وايم چې زړونه داسې پاک وو لکه سپين کاغذ.
تاسې له خپلو څنګلوريو ټولګيوالو سره بحث وکړئ او نوې تشبيه‌ګانې جوړې کړئ او په کتابچو کې يې وليکئ.
شاګردانو ته ۵ دقيقې وخت ورکړئ چې بحث وکړي او نوې تشبيه‌ګانې جوړې کړي. تاسې په ټولګي کې وګرځئ او که چا مرستې ته اړتيا درلوده، ورسره مرسته وکړئ. بيا دوو يا دريو شاګردانو ته ووايئ چې خپلې تشبيه‌ګانې شريکې کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۳. فعالیت - شاګردانو ته ووایئ:** کله چې یو شی له بل شي سره تشبیه کوو، باید دواړه په یوه یا څو صفتونو کې سره ګډ وي. مثلاً زه وایم: وریځې لکه کاغذ سپینې دي؛ یا د ګل پاڼه لکه کاغذ نری ده؛ او یا مالوچ لکه کاغذ سپک دي. ستاسو په کتابونو کې یو چوکاټ دی چې ځینې شیان لکه لښته، لکه انار، او لکه ګل بلل شوي دي. تاسې له خپلو څنګلوریو ټولګیوالو سره بحث وکړئ او درې - درې صفتونه پیدا کړئ چې په لښته، انار، او ګل کې وي. بیا دا صفتونه په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

شاګردانو ته ۵ دقیقې وخت ورکړئ چې شعر بیت په بیت ولیکي. تاسې په ټولګي کې وګرځئ او که چا مرستې ته اړتیا درلوده، ورسره مرسته وکړئ. دوه یا درې شاګردان راوبولئ چې خپل کار له نورو سره شریک کړي.

**۴. شاګردانو ته ووایئ:** کورنۍ دنده مو دا ده چې د شعر د هر بیت مطلب په یوه جمله کې ولیکئ.

## فصل ٦ اونۍ ۲

## درسي ساعت ۲

**۱. سلام، روغبړ، د ټولګي تنظیمول (۳ دقیقې)**

**۲. هجا (۲ دقیقې)**

له شاګردانو څخه وغواړئ چې د درس په پیل کې په چوکاټ کې راغلې کلمې څپه په څپه ولولي.

**۳. د نویو لغتونو فعالیتونه (۱۰ دقیقې)**

د درس نوې کلمې له شاګردانو سره یو ځای معنا کړئ. د هرې کلمې لپاره لاندې فعالیتونه ترسره کړئ:

۱. هغه بیت چې دا کلمه په کې راغلې، ولولئ.

۲. کلمه پر تختې ولیکئ او په شاګردانو یې درې ځله ولولئ.

۳. د کلمې معنا د شاګردانو په سویه، واضح او آسان بیان کړئ.

۴. له شاګردانو څخه وغواړئ چې هره کلمه په جمله کې وکاروي.

د دې درس کلمې دي: [**غومبر** = د کوترو ناره؛ **ستایي** = صفت یې کوي؛ **کوینه** = کوي، په شعر کې «نه» ځکه ورپورې نښلول کېږي چې د شعر وزن پوره شي او د کلمې آهنګ ښکلی شي.]

**۴. لوستل**

**الف. تر لوستلو مخکې او د لوستلو په بهیر کې (۱۰ دقیقې)**

۱. شاګردانو ته ووایئ: نن به بیا یو شعر ولولو او بیا به پر دې بحث وکړو چې دا شعر له هغه شعر سره چې په تېر درس کې مو ولوستل، څه توپیر لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲. شاګردان په دوو ډلو ووېشئ. د هر بیت لومړی مسره دې یوه ډله په لوړ غږ ولولي، بله مسره یې بله ډله. بیا یو ځل تاسې پخپله شعر په لوړ غږ او مناسب لحن سره ولولئ.

**ب. تر لوستلو وروسته (۲۰ دقیقې)**

**۱. شاګردانو ته ووایئ:** ښه نو، دا شعر د تېر درس له شعر سره څه توپیر لري؟

[کېدای شي شاګردان مختلف ځوابونه درکړي]

تاسې ووایئ: که مو پام شوی وي د تېر درس شعر داسې و چې د هر بیت د دواړو مسرو په پای کې هم‌قافیه کلمې راغلي وې، لکه په اول بیت کې چې «ګوره» او «توره» راغلې وه او په دوهم بیت کې «ملګرې» او «خبرې»، همداسې تر پایه پورې هر بیت یې جلا قافیه درلود. دا رقم شعر ته چې هر بیت یې جلا جلا قافیه ولري، څه وایو؟

[شاګردان به وایي: مثنوي]

تاسې ووایئ: آفرین. هغه شعر چې هر بیت یې جلا قافیه ولري، مثنوي بلل کېږي. خو دغه شعر چې نن مو ولوست، څه رنګه قافیه لري؟

[کېدای شي شاګردان سم ځواب ووایي.]

تاسې ووایئ: بالکل. په دې شعر کې د ټولو بیتونو په آخر کې هم‌قافیه کلمې راغلې دي. د دې شعر هم‌قافیه کلمې کومې دي؟

[شاګردان ممکن سم ځواب درکړي او یا ردیف له قافیې سره غلط کړي]

تاسې ووایئ: په دې شعر کې بل توپیر دا دی چې د هر بیت په پای کې «ښکلی یم، ښکلی یم» تکرار شوی دی. دغه کلمې چې د شعر د هر بیت په آخر کې کټ مټ هماغسې بیا بیا تکرارېږي، ردیف بلل کېږي. څوک به ووایي چې د قافیې او ردیف توپیر څه دی؟

[پرېږدئ چې دوه یا درې شاګردان خپل نظر ووایي.]

تاسې ووایئ: په هم‌قافیه کلمو کې یوازې د پای غږونه یې یو شان وي خو ردیف بیا ټوله کلمه یا کلمې هو بهو تکرارېږي. نو په دې شعر کې هم قافیه لرو، هم ردیف. د دې شعر هم‌قافیه کلمې دي: وږمو، رنګینو، شنو، رنګو ... او ردیف یې دی «ښکلی یم»

**۲. فعالیت - شاګردانو ته ووایئ:** په کتاب کې مو په دوو چوکاټونو کې نومونه او صفتونه یې ګډوډ راغلي دي. تاسې دا کلمې په خپلو کتابچو کې ولیکئ. بیا د هر نوم مناسب صفت پیدا او په غشي یې سره ونښلوئ.

شاګردانو ته ۵ دقیقې وخت ورکړئ چې صنفي کار ترسره کړي. تاسې په ټولګي کې وګرځئ او که چا مرستې ته اړتیا درلوده، ورسره مرسته وکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۳. فعالیت - شاګردانو ته ووایئ:** د کتاب په همدې مخ کې بل چوکاټ دی چې مختلف نومونه په کې لیکل شوي دي. تاسې له خپلو څنګلوریو ټولګیوالو سره بحث وکړئ او د هر نوم لپاره دوه – دوه مناسب صفتونه پیدا او په کتابچو کې یې ولیکئ.

شاګردانو ته ۵ دقیقې وخت ورکړئ چې صنفي کار ترسره کړي. تاسې په ټولګي کې وګرځئ او که چا مرستې ته اړتیا درلوده، ورسره مرسته وکړئ. دوه یا درې شاګردان راوبولئ چې خپل کار له نورو سره شریک کړي.

**۴. فعالیت - شاګردانو ته ووایئ:** اوس په شعر کې هم‌قافیه کلمې پیدا او په کتابچو کې یې ولیکئ.

شاګردانو ته ۵ دقیقې وخت ورکړئ چې صنفي کار ترسره کړي. تاسې په ټولګي کې وګرځئ او که چا مرستې ته اړتیا درلوده، ورسره مرسته وکړئ. دوه یا درې شاګردان راوبولئ چې خپل کار له نورو سره شریک کړي.

**۵. شاګردانو ته ووایئ:** کورنۍ دنده مو دا ده چې پنځه شیان انتخاب کړئ. بیا دا پنځه شیان په یوه صفت کې له پنځو نورو شیانو سره تشبیه کړئ. مثلاً زه کاغذ انتخابوم. د کاغذ سپینوالی له بل شي سره تشبیه کوم. زه فکر کوم چې څه شی ډېر سپین دی. په ذهن ته مې واوره راځي. واوره تکه سپینه ده. نو وایم کاغذ د واورې غوندې سپین دی. یا دېوال انتخابوم او غواړم رنګ یې له بل شي سره تشبیه کړم. ګورم چې رنګ یې د پاڼې په رنګ شین دی، نو وایم دا دېوال د پاڼې په شان شین دی.

## فصل ٦ اونۍ ۲

## درسي ساعت ۳

**۱. سلام، روغبړ، د ټولګي تنظیمول (۳ دقیقې)**

**۲. هجا (۲ دقیقې)**

له شاګردانو څخه وغواړئ چې د درس په پیل کې په چوکاټ کې راغلې کلمې څپه په څپه ولولي.

**۳. د نویو لغتونو فعالیتونه (۱۰ دقیقې)**

د درس نوې کلمې له شاګردانو سره یو ځای معنا کړئ. د هرې کلمې لپاره لاندې فعالیتونه ترسره کړئ:

۱. هغه بیت چې دا کلمه په کې راغلې، ولولئ.

۲. کلمه پر تختې ولیکئ او په شاګردانو یې درې ځله ولولئ.

۳. د کلمې معنا د شاګردانو په سویه، واضح او آسان بیان کړئ.

۴. له شاګردانو څخه وغواړئ چې هره کلمه په جمله کې وکاروي.

د دې درس کلمې دي: [**لشې** = د کب نرې تېره هډوکي چې لکه اغزي وي؛ **دارو** = درمل، دوایي؛ **درمان** = علاج.]

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۴. لوستل

**الف. تر لوستلو مخکې او د لوستلو په بهیر کې (۱۰ دقیقې)**

۱. شاګردانو ته ووایئ: نن به بیا یو شعر ولولو او بیا به پر دې بحث وکړو چې دا شعر له هغه شعر سره چې په تېر درس کې مو ولوستل، څه توپیر لري.

۲. شاګردان په دوو ډلو ووېشئ. د هر بیت لومړۍ مسره دې یوه ډله په لوړ غږ ولولي، بله مسره یې بله ډله. بیا یو ځل تاسې پخپله شعر په لوړ غږ او مناسب لحن سره ولولئ.

**ب. تر لوستلو وروسته (۲۰ دقیقې)**

**۱. شاګردانو ته ووایئ:** ښه نو، دا شعر د تېر درس له شعر سره څه توپیر لري؟

[کېدای شي شاګردان مختلف ځوابونه درکړي]

تاسې ووایئ: د تېر درس شعر څه ډول و؟ غزل و که مثنوي؟

[کېدای شي شاګردان ووایي: غزل]

تاسې ووایئ: آفرین. په غزل کې قافیه څنګه وي؟

[کېدای شي شاګردان سم ځواب درکړي]

تاسې ووایئ: بالکل. په غزل کې د ټولو بیتونو په آخر کې هم‌قافیه کلمې راځي. د نن شعر غزل و؟

[شاګردان به ووایي: نه]

تاسې ووایئ: همداسې ده. په دې شعر کې هر بیت یې جلا قافیه لري، نو دا مثنوي ده.

شاګردان وپوښتئ: هغه کلمې چې د بیتونو یا مسرو په پای کې کټ مټ تکرارېږي، هغه څه بولو؟

[شاګردان ممکن سم ځواب درکړي او ووایي: ردیف]

تاسې ووایئ: آفرین. هغه کلمې چې د شعر د مسرو یا بیتونو په آخر کې کټ مټ هماغسې تکرارېږي، ردیف بلل کېږي. په دې شعر کې ردیف شته؟

[پرېږدئ چې دوه یا درې شاګردان خپل نظر ووایي.]

تاسې ووایئ: د دې شعر لومړی بیت دی: ما پېژنئ څه یمه/ نرم لکه زړه یمه. په دې بیت کې کومه کلمه هو بهو تکرار شوې ده؟

[شاګردان به ووایي: یمه]

تاسې ووایئ: آفرین. همدا ردیف دی.

**۲. فعالیت - شاګردانو ته ووایئ:** اوس له خپلو څنګلوریو ټولګیوالو سره د شعر هر بیت ولولئ او د هر بیت هم‌قافیه کلمې او ردیفونه پیدا او په کتابچو کې یې ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شاگردانو ته ۵ دقيقې وخت ورکړئ چې صنفي کار ترسره کړي. تاسې په ټولګي کې وګرځئ او که چا مرستې ته اړتيا درلوده، ورسره مرسته وکړئ.

**۳. فعاليت - شاګردانو ته ووايئ:** د کتاب په همدې مخ کې يو چوکاټ دی چې مختلفې کلمې په کې ليکل شوې دي. تاسې له خپلو څنګلوريو ټولګيوالو سره بحث وکړئ او د هرې کلمې لپاره پنځه – پنځه همقافيه کلمې پيدا او په کتابچو کې يې وليکئ.

شاگردانو ته ۵ دقيقې وخت ورکړئ چې صنفي کار ترسره کړي. تاسې په ټولګي کې وګرځئ او که چا مرستې ته اړتيا درلوده، ورسره مرسته وکړئ. دوه يا درې شاګردان راوبولئ چې خپل کار له نورو سره شريک کړي.

**۴. شاګردانو ته ووايئ:** کورنۍ دنده مو دا ده چې پنځه شيان انتخاب کړئ. بيا هر يو يې په يوه صفت کې له يوه بل شي سره تشبيه کړئ. مثلاً زه شربت انتخابوم. د شربت خوږوالی له بل شي سره تشبيه کوم. زه فکر کوم چې څه شی همداسې خوږ دی. ګبين يا شات. نو وايم دا شربت داسې خوږ دی لکه ګبين. بيا همدا خبره په لنډه بڼه په يوه عبارت کې کوم او وايم «خوږ لکه ګبين شربت». تاسې به په کورونو کې په همدې رقم پنځه شيان له پنځو نورو شيانو سره تشبيه کوئ، د هرې تشبيه لپاره به لومړی پوره جمله وليکئ او بيا به يې لنډ په عبارت کې وليکئ.

## فصل ٦ اونۍ ۲

## درسي ساعت ۴

**۱. سلام، روغبړ، د ټولګي تنظيمول (۳ دقيقې)**

**۲. هجا (۲ دقيقې)**

له شاګردانو څخه وغواړئ چې د درس په پيل کې په چوکاټ کې راغلې کلمې څپه په څپه ولولي.

**۳. د نويو لغتونو فعاليتونه (۱۰ دقيقې)**

د درس نوې کلمې له شاګردانو سره يو ځای معنا کړئ. د هرې کلمې لپاره لاندې فعاليتونه ترسره کړئ:

۱. هغه بيت چې دا کلمه په کې راغلې، ولولئ.

۲. کلمه پر تختې وليکئ او په شاګردانو يې درې ځله ولولئ.

۳. د کلمې معنا د شاګردانو په سويه، واضح او آسان بيان کړئ.

۴. له شاګردانو څخه وغواړئ چې هره کلمه په جمله کې وکاروي.

د دې درس کلمې دي: [**ورا** = واده، د زوم کور ته د ناوې د بېولو لپاره راغلي کسان؛ **رپېږي** = ښوري، څه چې په باد کې پر له پسې ښوري؛ **څراغان** = روښان.]

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۴. لوستل

**الف. تر لوستلو مخکې او د لوستلو په بهیر کې (۱۰ دقیقې)**

۱. شاګردان په دوو ډلو ووېشئ. د هر بیت لومړۍ مسره دې یوه ډله په لوړ غږ ولولي، بله مسره یې بله ډله. بیا یو ځل تاسې پخپله شعر په لوړ غږ او مناسب لحن سره ولولئ.

**ب. تر لوستلو وروسته (۲۰ دقیقې)**

**۱. شاګردانو ته ووایئ:** په دې شعر کې ویل شوي دي چې وربشې خوښې دي او غنم خوشحال دي. وربشې او غنم غم او خوښي پېژني؟

[شاګردان به مختلف ځوابونه درکړي]

تاسې ووایئ: ښه نو، تاسو یا ستاسو خویندو به د نانځکو لوبه کړې وي. ماشومان چې نانځکې لوبوي، وایي: نانځکه مې ناجوړه ده. یا وایي نانځکه مې ژاړي. حال دا چې هغه خو ژوندی انسان نه دی چې وژاړي یا ناروغ شي. په شعر کې هم ونې، بوټي، غرونه، ورېځې، ژوي او نور شیان داسې انګېرل کېږي لکه انسانان چې وي. د انسانانو غوندې خبرې کوي، احساس لري، خاندي، ژاړي، خوشحالېږي، غمجن کېږي. لکه د تېر درس په شعر کې چې کب خبرې کوي او وایي چې «ما پېژنئ څه یمه/ نرم لکه زړه یمه» دې ته په تشخیص وایي. شخص انسان ته ویل کېږي او تشخیص یعنې داسې شیان چې انسانان نه دي، خو د انسان ځانګړنې او صفتونه ورکول شوي دي. ښه نو، په دې شعر کې د تشخیص بل مثال پیدا کولی شئ؟

[کېدای شي شاګردان د تشخیص بل مثال پیدا کړي، کېدای شي پیدا یې نه کړي.]

تاسې ووایئ: د شعر په دریم بند کې راغلي دي چې «نري شمال ته ونې نڅېږي» دا هم تشخیص دی. ځکه چې ونې خو نه نڅېږي. د ونو څانګې چې شمال ته دې خوا ها خوا کږېږي، نڅا ته ورته حرکتونه دي نو شاعر ونه د نڅېدونکي انسان په شان ګڼلې ده.

**۲. فعالیت - شاګردانو ته ووایئ:** په کتاب کې مو یو چوکاټ دی چې د لوستل شوي شعر تشبیه‌ګانې په کې راغلي دي. تاسې له خپلو څنګلوریو ټولګیوالو سره بحث وکړئ او هره تشبیه په مکملو جملو کې ولیکئ. مثلاً لومړۍ جمله کې وایي: «د ورېځو اوښان راغلل» دلته ورېځې په حرکت کې اوښانو سره تشبیه شوې دي، ځکه چې ورېځې هم د اوښانو غوندې ورو ورو مزل کوي. نو دا تشبیه داسې لیکلی شو چې ورېځې د اوښانو په شان ورو ورو راغلې. پاتې تشبیه‌ګانې به یې تاسې په همدې رقم جملو کې ولیکئ.

شاګردانو ته ۵ دقیقې وخت ورکړئ چې صنفي کار ترسره کړي. تاسې په ټولګي کې وګرځئ او که چا مرستې ته اړتیا درلوده، ورسره مرسته وکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۳. فعالیت - شاګردانو ته ووایئ:** د کتاب په همدې مخ کې یو چوکاټ دی چې مختلفې کلمې په کې لیکل شوې دي. تاسې له خپلو څنګلوریو ټولګیوالو سره بحث وکړئ او د هرې کلمې لپاره پنځه – پنځه همقافیه کلمې پیدا او په کتابچو کې یې ولیکئ. مثلاً لومړۍ کلمه ده «مور» د دې کلمې همقافیه کلمې دي: خور، کور، لور، ګور، ...

شاګردانو ته ۵ دقیقې وخت ورکړئ چې صنفي کار ترسره کړي. تاسې په ټولګي کې وګرځئ او که چا مرستې ته اړتیا درلوده، ورسره مرسته وکړئ. دوه یا درې شاګردان راوبولئ چې خپل کار له نورو سره شریک کړي.

**۴. شاګردانو ته ووایئ:** کورنۍ دنده مو دا ده چې د شعر د هر بند مطلب په خپله ژبه ولیکئ او هماغسې چې په لومړي فعالیت کې مو نیمګړې تشبیه‌ګانې په پوره جملو کې بشپړې کړې، د شعر نیمګړې تشبیه‌ګانې هم بشپړې ولیکئ. مثلاً:

**راغلل د وربځو تور تور اوښان**

**بار یې په شا دی د سپین باران**

دا به داسې لیکو چې: تورې وربځې لکه تور اوښان ورو ورو راغلې او سپین باران یې لکه بار په شا کړی و.

## فصل ٦ اونۍ ۳

## درسي ساعت ۱

**۱. سلام، روغبړ، د ټولګي تنظیمول (۳ دقیقې)**

**۲. هجا (۲ دقیقې)**

له شاګردانو څخه وغواړئ چې د درس په پیل کې په چوکاټ کې راغلې کلمې څپه په څپه ولولي.

**۳. د نویو لغتونو فعالیتونه (۱۰ دقیقې)**

د درس نوې کلمې له شاګردانو سره یو ځای معنا کړئ. د هرې کلمې لپاره لاندې فعالیتونه ترسره کړئ:

۱. هغه بیت چې دا کلمه په کې راغلې، ولولئ.

۲. کلمه پر تختې ولیکئ او په شاګردانو یې درې ځله ولولئ.

۳. د کلمې معنا د شاګردانو په سویه، واضح او آسان بیان کړئ.

۴. له شاګردانو څخه وغواړئ چې هره کلمه په جمله کې وکاروي.

د دې درس کلمې دي: [**نازنینه** = ګلالۍ؛ **ګډۍ** = د ګوډۍ لنډه بڼه؛ **مرې** = مشکنې، مرۍ.]

**۴. لوستل**

**الف. تر لوستلو مخکې او د لوستلو په بهیر کې (۱۰ دقیقې)**

۱. شاګردانو ته ووایئ: نن به بیا یو شعر ولولو او بیا به پر دې بحث وکړو چې دا شعر غزل دی، که مثنوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲. شاگردان په دوو ډلو ووېشئ. د هر بیت لومړی مسره دې یوه ډله په لوړ غږ ولولي، بله مسره یې بله ډله. بیا یو ځل تاسې پخپله شعر په لوړ غږ او مناسب لحن سره ولولئ.

**ب. تر لوستلو وروسته (۲۰ دقیقې)**

**۱. شاگردانو ته ووایئ:** ښه نو، دا شعر غزل دی، که مثنوي؟

[کېدای شي شاگردان سم ځواب درکړي]

تاسې ووایئ: آفرین! ځنگه پوه شوئ چې مثنوي ده؟

[دوه یا درې شاگردان وغږوئ. کېدای شي شاگردان مختلف ځوابونه درکړي]

تاسې ووایئ: آفرین! دا شعر په دې وجه مثنوي بولو چې هر بیت یې ځان ته جلا قافیه لري.

**۲. فعالیت - شاگردانو ته ووایئ:** د دې شعر په یوه مسره کې لولو چې: **گډۍ نه ده، ښاپېرۍ ده.** هغه نانځکه چې نوم یې گډۍ ده، د ښاپېرۍ غوندې ښایسته ده. په شعر کې کله کله د تشبیه لنډه ښه لیکل کېږي. لکه دلته چې نانځکه له ښاپېرۍ سره تشبیه شوې ده او دا دواړه په څه شي کې سره ورته دي؟

[شاگردان به وایي: په ښایست کې]

تاسې ووایئ: آفرین! نو د تشبیه بشپړ ډول یې داسې دی چې نانځکه د ښاپېرۍ په شان ښایسته ده. ستاسو په کتاب کې څو نورې لنډې تشبیه‌گانې راغلې دي. تاسې له خپلو ځنگلوریو ټولگیوالو سره بحث وکړئ او د هرې تشبیه بشپړه ښه پیدا کړئ او په کتابچو کې یې ولیکئ. [هره تشبیه ممکن څو مختلف وجه شبهې ولري نو ممکن مختلف شاگردان دا فعالیت په مختلفو ښېو ترسره کړي.]

شاگردانو ته ۵ دقیقې وخت ورکړئ چې بحث وکړي او د تشبیه‌گانو بشپړه ښه ولیکي. تاسې په ټولگي کې وگرځئ او که چا مرستې ته اړتیا درلوده، ورسره مرسته وکړئ. بیا دوو یا دریو شاگردانو ته ووایئ چې خپلې تشبیه‌گانې شریکې کړي.

**۳. فعالیت - شاگردانو ته ووایئ:** کله چې یو شی له بل شي سره تشبیه کوو، باید دواړه په یوه یا څو صفتونو کې سره گډ وي. مثلاً زه وایم: زه یو گل وینم چې د گلاب غوندې سور دی، د گلاب غوندې ښایسته دی، د گلاب غوندې خوشبو دی. ستاسو په کتاب کې یو چوکاټ دی چې ځینې شیان لکه سپوږمۍ، لکه اوبه، او لکه رڼا بلل شوي دي. تاسې له خپلو ځنگلوریو ټولگیوالو سره بحث وکړئ او درې - درې صفتونه ورته پیدا کړئ. بیا د مثال په شان، دا صفتونه په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

شاگردانو ته ۵ دقیقې وخت ورکړئ چې شعر بیت په بیت ولیکي. تاسې په ټولگي کې وگرځئ او که چا مرستې ته اړتیا درلوده، ورسره مرسته وکړئ. دوه یا درې شاگردان راوبولئ چې خپل کار له نورو سره شریک کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۴. شاګردانو ته ووايئ:** کورنۍ دنده مو دا ده چې د شعر مطلب په خپله ژبه وليکئ.

## فصل ٦ اونۍ ۳

## درسي ساعت ۲

**۱. سلام، روغبړ، د ټولګي تنظيمول (۳ دقيقې)**

**۲. هجا (۲ دقيقې)**

له شاګردانو څخه وغواړئ چې د درس په پيل کې په چوکاټ کې راغلې کلمې څپه په څپه ولولي.

**۳. د نويو لغتونو فعاليتونه (۱۰ دقيقې)**

د درس نوې کلمې له شاګردانو سره يو ځای معنا کړئ. د هرې کلمې لپاره لاندې فعاليتونه ترسره کړئ:

۱. هغه بيت چې دا کلمه په کې راغلې، ولولئ.

۲. کلمه پر تختې وليکئ او په شاګردانو يې درې ځله ولولئ.

۳. د کلمې معنا د شاګردانو په سويه، واضح او آسان بيان کړئ.

۴. له شاګردانو څخه وغواړئ چې هره کلمه په جمله کې وکاروي.

د دې درس کلمې دي: [**معيوب** = څوک چې د بدن يو يا څو غړي يې کار نه کوي، يا له منځه تللي دي؛ **يتيم** = هغه ماشوم چې پلار يې مړ شوی وي؛ **نظر** = پام، خيال؛ **نوم او نښان** = شهرت، پېژندنه.]

**۴. لوستل**

**الف. تر لوستلو مخکې او د لوستلو په بهير کې (۱۰ دقيقې)**

۱. شاګردانو ته ووايئ: نن به بيا يو شعر ولولو او بيا به پر دې بحث وکړو چې څه ډول شعر دی.

۲. شاګردان په دوو ډلو ووېشئ. د هر بيت لومړۍ مسره دې يوه ډله په لوړ غږ ولولي، بله مسره يې بله ډله. بيا يو ځل تاسې پخپله شعر په لوړ غږ او مناسب لحن سره ولولئ.

**ب. تر لوستلو وروسته (۲۰ دقيقې)**

**۱. شاګردانو ته ووايئ:** ښه نو، دا شعر د جوړښت په لحاظ څه ډول دی؟

[کېدای شي شاګردان مختلف ځوابونه درکړي]

تاسې ووايئ: دا شعر غزل دی. په غزل کې قافيه څنګه وي؟

[شاګردان ممکن سم ځواب درکړي]

تاسې ووايئ: آفرين. په دې شعر کې د ټولو بيتونو په آخر کې همقافيه کلمې راغلې دي. د دې شعر همقافيه کلمې کومې دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

[شاګردان ممکن سم ځواب درکړي او يا رديف له قافيې سره غلط کړي]

تاسې ووايئ: آفرين! راځئ چې د دې شعر هم‌قافيه کلمې په ګډه په لوړ غږ ولولو: ماشومان، ګلان، پتنګان، جهان، يتيمان، رامان، ناتوان، نښان.

پوښتنه وکړئ: ښه نو، د رديف او قافيې توپير څه دی؟

[کېدای شي شاګردان سم ځواب ووايي.]

تاسې ووايئ: ډېر ښه. په هم‌قافيه کلمو کې يوازې د پای غږونه يې يو شان وي خو رديف بيا ټوله کلمه يا کلمې هو بهو تکرارېږي. نو په دې شعر کې رديف کوم دی؟

[شاګردان به ووايي: يو.]

**۲. فعاليت - شاګردانو ته ووايئ:** په کتاب کې مو دوه چوکاټونه دي. په يوه چوکاټ کې د شعر د لومړي بيت، لومړی مسره راغلې ده « **مونږه ښکلي ماشومان يو**» په شعر کې د دې بيت بله مسره څنګه ده؟

[شاګردان به وايي: د وطن د بڼ ګلان يو.]

تاسې ووايئ: آفرين! خو په مخامخ چوکاټ کې د دوهمې مسرې پر ځای بله مسره راغلې ده چې: «**لکه ستوري د آسمان يو**» تاسې له خپلو څنګلوريو ټولګيوالو سره په ګډه دوې نورې مسرې پخپله جوړې کړئ او په کتابچو کې يې وليکئ.

شاګردانو ته ۵ دقيقې وخت ورکړئ چې صنفي کار ترسره کړي. تاسې په ټولګي کې وګرځئ او که چا مرستې ته اړتيا درلوده، ورسره مرسته وکړئ. بيا څو شاګردانو ته وخت ورکړئ چې خپلې جوړې کړې مسرې ولولي.

**۳. فعاليت - شاګردانو ته ووايئ:** د کتاب په همدې مخ کې بل چوکاټ دی چې د څو تشبيه‌ګانو لنډې بڼې په کې راغلې دي. کله کله په شعر کې د تشبيه لنډه بڼه وينو. مثلاً په دې شعر کې وايي چې «د وطن د بڼ ګلان يو» دلته وطن له بڼ سره تشبيه شوی دی او ماشومان له ګلانو سره. نو د دې جملې پوره بڼه داسې ده چې: «وطن لکه بڼ دی او موږ ماشومان لکه ګلان يو.» تاسې له خپلو څنګلوريو ټولګيوالو سره بحث وکړئ او د پاتې تشبيه‌ګانو پوره بڼه پيدا کړئ او په کتابچو کې يې وليکئ.

شاګردانو ته ۵ دقيقې وخت ورکړئ چې صنفي کار ترسره کړي. تاسې په ټولګي کې وګرځئ او که چا مرستې ته اړتيا درلوده، ورسره مرسته وکړئ. وروسته د هرې جملې لپاره دوه يا درې شاګردان راوبولئ چې خپل کار له نورو سره شريک کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۵. شاګردانو ته ووایئ:** کوټنۍ دننده مو دا ده چې پنځه شیان انتخاب کړئ. بیا د هر یوه لپاره یو صفت په نښه کړئ او بیا یې په هماغه صفت کې له بل شي سره تشبیه کړئ. مثلاً زه قلم انتخابوم او صفت یې نریوالی لیکم. اوس د قلم نریوالی له بل شي سره تشبیه کوم. زه فکر کوم چې څه شی ډېر نری دی. په ذهن ته مې د ماشومانو ګوته راځي. نو وایم چې قلم د ګوتې غوندې نری دی. یا د غمي یو صفت ځلېدل دي. زه فکر کوم چې نور کوم شیان ځلېږي. لمر ځلېږي، سپوږمۍ ځلېږي، ستوري ځلېږي. نور شیان به هم ځلېږي خو ما ته داسې ښکاري چې د غمي ځلېدل د ستورو ځلېدلو ته ډېر ورته وي، نو وایم چې غمی لکه ستوري ځلېږي.

## فصل ٦ اونۍ ۳

## درسي ساعت ۳

**۱. سلام، روغبړ، د ټولګي تنظیمول (۳ دقیقې)**

**۲. هجا (۲ دقیقې)**

له شاګردانو څخه وغواړئ چې د درس په پیل کې په چوکاټ کې راغلې کلمې څپه په څپه ولولي.

**۳. د نویو لغتونو فعالیتونه (۱۰ دقیقې)**

د درس نوې کلمې له شاګردانو سره یو ځای معنا کړئ. د هرې کلمې لپاره لاندې فعالیتونه ترسره کړئ:

۱. هغه بیت چې دا کلمه په کې راغلې، ولولئ.

۲. کلمه پر تختې ولیکئ او په شاګردانو یې درې ځله ولولئ.

۳. د کلمې معنا د شاګردانو په سویه، واضح او آسان بیان کړئ.

۴. له شاګردانو څخه وغواړئ چې هره کلمه په جمله کې وکاروي.

د دې درس کلمې دي: [**بختور** = څه چې مرغ یې ښه وي؛ **شور** = د خوښۍ او هیجان ناري؛ **آب بازي** = پر یو بل اوبه شیندل، لامبو وهل.]

**۴. لوستل**

**الف. تر لوستلو مخکې او د لوستلو په بهیر کې (۱۰ دقیقې)**

۱. شاګردانو ته ووایئ: نن به بیا یو شعر ولولو او بیا به پر دې بحث وکړو چې دا شعر د جوړښت په لحاظ څه ډول دی.

۲. شاګردان په دوو ډلو ووېشئ. د هر بیت لومړۍ مسره دې یوه ډله په لوړ غږ ولولي، بله مسره یې بله ډله. بیا یو ځل تاسې پخپله شعر په لوړ غږ او مناسب لحن سره ولولئ.

**ب. تر لوستلو وروسته (۲۰ دقیقې)**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۱. شاګردانو ته ووایئ:** ښه نو، دا شعر څه ډول دی؟

[کېدای شي شاګردان سم ځواب درکړي]

تاسې ووایئ: آفرین! څنګه پوه شوئ چې مثنوي ده؟

[دوه یا درې شاګردان وغږوئ.]

تاسې ووایئ: آفرین! دا شعر په دې وجه مثنوي بولو چې هر بیت یې ځان ته جلا قافیه لري.

شاګردان وپوښتئ: هغه کلمې چې د بیتونو یا مسرو په پای کې کټ مټ تکرارېږي، هغه څه بولو؟

[شاګردان ممکن سم ځواب درکړي او ووایي: ردیف]

تاسې ووایئ: آفرین. هغه کلمې چې د شعر د مسرو یا بیتونو په آخر کې کټ مټ هماغسې تکرارېږي، ردیف بلل کېږي. په دې شعر کې ردیف شته؟

[پرېږدئ چې دوه یا درې شاګردان خپل نظر ووایي.]

**۲. فعالیت - شاګردانو ته ووایئ:** اوس له خپلو څنګلوریو ټولګیوالو سره د شعر هر بیت ولولئ او د هر بیت هم‌قافیه کلمې او ردیفونه پیدا او په کتابچو کې یې ولیکئ.

شاګردانو ته ۵ دقیقې وخت ورکړئ چې صنفي کار ترسره کړي. تاسې په ټولګي کې وګرځئ او که چا مرستې ته اړتیا درلوده، ورسره مرسته وکړئ.

**۳. فعالیت - شاګردانو ته ووایئ:** د کتاب په همدې مخ کې یو چوکاټ دی چې مختلفې کلمې په کې لیکل شوې دي. تاسې له خپلو څنګلوریو ټولګیوالو سره بحث وکړئ او د هرې کلمې لپاره پنځه – پنځه هم‌قافیه کلمې پیدا او په کتابچو کې یې ولیکئ.

شاګردانو ته ۵ دقیقې وخت ورکړئ چې صنفي کار ترسره کړي. تاسې په ټولګي کې وګرځئ او که چا مرستې ته اړتیا درلوده، ورسره مرسته وکړئ. دوه یا درې شاګردان راوبولئ چې خپل کار له نورو سره شریک کړي.

**۴. شاګردانو ته ووایئ:** کورنۍ دنده مو دا ده چې پنځه شیان انتخاب کړئ. بیا هر یو یې په یوه صفت کې له یوه بل شي سره تشبیه کړئ. مثلاً زه غواړم خبره له بل شي سره تشبیه کړم. د یو چا خبرې خوږې دي. زه فکر کوم چې څه شی همداسې خوږ دی. شعر هم خوږ دی او ما ته خوند راکوي. نو وایم دا خبره داسې خوږه ده لکه شعر. بیا همدا خبره په لنډه بڼه په یوه عبارت کې کوم او وایم «لکه شعر خوږه خبر». تاسې به په کورونو کې په همدې رقم پنځه شیان له پنځو نورو شیانو سره تشبیه کوئ، د هرې تشبیه لپاره به لومړی پوره جمله ولیکئ او بیا به یې لنډ په عبارت کې ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## فصل ٦ اونۍ ٣

## درسي ساعت ۴

**۱. سلام، روغبړ، د ټولګي تنظیمول (۳ دقیقې)**

**۲. هجا (۲ دقیقې)**

له شاګردانو څخه وغواړئ چې د درس په پیل کې په چوکاټ کې راغلې کلمې څپه په څپه ولولي.

**۳. د نویو لغتونو فعالیتونه (۱۰ دقیقې)**

د درس نوې کلمې له شاګردانو سره یو ځای معنا کړئ. د هرې کلمې لپاره لاندې فعالیتونه ترسره کړئ:

۱. هغه بیت چې دا کلمه په کې راغلې، ولولئ.

۲. کلمه پر تختې ولیکئ او په شاګردانو یې درې ځله ولولئ.

۳. د کلمې معنا د شاګردانو په سویه، واضح او آسان بیان کړئ.

۴. له شاګردانو څخه وغواړئ چې هره کلمه په جمله کې وکاروي.

د دې درس کلمې دي: [**ښاپېرۍ** = هغه خیالي نجونې چې ډېرې ښکلې، مهربانې او ښې وي؛ **ناوکۍ** = نانځکه، ګوډۍ؛ **نانځکه** = ګوډۍ.]

**۴. لوستل**

**الف. تر لوستلو مخکې او د لوستلو په بهیر کې (۱۰ دقیقې)**

۱. شاګردان په دوو ډلو ووېشئ. د هر بیت لومړۍ مسره دې یوه ډله په لوړ غږ ولولي، بله مسره یې بله ډله. بیا یو ځل تاسې پخپله شعر په لوړ غږ او مناسب لحن سره ولولئ.

**ب. تر لوستلو وروسته (۲۰ دقیقې)**

**۱. شاګردانو ته ووایئ:** دا شعر په جوړښت کې د تېرې اونۍ له کوم شعر سره ورته دی؟

[کېدای شي شاګردان سم ځواب درکړي]

تاسې ووایئ: ډېره ښه. دا شعر او د تېرې اونۍ د وروستي درس شعر سره ورته دي، ځکه چې دواړه بندونه لري او د هر بند یې خپله جلا قافیه لري.

په دې شعر کې د نانځکې په اړه ویل شوي دي چې **منډو کې چابکه ده ځکه رانه ورکه ده**

موږ پوهېږو چې نانځکه منډې نه وهي. دا چې نورو ژوو، بوټو، او شیانو ته د انسان ځانګړنې ورکوو، لکه خبرې کول، فکر کول، منډې وهل، خوشحاله کېدل او داسې نور، دې ته څه وایو؟

[شاګردان ممکن سم ځواب درکړي]

تاسې ووایئ: آفرین! دې ته تشخیص یا شخصیت ورکول وایو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۲. فعالیت - شاګردانو ته ووایئ:** په کتاب کې مو یو چوکاټ دی چې ځینې لنډې تشبیه‌ګانې په کې راغلي دي. تاسې له خپلو څنګلوریو ټولګیوالو سره بحث وکړئ او هره تشبیه په مکملو جملو کې ولیکئ. مثلاً لومړۍ جمله کې وایي: « **پلار ته ښاپېرۍ یمه**» د دې تشبیه پوره بڼه داسې کېږي چې: **زه خپل پلار ته لکه ښاپېرۍ ښایسته یمه یا ښایسته ښکارېږم.** پاتې تشبیه‌ګانې به یې تاسې په همدې رقم جملو کې ولیکئ.

شاګردانو ته ۵ دقیقې وخت ورکړئ چې صنفي کار ترسره کړي. تاسې په ټولګي کې وګرځئ او که چا مرستې ته اړتیا درلوده، ورسره مرسته وکړئ.

**۳. فعالیت - شاګردانو ته ووایئ:** د کتاب په همدې مخ کې یو چوکاټ دی چې مختلفې کلمې په کې لیکل شوې دي. تاسې له خپلو څنګلوریو ټولګیوالو سره بحث وکړئ او د هرې کلمې لپاره پنځه – پنځه هم‌قافیه کلمې پیدا او په کتابچو کې یې ولیکئ. مثلاً لومړۍ کلمه ده «کور» د دې کلمې هم‌قافیه کلمې به په ګډه په لوړ غږ ولولو: شور، مور، خور، پور، تور، ...

شاګردانو ته ۵ دقیقې وخت ورکړئ چې صنفي کار ترسره کړي. تاسې په ټولګي کې وګرځئ او که چا مرستې ته اړتیا درلوده، ورسره مرسته وکړئ. دوه یا درې شاګردان راوبولئ چې خپل کار له نورو سره شریک کړي.

**۴. شاګردانو ته ووایئ:** کورنۍ دنده مو دا ده چې د شعر د هر بند مطلب په خپله ژبه ولیکئ او هماغسې چې په لومړي فعالیت کې مو نیمګړې تشبیه‌ګانې په پوره جملو کې بشپړې کړې، د شعر نیمګړې تشبیه‌ګانې هم بشپړې ولیکئ. مثلاً:

**زه وړه جینکۍ یمه　　پلار ته ښاپېرۍ یمه**

**مور ته ناوکۍ یمه　　ښکلې، ګلالۍ یمه**

زه وړه نجلۍ یم. زه خپل پلار ته د ښاپېرۍ غوندې ښایسته یم او مور ته مې د ناوکۍ په شان ښکلې او ګلالۍ ښکارم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## فصل ۷ اونۍ ۲

د فصل د ژانر، موضوع، سترو مفکورو او اساسي پوښتنو په اړه له شاگردانو سره بحث وکړئ. د دې فصل ژانر خاطره ده. خاطره د کیسې غونډې روایتي ژانر دی یعنې د یوې پېښې کیسه راته کوي خو دغه پېښه واقعي وي. شاگردانو ته خپله یوه لنډه خاطره وواییئ، مثلاً: زما یادېږي چې کله ماشوم وم یوه ورځ پلار پر آس سپور کړم. زه سخت وېرېدلی وم خو پلار مې ویل: «مه ډارېږه! آرام کېنه. زه درسره یم.» بیا مې پلار د آس واگې ونیول او ورو ورو یې روان کړ. ورو ورو زما وېره ختمه شوه او د آس سپرلۍ خوند راکړ. بیا مې پلار ویل چې نور بس دی، راکښته شه خو ما ویل نه، نه، نور چکر به هم راکوې. نو دا زما د ژوند یوه رښتیانۍ پېښه ده. که زه دا ولیکم، دې ته خاطره وایي.

### درسي ساعت ۱

**۱. سلام، روغبړ، د ټولگي تنظیمول (۳ دقیقې)**

**۲. هجا (۵ دقیقې)**

د تېرو اونیو په شان، له شاگردانو څخه وغواړئ چې د درس په پیل کې په چوکاټ کې راغلې کلمې څپه په څپه ولولي.

**۳. د نویو لغاتو فعالیتونه (۱۰ دقیقې)**

د درس نوې کلمې له شاگردانو سره یو ځای معنا کړئ. د هرې کلمې لپاره لاندې فعالیتونه ترسره کړئ:

۱. هغه جمله چې دا کلمه په کې راغلې وي، ولولئ.

۲. کلمه پر تختې ولیکئ او په شاگردانو یې درې ځله ولولئ.

۳. د کلمې معنا د شاگردانو په سویه، په واضحو او آسانو کلمو بیان کړئ.

۴. له شاگردانو څخه وغواړئ چې هره کلمه په جمله کې وکاروي.

د دې درس کلمې دي: [**شیشکونه** = طاقونه، د لیندۍ غونډې د خښتو منحني طاقونه چې په پخوانیو ودانیو کې ډېر رواج و؛ **موزیم** = هغه ځای چې لرغوني آثار، هنري آثار، طبیعي شیان، او داسې نور د ننداري لپاره ایښودل کېږي؛ **لارښوده**= څوک چې چا ته لاره ښیي او/ یا معلومات ورته ورکوي. د موزیم لارښوده نندارچیانو ته د موزیم د آثارو په اړه معلومات ورکوي؛ **کیندن کاري** = هغه هنر چې هنرمن پر لرگي، تیږې یا نورو کلکو شیانو ښایسته انځورونه، شکلونه، او لیکنې کاږي او بیا یې کني چې دا انځورونه یا لیکنې په کې د ډېر زیات وخت لپاره پاتې شي.]

**۴. لوستل (۲۵ دقیقې)**

**زه یې ترسره کوم/ موږ یې ترسره کوو**

شاگردانو ته وواییئ: د لوستل شویو معلوماتو د یادولو یوه ښه لاره دا ده چې په ذهن کې مو ورسره رابطه جوړه کړو. دغه رابطه کېدای شي شخصي وي، داسې څه چې ستاسو په تجربو، باورونو، احساساتو او عواطفو پورې اړه ولري. دا کېدای

(c) ketabton.com: The Digital Library

شي ستاسو له شخصي تجربو سره نه، بلکې د واقعي نړۍ له ځينـو نـور شـيانو سره رابطـه وي يعنـې همداسـې کسـان يـا پېښې مو ليدلي وي، يا مو د هغوی په اړه پخوا څه لوستي وي. ان کېدای شي موضوع يې هم يوه نـه وي خـو د بـل مـتن ځينې شيان به د همدې متن غوندې وي چې اوس يې لولئ. نن به د يوې نجلۍ خاطره ولولو چې زرغونـه نـومېږي او پـه پنځم ټولگي کې ده. تاسې به د خاطرې هر پراگراف چې لولئ، تم شئ او په ذهن کې ورسره رابطه جوړه کړئ.

له شاگردانو څخه وپوښتئ: ښه. له متن سره د رابطې جوړولو نورې لارې کومې دي؟

[کېدای شي شاگردان دغه ځوابونه درکړي: کېدای شي په موږ باندې هم همداسې پېښه تېره شـوې وی. کېـدای شي د بل چا کيسه مو اورېدلې وي چې همداسې خبرې پـه کـې وي. کېـدای شي د دې موضـوع پـه اړه مـو معلومـات پـه نـورو کتابونو کې لوستي وي يا مو په ټلويزيون کې ليدلي وي. نو موږ به هماغه شيان رايادوو.]

تاسې ووايئ: هو. همدا د رابطې جوړولو لارې دي.

**تاسې يې ترسره کوئ**

شاگردانو ته ووايئ: ښه نو، کله چې متن لولئ، له خپلو پخوانيو معلوماتو سره يې رابطه جوړه کړئ چې دې ته ورته خبرې مو چېرې اورېدلې، لوستلې يا ليدلې وي. دا د لوستل شوي متن په يادولو کې درسره مرسته کوي. اوس د ملي موزيم پـه اړه متن پخپله ولولئ. د متن هر پراگراف چې لولئ، له ځانه وپوښتنئ چې «دا ما ته څه شی را يادوي؟»

شاگردانو ته د هر پراگراف د لوستلو لپاره ۲ دقيقې وخت ورکړئ. د هر پراگراف تر لوستلو وروسته ۲ دقيقې وخت ورکـړئ چې خپلو څنگلوريو ټولگيوالو ته ووايي چې د متن له دې برخې سره يې څنگه رابطه جوړه کړې ده. د ځينو پراگرافونو تـر لوستلو وروسته، يو يا دوه شاگردان وغږوئ چې د پراگراف له معلوماتو سره يې څنگه رابطه جوړه کړې ده.

**کورنۍ دنده**

**شاگردانو ته ووايئ:** کورنۍ دنده مو دا ده چې خپله يوه په زړه پورې خاطره وليکـئ، مثلاً که موزيم يا کوم تاريخي ځای ته يا مېلې ته تللي يئ، يا بله داسې خاطره مو چې فکر کوئ نورو ته به په زړه پورې وي.

**دوهم درسي ساعت**

**۱. د ژوندليک معلوماتي چارټ (۱۰ دقيقې)**

**زه يې ترسره کوم/ موږ يې ترسره کوو**

(c) ketabton.com: The Digital Library

شاگردانو ته ووایئ: تاسو په پنځم فصل کې ژوندلیکونه ولوستل. هماغسې چې ژوندلیک واقعي وي او د یو چا د ژوند کیسه وي، خاطره هم د یو چا د ژوند یوه خاصه پېښه بیانوي. هر څوک په ژوند کې ځینې په زړه پورې خبرې لري چې غواړي له نورو سره یې شریکې کړي. خلک خپلې خاطرې په همدې خاطر لیکي.

شاگردانو ته ووایئ: ستاسو د کتاب په ــــــ مخ کې یو چوکاټ دی چې د خاطرې د متن معلومات پـه کې ولیکـئ.

څوک به د چوکاټ په لومړي کتار کې لیکل شوي کلمې ولولي؟

[یوه شاگرد ته اجازه ورکړئ چې په لوړ غږ یې ولولي]

**تاسې یې ترسره کوئ**

شاگردانو ته ووایئ: مننه! زه درنه غواړم چې دغه چوکاټ په خپلو کتابچو کې رسم کړئ. د موزیم په اړه متن بیا ولـولئ او معلومات یې په چوکاټ کې ولیکـئ.

[که وخت وي، څو شاگردان راوبولئ چې خپل کړی کار نورو ته ولولي.]

| | |
|---|---|
| **څوک/ چا** | زرغونه، کبیر، مور او پلار یې |
| **څه مهال** | د اوړي په رخصتیو کې |
| **چېرې** | ملي موزیم |
| **څه** | د موزیم آثار یې وکتل |
| **ولې** | ځکه چې د موزیم د آثارو کتل خوندور دي او د چا معلومات زیاتوي. |

**۲. د کرکټر د کړنو ارزونه (۲۰ دقیقې)**

شاگردانو ته ووایئ: اوس به د زرغونې او کبیر کړه وړه او خبرې وارزوئ. ستاسو په کتاب کې څلور پوښتنې دي. لـومړۍ پوښتنه به څوک ولولي؟

په یوه شاگرد پوښتنه ولولئ: **په اول سر کې د کبیر زړه تنگ شو او ویې ویل چې هسې موزیم تـه راغلـی دی. هغـه ویـل چې دا رقم لوبښي خو په هر ځای کې دي. ستاسو په نظر دا قضاوت یې څنگه و؟**

شاگردانو ته ووایئ: اوس نو تاسې له خپلو څنگلوریو ټولگیوالو سره بحث وکړئ او په دې اړه خپل نظرونه شریک کړئ.

شاگردانو ته ۳ دقیقې وخت ورکړئ چې بحث وکړي. بیا د مختلفو څوکیو دوه یا درې شاگران وغږوئ چې څه یې ویلي دي. که لازمه وه، تاسې هم خپله تبصره وکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدا کار د پاتې دریو پوښتنو لپاره هم ترسره کړئ:

**۲. زرغونې هڅه وکړه چې د خپل ورور نظر بدل کړي چې د موزیم د آثار له کتلو څخه خوند واخلي، دا کار یې څنګه ارزوئ؟**

**۳. کله چې د موزیم لارښودې ځان معرفي کړ، زرغونې هم ځان او خپل ورور ورپېژندل. دا کار تاسو ته څنګه ښکاري؟**

**۴. کبیر د خاطرې په آخر کې ولې وویل «ژوندۍ دې وي زما هوښیاره خورکۍ»؟**

## کورنۍ دنده

شاګردانو ته وواییئ: کورنۍ دنده مو دا ده چې د خپلې کورنۍ یوه مشر/ مشرې ته وواییئ چې ستاسو د کوچنیتوب یوه جالبه خاطره درته ووایي او تاسې هغه خاطره ولیکئ.

**نوټ: لس شاګردان انتخاب کړئ چې په بل درسي ساعت کې د خپلې کورنۍ د مشرانو له خولې د خپل کوچنیتوب په اړه اورېدلې خاطره په ټولګي کې نورو ته ووایي.**

## دریم درسي ساعت

### ۱. وینا (۳۰ دقیقې)

شاګردانو ته وواییئ: نن به ستاسو لس تنه ټولګیوال د خپل کوچنیتوب په اړه هغه خاطرې راته ووایي چې د کورنۍ مشرانو ورته ویلي دي. خو لومړی به وګورو چې د چا په یاد پاتې دي چې کله چې چا ته وینا کوو، کوم اصول باید مراعات کړو؟

شاګردان ممکن دغه ټکي ووایي:

- د وینا په پیل کې به وایو: بسم الله الرحمن الرحیم. السلام علیکم و رحمت الله و برکاته.
- د محترم ښوونکې/ ښوونکي او ګرانو ټولګیوالو په اجازه، غواړم نن د .... په اړه خبرې وکړم.
- کله چې وینا کوو، مختلفو اورېدونکو ته وګورو.
- غږ مو باید دومره اوچت وي چې ټولو ته ورسېږي.
- د وینا پر مهال که اړتیا وي، د لاس، اوږو او مخ له حرکتونو کار واخلو.

که له شاګردانو څخه کومه خبره پاتې وه، هغه تاسې وواییئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا شاګردانو ته ووايئ: اوس به تاسې د خپلو ټولګيوالو خبرو ته په ځير غوږ ونيسئ، ځکه چې کورنۍ دنده بـه مـو د دوی په خبرو پورې اړه ولري. سمه ده؟

بیا انتخاب شوي شاګردان په وار سره د ټولګي مخې ته راوغواړئ چې وينا وکړي. کلـه چـې دوی وينـا کـوي، تاسـې يـې وارزوئ چې:

- خبرې يې رواني، منسجمې، واضحې دي که نه.
- غږ يې په کافي اندازه اوچت دی که نه.
- د خبرو په وخت کې د لاس او مخ له حرکتونو څه کار اخلي که نه.
- له مخاطبانو سره د سترګو تماس ساتي که نه.

همدارنګه نور شاګردان په دې لحاظ وڅارئ چې:

- له ويناوال سره د سترګو تماس ساتي که نه.
- خپله علاقه او لېوالتيا د سر په خوځولو، موسکا، يا کلامي نښو لکه «ډېر ښه، امممم، واه، ...» ښيي که نه.

که د شاګردانو په چلند کې کومه ستونزه وينئ، د دوو ويناوو تر منځ وقفه کې يې ورياده کړئ، مثلاً که ويناوال د خبرو پر مهال اضطراب لري او ژبه نښلي، بې له دې د هغه نوم ياد کړئ، ووايئ: کله چې وينا کوو، ښـه بـه وي چـې زړور وغږېـږو. که څوک د وينا په وخت کې وېره لري، بايد د وينا له پيلولو مخکې څو وارې ژوره ساه واخلي، يا د وينا پـر مهـال، قلـم پـه لاس کې ونيسي او په ګوتو يې ټينګ کړي.

## ۲. ګرامر: متشابه کلمې (۱۰ دقيقې)

شاګردانو ته ووايئ: په کتاب کې مو شپږ جملې راغلـې دي چـې تـش ځايونـه لـري. تاسـې دا جملـې ولـولئ او پـه خپلـو کتابچو کې يې وليکئ. په بل چوکاټ کې درې کلمې راغلې دي. تاسې د جملو تش ځايونه په همدې کلمو ډک کـړئ او بيا

**لامبوزن په اوبو کې ......... غوټې ......... وهي.**

**هغه ......... غوټې ......... چې په لاس خلاصېږي، په غاښ به يې ولې خلاصوو؟**

**......... سره ......... زر له مړو ......... سره ......... په قبرونو کې ښخ وو.**

**......... سره ......... د غنمو وده زياتوي.**

**......... توري ......... وربځې راغلې او باران په ورېدو شو.**

**په موزيم کې ......... توري ......... ، زغرې، ټوپک او نور جنګي وسايل وو.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کورنۍ دنده**

شاګردانو ته ووایئ: نن مو د خپلو څو ټولګیوالو د کوچنیتوب په اړه خاطرې واورېدې. کور ته چې ولاړئ، فکر وکړئ چې د چا خاطره و خوښه شوه او ولې مو خوښه شوه. بیا یې په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

**څلورم درسي ساعت**

**۱. املا (۵ دقیقې)**

شاګردانو ته ووایئ: اوس به خپلې کتابچې خلاصې کړئ او ځینې کلمې به ولیکئ. د دې لپاره چې د کلمو لیکل راته آسانه شي، کلمې پر برخو وېشو. مثلاً «ښیښه‌یي» دوې برخې لري «ښیښه» او «وال». «یي» ښیښه‌یي یعنې هغه شی چې له ښیښې څخه جوړ شوی وي.

شاګردانو ته ووایئ: به زه کلمې درته ووایم او تاسې به یې په خپلو کتابچو پر برخو ووېشئ او بیا به یې یو ځای ولیکئ.

[دغه کلمې شاګردانو ته ووایئ «طلایي، ډبرین، لرګین، وړین». په ټولګي کې وګرځئ او شاګردن وڅارئ. که چا مرستې ته اړتیا درلوده، ورسره مرسته وکړئ.]

**۲. د استنباطي پوښتنو د ځوابونو لیکل (۱۰ دقیقې)**

معلم: د کتاب په ــــــــ مخ کې د خاطرې په اړه څو استنباطي پوښتنې راغلي دي. لومړۍ پوښتنه به څوک ولولي؟

[شاګردان ګوتې جګوي. یو تن ته ووایئ چې لومړۍ پوښتنه ولولي.]

شاګرد پوښتنه لولي: **۱ .په ملي موزیم کې د افغانستان د کومو ولایتونو آثار نندارې ته اېښودل شوي دي؟**

معلم: اوس نو له خپلو څنګلوریو ټولګیوالو سره بحث وکړئ او د پوښتنې ځواب پیدا کړئ. بیا د دې پوښتنې ځواب په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

[کله چې د شاګردانو بحث تمام شو، له دوو تنو وغواړئ چې خپل ځواب له نورو سره شریک کړي. کله چې شاګردان ځواب لیکي، تاسې په ټولګي کې وګرځئ او که چا مرستې ته اړتیا لرله، ورسره مرسته وکړئ.]

دا فعالیت د دوو نورو پوښتنو لپاره هم ترسره کړئ. پاتې پوښتنې دا دي:

**۲ .په موزیمونو کې څه ډول آثار اېښودل کېږي؟**

**۳. د ملي موزیم ودانۍ څو پوړیزه ده؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۳. د متن ارزونه (۱۰ دقیقې)**

شاګردانو ته ووایئ: ستاسو د کتاب په ـــــ مخ کې دوې پوښتنې دي. لومړۍ پوښتنه به څوک ولولي؟ [شاګردان لاسونه جګوي او یو تن ته د پوښتنې د لوستلو اجازه ورکړئ]

شاګرد پوښتنه لولي: **۱. په خاطره کې راغلي معلومات څومره واضح او په زړه پورې وو؟**

بیا ووایئ: منښه! اوس نو د دې پوښتنې په اړه له خپلو څنګلوریو ټولګیوالو سره بحث وکړئ. پر دې وغږېږئ چې د متن معلومات واضح او په زړه پورې وو، که نه.

[شاګردان دې دوه دقیقې بحث وکړي او تاسې په ټولګي کې وګرځئ. وروسته له دوو شاګردانو څخه وغواړئ چې خپل نظر شریک کړي.]

همدا فعالیت د دوهمې پوښتنې لپاره هم ترسره کړئ.

**۲. په خاطره کې څه شی کم دی؟ ستاسو په نظر، نور کوم معلومات باید په کې راغلي وای؟**

[شاګردانو ته ۵ دقیقې وخت ورکړئ چې ځوابونه په خپلو کتابچو کې ولیکي. تاسې په ټولګي کې وګرځئ. که چا مرستې ته اړتیا درلوده، ورسره مرسته وکړئ. که ډېر شاګردان د کومې خاصې کلمې په لیکلو کې ستونزه ولري، نوټ یې کړئ او بیا یې پر تختې ولیکئ.]

**۴. د متن په اړه خپل نظر لیکل (۱۰ دقیقې)**

معلم: اوس به د متن په اړه خپل نظر ولیکئ. پر دې باندې فکر وکړئ چې متن څنګه و؟ خوښ مو شو که نه؟ د متن کومه برخه مو خوښه شوه او ولې مو خوښه شوه؟ له دې متن څخه مو څه زده کړل؟ له خپلو څنګلوریو ټولګیوالو سره بحث وکړئ او په وار سره د کیسې په اړه خپل نظر ورته ووایئ.

[شاګردانو ته ۴ دقیقې وخت ورکړئ چې بحث وکړي. تاسې په ټولګي کې وګرځئ او شاګردان وڅارئ]

معلم: اوس به په خپلو کتابچو کې د «هلمند او نورستان» متن په اړه خپل نظرونه ولیکئ.

[شاګردانو ته ۵ دقیقې وخت ورکړئ چې خپل نظرونه ولیکي. تاسې په ټولګي کې وګرځئ. که چا مرستې ته اړتیا درلوده، ورسره مرسته وکړئ. که ډېر شاګردان د کومې خاصې کلمې په لیکلو کې ستونزه ولري، نوټ یې کړئ او بیا یې پر تختې ولیکئ. که وخت پاتې و، په آخر کې یو یا دوه شاګردان راوبولئ چې خپله لیکنه ولولي.]

**کورنۍ دنده:**

شاګردانو ته ووایئ: کورنۍ دنده مو دا ده چې د خپلې کورنۍ یوه مشر/ مشرې ته ووایئ چې کله ستاسو په عمر وو، کومه جالبه پېښه پرې تېره شوې وه. تاسې هغه خاطره ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## فصل ۷ اونۍ ۳

### درسي ساعت ۱

**۱. سلام، روغبړ، د ټولګي تنظیمول (۳ دقیقې)**

**۲. هجا (۵ دقیقې)**

له شاګردانو څخه وغواړئ چې د درس په پیل کې په چوکاټ کې راغلې کلمې څپه په څپه ولولي.

**۳. د نویو لغاتو فعالیتونه (۱۰ دقیقې)**

د درس نوې کلمې له شاګردانو سره یو ځای معنا کړئ. د هرې کلمې لپاره لاندې فعالیتونه ترسره کړئ:

۱. هغه جمله چې دا کلمه په کې راغلې وي، ولولئ.

۲. کلمه پر تختې ولیکئ او په شاګردانو یې درې ځله ولولئ.

۳. د کلمې معنا د شاګردانو په سویه، په واضحو او آسانو کلمو بیان کړئ.

۴. له شاګردانو څخه وغواړئ چې هره کلمه په جمله کې وکاروي.

د دې درس کلمې دي: [**څلی** = مینار، هغه دنګه ستنه چې له خښتو، ختو، یا کانکرېټ څخه جوړېږي؛ **کوفي خط** = هغه خط چې د اسلام په لومړیو پېړیو کې دود و؛ **علمي سیر** = هغه ډلهییز سفر چې شاګردان په کې د علمي معلوماتو د حاصلولو لپاره د ښوونځي یا پوهنتون د ادارې له خوا بیول کېږي؛ **اته ګوټیز** = هغه شکل چې اته ګوټونه ولري، اته ضلعي.]

**۴. لوستل (۲۵ دقیقې)**

**موږ یې ترسره کوو/ تاسې یې ترسره کوئ**

شاګردانو ته ووایئ: تاسې پوهېږئ چې د متن د ښه یادولو لپاره باید معلومات یې له خپلو پخوانیو معلوماتو سره ونښلوئ. له متن سره د رابطې جوړولو لپاره څه باید وکړو؟

[کېدای شي شاګردان دغه ځوابونه درکړي: هر پراګراف چې لولو، فکر وکړو چې دا ما ته څه شی یادوي.]

شاګردانو ته ووایئ: ښه نو، اوس د جام څلي په اړه متن پخپله ولولئ. د متن هر پراګراف چې لولئ، در په یاد یې کړئ چې پر تاسو هم داسې پېښه تېره شوې ده؟ داسې خبره مو بل چېرې لوستلې، اورېدلې یا لیدلې وي؟»

شاګردانو ته د هر پراګراف د لوستلو لپاره ۲ دقیقې وخت ورکړئ. د هر پراګراف تر لوستلو وروسته ۲ دقیقې وخت ورکړئ چې خپلو څنګلوریو ټولګیوالو ته ووایي چې د متن له دې برخې سره یې څنګه رابطه جوړه کړې ده. د ځینو پراګرافونو تر لوستلو وروسته، یو یا دوه شاګردان وغږوئ چې د پراګراف له معلوماتو سره یې څنګه رابطه جوړه کړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کورنۍ دنده**

**شاګردانو ته ووایئ:** کورنۍ دنده مو دا ده چې خپله یوه په زړه پورې خاطره ولیکئ، مثلاً که مو کومه پخوانۍ کلا لیدلې وي یا مو چېرته سفر کړی وي، یا بله داسې خاطره مو چې فکر کوئ نورو ته به په زړه پورې وي.

**دوهم درسي ساعت**

**۱. د ژوندلیک معلوماتي چارټ (۱۰ دقیقې)**

**موږ یې ترسره کوو / تاسې یې ترسره کوئ**

شاګردانو ته ووایئ: ستاسو د کتاب په ــــــــ مخ کې یو چوکاټ دی چې د خاطرې د متن معلومات په کې ولیکئ.

څوک به د چوکاټ په لومړي کتار کې لیکل شوې کلمې ولولي؟

[یوه شاګرد ته اجازه ورکړئ چې په لوړ غږ یې ولولي]

شاګردانو ته ووایئ: مننه! زه درنه غواړم چې دغه چوکاټ په خپلو کتابچو کې رسم کړئ. د جام څلي په اړه متن بیا ولولئ او معلومات یې په چوکاټ کې ولیکئ.

[که وخت وي، څو شاګردان راوبولئ چې خپل کړی کار نورو ته ولولي.]

| | |
|---|---|
| **څوک/ چا** | شریفه، ټولګیوالې او ښوونکې یې |
| **څه مهال** | د ثور لسمه نېټه |
| **چېرې** | غور، د جام سیمه |
| **څه** | علمي سیر |
| **ولې** | ځکه چې د جام څلی ووینې او په اهمیت یې پوه شي. |

**۲. د کرکټر د کړنو ارزونه (۲۰ دقیقې)**

شاګردانو ته ووایئ: اوس به د ښوونکې او شاګردانو کړه وړه او خبرې وارزوئ. ستاسو په کتاب کې څلور پوښتنې دي. لومړۍ پوښتنه به څوک ولولي؟

په یوه شاګرد پوښتنه ولولئ: ۱ **.شاګردانو په لاره کې د سیند او غرونو په اړه خبرې کولې، دا کار یې درته څنګه ښکاري؟**

شاګردانو ته ووایئ: اوس نو تاسې له خپلو څنګلوریو ټولګیوالو سره بحث وکړئ او په دې اړه خپل نظرونه شریک کړئ.

شاګردانو ته ۳ دقیقې وخت ورکړئ چې بحث وکړي. بیا د مختلفو څوکیو دوه یا درې شاګران وغږوئ چې څه یې ویلي دي. که لازمه وه، تاسې هم خپله تبصره وکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدا کار د پاتې دریو پوښتنو لپاره هم ترسره کړئ:

**۲ .د سیند په اوبو د مخونو مینځل څنگه کار دی؟**

**۳. شاگردانو خپل خواړه په گډه وخوړل، دا کار یې څنگه ارزوئ؟**

## کورنۍ دنده

شاگردانو ته ووایئ: کورنۍ دنده مو دا ده چې د د خپل ښوونځي په اړه خپله جالبه خاطره ولیکئ. په یاد مو وي چې په خاطره کې مو دې پوښتنو ته ځواب ووایئ: چا، څه مهال، چېرې، څه یې وکړل، ولې وکړل.

**نوټ: لس شاگردان انتخاب کړئ چې په بل درسي ساعت کې خپلې خاطرې په ټولگي کې نورو ته ووایي.**

## دریم درسي ساعت

**۱. وینا (۳۰ دقیقې)**

شاگردانو ته ووایئ: نن به ستاسو لس تنه ټولگیوال خپلې په زړه پورې خاطرې راته ووایي. څوک به ووایي چې د خپلو خبرو په پیل کې څه باید ووایو؟

شاگردان ممکن ووایي: د وینا په پیل کې به وایو: بسم الله الرحمن الرحیم. السلام علیکم و رحمت الله و برکاته. او بیا به اجازه اخلو او خپلې خبرې به کوو.

بیا شاگردانو ته ووایئ: آفرین! اوس به تاسې د خپلو ټولگیوالو خبرو ته په ځیر غوږ ونیسئ، ځکه چې کورنۍ دنده به مو د دوی په خبرو پورې اړه ولري. سمه ده؟

بیا انتخاب شوي شاگردان په وار سره د ټولگي مخې ته راوغواړئ چې وینا وکړي. کله چې دوی وینا کوي، تاسې یې وارزوئ چې:

- خبرې یې روانې، منسجمې، واضحې دي که نه.
- غږ یې په کافي اندازه اوچت دی که نه.
- د خبرو په وخت کې د لاس او مخ له حرکتونو څه کار اخلي که نه.
- له مخاطبانو سره د سترگو تماس ساتي که نه.

همدارنگه نور شاگردان په دې لحاظ وڅارئ چې:

- له ویناوال سره د سترگو تماس ساتي که نه.
- خپله علاقه او لېوالتیا د سر په خوځولو، موسکا، یا کلامي نښو لکه «ډېر ښه، امممم، واه، ...» ښیي که نه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شاګردانو مثبت کارونه وریاد کړئ، مثلاً: ما ولیدل چې نجیبې د وینا په وخت کې مختلفو ټولګیوالو ته کتل او غږ یې هم په کافي اندازه لوړ و. یا کریمې د خپلو ټولګیوالو د خبرو مهم ټکي په کتابچه کې لیکل. دا کار په دې ښه دی چې د کله دا ټکي ولولي، د ټولګیوالو ټولې خبرې ور په یادېږي.

**۲. ګرامر: سر بلونه/ وستربلونه (۱۰ دقیقې)**

شاګردانو ته ووایئ: په کتاب کې مو شپږ جملې راغلې دي چې تش ځایونه لري. تاسې دا جملې ولولئ او په خپلو کتابچو کې یې ولیکئ. په بل چوکاټ کې درې کلمې راغلې دي. تاسې د جملو تش ځایونه په همدې کلمو ډک کړئ او بیا یې تولپیر ته پام وکړئ.

**تر هراته ...... پورې ...... درې ساعته لاره وه.**

**تر اوبو ...... لاندې ...... سپین کبان ښکارېدل.**

**د جام مینار تر کتلو ...... وروسته ...... مو ډوډۍ وخوړه.**

**تر بوسو ...... لاندې ...... اوبه تېرووي.**

**تر ماښامه ...... پورې ...... مو لوبې کولې.**

**تر تا ...... وروسته ...... د فرشتې وار دی.**

**کورنۍ دنده**

شاګردانو ته ووایئ: نن مو د خپلو څو ټولګیوالو خاطرې واورېدې. کور ته چې ولاړئ، فکر وکړئ چې د چا خاطره و خوښه شوه او ولې مو خوښه شوه. بیا یې په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

**څلورم درسي ساعت**

**۱. املا (۵ دقیقې)**

شاګردانو ته ووایئ: اوس به خپلې کتابچې خلاصې کړئ او ځینې کلمې به ولیکئ. د دې لپاره چې د کلمو لیکل راته آسانه شي، کلمې پر برخو وېشو. مثلاً «اته ګوتېز» درې برخې لري «اته»، «ګوټ» او «یز» اته ګوتېز یعنې هغه شی اته ګوټونه ولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شاګردانو ته ووایئ: به زه کلمې درته ووایم او تاسې به یې په خپلو کتابچو پر برخو وویشئ او بیا به یې یو ځای ولیکئ.

[دغه کلمې شاګردانو ته ووایئ «وسپنیز، بندیز، سیمه‌ییز، ډله‌ییز». په ټولګي کې وګرځئ او شاګردن وڅارئ. که چا مرستې ته اړتیا درلوده، ورسره مرسته وکړئ.]

**۲. د استنباطي پوښتنو د ځوابونو لیکل** (۱۰ دقیقې)

معلم: د کتاب په ــــــــ مخ کې د خاطرې په اړه څو استنباطي پوښتنې راغلي دي. لومړۍ پوښتنه به څوک ولولي؟

[شاګردان ګوتې جګوي. یو تن ته ووایئ چې لومړۍ پوښتنه ولولي.]

شاګرد پوښتنه لولي: **۱ .دا خاطره چا لیکلې وه؟**

معلم: اوس نو له خپلو څنګلوریو ټولګیوالو سره بحث وکړئ او د پوښتنې ځواب پیدا کړئ. بیا د دې پوښتنې ځواب په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

[کله چې د شاګردانو بحث تمام شو، له دوو تنو وغواړئ چې خپل ځواب له نورو سره شریک کړي. کله چې شاګردان ځواب لیکي، تاسې په ټولګي کې وګرځئ او که چا مرستې ته اړتیا لرله، ورسره مرسته وکړئ.]

دا فعالیت د دوو نورو پوښتنو لپاره هم ترسره کړئ. پاتې پوښتنې دا دي:

**۲ .ولې یوازې د پنځم الف ټولګي شاګردانې علمي سیر ته بوول شوې؟**

**۳. څلي د شي لپاره جوړېږي؟**

**۳. د متن ارزونه** (۱۰ دقیقې)

شاګردانو ته ووایئ: ستاسو د کتاب په ـــــ مخ کې دوې پوښتنې دي. لومړۍ پوښتنه به څوک ولولي؟ [شاګردان لاسونه جګوي او یو تن ته د پوښتنې د لوستلو اجازه ورکړئ]

شاګرد پوښتنه لولي: **۱. په خاطره کې راغلي معلومات څومره واضح او په زړه پورې وو؟**

بیا ووایئ: مننه! اوس نو د دې پوښتنې په اړه له خپلو څنګلوریو ټولګیوالو سره بحث وکړئ. پر دې وغږېږئ چې د متن معلومات واضح او په زړه پورې وو، که نه.

[شاګردان دې دوه دقیقې بحث وکړي او تاسې په ټولګي کې وګرځئ. وروسته له دوو شاګردانو څخه وغواړئ چې خپل نظر شریک کړي.]

همدا فعالیت د دوهمې پوښتنې لپاره هم ترسره کړئ.

**۲. په خاطره کې څه شی کم دی؟ ستاسو په نظر، نور کوم معلومات باید په کې راغلی وای؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library

[شاگردانو ته ۵ دقیقې وخت ورکړئ چې ځوابونه په خپلو کتابچو کې ولیکي. تاسې په ټولګي کې وګرځئ. که چا مرستې ته اړتیا درلوده، ورسره مرسته وکړئ. که ډېر شاګردان د کومې خاصې کلمې په لیکلو کې ستونزه ولري، نوټ یې کړئ او بیا یې پر تختې ولیکئ.]

**۴. د متن په اړه خپل نظر لیکل (۱۰ دقیقې)**

معلم: اوس به د متن په اړه خپل نظر ولیکئ. پر دې باندې فکر وکړئ چې متن څنګه و؟ خوښ مو شو که نه؟ د متن کومه برخه مو خوښه شوه او ولې مو خوښه شوه؟ له دې متن څخه مو څه زده کړل؟ له خپلو څنګلوریو ټولګیوالو سره بحث وکړئ او په وار سره د کیسې په اړه خپل نظر ورته ووایئ.

[شاګردانو ته ۴ دقیقې وخت ورکړئ چې بحث وکړي. تاسې په ټولګي کې وګرځئ او شاګردان وڅارئ]

معلم: اوس به په خپلو کتابچو کې د «هلمند او نورستان» متن په اړه خپل نظرونه ولیکئ.

[شاګردانو ته ۵ دقیقې وخت ورکړئ چې خپل نظرونه ولیکي. تاسې په ټولګي کې وګرځئ. که چا مرستې ته اړتیا درلوده، ورسره مرسته وکړئ. که ډېر شاګردان د کومې خاصې کلمې په لیکلو کې ستونزه ولري، نوټ یې کړئ او بیا یې پر تختې ولیکئ. که وخت پاتې و، په آخر کې یو یا دوه شاګردان راوبولئ چې خپله لیکنه ولولي.]

**کورنۍ دنده:**

شاګردانو ته ووایئ: کورنۍ دنده مو دا ده چې د کورنۍ یوه مشر/ مشرې ته کېنئ چې د خپل ښوونځي د وخت یوه خاطره درته ووایي. تاسې هغه خاطره داسې ولیکئ چې دې پوښتنو ته ځواب په کې وي: څوک/ چا، څه مهال، چېرې، څه یې وکړل، ولې وکړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## فصل ۸ اونۍ ۱

د فصل د ژانر، موضوع، سترو مفکورو، اساسي پوښتنو، او هدفونو په اړه له شاګردانو سره بحث وکړئ.

## درسي ساعت ۱

**۱. سلام، روغبړ، د ټولګي تنظیمول (۳ دقیقې)**

**۲. هجا (۳ دقیقې)**

د چوکاټ کلمې پر تختې ولیکئ او له شاګردانو سره په ګډه یې هجا کړئ. هره کلمه په شاګردانو درې ځله ولولئ.

**۳. د نویو لغاتو فعالیتونه (۱۰ دقیقې)**

د درس نوي کلمې له شاګردانو سره یو ځای معنا کړئ. د هرې کلمې لپاره لاندې فعالیتونه ترسره کړئ:

۱. هغه جمله چې دا کلمه په کې راغلې وي، ولولئ.

۲. کلمه پر تختې ولیکئ او په شاګردانو یې درې ځله ولولئ.

۳. د کلمې معنا د شاګردانو په سویه، په واضحو او آسانو کلمو بیان کړئ.

۴. له شاګردانو څخه وغواړئ چې هره کلمه په جمله کې وکاروي.

د دې درس کلمې دي: [**سبق** = درس، د ژوند سبق هغه لارې چارې چې د ښه ژوند کولو لپاره مو په کارېږي؛ **کونجاره** = د څارویو لپاره هغه خواړه چې د بوټو له دانو څخه د تېلو تر را ایستلو وروسته پاتې کېږي؛ **ستومانوونکې** = هغه کس یا شی چې څوک ستړی کوي؛ **پښېمانه** = هغه څوک چې یو کړی کار یې ورته سم نه ښکاري او په زړه کې وایي چې کاش داسې مې نه وای کړی.]

**۴. لوستل (۱۵ دقیقې)**

**الف: تر لوستلو مخکې (۲ دقیقې)**

له شاګردانو څخه وغواړئ چې د کیسې د عنوان او انځور له مخې وړاندوینه وکړي چې په کیسه کې به څه پېښ شوي وي. د شاګردانو د اکثریت نظر پر تختې ولیکئ.

**ب. د لوستلو په بهیر کې (۱۰ دقیقې)**

۱. شاګردانو ته ووایئ چې په ټیټ غږ د کتاب متن تر هغه ځایه پورې ولولئ چې له تصویر څخه مخکې دی.

۲. شاګردانو ته ۳ دقیقې وخت ورکړئ چې متن ولولي. تاسې په ټولګي کې وګرځئ او که چا مرستې ته اړتیا درلوده، ورسره مرسته وکړئ.

۳. [تر ۳ دقیقو وروسته] شاګردانو ته ووایئ: اوس لوستل بس کړئ او څه مو چې لوستي دي، په ذهن کې یې مجسم کړئ.

۴. دوو شاګردانو ته اجازه ورکړئ چې په خپل ذهن کې مجسم کړی تصویر تشریح کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵. شاګردانو ته ووايئ: اوس نو د کيسې پاتې برخه په ټيټ غږ ولولئ. [شاګردانو ته ۲ دقيقې وخت ورکړئ چې متن ولولي.]

٦. شاګردانو ته ووايئ: اوس به د کيسې پاتې برخه په ذهن کې مجسم کړئ. آفرين! سترګې مو پټې کړئ او څه مو چې ولوستل خپلو سترګو ته يې ودورئ. [يوه دقيقه وخت ورکړئ]

٧. شاګردانو ته ووايئ: اوس دې هر څوک خپل څنګلوري ټولګيوال/ ټولګيوالې ته ووايي چې څه يې په ذهن کې تېر شول؟ [۲ دقيقې وخت ورکړئ. يوه دقيقه چې تېره شوه، د شاګردانو نقش بدل کړئ. چا چې تر اوسه پورې خبرې کولې، هغه دې غوږ ونيسي او چا چې تر اوسه پورې غوږ نيولی و، هغه دې خبرې وکړي.]

٨. کيسه په لوړ غږ او مناسب لحن او تلفظ سره ولولئ او له شاګردانو څخه وغواړئ چې کله تاسې کيسه لولئ، هغوی دې پر لوستل شويو کلمو ګوتې تېرې کړي.

**ج. تر لوستلو وروسته (۳ دقيقې)**

١. له شاګردانو څخه پوښتنه وکړئ چې د دوی وړاندوينه څنګه وه. د چا اټکل سم وخوت او د چا ناسم.

٢.دوو شاګردانو ته وخت ورکړئ چې خپل نظر ووايي.

**کورنۍ دنده:** شاګردانو ته ووايئ: کورنۍ دنده مو دا ده چې هغه خاطره وليکئ چې تاسې يې ځورولي يئ.

**دوهم درسي ساعت**

**١. پر ربښې او وروستاړي د کلمو وېشل (١٠ دقيقې)**

١. د چوکاټ لومړۍ کلمه پخپله پر برخو ووېشئ او معنا يې کړئ.

٢. شاګردانو ته ووايئ چې له خپلو څنګلوريو ټولګيوالو سره دې پاتې کلمې پر برخو ووېشي. کله چې شاګردان کار کوي، تاسې په ټولګي کې وګرځئ او که چا مرستې ته اړتيا درلوده، ورسره مرسته وکړئ.

٣. له څلورو شاګردانو څخه وغواړئ چې يوه يوه کلمه تجزيه او معنا کړي.

| کلمه | د کلمې برخې | د کلمې معنا |
|---|---|---|
| ستومانوونکې | **ستومان ـــ وونکې** | **ستومان** = ستړی **وونکې** = فاعلي وروستاړی<br>**ستومانوونکې** = هغه څه يا هغه کس چې څوک ستړی کوي. |
| خوشحالوونکې | | |
| بيانوونکې | | |
| ويجاړوونکې | | |
| تماموونکې | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۲. د کيسې نقشه (۲۰ دقيقې)**

۱. شاګردانو ته ووايئ چې د کتاب له مخې دې د کيسې چارټ په کتابچو کې رسم کړي.

۲. د لومړي فصل غونډې د کيسې پيل په شاګردانو ولولئ او ورته ووايئ چې د چارټ د پيل برخې د ډکولو لپاره دې له خپلو څنګلوريو ټولګيوالو سره بحث وکړي.

۳. د کيسې منځ په شاګردانو ولولئ او ورته ووايئ چې د چارټ د منځ برخې د ډکولو لپاره دې له خپلو څنګلوريو ټولګيوالو سره بحث وکړي.

۴. د کيسې پای په شاګردانو ولولئ او ورته ووايئ چې د چارټ د پای برخې د ډکولو لپاره دې له خپلو څنګلوريو ټولګيوالو سره بحث وکړي.

۵. کله چې شاګردان فعاليت کوي، تاسې په ټولګي کې وګرځئ او که چا مرستې ته اړتيا لرله، ورسره مرسته وکړئ.

۶. دوه شاګردان تختې ته راوبولې چې د کيسې پيل، منځ او پای تشريح کړي.

لاندې ډک شوی چارټ به د شاګردانو د کار په ارزولو کې درسره مرسته وکړي.

| **پيل** | | **منځ (د کيسې څوکه)** | **پای** | |
|---|---|---|---|---|
| کرکټرونه | زلمی، ټولګيوال يې، او حکيم | زلمی خپل استاد ته شکايت کوي | حل او نتيجه | حکيم په يوه مثال سره شاګردان پوهوي چې ترخې خبرې دې نه کوي. |
| ځای – زمان | ځای: کلی<br>وخت: هره ورځ | | | |
| ستونزه | شاګردان زلمي ته داسې خبره کوي چې هغه ځوروي. | | سبق/ پيغام | داسې خبرې بايد ونه کړو چې څوک ځوروي. |

**۳. د کرکټر د اعمالو ارزونه (۵ دقيقې)**

۱. شاګردانو ته ووايئ: اوس به د کيسې د کرکټرونو اعمال يا کارونه وارزوو. له خپلو څنګلوريو ټولګيوالو سره د هر کرکټر پر اعمالو خبرې وکړئ. چا څه وکړل؟ ولې يې وکړل؟ کار يې سم و که ناسم؟ ستاسو په نظر د چا کارونه منطقي وو؟

۲. شاګردانو ته درې دقيقې وخت ورکړئ چې بحث وکړي. بيا څو تنه راوبولئ چې د خپل بحث نتيجه شريکه کړي.

**دريم درسي ساعت**

**۱. خبرې اترې (۲۵ دقيقې)**

**مور يې ترسره کوو/ تاسې يې ترسره کوئ**

[شاګردان په شپږ کسيزو ډلو کې تنظيم کړئ او د لاندې سناريو له مخې د مباحثې فعاليت ورباندې اجرا کړئ]

(c) ketabton.com: The Digital Library

معلم: نن به مو د بحث موضوع «ځوربدل» وي. تاسې کله ځوربدلي يئ؟

[شاګردان: مختلف ځوابونه]

معلم: ډېر ښه. په دې باندې مو فکر کړی دی چې موږ ولې ځورېږو؟ [پوښتنه پر تختې وليکئ]

معلم: اوس په خپلو ګروپونو کې پر دې پوښتنې بحث وکړئ. [شاګردان به پنځه دقيقې خبرې کوي.]

[کله چې شاګران خبرې اترې کوي، تاسې په ټولګي کې وګرځئ او ويې هڅوئ]

معلم: اوس به د هرې ډلې استازی د خپلو ملګرو د خبرو خلاصه ووايي.

[د دريو ډلو استازي راوبولئ. کله چې دوی خبرې کوي، ورته ځير شئ. مثبت ټکي يې وستايئ.]

معلم: هر څوک ممکن له مختلفو شيانو وځورېږي. په چا باندې ټوکه ښه نه لګېږي، په چا باندې فيزيکي تماس لکه سکونډل، ټيله کول ... نو بله پوښتنه دا ده چې: «کوم شيان يا کومې خبرې موږ ځوروي؟» [پوښتنه پر تختې وليکئ] تاسې به بيا په خپلو ډلو کې بحث وکړئ.

[شاګردانو ته پنځه دقيقې وخت ورکړئ چې خبرې اترې وکړي.]

[کله چې شاګران خبرې اترې کوي، تاسې په ټولګي کې وګرځئ او شاګردان وڅارئ.]

معلم: په کيسه کې مو ولوستل چې زلمی د ملګرو له دې کاره ځورېده چې هره ورځ به يې د ده تېروتنه يادوله. ده لومړی خپلو ټولګيوالو ته وويل چې ګورئ، ستاسو دغه خبرې ما ځوروي، خو ملګرو يې له ځورولو لاس وانه خيست. بيا نو زلمي خپل استاد ته شکايت وکړ چې ټولګيوال يې پوه کړي. نو، وروستۍ پوښتنه دا ده چې که څوک مو ځوروي، څه بايد وکړو؟ [پوښتنه پر تختې وليکئ]

[شاګردانو ته ۵ دقيقې وخت ورکړئ چې بحث وکړي.]

[کله چې شاګران خبرې اترې کوي، تاسې په ټولګي کې وګرځئ او وګورئ چې ټول شاګردان په بحث کې فعاله ونډه واخلي.]

معلم: اوس به د دريو نورو ډلو استازي ووايي چې څه يې سره ويلي دي.

[د دريو نويو ډلو استازي وغږوئ. د هغوی خبرې چې خلاصې شوې، ويې هڅوئ.]

معلم: څوک به د ټولو خبرو خلاصه او نتيجه ووايئ؟

[شاګردان لاسونه جګوي. يو تن په کې انتخاب کړئ او د تختې سر ته يې دروغواړئ.]

[شاګرد د بحث نتيجه وايي. که کوم ټکی ورنه پاتې و، هغه تاسې ورياد کړئ]

**۲. ګرامر (له معدود سره د حالت په لحاظ د عدد ګردان) (۱۰ دقيقې)**

(c) ketabton.com: The Digital Library

شاګردانو ته ووایئ: د کتاب په ـــــ مخ کې جدول ته وګورئ. په جدول کې له ځینو کلمو سره عددونه لیکل شوي دي او بیا هغه کلمې په اوښتې بڼه راغلې دي چې تاسې عددونه په مناسبه بڼه ورسره ولیکئ. مثال ته یې وګورئ او بیا هر عبارت په خپلو کتابچو کې ولیکئ او تش ځایونه یې ډک کړئ.

| یوه ورځ | د یوې ورځې | دوه ورځې | په دوو ورځو کې |
|---|---|---|---|
| یو ماښام | د .....یوه..... ماښام | درې شپې | تر .. دریو... شپو پورې |
| پنځه ډوډۍ | د ...پنځو.... ډوډیو لپاره | درې کوترې | د .. دریو..... کوترو |
| یوه خبره | تر .... یوې..... خبرې پورې | څلور ماشومان | د ... څلورو... ماشومانو |
| اوه پوښتونه | له ... اوو .. پوښتونو | لس ګزې | د .. لس... ګزې |
| شل کاله | تر .. شلو... کلونو | یوه پېرۍ | له ... یوې .. پېرۍ |

**کورنۍ دنده:** شاګردانو ته ووایئ: کوم شیان تاسې خوروي؟ کورنۍ دنده مو دا ده چې په دې اړه څو جملې ولیکئ.

## څلورم درسي ساعت

**۱. املا (۵ دقیقې)**

شاګردانو ته ووایئ: اوس به خپلې کتابچې خلاصې کړئ او ځینې کلمې به ولیکئ. د دې لپاره چې د کلمو لیکل راته آسانه شي، کلمې پر برخو وېشو. مثلاً «څورول» دوې برخې لري «څور» او «ول». [نورې کلمې دي: اورول، ویلو، خوړلو، خندلو]

**۲. د استنباطي پوښتنو د ځوابونو لیکل (۱۰ دقیقې)**

۱. شاګردانو ته ووایئ: د کتاب په ـــــــ مخ کې د کیسې په اړه څو استنباطي پوښتنې راغلي دي. تاسې به د هرې پوښتنې په اړه له خپلو څنګلوریو ټولګیوالو سره بحث وکړئ او ځواب به یې پیدا او بیا ولیکئ.

۲. لومړۍ پوښتنه په یوه شاګرد ولولئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳. دوه دقیقې وخت ورکړئ چې شاګردان بحث وکړي او تاسې په ټولګي کې وګرځئ. وخت چې پوره شو، دوه شاګردان راوبولئ چې خپل ځواب ووايي.

۴. عین فعالیت د دوهمې او دریمې پوښتنې لپاره هم ترسره کړئ.

۵. شاګردانو ته ووایئ: اوس نو د هرې پوښتنې ځواب په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

پوښتنې دا دي:

۱. د زلمي ټولګیوالو د کونجاړې خبره ولې بیا بیا تکراروله؟

۲. حکیم ولې شاګردانو ته سپینه ونه ویله چې نور زلمی مه ځوروئ؟

۳. د زلمي او ټولګیوالو ملګرتیا ولې ډېر کلونه روانه وه؟

**۳. د کرکټرونو د اعمالو لیکنۍ ارزونه (۱۰ دقیقې)**

معلم: د دې اونۍ په دوهم درسي ساعت کې مو د کرکټرونه کارونه ورازول او ومو ویل چې د هغوی کارونه منطقي او سم و که نه. نن به د کرکټرونو په اړه خپله ارزونه ولیکئ. ستاسو د کتاب په ـــــ مخ کې دوې پوښتنې دي. تاسې به د هرې پوښتنې په اړه له خپلو څنګلوریو ټولګیوالو سره بحث وکړئ او ځواب به يې پیدا او بیا ولیکئ.

۲. لومړۍ پوښتنه په یوه شاګرد ولولئ.

۳. دوه دقیقې وخت ورکړئ چې شاګردان بحث وکړي او تاسې په ټولګي کې وګرځئ. وخت چې پوره شو، دوه شاګردان راوبولئ چې خپل ځواب ووايي.

۴. عین فعالیت د دوهمې پوښتنې لپاره هم ترسره کړئ.

۵. شاګردانو ته ووایئ: ډېر ښه. اوس نو خپل ځوابونه په کتابچو کې مو ولیکئ.

[شاګردانو ته ۵ دقیقې وخت ورکړئ چې ځوابونه ولیکي. تاسې په ټولګي کې وګرځئ. که چا مرستې ته اړتیا درلوده، ورسره مرسته وکړئ. که ډېر شاګردان د کومې خاصې کلمې په لیکلو کې ستونزه ولري، نوټ يې کړئ او بیا يې پر تختې ولیکئ.]

پوښتنې:

۱. د زلمي د ټولګیوالو سلوک څنګه بولئ؟

۲. د ټولګیوالو د سلوک په مقابل کې د زلمي چلند څنګه و؟

**۴. د کیسې په اړه خپل نظر لیکل (۱۰ دقیقې)**

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱. شاگردانو ته ووایئ: اوس به د کیسې په اړه خپل نظر ولیکئ. پر دې باندې فکر وکړئ چې کیسه څنګه وه؟ خوښه مو شوه که نه؟ د کیسې کومه برخه مو خوښه شوه او ولې مو خوښه شوه؟ له دې کیسې مو څه زده کړل؟ له خپلو څنګلوریو ټولګیوالو سره بحث وکړئ او په وار سره د کیسې په اړه خپل نظر ورته ووایئ.

[شاګردانو ته ۴ دقیقې وخت ورکړئ چې بحث وکړي. تاسې په ټولګي کې وګرځئ او شاګردان وڅارئ]

۲. شاګردانو ته ووایئ: اوس به په خپلو کتابچو کې د «څلورم حکیم» کیسې په اړه خپل نظرونه ولیکئ.

[شاګردانو ته ۵ دقیقې وخت ورکړئ چې خپل نظرونه ولیکي. تاسې په ټولګي کې وګرځئ. که چا مرستې ته اړتیا درلوده، ورسره مرسته وکړئ. که ډېر شاګردان د کومې خاصې کلمې یا عبارت په لیکلو کې ستونزه ولري، نوټ یې کړئ او بیا یې پر تختې ولیکئ. که وخت پاتې و، په آخر کې یو یا دوه شاګردان راوبولئ چې خپله لیکنه ولولي.]

## فصل ۸ اونۍ ۲

### فعالیتونه یې د همدې فصل د لومړۍ اونۍ د درسونو په شان ترسره کړئ.

## فصل ۸ اونۍ ۳

### درسي ساعت ۱

**۱. سلام، روغبړ، د ټولګي تنظیمول (۳ دقیقې)**

**۲. هجا (۳ دقیقې)**

د چوکاټ کلمې پر تختې ولیکئ او له شاګردانو سره په ګډه یې هجا کړئ. هره کلمه په شاګردانو درې ځله ولولئ.

**۳. د نویو لغاتو فعالیتونه (۱۰ دقیقې)**

د درس نوې کلمې له شاګردانو سره یو ځای معنا کړئ. د هرې کلمې لپاره لاندې فعالیتونه ترسره کړئ:

۱. هغه جمله چې دا کلمه په کې راغلې وي، ولولئ.

۲. کلمه پر تختې ولیکئ او په شاګردانو یې درې ځله ولولئ.

۳. د کلمې معنا د شاګردانو په سویه، په واضحو او آسانو کلمو بیان کړئ.

۴. له شاګردانو څخه وغواړئ چې هره کلمه په جمله کې وکاروي.

د دې درس کلمې دي: [**لوحه** = هغه دړه، وسپنه، تیږه، ټوکر یا بل شی چې د یوه ځای نوم وربانـدې لیکل شـوی وي. لوحه د سروزرو، سپینو زرو او وسپنې ورقې ته هم وایي؛ **انعام** = د چا د ښه کار په بدل کې ورته پیسې، ځمکه، جایداد،

(c) ketabton.com: The Digital Library

یا مقام ورکول؛ **اعدام** = پانسی، په دار ځړول، وژل؛ **شاه رګ** = د غاړې په دواړو خواوو کې لوی رګ چې سر او مغزو ته وینه رسوي.]

**۴. لوستل (۱۵ دقیقې)**

**الف: تر لوستلو مخکې (۲ دقیقې)**

له شاګردانو څخه وغواړئ چې د کیسې د عنوان او انځور له مخې وړاندوینه وکړي چې په کیسه کې بـه څـه پـېښ شـوي وي. د شاګردانو د اکثریت نظر پر تختې ولیکئ.

**ب. د لوستلو په بهیر کې (۱۰ دقیقې)**

۱. شاګردانو ته ووایئ چې په ټیټ غږ د کتاب متن تر هغه ځایه پورې ولولئ چې له تصویر څخه مخکې دی.

۲. شاګردانو ته ۳ دقیقې وخت ورکړئ چې متن ولولي. تاسې په ټولګي کې وګرځئ او کـه چـا مرسـتې تـه اړتیـا درلـوده، ورسره مرسته وکړئ.

۳. [تر ۳ دقیقو وروسته] شاګردانو ته ووایئ: اوس لوستل بس کړئ او څه مو چې لوستي دي، پـه ذهـن کـې یـې مجسـم کړئ.

۴. دوو شاګردانو ته اجازه ورکړئ چې په خپل ذهن کې مجسم کړی تصویر تشریح کړي.

۵. شاګردانو ته ووایئ: اوس نو د کیسې پاتې برخه په ټیټ غږ ولـولئ. [شـاګردانو تـه ۲ دقیقـې وخـت ورکـړئ چـې مـتن ولولي.]

٦. شاګردانو ته ووایئ: اوس به د کیسې پاتې برخه په ذهن کې مجسم کړئ. آفرین! سترګې مو پټې کړئ او څه مـو چـې ولوستل خپلو سترګو ته یې ودورئ. [یوه دقیقه وخت ورکړئ]

۷. شاګردانو ته ووایئ: اوس دې هر څوک خپل څنګلوري ټولګیوال/ ټولګیوالې ته ووایي چې څـه یـې پـه ذهـن کـې تېـر شول؟ [۲ دقیقې وخت ورکړئ. یوه دقیقه چې تېره شوه، د شاګردانو نقـش بـدل کـړئ. چـا چـې تـر اوسـه پـورې خـبرې کولې، هغه دې غوږ ونیسي او چا چې تر اوسه پورې غوږ نیولی و، هغه دې خبرې وکړي.]

۸. کیسه په لوړ غږ او مناسب لحن او تلفظ سره ولولئ او له شاګردانو څخه وغواړئ چې کلـه تاسـې کیسـه لـولئ، هغـوی دې پر لوستل شویو کلمو ګوتې تېرې کړي.

**ج. تر لوستلو وروسته (۳ دقیقې)**

۱. له شاګردانو څخه پوښتنه وکړئ چې د دوی وړاندوینه څنګه وه. د چا اټکل سم وخوت او د چا ناسم.

۲.دوو شاګردانو ته وخت ورکړئ چې خپل نظر ووایي.

**کورنۍ دنده:** شاګردانو ته ووایئ: پر تاسو کله داسې کار شوی دی چې چا درته کومه خبره کړې وي او تاسو یې د پای په اړه فکر کړی وي؟ په دې اړه خپله خاطره ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دوهم درسي ساعت**

**۱. پر ربښې او وروستاړي د کلمو وېشل (۱۰ دقيقې)**

۱. د چوکاټ لومړۍ کلمه پخپله پر برخو ووېشئ او معنا يې کړئ.

۲. شاګردانو ته ووايئ چې له خپلو څنګلوريو ټولګيوالو سره دې پاتې کلمې پر برخو ووېشي. کله چې شاګردان کار کوي، تاسې په ټولګي کې وګرځئ او که چا مرستې ته اړتيا درلوده، ورسره مرسته وکړئ.

۳. له څلورو شاګردانو څخه وغواړئ چې يوه يوه کلمه تجزيه او معنا کړي.

| کلمه | د کلمې برخې | د کلمې معنا |
|---|---|---|
| نايېتوب | **نايي ـــ توب** | **نايي** = سلمان **توب** = نوم جوړوونکی وروستاړی<br>**نايېتوب** = سلماني، د نايي ګري حالت. |
| خونديتوب | | |
| څيرکتوب | | |
| شومتوب | | |
| مشرتوب | | |

**۲. د کيسې نقشه (۲۰ دقيقې)**

۱. شاګردانو ته ووايئ چې د کتاب له مخې دې د کيسې چارټ په کتابچو کې رسم کړي.

۲. د لومړي فصل غوندې د کيسې پيل په شاګردانو ولولئ او ورته ووايئ چې د چارټ د پيل برخې د ډکولو لپاره دې له خپلو څنګلوريو ټولګيوالو سره بحث وکړي.

۳. د کيسې منځ په شاګردانو ولولئ او ورته ووايئ چې د چارټ د منځ برخې د ډکولو لپاره دې له خپلو څنګلوريو ټولګيوالو سره بحث وکړي.

۴. د کيسې پای په شاګردانو ولولئ او ورته ووايئ چې د چارټ د پای برخې د ډکولو لپاره دې له خپلو څنګلوريو ټولګيوالو سره بحث وکړي.

۵. کله چې شاګردان فعاليت کوي، تاسې په ټولګي کې وګرځئ او که چا مرستې ته اړتيا لرله، ورسره مرسته وکړئ.

۶. دوه شاګردان تختې ته راوبولې چې د کيسې پيل، منځ او پای تشريح کړي.

لاندې ډک شوی چارټ به د شاګردانو د کار په ارزولو کې درسره مرسته وکړي.

| **پيل** | **منځ (د کيسې څوکه)** | **پای** |
|---|---|---|

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| کرکټرونه | پاچا، حکیم، وزیر او نایي | نایي پر لوحې د لیکل شوې خبرې په لوستلو سره د خپل کار انجام ته فکر کوي. | حل او نتیجه | د حکیم خبره نایي پوهوي چې غلط کار باید ونه کړي. |
| ځای – زمان | ځای: ښار<br>وخت: پخوا وختونه | | | |
| ستونزه | نایي ته وزیر وایي چې پاچا دې ووژني | | سبق/ پیغام | خبرو ته غور کول، مور له ستونزو ژغورلی شي. |

**۳. د کرکټر د اعمالو ارزونه (۵ دقیقې)**

۱. شاګردانو ته ووایئ: اوس به د کیسې د کرکټرونو اعمال یا کارونه وارزوو. له خپلو څنګلوریو ټولګیوالو سره د هر کرکټر پر اعمالو خبرې وکړئ. چا څه وکړل؟ ولې یې وکړل؟ کار یې سم و که ناسم؟ ستاسو په نظر د چا کارونه منطقي وو؟

۲. شاګردانو ته درې دقیقې وخت ورکړئ چې بحث وکړي. بیا څو تنه راوبولئ چې د خپل بحث نتیجه شریکه کړي.

**دریم درسي ساعت**

**۱. خبرې اترې (۲۵ دقیقې)**

**موږ یې ترسره کوو/ تاسې یې ترسره کوئ**

[شاګردان په شپږ کسیزو ډلو کې تنظیم کړئ او د لاندې سناریو له مخې د مباحثې فعالیت وړاندې اجرا کړئ]

معلم: نن به مو د بحث موضوع «ځیرکي» وي.

۱. ځیرکي څه ده؟

۲ . ځیرکي څه ګټې لري؟

۳. خپله ځیرکي څنګه زیاتولی شو؟

معلم: ډېر ښه.

؟ [پوښتنه پر تختې ولیکئ]

معلم: اوس په خپلو ګروپونو کې پر دې پوښتنې بحث وکړئ. [شاګردان به پنځه دقیقې خبرې کوي.]

[کله چې شاګران خبرې اترې کوي، تاسې په ټولګي کې وګرځئ او ویې هڅوئ]

معلم: اوس به د هرې ډلې استازی د خپلو ملګرو د خبرو خلاصه ووایي.

[د دریو ډلو استازي راوبولئ. کله چې دوی خبرې کوي، ورته ځیر شئ. مثبت ټکي یې وستایئ.]

(c) ketabton.com: The Digital Library

معلم: هر څوک ممکن له مختلفو شیانو وځورېږي. په چا باندې ټوکه ښه نه لګېږي، پـه چـا بانـدې فیزیکـي تمـاس لکـه سکونډل، ټیله کول ... نو بله پوښتنه دا ده چې: «کوم شیان یا کومې خبرې مـوږ ځـوروي؟» [پوښـتنه پـر تختـې ولیکـئ] تاسی به بیا په خپلو ډلو کې بحث وکړئ.

[شاګردانو ته پنځه دقیقې وخت ورکړئ چې خبرې اترې وکړي.]

[کله چې شاګران خبرې اترې کوي، تاسې په ټولګي کې وګرځئ او شاګردان وڅارئ.]

معلم: په کیسه کې مو ولوستل چې زلمی د ملګرو له دې کاره ځوربده چې هره ورځ به یې د ده تېروتنه یادوله. ده لومړی خپلو ټولګیوالو ته وویل چې ګورئ، ستاسو دغه خبرې ما ځوروي، خو ملګرو یې له ځورولو لاس وانه خیست. بیا نو زلمـي خپل استاد ته شکایت وکړ چې ټولګیوال یې پوه کړي. نو، وروستۍ پوښـتنه دا ده چې کـه څـوک مـو ځـوروي، څـه بایـد وکړو؟ [پوښتنه پر تختې ولیکئ]

[شاګردانو ته ۵ دقیقې وخت ورکړئ چې بحث وکړي.]

[کله چې شاګران خبرې اترې کوي، تاسې په ټولګي کې وګرځئ او وګورئ چې ټول شاګردان پـه بحـث کـې فعالـه ونـډه واخلي.]

معلم: اوس به د دریو نورو ډلو استازي ووایي چې څه یې سره ویلي دي.

[د دریو نویو ډلو استازي وغږوئ. د هغوی خبرې چې خلاصې شوې، ویې هڅوئ.]

معلم: څوک به د ټولو خبرو خلاصه او نتیجه ووایئ؟

[شاګردان لاسونه جګوي. یو تن په کې انتخاب کړئ او د تختې سر ته یې دروغواړئ.]

[شاګرد د بحث نتیجه وایي. که کوم ټکی ورنه پاتې و، هغه تاسې وریاد کړئ]

**۲. ګرامر (له معدود سره د حالت په لحاظ د عدد ګردان) (۱۰ دقیقې)**

شاګردانو ته ووایئ: د کتاب په ــــ مخ کې جدول ته وګورئ. په جدول کې له ځینو کلمو سره عددونه لیکل شوي دي او بیا هغه کلمې په اوښتې بڼه راغلې دي چې تاسې عددونه په مناسبه بڼـه ورسره ولیکـئ. مثـال تـه یـې وګـورئ او بیـا هـر عبارت په خپلو کتابچو کې ولیکئ او تش ځایونه یې ډک کړئ.

| یوه ورځ | د یوې ورځې | دوه ورځې | په دوو ورځو کې |
|---|---|---|---|
| یو ماښام | د ......یوه.... ماښام | درې شپې | تر .. دریو... شپو پورې |
| پنځه ډوډۍ | د ...پنځو.... ډوډیو لپاره | درې کوترې | د .. دریو.... کوترو |
| یوه خبره | تر .... یوې..... خبرې پورې | څلور ماشومان | د ... څلورو... ماشومانو |
| اوه پوښتونه | له ... اوو .. پوښتونو | لس ګزی | د .. لس... ګزي |
| شل کاله | تر .. شلو... کلونو | یوه پېړۍ | له ... یوې .. پېړۍ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کورنۍ دنده:** شاګردانو ته ووایئ: کوم شیان تاسې ځوروي؟ کورنۍ دنده مو دا ده چې په دې اړه څو جملې ولیکئ.

**څلورم درسي ساعت**

**۱. املا (۵ دقیقې)**

شاګردانو ته ووایئ: اوس به خپلې کتابچې خلاصې کړئ او ځینې کلمې به ولیکئ. د دې لپاره چې د کلمو لیکل راته آسانه شي، کلمې پر برخو وېشو. مثلاً «ځورول» دوې برخې لري «ځور» او «ول». [نورې کلمې دي: اورول، ویلو، خوړلو، خندلو]

**۲. د استنباطي پوښتنو د ځوابونو لیکل (۱۰ دقیقې)**

۱. شاګردانو ته ووایئ: د کتاب په ـــــــ مخ کې د کیسې په اړه څو استنباطي پوښتنې راغلي دي. تاسې به د هرې پوښتنې په اړه له خپلو څنګلوریو ټولګیوالو سره بحث وکړئ او ځواب به یې پیدا او بیا ولیکئ.

۲. لومړۍ پوښتنه په یوه شاګرد ولولئ.

۳. دوه دقیقې وخت ورکړئ چې شاګردان بحث وکړي او تاسې په ټولګي کې وګرځئ. وخت چې پوره شو، دوه شاګردان راوبولئ چې خپل ځواب ووایي.

۴. عین فعالیت د دوهمې او دریمې پوښتنې لپاره هم ترسره کړئ.

۵. شاګردانو ته ووایئ: اوس نو د هرې پوښتنې ځواب په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

پوښتنې دا دي:

۱. د زلمي ټولګیوالو د کونجاړې خبره ولې بیا بیا تکراروله؟

۲. حکیم ولې شاګردانو ته سپینه ونه ویله چې نور زلمی مه ځوروئ؟

۳. د زلمي او ټولګیوالو ملګرتیا ولې ډېر کلونه روانه وه؟

**۳. د کرکټرونو د اعمالو لیکنې ارزونه (۱۰ دقیقې)**

معلم: د دې اونۍ په دوهم درسي ساعت کې مو د کرکټرونه کارونه ورازول او ومو ویل چې د هغوی کارونه منطقي او سم و که نه. نن به د کرکټرونو په اړه خپله ارزونه ولیکئ. ستاسو د کتاب په ــــ مخ کې دوې پوښتنې دي. تاسې به د هرې پوښتنې په اړه له خپلو څنګلوریو ټولګیوالو سره بحث وکړئ او ځواب به یې پیدا او بیا ولیکئ.

۲. لومړۍ پوښتنه په یوه شاګرد ولولئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳. دوه دقیقې وخت ورکړئ چې شاګردان بحث وکړي او تاسې په ټولګي کې وګرځئ. وخت چې پوره شو، دوه شاګردان راوبولئ چې خپل ځواب ووایي.

۴. عین فعالیت د دوهمې پوښتنې لپاره هم ترسره کړئ.

۵. شاګردانو ته ووایئ: ډېر ښه. اوس نو خپل ځوابونه په کتابچو کې مو ولیکئ.

[شاګردانو ته ۵ دقیقې وخت ورکړئ چې ځوابونه ولیکي. تاسې په ټولګي کې وګرځئ. که چا مرستې ته اړتیا درلوده، ورسره مرسته وکړئ. که ډېر شاګردان د کومې خاصې کلمې په لیکلو کې ستونزه ولري، نوټ یې کړئ او بیا یې پر تختې ولیکئ.]

پوښتنې:

۱. د زلمي د ټولګیوالو سلوک څنګه بولئ؟

۲. د ټولګیوالو د سلوک په مقابل کې د زلمي چلند څنګه و؟

**۴. د کیسې په اړه خپل نظر لیکل** (۱۰ دقیقې)

۱. شاګردانو ته ووایئ: اوس به د کیسې په اړه خپل نظر ولیکئ. پر دې باندې فکر وکړئ چې کیسه څنګه وه؟ خوښه مو شوه که نه؟ د کیسې کومه برخه مو خوښه شوه او ولې مو خوښه شوه؟ له دې کیسې مو څه زده کړل؟ له خپلو څنګلوریو ټولګیوالو سره بحث وکړئ او په وار سره د کیسې په اړه خپل نظر ورته ووایئ.

[شاګردانو ته ۴ دقیقې وخت ورکړئ چې بحث وکړي. تاسې په ټولګي کې وګرځئ او شاګردان وڅارئ]

۲. شاګردانو ته ووایئ: اوس به په خپلو کتابچو کې د «څلورم حکیم» کیسې په اړه خپل نظرونه ولیکئ.

[شاګردانو ته ۵ دقیقې وخت ورکړئ چې خپل نظرونه ولیکي. تاسې په ټولګي کې وګرځئ. که چا مرستې ته اړتیا درلوده، ورسره مرسته وکړئ. که ډېر شاګردان د کومې خاصې کلمې یا عبارت په لیکلو کې ستونزه ولري، نوټ یې کړئ او بیا یې پر تختې ولیکئ. که وخت پاتې و، په آخر کې یو یا دوه شاګردان راوبولئ چې خپله لیکنه ولولي.]

(c) ketabton.com: The Digital Library

**فصل ۹**

د فصل د ژانر، موضوع، سترو مفکورو، اساسي پوښتنو او هدفونو په باره کې له شاګردانو سره بحث وکړئ. د دې فصل ژانر معلوماتي توضیحي دی. د معلوماتي ژانر اصلي هدف دا وي چې موږ ته معلومات راکړي. توضیحي د معلوماتي ژانر یو ډول دی چې معلومات په کې توضیح شوي وي. د توضیحي متن هر پراګراف یوه موضوع، د هماغې موضوع په باره کې اساسي مفکوره او بیا د هغې جزئیات بیانوي. د دې لپاره چې د توضیحي متن په معلوماتو ښه وپوهېږو، د معلوماتو په جال کې یې ترتیبوو.

د دې فصل نور فعالیتونه د نورو فصلونو غوندې دي. دلته به د هر درس د نویو کلمو معناګانې او همدارنګه د معلوماتو د جال د ډکولو طریقه تشریح کړو.

**اونۍ ۱**

د درس نوي لغتونه: **اتوموسفیر** = د ځمکې چارچاپېره هوا چې مختلفې طبقې لري. **قطر** = هغه خط چې د دایرې یا کرې د محیط دوه نقطې سره نښلوي او له مرکز څخه یې تېرېږي. **ستورمزلی** = څوک چې په فضایي بېړیو کې فضا، سپوږمۍ یا نورو سیارو ته ځي. **فضایي بېړۍ** = هغه وسیله چې انسان جوړه کړې ده او په فضا کې مزل کوي.

د معلوماتو جال

د معلوماتو جال یوه مرکزي او څو محیطي دایرې لري. په مرکزي دایره کې یې د متن عمومي موضوع یا عنوان لیکو. په محیطي دایرو کې یې د هر پراګراف موضوع لیکو.

شاګردانو ته ووایئ: د دې لپاره چې د یوه معلوماتي متن معلومات آسانه زده کړو په چارټ کې یې ترتیبوو او د معلوماتو جال جوړوو. دغه متن مو چې ولوست، د څه شي په اړه و؟ [هغوی به وایي چې سپوږمۍ ته د سفر په اړه]


تاسې د تختې په مرکزي برخه کې یوه دایره وکاږئ. ووایئ: آفرین! نو دلته به ولیکم «سپوږمۍ ته سفر».

بیا د دایرې له پاسه بله نسبتاً وړه دایره رسم کړئ او یو شاګرد راوبولئ چې د متن لومړی پراګراف ولولي.


**سپوږمۍ د ځمکې قمر دی. قمر هغه ګردی فضایي جسم دی چې د یوې سیارې په شاوخوا کې ګرځي. سپوږمۍ هره میاشت یو ځل د ځمکې ګرد چاپېره تاوېږي او د ځمکې تر ټولو نږدې ګاونډۍ ده. د تلسکوپ په مرسته سپوږمۍ واضحه لیدلی شو. د سپوږمۍ قطر د ځمکې تر قطر څلور واره لنډ دی.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا وواییځ: په دې پراګراف کې د سپوږمۍ او قمر تعریف راغلی او اصلي موضوع یې همدا دی. نو په دې بله دایره کې به ولیکم «تعریف».




بیا وواییځ: ښه نو، د سپوږمۍ په تعریف کې څو خبرې راغلي دي. یوه دا چې سپوږمۍ د ځمکې قمر دی؛ بله دا چې سپوږمۍ په میاشت کې یو ځل تر ځمکې چورلي؛ بله خبره دا وه چې سپوږمۍ په تلسکوپ سره واضحه لیدلی شو؛ او څلورمه خبره یې دا کړې ده چې د سپوږمۍ قطر د ځمکې تر قطر څلور واري کم دی. نو زه به د تعریف د دایرې په شاوخوا کې څلور مستطیلونه وکاږم او په هر یوه کې به یې د سپوږمۍ د تعریف یوه یوه خبره ولیکم.




د متن دوهم پراګراف په بل شاګرد ولولئ.


**سپوږمۍ څنګه پیدا شوې ده؟ زیاتره ستورپوهان په دې نظر دي چې میلیونونه کاله مخکې یو غټ آسماني جسم له ځمکې سره ټکر شو. د دې ټکر له امله د ځمکې او د دې شي ټوټې د فضا خوا ته ولاړې. دغه ټوټې د وخت په تېرېدو**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**سره، یو ځای شوې او سپوږمۍ یې جوړه کړه. همدا دلیل دی چې د سپوږمۍ د سطحې ځینې ډبرې د ځمکې له ډبرو بدلې دي.**

شاګردانو ته ووایئ: د دې پراګراف اصلي موضوع څه ده؟ [ممکن هغوی سم ځواب درکړي: د سپوږمۍ پیدایښت.] او په دې باره کې یې څه ویلي دي؟ [کېدای شي شاګردان ووایي: دا چې میلیونونه کاله مخکې یو غټ آسماني جسم له ځمکې سره ټکر شوی او د دواړو ټوټې جلا شوې او بیا یې سپوږمۍ جوړه کړې ده.]

تاسې ووایئ: نو زه به بله دایره وکاږم و په کې به ولیکم «پیدایښت» او د دې دایرې په څنګ کې به یو مستطیل رسم کړم او همدا خبره به ولیکم چې له ځمکې سره د آسماني جسم ټکر.




بیا له شاګردانو وغواړئ چې د پاتې پراګرافونو معلومات د خپل څنګ له ټولګیوالو سره په ګډه د معلوماتو په جال کې ترتیب کړي.

نوټ: د دې فصل د نورو درسونو لپاره هم دغه فعالیت په همدې شکل ترسره کړئ.

### د دوهم درس نوي لغتونه

**اختراع** = نوی شی جوړول؛ **هارډویر** = د کمپیوټر پرزې؛ **ښوونیز** = څه چې په ښوونې پورې اړه لري؛ **پروګرام** = هغه عملیې او کارونه دي چې کمپیوټر یې د یوې ستونزې د حل کولو یا د یوه کار د کولو لپاره کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د درېیم درس نوي لغتونه**

**اشتها** = هغه حالت چې زړه مو خوړو ته کېږي؛ **ويټامينونه** = هغه غذايي مواد دي چې د بـدن د سـم فعاليـت لپاره په کارېږي خو زموږ بدن يې جوړولی نه شي. **ذهنـي کارونه** = هغـه کارونـه چـې پـه مغـزو سره کېـږي لکـه درس لوستل، فکر کول، د رياضي د سوالونو حل کول ... **تقويه** = غښتلی کول

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**